تفسیر ابوحنیفہ

تالیف

علامۃ العصر وحید الدہر ابو الفضل مولانا محمد عبد اللہ الایوبی

القندھاری العلیمانخیلی الحنفی النقشبندی عفی عنہ

مکتبۃ القراۃ والتجوید

کافسی روڈ شاہدرہ کوئٹہ

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں



تفاسیر	خطبات	منطق
احایث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

Maktaba Tul Ishaat.com

بسم الله الرحمن الرحيم

په پښتو ژبه کښې اولنی او په افغاني تاریخ کښې بې ساری په زر ګونو جدیدو او نوو مسئلو باندې مشتمل

تفسیر ابن حنفي

خلورم ټوک ۴

تالیف اوتصنیف

د علامة العصر ابو الفضل شیخ التفسیر والحدیث فقیه دوران مفسر الزمان

حضرت مولانا محمد عبید الله الابوبی

الکندهاري السلیمانخیلي الحنفي النقشبندي حفظه الله تعالی

مکتبة التراث والتجوید

کانسي رود شالدره کوټه

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم ..... تفسير ايوبي پښتو څلورم ټوک

مؤلف ..... الحاج مولنا محمد عبيد الله الايوبي الكندهاري السليمانخيلي الحنفي حفظه الله تعالى بفضله الوهبي

کمپوزر ..... حبيب الحق حقاني

تايپ ..... حقاني کمپيوټر اداره

نشر کوونکي اداره ..... مكتبة القراء ت والتجويد كانسي روډ كوټه

د چاپ خای ..... لاهور پاکستان

زېرى

د آخر الزمان فخر موجودات سردار کل عالم د نر ټولي غټي او ژوندى معجزې يعنې قرآن مجيد په زړه پورې تاريخ په کتابي شکل کې په معياري پښتو سره ليکل سوى يعنې

قصص القرآن

چې د پيش امامانو لپاره د نصيحت يوه غټه ذريعه ده، همدارنګه د مطالعې او په ژوند کې د سفر لپاره د هر ښه ملګرى دى

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

جميع الحقوق محفوظة

جميع حقوق الملكية الادبية والفنية محفوظة لمكتبة القرائة والتجويد خوشاب بالحسنان ويحظر طبع أو تصوير أو ترجمة أو إعادة تنضيد الكتاب كاملاً أو مجزأ أو تسجيله على أشرطة كاسيت أو إدخاله على الكمبيوتر أو برمجته على اسطوانات ضوئية إلا بموافقة الناشر خطياً

Copyright ©
All rights reserved
Tous droits reserves

Exclusive rights by Maktabatul-Qiraat I waltajweed Quetta - Pakistan. No part of this publication may be translated, reproduced distributed in any form or by any means, or stored in a data base or retrieval system, without the prior written permission of the publisher.

الطبعة الاولى

١٤٢٦ هجري - ٢٠٠٥ ميلادي

مكتبة القرأة و التجويد

هاربي مقابل خوشاب - بالحسنان

رقم الهاتف ٠٣٠٢٨٨٥٥٢٥

MAKTABTUL-QIRRAT
WALTAJWEED
KANSI ROAD QUETTA
BALUCHISTAN

ISBN 2-7451-3140-0

الحمد لله وحده والصلواة والسلام على من لانبي بعده.

د کائناتو مربي او پروردګار لره دي حمدونه او ددې پر اخري نبي خاتم المرسلين ﷺ دي درودونه او سلامونه وي، همدارنګه دي د رب العلمين رحمتونه وي ددوی ﷺ پر ملګرو باندې کوم چې يې د الله تعالى دا سپېڅلى دين پخپلو قربانيانو سره د دنيا وکونج کونج ته ورسوى.

محترمو لوستونکو!

دا يو څلاند حقيقت دى له کوم څخه چې سترګې پټېدلاى نه سي، چې الله تعالى د خپلو بندګانو د لار ښوونې لپاره قرآن مجيد را لېږلى دى، تر څو د الله تعالى بندګان پرې خانونه پوه او خبر کړي، او د هغه خبرتيا او پوهنې وروسته پرې عمل وکړي.

او دا هم يو څرګند حقيقت دى چې په يو شي باندې عمل هله کېداى سي کله چې د هغه په مضمون او ماحصل باندې پوه سي.

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

د الله تعالی پر خپلو بندګانو باندې بې شمېره احسانونه
دي چې د خپل کتاب د ښوونې لپاره يې د انبياء کرام
عليه الصلوة والسلام لړۍ راپيل تر څو چې يې خاتم
الانبياء عليهم افضل الصلوات والتسليم راولېږی.

همدارنګه يو څرګند حقيقت دی چې د يو کتاب مضمون هلته عام فهمه
بلل کېږي او عام انسان ورڅخه ګټه اخستلای سي. کله چې هغه د هغه وخت
د خلګو په لغت او ژبه سره وي، او دا هم د الله تعالی لوی احسان دی چې د
قرآن مجيد د مختلفو علومو او فنونو د خدمت لپاره يې خدمت کوونکي
انسانان پيدا کړه. د مثال په توګه مفسرين کرام رحمهم الله تعالی يې د
معناوو خدمت کوي، اهل لغت يې د لغتو، اهل معاني يې د فصاحت او
بلاغت، صرفيانو يې د صيغو، نحويانو يې د اعراب، منطقيين يې د
قضاياوو، اهل قراءت يې د قرآنتونو، مجودين يې د حروفو د اداء کولو،
غرض دا چې دا څومره علوم چې ويل کېږي دا په حقيقت کې د قرآن مجيد د
زدکړې لپاره دي.

همداغه د معانيوو د خدمت په لړۍ کښې حضرت علامه مولانا ابو الفضل
محمد عبيدالله الايوبي الکندهاري هم خپل د عمر اخري ورځې او شپې د
قرآن کريم لپاره وقف کړې، او مکتبة القرآئت والتجويد بيا د قرآن مجيد د
علومو د خپرولو پېړه اخستې ده. الله تعالی دي ودوارو ته ښه بدله وربه برخه
کړي، او قرآن مجيد دي زمونږ لپاره حجت وګرځوي، الله تعالی دي يې پر مونږ
باندې حجت نه ګرځوي. نور مو پر خدای سپارو

د دعاوو په هيله

قاري فضل الحق حقاني

باني مکتبة القراءت والتجويد

کوئټه بلوچستان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله الذي انزل على عبده الكتاب ليكون للعالمين نذيراً، وقال في كتاب المستبين "وما علمناه الشعر وما ينبغي له ان هو الا ذكر و قرآن مبين، لينذر من كان حيا ويحق القول على الكافرين. والصلوة والسلام الاكملان على سيد الانبياء والمرسلين سيدنا محمد وعلى آله وصحبه اجمعين، واشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمدا عبده ورسوله، ارسله بالحق بشيرا ونذيرا

اما بعد فيقول الفقير الى الله الغني محمد عبدالله الابوبي الحنفي القندهاري ابن المولى المرحوم المولوي محمد ايوب القندهاري غفرله الباري چې څه وخت چې زه فارغه سوم په فضل د خدای ﷻ له تفسير څخه د پاره «الم» په دوه جلده کې. او له تفسير څخه د پاره «سيقول» په يوه جلد ضخيم کې، نو اوس نوبت د تفسير د «تلک الرسل» ورسېدی، له خدای ﷻ څخه توفيق غواړم چې ددې پاري تفسير هم په صحت او عافيت او خوشحالي پای ته ورسېږي، وما توفيقي الا بالله عليه توكلت واليه انيب.

ابيات ابوبي

د ريم جلد د تفسير ختم په توفيق د ذو الجلال سو
خلورم جلد د تفسير اوس شروع په توفيق د ذو الكمال سو
د د ريم جلد د ختم شكر وايم خدای ﷻ ته
د خلورم جلد د اختتام عجز كو مه خدای ﷻ ته
يه صحت و عافيت او توفيق خدايه غواړم ستا څه
خوشحالي هم د ظاهر هم د باطن پا الله غواړم زه ستا څه
د اعضاء رئيسه ومروسه صحت هم غواړم زه ستا څه
خاتمه د عمر پر ايمان او پر صلاح كامل هم غواړم ستا څه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

موعظة للحافظ شيرازي رحمه الله

هر که آمد در جهان پر زشور
عاقبت میبایدش ر فتن بگور
در ره عقبی ست دنیا چون پلي
بي بقاء جاي و ویران منزلی
دل منه بر این پل پر ترس و بیم
برگ راه ساز مشو اینجا مقیم
نزد اهل معنی این کاخ
پنج هست چون ویرانه خالي زگنج
دور باش از دوستی مال و جاه
زانکه مالت مار وجاهت هست چاه
گر نه کوری گور بین میگفت
یکزمان بیکار منشین گفتمت
هیچ کس رانیست زین منزل گزیر
از گدا شاه و از برنا و پیر
ای که برما بگزري دامن کشان
از سری خلاص الحمدی بخوان

مناجات

الهي یا الهي یا الهي
ندارم جزء امیدت تکیه گاه هی
زکن موجود کردی جمله عالم
مر از ذنب خودکن عذر خواهی
ندارم توشه راه قیامت
بجز شرمندگی وروه سیاهی
ندارم طاعت مقبول د ر گاه
بجز اشک ندامت آه آهی
شفیع آورده ام روی محمد
کرم کن بر من گم کرده راهی
بحق و حرمت فرقان اعظم
عبید را بخش کن جمله گناهی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مناجات

خجالت تر تامي بس دی یا مولای
تر مخلوق ما خجل مه کړې ای خدایه
ته تر ما زما په گناه خبر یې رب و عالم ته
ما رسوا مه کړې ای خدایه
حاسدان که هرڅه وایي دوئ دي وایي
د دوئ په خوله ما بیگانه مه کړې مولای
عمر تېر سو مرگ نژدې سو پاکه رب
په سپین مخ مي و باسې له دې زندانه
زما د ژوند مېوه به دا وي پاکه خدایه
چې تفسیر د قرآن و رسوم پای ته
دا امید زما په قطع بدل مه کړې
دا تفسیر مي رانیمگړی مه کړې خدایه
زه به هغه وخت و مرگ ته اماده باش یم
چې تفسیر د قرآن و رسوم والناس ته
دا نعمت زما په نصیب کړې ذوالجلاله
دا تفسیر زما یتیم مه کړې وبل چاته

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اعوذ بالله من الشيطان الرجيم ❁❁❁ بسم الله الرحمن الرحيم

تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ

پوه سه چې " تلک الرسل" اشاره ده وجماعت ته د رسولانو چې یو له هغو څخه محمد ﷺ دی، چې دې جماعت ته اشاره وسوه بقوله تعالی ﴿وانک لمن المرسلین﴾

فائده الف ولام په "الرسل" کې لپاره د استغراق دی، او موصوف مع الصفة مبتداء ده او جمله د "فضلنا آه" یې خبر دی. او رسول دلته په معنا د مطلق نبي دی که صاحب د نوي شریعت وي او که نه، او بیضاوي وایي چې الف ولام لپاره د عهد دی او مراد هغه جماعت دی چې ددوئ قصې په دې سورت کې ذکر سوي دي. او یا هغه جماعت دی چې علیه الصلوة والسلام ته معلوم وه.

پوه سه چې "فضل" زیادت ته وایي د یو شي پر بل په وصف مشترک کې خواه دا وصف وصف ذم وي او که وصف مدح، لکه چې دوه کسه چې بخیلان وي، او دا یو بخیل پر هغه بل په بخل کې بالا وي، او یا دوه کسه وي دواړه سخیان وي، او دا یو پر هغه بل په سخاوت کې بالاوي الی غیر ذالک من الاوصاف المشترکة بین الشیئین او الاشیاء، او په عرف کې د شرع شریفې او په عرف عام دا لازمه ده چې هغه وصف مشترکه به وصف کمال وي، یعني سبب د مدح في الدنیا او د ثواب په اخرت کې وي، نو که یو سړی پر بل بالا وي په وصف کمال کې لکه علم مثلا، او بل بیا بالا وي په بل وصف کمال کې لکه حلم مثلا، نو هر یو پر هغه بل فضل جزي لري بعد اشتراکهما في مطلق الکمال یعني استحقاق المدح والثواب في الآخرة.

نتیجه نو انبیاء او رسلان علیهم السلام سره شریکان دي په نفس نبوت او رسالت کې او په کمالات د اجر او ثواب، لکن بینهم تفاضل عند الله تعالی بناء علی کثرة الثواب ومزید القرب الی الله ﷻ لا یعلمه تفصیلا الا الله.

دروښ وایي: چې صاحب د روح البیان ددې تفضیل جزي بیان داسې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړی دی لکه بعض انبیاء علیهم السلام ودرجې ته د خلة رسېدلي دي کابراهیم ﷺ چې دا وصف بیا په بل نبي کې نسته، او په بعض انبیاوٗ کې نبوت او سلطنت دواړه جمع سوي دي لکه داوٗد ﷺ کما مر في اخیر المجلد الثالث من هذا التفسیر، او احتمال ددې دوو وصفو په غیر کې د داوٗد من الانبیاء علیهم السلام نسته، او بعض انبیاوٗ ته مسخر والی د انس او جن او باد او مرغانو لکه سلیمان ﷺ ته چې حاصل و چې بل هیڅ نبي ته نه وو ورکړه سوی حتی دده پلار داوٗد ﷺ ته هم نه و حاصل، او علیه الصلوة والسلام ته دا وصف جلیله ورحاصل و چې مبعوث الی الانس والجن و، او شریعت دده د تولو شرائعو متقدمه وو ناسخ وٗ، وغیرها من الاوصاف العالیة المذکورة في کتب الاحادیث الشریفة.

دروېش وایي وما وقع في بعض التفاسیر من قوله والفضل الکلي لمن له زیادة الثواب ومزیة القرب عندالله تعالی انتهی فشططٌ، لان الفضل الکلي مقابل للفضل الجزئي فمعناه الفضل من کل الوجوه وهذا غیر متصور بل غیر ممکن فضلا عن الوقوع کما لایخفی علی من تامل في معنی الفضل الجزئي والفضل الکلي.

مِنْهُمْ مَّنْ كَلَّمَ اللّٰهُ

بعض له رسولانو څخه هغه څوک دي چې خدای ﷻ له ده سره خبرې کړې دي، والعائد الی من محذوف ای کلمه الله، عموما مفسرین ؒ پر دې دي چې مراد له دغه بعض څخه موسی ﷺ دی حیث قال الله تعالی ﴿فلما جاء موسی لمیقاتنا وکلمه ربه الآیة﴾ او بعض وایي چې مراد له دې څخه موسی ﷺ دی چې خدای ﷻ پر کوه طور خبرې ورسره وکړې، او محمد ﷺ دی چې خدای خبرې ورسره وکړې په لیلة المعراج کې، ولي چې خدای ﷻ په دې باب کې داسې ویلي دي ﴿فکان قاب قوسین او ادنی فاوحی الی عبده ما اوحی الآیة﴾

دروېش وایي: چې ددې دوو خبرو یعني د خدای ﷻ د موسی ﷺ سره پر کوه طور باندې او د نبي ﷺ سره فوق سبع سموات په فضل کې ډېر فرق دی کمالایخفی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجٰتٍ

او خدای ﷻ پورته کړي بعض انبیاء درجو ته

پوه سه چې نصب د "درجات" په نزع د خافض دی ای علی درجات

دروښ وایي: چې له دغه "بعض" څخه سید الانبیاء ﷺ مراد دی، ولې چې رفع د درجاتو پر ټولو انبیاء خاص دی په نبینا محمد ﷺ سره او دا فضل پر ټولو انبیاء علیهم السلام باندې ثابت ده په وحي متلو او احادیث شریفه وو سره، او هم پر دې اجماع د علماؤ د امت مرحومه ده، ولې نبي ﷺ دونه معجزات ښکاره کړه چې تعداد یې تر زرو رسېږي بلکه بالا ورکړه سوي دي، او اعظم د معجزاتو د نبي کریم ﷺ قرآن کریم دی چې کرالازمان او مر الدهور باقي دی اوپه قرآن کې دا اعلان هم موجود دی ﴿وان کنتم في ریب مما نزلنا علی عبدنا فاتوا بسورة من مثله الآیة﴾ وروسته یې ویلي دي ﴿فان لم تفعلوا ولن تفعلوا فاتقوا النار الآیة﴾ او په بل آیت کې دا اعلان هم موجود دی ﴿قل لئن اجتمعت الانس والجن علی ان یاتو بمثل هذا القرآن لایاتون بمثله ولوکان بعضهم لبعض ظهیرا﴾ الی غیر ذالک من الآیات الکریمات الدالة علی ان القرآن معجزة باقیة. ولې تر دې اوسه پورې د هجرت نبوي را ایسته یوزر وځلور سوه شپږویشت کاله تېر سوه نه په تاریخ کې او نه په نشریاتو عامه وو کې دا راغلي دي چې مثل د یوه سورت یا دوو سورتو فضلا عن مثل جمیع القرآن دي چا جوړ کړي وي، او که قرآن مبارک د طوق د بشر وتلی نه وایی، نو عرب عرباو او بلغاو د دعدنان او قحطان به یې مثل جوړ کړی وایی، او سره ددې چې عرب د عصر نبوي ﷺ په مقابله د اسلام او توحید دونده جدي وه چې مقارعة السیوف ته مجبور سول او سره ددې چې مناظره باللسان په اتیان سره مثل د قرآن که ددوئ ته ممکنه وایی د هر اسانه وه تر مقارعة بالسیوف.

دروښ وایي: که یوازې او یوازې قرآن مجید معجزه د علیه السلام وایی هم کافي وه په تفصیل کې د علیه السلام پر نورو انبیاؤ علیهم السلام باندې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لاني معجزاتهم منحصرة في مدة حيوتهم فقط

دروښ وايي: چې په حديث صحيح متفق عليه کې راغلي دي ﴿فضلت على الانبياء بست﴾ زه پر نورو انبياؤ تفضيل راکړه سوی دی په شپږو شيانو سره ﴿اوتيت جوامع الكلم﴾ ماته راکړه سوي دي کلمات جامعه يعنې لفظ قليل او معنا يې ډېره لوړه ﴿ونصرت بالرعب﴾ او زما سره کومک کړه سوی دی په رعب يعنې په ډېره سره په زړو کې د کافرانو يعنې که څه هم په لېرې مسافت زما څخه واقع وای ﴿واحلت لي الغنائم﴾ او ماته حلال کرځول سوي دي غنيمتونه د کافرانو، او د نورو انبياؤ پر غنيمتو باندې به اور د اسمان نازلېدی او سوځول به يې او اختصاص يې وډوی نه ټاروا و، ﴿وجعلت لي الارض مسجدا وطهورا﴾ او زما لپاره يعنې سره د امت مخکه ټوله ځای د لمانځه او پاکي د حدث يعنې تيمم کرځول سوي ده ﴿وارسلت الى الخلق كافة﴾ او زه استول سوی يم د خلګو ټولو لپاره په نبوت ای الانس والجن والعرب والعجم ﴿وختم بي النبيون﴾ او ختم کړه سوي دي په ما سره انبياء عليهم السلام، يعنې د نبوت دروازه په ما سره بنده سوه

دروښ وايي: چې تفصيلا ذکر د خصائصو د عليه السلام چې د صحيح احاديثو په کتابو کې راغلي دي ډېرې ورقې به وغواړي اما اجمالا ﴿عن ابي سعيد الخدري رضي الله عنه قال قال النبي ﷺ انا سيد ولد آدم ولا فخر، اى يوم القيامة وبيدي لواء الحمد ولا فخر، وانا اول شافع واول مشفع ولا فخر﴾ اخرجه ترمذي احمد

له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چې يوه ورځ بعض اصحاب د عليه السلام سره ناست وه، نو عليه السلام له کوره څخه را ووتی حتى قعد اصحابو ته نږدې راغلی، نو عليه السلام د دوی دا خبرې وا وريدلې، بعض ويله ان الله اتخذ ابراهيم خليلا، او بل صحابي وويل موسى كلمه الله تكليما، او بل بيا وويل چې عيسى كلمة الله وروحه وو، او بل بيا وويل چې آدم اصطفاه الله وو، نو عليه السلام ودوی ته وويل چې ما ستاسي خبرې واوريدې، صحيح ده چې ابراهيم خليل الله و، او صحيح ده چې موسى نجي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الله و. او صحیح ده چې عیسی روح الله او کلمة الله و. او آدم صفي الله و. الا انا حبیب الله ولا فخر، وانا لواء الحمد یوم القیامة تحته آدم فمن دونه ولافخر. الی اخیر الحدیث او کما قال علیه السلام.

دروښ وایي: چې په فضائل او خواصو کې د علیه السلام مجلدان کتابونه علماؤ حضراتو تصنیف کړي منهما دلائل النبوة في مجلدان او نور هم. یو شاعر فارسي پر طور د کنایه د علیه السلام په باب کې وایي.

قد دل جوی ولب لعل رخ زیبا داری حسن یوسف دم عیسی یدبیضا داری

شیوه شکل وشمائل ادب وعقل وتمییز آنچه خوبان همه دارند وتو تنها داری

وقال آخر

افاقها گردیده ام مهرتبان ورزیده ام بسیار خوبان دیده ام اما تو چیزي دیگري

وَاٰتَيْنَا عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنٰتِ وَاَيَّدْنٰهُ بِرُوْحِ الْقُدُسِ

او ورکړي مونږ عیسی زوی د مریمي ته معجزات ظاهرات او دده تائید مونږ کړی و په پاک روح سره.

پوه سه: چې د عیسی علیه السلام معجزې دا وې (۱) احیاء الموتی، یعني مړي دده په دعاء سره راژوندي کېدل (۲) شفاء د امراض عظیمه وو دده په دعاء سره کېدله (۳) مور زاده پرونډ دده په دعاء خدای ﷻ په سترګو بنا کاوه (۴) پیس دده په دعاء سره صحیح سالم ګرځېدی (۵) او د څټو مرغه به یې جوړ کړی او چې پر پوه به یې کړه هغه به طیران کاوه (۶) د چا په کور کې چې به پټ شی و عیسی علیه السلام به هغه وربښووی یعني باخبار الله ﷻ (۷) کتاب الانجیل.

سوال: دا معجزات سبب د تفضیل د عیسی علیه السلام ولي وګرځېدي، سره ددې چې بعض له دې معجزاتو په غیر کې د عیسی علیه السلام هم موجودي وې؟

ځواب: چونکه دا معزات ظاهرات وې او په اجتماعي توګه په بل نبي کې نه دي موجودي، نو ځکه یې سبب د تفضیل د عیسی علیه السلام وګرځولې.

فائده: خدای ﷻ چې ذکر د عیسی علیه السلام وکړی په ذکر سره د اعطاء د ایات

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پینانو ددې لپاره چې پر یهود یانو رد راسي چې هغو دپر تحقیر دده کاوه او دده د نبوت څخه منکر وه، یعني سره د اعطا د آیات بینات څرنګه دوئ دده له نبوت څخه انکار کاوه. او رد پر نصاری وو هم دی چې هغو دوئ ده افراط په حق کې د عیسی علیه السلام کاوه چې تر رسالته یې لوړ مقام ورکاوه، یعني ابن الله یا ثالث ثلاثة یې بولی.

پوه سه چې "روح القدس" اضافت د موصوف وصفت نه ده، ای الروح المقدسة بعض مفسران وایي چې مراد له "روح القدس" څو روح د عیسی علیه السلام دی چې خدای ﷻ په ده کې پوه کړی و، ښکله دې چې د اختلاط د دوو تطفو د نر او ښځې دې پیدا وي لکه عمومي انسانان، او بعض مفسران وایي چې له قدس څخه خدای ﷻ مراد دی او له روح څخه جبرائیل علیه السلام مراد دی، او اضافت وخدای ﷻ لپاره د تشریف دی لکه بیت الله. نو معنا د آیت داده "صورِ تائید د عیسی په جبرئیل سره هم په اول الامر کې بقوله تعالی ﴿فنفخنا فیه من روحنا﴾ ولې دا نفخ په جیب یعني ګریبان کې د مریمې جبرئیل وکړه. او هم په اوسط حال کې د عیسی علیه السلام چې جبرئیل وعیسی علیه السلام ته علوم درښودل. او له دښمانو څخه به یې ساتی، او هم په آخر الامر کې یهودیانو دی وژی او جبرئیل دی وآسمانو ته خندې بوتلی.

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا اقْتَتَلَ الَّذِيْنَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ

او که اراده وایی د خدای ﷻ د هدایت د ټولې نوع بشري، نو به جګ نه سره کولایی هغه کسانو چې وروسته تر رسولانو وه، او وروسته تر دې چې دوئ ته آیات بینات الهیه هم راغلي وه.

وَلٰكِنِ اخْتَلَفُوْا فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ وَمِنْهُمْ مَّنْ كَفَرَ ؕ

لکن په منځ کې د خلګو یعني امم الرسل اختلاف پیدا سو په اراده د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ نو بعض یې ایمان راوړي او بعض یې من کفر سوه.

پوه سه: چې ایمان راوړل د بعض خلګو په تفضل او توفیق د خدای ﷻ دی چې ددوئ په ژړو کې التزام د دین حق د انبیاء علیهم السلام ور واچاوه، او کفر د بعض کسانو په خذلان د خدای ﷻ عدلا منه چې د دوئ زړونه د ضلال وخواته مائل سوه.

پوښتنه: څه حکمت الهي دی چې ټوله انسانان پر هدایت نه سوه؟

ځواب: خدای پاک په دې صنع کې اظهار د صفاتو د جلال او جمال منظور و، او د ځینو اسما، هادي، مضل، غفار، قهار، منتقم، او عفو منظره د خلګو ګرځول وه.

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا اقْتَتَلُوْا ۫ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ ﴿۲۵۳﴾

او که اراده وایی د خدای ﷻ دوئ به جنګ نه سره کولای.

پوه سه: چې دا تاکید د ماقبل ایت دی، لکن خدای ﷻ هغه کارونه کوي چې اراده یې سي، یعني لایجوز الاعتراض علیه تعالی، او د خدای ﷻ په حکمت د حکمت څوک نه پوهیږي.

دروښ وایي: چې مسئله د قدر له مشکلاتو څخه د مسائلو ده، نو تفویض د علم ددې مسئلې وخدای ﷻ ته د هر بهترین کار دی. بغوي وایي چې د حضرت علي ﷺ څخه چا د قدر د مسئلې په دې الفاظو پوښتنه وکړه "اخبرني یا امیر المؤمنین من القدر؟ قال علي ﷺ طریق مظلم" هغه له سره خپل سوال بیا راوګرځاوه علي ﷺ ورته وویل "بحر عمیق فلا تلجه هغه سړي بیا سوال اعاده کړې، علي ﷺ ورته وویل "سر خفي فلا تفتشه" یعني قدر یو داسي مضمون دی چې ادراک یې په عقل سره نه کیږي او په تفتیش کې ښه د هلاک، ضلال سته لکه نااوباز سړی چې په بحر عمیق کې اوبازي کوي، او یا په ښځي تاریکه کې سړی سفر کوي، د ام المؤمنین حضرت عائشه ﷺ څخه روایت دی، دا وایي ما واورېده د علیه الصلوة والسلام څخه چې که چا خبرې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړي په یو شي کي د قدر ﴿سئل عنه یوم القیامة ومن لم یتکلم فیه لم یسئل عنه یوم القیامة یعني فوض امر القدر الی الله﴾ ابن ماجه، د ابي بن کعب رضی الله عنه روایت دی ﴿لو ان الله عذب اهل سمواته وارضه عذبهم وهو غیر ظالم لهم ولو رحمهم کان رحمته خیرا لهم، ولو انفقت مثل احد ذهبا في سبیل الله مافبل الله منک حتی تؤمن بالقدر﴾ یعني په دې معنی چې یو مکروه چې تانه ورسېږي ستا به دا یقین وي چې دا مکروه له ماځخه نه چپېدی یعني که ما هر څه کوښښ کړی وایی په دفع کي د هغه مکروه ولي چې تقدیر د خدای ﷻ دغسي و. او له یوه مکروه چې ته خلاص سوې او هغه تانه نه ورسېدی یعني ستا به دا ایمان وي چې تقدیر د خدای ﷻ دغسي و چې زه به له دې مکروه خلاصون پیدا کوم، حاصل دا چې دا به مسلمان نه وایي چې په اول صورت که ماداسي کړې وایی، نو به دا مکروه ماته نه رسېدای، په دوهم صورت کي به داسي نه وایي چې ما چې دا سي وکړه نو له مکروه څخه خلاص سوم، یعني کلمه د لو به نه وایي، ولي کلمه د لو د مشروعیت د منافقانو له خوا سوی دی کما حکی الله عنهم ﴿لوکانو عندنا ماماتوا قتلوا الآیة﴾ راوي وایي ولو مت علی غیر ذالک لدخلت النار یعني که ته پر غیر د عقیدې د تقدیر الهي مړ سوې نو به اور ته ورځي، او د عبدالله بن مسعود ؓ، او د حذیفه بن الیمان ؓ څخه هم مثل د مذکوره انفاً روایت راغلی دی، او زید بن ثابت ؓ د علیه الصلوة والسلام ورته روایت کړی دی، احمد ابو داوٗد، ابن ماجه.

پوښتنه: د مذکوره آیتو څخه خو تفضیل د انبیاء علیهم السلام بعضهم علی بعض صراحةً معلوم سو نو ددې قول د علیه السلام چې ابو سعید او ابو هریرة ؓ یې روایت کړی دی او دا حدیث په بخاري او مسلم دواړو کې سته ﴿لاتفضلوا بین انبیاء الله، وفي روایت لا یتخیروا بین الانبیاء﴾ او ددې حدیث ﴿لاتخیروني علی موسی﴾ او ددې حدیث لا اقول ان احدا افضل من یونس بن متی﴾ ددې به نو څخه معنی وي؟

مظهري خواب داسي ورکړی دی چې تفضیل د انبیاوٗ یو پر بل په رای سره

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

مه کوئ چي د شرع شريفي له خوا يې تفضيل نه وي ثابت. لان الفضل عبارة عن كثرة الثعواب وزيادة القرب الى الله تعالى وهذا لايدرک بالراى. او بعض مفسران وايي چي دغه حديثونه محمول دي پر دي چي عليه السلام نه علم پر خپل افضليت تر انبياء عليهم السلام نه و ورکړه سوى لانه علمه ﷺ كان يزداد يوما فيوما وانعاماته تعالى عليه ﷺ كانت توجد وقتا فوقتا، او بعض مفسرين رح وايي چي داسي تفضيل او تخيير مه وايا ست چي مفضي وجنگ او جدال ته سي ولي تفضيل خو د عقيدي شى دى، نو د خولې په وينا ولي د چا سره جنگ کوئ على ما روای البخاري چي يوه يهودي په بازار کي داسي وويل يعني د قسم په وخت کي والذي اصطفى موسى على البشر، يو مسلمان چي دلته حاضر و يهودي ته يې داسي وويل اعلى محمد ﷺ او بيا يې يهودي پر مخ وواهه. يهودي ولاړى وعليه الصلوة والسلام ته يې د مسلمان شكايت وكړى. عليه السلام مسلمان راوغوښتى او پوښتنه يې خندي وكړه چي دا يهودي دي ولي وواهه؟ مسلمان ماجرى حال ورته ووايه. نو عليه السلام ورته وويل لاتخيروني على موسى الى اخير الحديث.

مسئله: دا آيت دليل دى د اهل سنتو پر معتزله وو باندې يعنې چي حوادث او افعال د بندګانو تولې په مشيت او اراده کي د خداى ﷻ دي، که خير وي او که شر وي، که اسلام وي او که كفر، او معتزله وايي چي افعال دبندګانو مخلوق د بندګانو دى ومزيد الدلائل بيننا وبينهم في شرح العقائد وشرح المقاصد للعلامة التفتازاني رحمه الله والمواقف للقاضي عضد الدين رحمه الله وشرحه للسيد الجرجاني رحمه الله والله سبحانه اعلم.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنفِقُواْ مِمَّا رَزَقۡنَٰكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ يَوۡمٞ لَّا بَيۡعٞ فِيهِ وَلَا خُلَّةٞ وَلَا شَفَٰعَةٞۗ وَٱلۡكَٰفِرُونَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٢٥٤

اې هغه کسانو چي ايمان يې راوړى دى تاسي انفاق د هغه رزق څخه وکړئ چي موږ در کړى دى يعني زکوة فرضي يې ورکوئ دمخه تر دي چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راځي هغه ورځ يعنې ورځ د قيامت چې په هغه ورځ تاسې تدارک د مافات عنكم في الدنيا يعنې زكوة نه سي كولای ولې چې په هغه ورځ كې بيع نسته چې تاسې دې په هغه بيع مالونه پيدا كړئ او بيا يې في سبيل الله انفاق وكړئ. او يا به له عذاب څخه د خدای ﷻ د فديې په توګه خلاصون ومومئ: او نه خلت او قرابت او اشنايي سته چې هغوی دې ستاسې كومك وكړئ. او نه هم شفاعت سته لان الشفاعة انما هي باذن الله، او كافران دوئ دې ظالمان اول پر خپلو خانو يې ظلم وكړی چې عذاب د خدای ﷻ وسيارل بترك ما امرهم الله، نو تاسې مسلمانان بايد ددوئ پر دول نه سئ.

پوه سه: چې اصل معنى د "ظلم" وضع د شي ده بې ځايه، نو كافرانو هم عبادت چې حق د الله ﷻ دی بې ځايه كښېښو يعنې د بتانو عبادت يې شروع كړی، او خپل مالونه هم بې ځايه په شهواتو نفسيه وو كې مصرف وې او في سبيل الله شى نه وركوي ولې چې زكوة خو دوئ نه منې، او قاضي بيضاوي رحمه الله وايي چې مراد له كافرانو څخه تارك الزكوة دی يعنې مانيعها كه څه هم مسلمانان وي، او تعبير په كافرون د مانع الزكوة تغليظا دی په معنى ددې چې منع د زكوة د كافرانو صفت دی، قال الله تعالى ﴿ويل للمشركين الذين لايؤتون الزكوة﴾ او يا د ايت معنى داده چې كافران چې د زكوة له فرضيت څخه منكر وي "هم الظالمون"

فائده: په "زكوة" كې من تبعيضي ذكر كړی اشاره ودې ته ده چې زكوة بعض له مال دی، او نسبت د رزق خدای ﷻ خان ته وكړی حثا لصاحب المال على الزكوة، د محمد بن اسماعيل البخاري رحمه الله څخه په غير كې د صحيح البخاري راغلي دي چې خدای ﷻ وجبرئيل عليه السلام ته وحي وكړې چې اې جبرئيل چې كه زه تا واستوم دنيا ته او تا زه له اهل دنيا څخه وگرځوم ته به څه عمل زما په طاعاتو كې په دنيا كې كوې؟ جبرئيل عليه السلام ورته وويل چې خدايه ته زما په حال خبر يې لكن زه به دې عمله كوم. (۱) اول به زه كومك كوم د عيال دارې سړي سره په نفقه كې د عيال (۲) دوهم به دا كوم چې عيبونه د خلګو او

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

ګنهونه ددوئ به ښوم حتی چې هیڅ څوک سته د بندګانو څخه ددوئ په عیبونو خبر نه سي، غیر له تاڅخه چې عالم الغیب والشهادة یې (۳) دریم ترڅې سړي ته به اوبه ورکوم. کذا في روضة العلماء. سعدي شیرازي قدس سره

چو خودرا قوي حال بیني وخوش بشکرانه بار ضعیفان بکش
اګرخود همین صورتي چون طلسم بمیري واسمت بمیرد چو جسم
اګر پروراني درخت کرم بري نیک نامی خوري لاجرم

تمهید للآیة الکرسي له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې زه علیه السلام مقرر او موظف کړم په دې سره چې ته صدقة الفطر د خلګو په یوه اطاق کې ساته، یعني خرما جلا ایږده. غنم جلا، اوږې جلا وهکذا نقود وغیره، یوه شپه زه هوري بیده وم چې یو سړی دئ چې طعام یعني یا خرما ویا غیره په خپل بوجي کې اچوي، نو زه چې وپښې سوم هغه سړی مي وڅیوی، او ما ورته وویل چې زه دي علیه السلام ته ورولم. نو هغه سړي راته وویل چې زه محتاج یم او عیال داره یم او یو سخت حاجت لرم. ابو هریره رضي الله عنه وایي چې ما خوشي کړی سحار چې علیه السلام لمونځ وکړی ماته یې وویل ما فعل اسیرک البارحة یعني دشپې بندي ستا څه سو یعني څه دي کړی او څه دي په وکړه ما ورته وویل چې هغه شکایت د حاجت شدیده وکړی، نو زما زړه پر وسو ایله مي کړی. نو علیه السلام وویل چې درواغ یې درته ویلي دي. وسیعود یعني هغه سړي ورته ویلي وه چې بیا نه ورځم. ابو هریره رضي الله عنه وایي چې علیه السلام چې ووېل "سیعود" زه وپوهېدم چې بیا راځي. دابله شپه نو ښه ورته منتظر وم، بیا د شپې راغلی او پخپله بوجي کې یې طعام اچاوه، بیا مي تینګ کړی او ورته وه مي ویل چې زه دي علیه السلام ته بیایم، بیا سړي وویل ما پریږده او هغه د مخه شپې خبري یې ورته وکړې، او ما خوشي کړی، او بیا علیه السلام سهار هغه د پرون خبري راته وکړې، دریمه شپه چې هغه سړی ابو هریره رضي الله عنه وڅیوی ورته وه یې ویل چې دا دریم وار دی چې ته وایې زه نه راځم او بیرته راسي، نن دي حتما علیه السلام ته بیایم ده راته وویل چې ته مي دا پلا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خوشي کړه زه به داسي کلمات دروښيم چې ته سه لويه نفع پر واخلي، نو هغه سړي و ابوهريره رضي الله عنه ته ووېل چې ته مانښام خای ته ورسې آية الکرسي وايه، نو ټوله شپه د خدای ﷻ له خوا يو محافظ يعني ملکه ولاړه وي، او تاته شيطان نه سي در نږدې کېدای تر سهاره پورې، نو ابو هريره رضي الله عنه وايي بيا ما ايله کړې چې سهار مسجد ته ورغلم، عليه الصلوة والسلام بيا راته ووېل ما فعل اسيرک البارحة ما ورته ووېل چې هغه اسير راته ووېل چې زه به يو خو کلمې دروښيم الخ، عليه السلام ورته ووېل چې د کلماتو په باره کې خو يې رشتيا ورته ويلي دي يعني له بېرې وهو کذوب او دی په اصل کې درواغجن دی، بيا عليه الصلوة والسلام راته ووېل چې ابو هريره! ته خبر يې چې دا درې شپې ته دچا سره ملاقي کېږې؟ ما ورته ووېل لا! يعني زه نه پوهېږم چې څوک دی عليه السلام راته ووېل چې دا شيطان دی، رواه البخاري

دروښ وايي: چې ګڼ دشمېر اهل حديثو له علي رضي الله عنه څخه داسي روايت کړی دی چې عليه الصلوة والسلام ووېل که چا تر هر فرضي لمانځه وروسته آية الکرسي ووېل دی به نه کې منع له دخوله د جنت مګر مرګ يعني چې مړ سي دستي به جنت ته ورځي.

دروښ وايي: چې اتصال په فرضو پورې شرط نه دی که يې تر سنتو وروسته ووايي هم صحيح ده، وفي رواية من قرئها حين ياخذ مضجعه يعني چې بدبړي امنه الله على داره وداړ جاره واهل دويرات حوله.

دروښ وايي: چې روح البيان داسي يو حديث راوړی دی "من قرء آية الکرسي بعث الله ملکا يکتب من حسناته ويمحو من سيئاته الى الغد من تلک الساعة، او صاحب د روح المعاني وايي چې دا حديث هيڅ اصل نه لري، او بعض مفسرانو داسي حديث راوړی دی چې خدای ﷻ وموسى عليه السلام ته وحي وکړې چې ته آية الکرسي په وروسته کې د هر لمانځه وايه فانه من يقرئها دبر کل صلوة مکتوبة اجعل له قلب الشاکرين، ولسان الذاکرين وثواب المنيبين واعمال الصديقين، روح المعاني وايي چې هذا حديث منکرا جدا.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

درویش وایي چي آثار د وضع پر دي حدیث ظاهر دي، ولي چي آیة الکرسي خو عربي ده او تورات او د موسی علیه السلام ژبه خو عبراني وه نو څرنګه خدای ﷻ وده ته داسي وخي وکړي، والله اعلم.

درویش وایي چي امام په تفسیر اتقان کي وایي چي آیة الکرسي مشتمل ده اولس خایه پر اسماء الهیه چي بل آیت په ټوله قرآن کي پر دونده اسماء نه دی مشتمل، دی وایي چي اولس خایه په آیت الکرسي کي نوم د خدای ﷻ موجود دی، په بعض خایو کي اسم ظاهر دی په بعض خایو کي ضمیر، وهي الله، الحي، القیوم، وضمیر لاتاخذه، وله، وعنده، وباذنه، ویعلم، وعلمه شاء، وکرسیه، ویاده وضمیر حفظهما الذي هو فاعل المصدر، وهو العلي العظیم. وفي الحدیث ان الصحابة تذاکروا افضل مافي القرآن، نو علیه السلام ودوی ته وویل این انتم من آیة الکرسي، وروسته علیه الصلوة والسلام و علي ﷺ ته وویل یا علي سید البشر آدم دی وسید العرب محمد ﷺ دی ولافخر وسید الفرس یعني اهل الفارس سلمان ﷺ دی وسید الروم صهیب ﷺ دی وسید الحبشه بلال ﷺ دی وسید الجبال الطور دی وسید الایام الجمعة ده، وسید الکلام القرآن دی وسید القرآن البقرة ده وسید البقرة آیة الکرسي، د حضرت علي ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وویل ما قرئت هذه الآیة في دار الا هتجرتها الشیاطین ثلاثین یوما ولایدخلها ساحر ولا ساحرة اربعین لیلة یا علي علمها ولدک واهلک وجیرانک فما نزلت آیة اعظم منها.

درویش وایي چي شبانه روزي ورد د آیة الکرسي پنځوس واره متصل دی په هر وختي لمانځه چي وایي لکن پر یوه خای به دا عدد پوره کوي لکن وینا د ورد مذکور په اجازه د شیخ عامل به وي تاچي د جن د خوا یو بهره نه سي ورته متوجه حاصل دا چي د شیطانانو پیرانانو په دفع کي تر آیة الکرسي مفید آیت نسته.

حکایت یو شیخ وایي چي زه یو وخت په سفر روان وم او خر هم رالسره و چي زما د خوراک او څښاک شیان پر هغه باندي وه قریه پر قریه سفر جریان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درلودی حتی یوه شپه یوې قریې ته ورغلم موسم د یخ هم و، نو کلي والو ته مي وویل چې زما خر به خوک را خوندي کړي کلي والو راته وویل چې موږ د خره خای نه لرو، البته په دې کلي کې یو سرای سته چې هم خوني پکښې سته موږ به دوډی درکړو او د خره لپاره پرورې به هم درکړو، ما ورته وویل چې دا سرای نو ولې ستور ولاړ دی، دوئ راته وویل چې په دې سرای یوه بلا یا جن روږد سوی دی چې ژوندی شی که انسان وي او که حیوان وي چې دې سرای ته د شپې ورسي سهار مړه وي، ما ورته ووېل توکلت علی الله ماته هغه سرای راوښایاست زه او خر هورې شپه تېروو، خلګو د کلي ډوډی راکړه او د خره لپاره یې پرورې هم راکړه، زه هغه سرای ته ورغلم او خر مې یو خای وتاړه بیا سرای و ډېرې آبادی پکښې وې زه په یوه خونه ننوتلم، او یو شمع مې راته ولګول او د خدای ﷻ په طاعت او ذکر مې خان اخته کړی تاچې وګورم چې دې سرای ته څه بلا راځي نیمه شپه تقریبا د سرای په دروازه کې یو غټ شی را داخل سو چې سترګې یې لکه څراغان داسې معلومېدې او په وېښتیانو کې سر تر پایه پټ و او پر دوو پښو را روان و، ما چې ولېدی آیة الکرسي مې شروع کړه هغه بلا ودرېده زه چې ودې خای ته ورسېدم "ولا یؤده حفظهما وهو العلي العظیم" د بلا خګېروی سو، بیا مې دغه توري مکرر دریم وار ووېل پر بلا باندې خپل وېښتانو اور واخستی او چپه سوه کرار کرار ددې خګېروی و او اور پر بل و چې پاکه وسوه زه هم بې غمه ورته بیده سوم سهار مې اودس تازه کړی او لمونځ مې په هغه سرای کې وکړی، که ګورم د کلي خلګ را روان دي ددې لپاره چې هغه مېلمه او خر به مړه وي، خلګو چې زه ژوندی ولیدم حیران سوه نو زما څخه یې پوښتنه وکړه ماتوله ماجرې ورته ووېل او د بلا سوې هډوکي مې ورښوول، او مالک د سرای ډېر خوشحاله سو او ما ورته ووېل چې بې خطره خپل ژوند پکښې کوه، د زید بن ثابت ؓ څخه روایت دی، دی وایي چې زه خپل باغ ته ورغلم او په باغ کې مې یو ډغ واورېدی، ما ورته ووېل چې څوک یاست؟ ده راته ووېل چې یو سړی یم له پېرانانو څخه چې دېرې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوی یم. نو زه ستا باغ ته راغلم چې لږ میوه خندي وخورم، نو جن راته وویل چې ته اجازه راته کوې؟ زید ورته وویل نعم او بیا زید وجن ته وویل الاتخبرني ما الذي يعبدنا منكم. قال آية الكرسي، په یو بل روایت کې رغلي دي چې یو سړی د خرما درختي ته ورغلی په دې درخته کې یو شی ښوربدی، بیا هغه شي خبري وکړې دې سړي خواب ورنه کړی او آية الكرسي يې شروع کړه، له درختي څخه یو سړی راکښته سو سړي ورته وویل چې مور یو مصروع لرو په څه شي یې دوا وکړو، پیري ورته وویل بما انزلني من الشجرة. والحاصل ان آية الكرسي لها تاثيرا عظيما په دفع کې د پیریانو، وطرد الشياطين له نفس څخه د انسان، او مصروع ته هم ډېره فائده رسوي.

دروښ وایي: هذا كله في آكام المرجان في احكام الجان، قال الشاعر

دل پر درد را د وا قرآن جان مجروح را شفا قرآن
هرچه جوی زنص قرآن جو که بود گنج علمها قرآن

قال الله تعالى ﴿وننزل من القرآن ما هو شفاء ورحمة للمؤمنين﴾ وفي موضع آخر ﴿فيه شفاء للناس﴾ وفي موضع آخر ﴿شفا لما في الصدور﴾ وفي موضع آخر ﴿ويشفي صدور قوم مؤمنين﴾ وفي موضع آخر ﴿واذا مرضت فهو يشفين﴾ وفي موضع آخر ﴿قل هو للذين آمنوا هدما وشفاء﴾

دروښ وایي: چې اهل تجربه د علماوو او صلحاوو او اولیاوو دا وایي چې دغه شپږ آیت د هر مرض شفاء ده قرائةً على المريض، او شربةً له، او عوذ آله، ولا يخفى ما في العوض من ترک الآدب مع القرآن في الغاية.

دروښ وایي: چې تمهید د آية الكرسي په اختصار پای ته ورسېدی، اوس واروه تفسیر د آية الكرسي. **اَللّٰهُ**

پوه سه: چې کلمة د "الله" د نهه نوي (۹۹) نومانو د خدای ﷻ لوی اسم دی، ولي چې دا اسم وضع دی لپاره د ذات کامله د خدای ﷻ چې جامع د ټولو صفاتو د جلال او جمال دي، او نور اسماء الهیه یر معنا خاص دلالت کوي وبس، كالعالم على العلم، والقادر على القدرة، وعلى هذا القياس نور نومان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د خدای ﷻ. او دا کلمه مبارکه یو خصوصیت لري هغه دا چې د هري کلمې چې یو حرف څنډې ساقط سي معنا یې تغییر پیدا کوي کما لایخفی، بخلاف هذه الکلمة المنیفة، ولي که الف څنډې حذف سي لله ما في سموات والارض څنډې پاتېږي، او که اول لام هم حذف کړه سي "له" پاتېږي وقال الله تعالی "له ملک السموات والارض، او که لام ثاني هم حذف کړه سي "ه" پاتېږي وهو ضمیر راجع الیه تعالی، قال الله تعالی هو الله الذي لا اله الا هو.

لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ

پوه سه: چې دا جمله خبر د "الله" ده والمعنی لا مستحق للعبادة الا ذاته تعالی وتقدس وان کان الالهة بالباطل کثیرة.

اَلْحَيُّ

پوه سه: چې "حي" هغه ذات ته وایي چې ده ته صحیح وي نسبت د علم او قدرت او سمع او بصر او اراده، نو مونږ انساناتو ته که څه هم نسبت د کمالاتو صحیح دی لکن نسبت په درجه کې د امکان او زوال دی، او خدای ﷻ ته چې د صفت نسبت صحیح وي هغه په درجه کې د وجوب دی او قدم دی یعنې ثابت له تعالی ازلا و ابدا لامتناع کونه تعالی محلا للحوادث، نو حیوة هغه صفت د خدای ﷻ دی چې مبداء د ټولو صفاتو د کمال دی.

پوه سه: چې لفظ د "الحي" خبر ثاني دی، حجة الاسلام ابو حامد محمد الغزالي قدس سره په شرح کې د اسماء الحسنی د "حی" دا سې ترجمه کړې ده، الحي هو الفعال الدراک، حتی چې هغه شی چې فعل او ادراک اصلا نه لري هغه میت حقیقي دی، او کمه درجه د ادراک داده چې مدرک به خپل ځان پېژني، نو هر شی چې خپل ځان نه پېژني هغه جماد دی او میت دی، ثم قال فالحي الکامل المطلق هو الذي تندرج جمیع المدرکات تحت ادارکه، وجمیع الموجودات تحت فعله وذالک هو الله تعالی مجده فهو الحي المطلق، انتهی کلامه الشریف مع ترجمة بعض عباراته الشریفة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الْقَيُّوْمُ

پوه سه: چې عمرو بن مسعود رضي الله عنه د "قيوم" په خای کې "القيام" وايي او علقمه "القيم" وايي لکن دا دري سره لغت په يوه معنی دي، قاضي بيضاوي وايي چې د قيوم وزن فيعول دی من قام بالامر اذا خفظه. نو معنا د قيوم دائم القيام په تدبير کې د مخلوق او په خفظ کې ددوئ، نو اصل د قيوم قيووم و، په قانون د زرادي واو ويا بهم آمدند نخستين ايشان ساکن بود واو را بيا بدل کردندويا را در يا ادغام نمودند قيوم شد.

پوه سه: چې بعض علماء وايي چې الحي القيوم اسم اعظم دی، او دوئ وايي چې عيسی عليه السلام چې به مړي ژوندي کول دغه الحي القيوم به يې وايه. او دوئ وايي چې د کښتی سپاره په درياب کې چې له غرقه وبهربري هم دغه الحي دي په کثرت سره وايي. د امير المؤمنين حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چې په ورځ د بدر زه ورغلم او کتل مې چې عليه الصلوة والسلام څه کوي او څه وايي، نو دی پر سجده پروت و او ياحي يا قيوم يې وايه، بيا څو واره زه ورغلم آنحضرت صلى الله عليه وسلم پر هغه حالت او پر هغه وينا و.

دروښ وايي: چې بعض علماؤ ته دا تردد په زړه کې پيدا کيږي چې اسم اعظم خو يو نوم د خدای جل جلاله دی او الحي القيوم خو دوه نومان دي، او بل دا چې اسم اعظم خو د نهه نوي (۹۹) نومان څخه د خدای جل جلاله علحده نوم دی، او صاحب د روح البيان يو تصوفي دپر مشکل جواب ورکړی چې تر فهم د عوامو بلکه تر فهم د علماؤ د ظاهر هم لوړ دی، نو په نه راوړو کې د هغه خواب معذرت غواړم. او د اذهانو سره د اوساط الناس موافق خواب دادی چې له اسم اعظم څخه مراد دلته هغه مشهوره معنی د اسم اعظم چې خلګ يې په تلاش کې دي نه دی بلکه مراد دادی چې الحي القيوم په اجابت کې د دعاء او په حصول کې د حاجت، او په دفع د بلايا وو تپر هر هدف دی فلا ينافي ذالک تعدد الاسمين المبارکين ولاکونهما من تعداد الاسماء الحسنی التي هي (۹۹)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ

او نه نسي خداى ﷻ پينكى او نه خوب

پوه سه چې "سنة" سستي د حواسو ظاهره تر خوب دمخه يعنې نه يكلخته ويښ او نه پيدا. نو چونكه سنة تر خوب په وجود كې دمخه وه نو خكه يې په عبارت كې تر نوم دمخه ذكر كړې، نو هغه سوال نه پيدا كېږي چې مبالغه ددې تقاضا كوي چې نوم يې مخ نه كړى واى، يعنې چې خداى ﷻ نه نوم نسته حتى چې سنة هم نسته، او نوم د طبيبانو او حكماؤ په نيز حالة تعرض الحيوان من استرخا واعضاء الدماغ من رطوبات الابخرة المتصاعدة بحيث يعطل الحواس الظاهرة عن الاحساس مطلقا.

دروښ وايي: چې مفسرين وايي چې دا صفت سلبي د خداى ﷻ دى چې تشبيه د خداى ﷻ له مخلوقه سره نفي كوي.

فائده: د ابو يزيد البسطامي سيد طائفة الصوفية قدس سره څخه چا پوښتنه د اسم اعظم وكړه، ده ورته وويل چې اسم اعظم لږه حد معين نسته لكن چې زړه فارغه كړي له غير څخه د خداى ﷻ او وحدانيت نه د خداى ﷻ مراقب سي نو په هر نامه چې بولي هغه اسم اعظم دى يعنې په تحصيل د مراداتو او انجاح المقاصد كې او په دفع البلايا كې انتهى.

فائده: روح البيان له كشاف څخه نقل كړى دى چې موسى ﷺ يوه شپه بيده و، په خوب كې يې ملكي وليدلې، نو موسى ﷺ ددوى څخه پوښتنه وكړه چې خداى پاك بيد ږي؟ نو ملكو ته خداى ﷻ وحي وكړې چې موسى راويښ كړئ بيا چې دى بيده سي بيا يې فورا بيرته راويښ كړئ تر دري واره پورې يعنې چې ښه د خوب ځښه پكښې وي بيا په يوه لاس كې هم د اوبو دك بوتل وركړئ او په بل لاس كې هم، ورته ووايايست چې اوس نو بېغمه بيده سه، نو موسى ﷺ چې په درياب كې د خوب غرق سو بوتلان يې دواړه له لاسه ايله سوه او صات سوه، نو وروسه وهوسى ﷺ نه خداى ﷻ وحي وكړې چې ما پخپل قدرت سره

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

اسمانونه او مخکي ساتلي دي، نو که ماته خوب راسي يا نعاس، نو اسمانونه او مخکي به دوارِه ايله سي او دنيا به خرابه سي، قال رسول الله ﷺ ان الله لاينام ولا ينبغي ان ينام آه، ابن الملک رحمه الله وايي چي په لا ينبغي کي اشاره ودي ته ده چي خوب پر خدای ﷻ محال دی عقلا او نقلا لانه عجز وهو محال عليه تعالى، لکن خوب د بندګانو د خدای ﷻ له خوا يو فضل دی چي په خوب سره استراحت د قوی ظاهره او باطنه وو پيدا کېږي، لکن دونده خوب نو هم نه دی پکار چي مانع د تهجد د لمانځه وګرځي اقتداءً برسول الله ﷺ واصحابه رضي الله عنهم کماقال الله خطابا لرسوله ومن الليل فتهجد به الآية وقال في بيان حال اصحابه رضي الله عنهم كانوا قليلا من الليل مايهجعون، سيد الطائفة ابو يزيد بسطامي رحمه الله وايي ماته هيڅ شی نه دی حاصل سوی يعني من الفيوضات والبرکات الا بعد ماجعلت الليالي ايام، يعني ما له شپو څخه ورځي جوړي کړي يعني تولې شپې به بيداره او په طاعت او ذکر الهي به اخته وم.

سعدي وايي

سرانګه ببالين نهد هوشمند که خوابش بقهر اورد درکمند

يعني چي خوب يې يوځي مجبوره نه کړي سر پر بالښت نه ايږدي هوښيار سړی.

حکايت: د يوه شيخ د دوو شاګردانو اختلاف سو، يوه ويل خوب بنه دی، ولي چي په حالت کي د خوب سړی له دېرو ګنهو خلاص وي لکه غيبت، بهتان، درواغ، زنا، لواطت وغيرها، او بل ويل چي د شپې بيداري بنه ده ولي چي سړی په بيداری کي د خدای ﷻ په طاعت او ذکر او راز ونياز اخته وي، نو خپل شيخ محکم کړی، نو شيخ وهغه مريد ته چي د شپې بيداري ته يې تفضيل ورکاوه چي ستا لپاره ژوند بنه دی او هغه بل ته يې وويل چي ستا لپاره مرګ بنه دی.

دروېش وايي، چي خواب د شيخ په لويه کنايه دی فتامل فيه.

حکايت: يو سړي مينځه رانيولنه، نو چي مانښام سو مينځي ته يې وويل چي خای اوار کړه چي بيده سو، نو مينځي ورته وويل چي ته ينبس يې او زه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بیده سم ته راضي کړي، مولا ورته وویل یا، نو مینځي ورته وویل چي ته مولی لري هغه ورته وویل هو خدای ﷻ زما مولی دی، مینځي ورته وویل چي ستا مولی بیدپري، هغه ورته وویل چي یا نه بیدپري، مینځي ورته وویل چي ته نه شرمېري چي مولی دي وینې وي او ته بیده یې.

دروښ وایي: چي مناسب د وینا سره د مینځي هغه بیتونه د بلال ﷺ دي چي په وخت کي د سدس اخیر د شپې به یې ویله

یا ذا الذي استغرق في نومه　　مانوم عبد ربه لاینام

اهل تقول اني مذنب مشتغل　　الليل بطيب النيام

لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ

خدای ﷻ لره دي یعني خلقاً وملکاً وعبیداً هغه شیان چي په اسمانو کي دي لکه لمر، سپوږمی. او که نور ستوري دي او که مخکي دي او جنتونه وغیرها او که په مخکه کي دي من الحیوانات والنباتات والمعدنیات وغیرها مما یعلمها الله اذ لا یعلم جنود ربک الا هو.

پوه سه: چي په دې جمله کي اثبات د قیومیت د خدای ﷻ او د معبودیت د خدای ﷻ او د وحدانیت د خدای ﷻ دی. ولي چي مافي السموات وما في الارض ټوله د خدای ﷻ مخلوق او مملوک دي نو بل څوک دده سره شراکت نه لري، اذ لو کان فیهما الهة الا الله لفسدتا فهو المستحق للعبادة او هیڅ څوک استحقاق د عبادت نه لري فلا اله الا هو ولا معبود سواه، نو مشرکان ولي د خدای ﷻ سره بتان په عبادت کي شریکوي فلم لایقرون بلا اله الا الله.

پوه سه: چي مافي السموات او معطوف دده مبتداء ده، او "له" خبر دی مقدم د تقدیم لپاره د اختصاص دی.

مَن ذَا ٱلَّذِى يَشْفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذْنِهِۦ ۚ

څوک دی چي شفاعت دي وکړي په نیز د خدای ﷻ یعني په ورځ د قیامت بېله اذنه د خدای ﷻ دا رد دی د هغه قول د مشرکانو چي په باره کي د بتانو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

به يې ويل هولاء شفعائنا يعني على تقدير البعث بعد الموت.

پوه سه: چې استفهام انکار دی يعني هيڅ څوک شفاعت نه سي کولای پېله اجازې د خدای ﷻ.

يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ

او خدای ﷻ خبر دی په هغه شي چې په مخ دی من امور الدنيا، او هغه شی چې تر دوئ وروسته دی من امور الآخرة، او يا مراد له "مابين ايديهم" څخه امور د آخرت دي، ولي چې د خلګو واخرت ته مخ دی، او له "ماخلفهم" څخه امور د دنيا دي ولي دنيا ددوئ تر شا پاتېږي، او يا مراد له "مابين ايديهم څخه "مافعلوه من خير او شر وقدموه، او له "ماخلفهم" څخه مراد مايفعلونه بعد ذالک.

بوه سه: چې دا جلمه "بل" استيناف دی لپاره د بيان د احاطه د علم د خدای ﷻ په احوالو سره د مخلوق چې يو له هغه څخه علم د خدای ﷻ بمن يستحق الشفاعة ومن يستحقه، او احاطه نه لري يعني الملائكة والانبياء عليهم السلام وغيرهم پر يوه شي د معلوماتو د خدای ﷻ مګر نه په هغه شي چې د خدای ﷻ رضا سي، لکه ملائكة وو ته پې سر د خلافت د آدم ﷺ وروښو بعد ان قالوا اتجعل فيها من يفسد فيها الى آخر الآية، او آدم اسماء د ټولو شيانو بې توسطه د ملکي وروښول وعلم آدم الاسماء كلها الآية، كمامر تحقيقه في سورة البقرة، او انبياء عليهم السلام په وحي سره بعض شيان وربنيي، او علماوُ ته د امت مرحومه بعض معلومات خپل په توسط د عليه الصلوة والسلام وربنيي الى غير ذالک من الالهامات الصادقة والرؤياء الصالحة.

وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ

او فراخه کرسي د خدای ﷻ ټولو اسمانو او مځکي ته.

بوه سه: چې کرسي په لغت عربي کي چوکۍ ته وايي چې د لرګو يا يېښو څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جوړه وي او تر قدر د ناستي د سړي زياته نه وي، نو په دې معنا دا آيت صرف تمثيل مجرد دی د عظمت د شان والا فلا کرسي على الحقيقة ولا قاعدة، هذا ماقاله العلامة البرسوي رحمه الله والمحقق البيضاوي والعلامة الآلوسي ؒ.

دروښ وايي چې په مراد کې د کرسي څخه اختلاف دی په صحابه او تابعينو کې (۱) سعيد بن جبير له ابن عباس څخه روايت کړی دی چې مراد له کرسي څخه علم د خدای ﷻ دی، والیه ذهب مجاهد رحمه الله (۲) مراد له کرسي څخه ملک او سلطنت د خدای ﷻ دی والعرب تسمی الملک القديم کرسيا، مظهري دا ډوه قوله رد کړي دي، ولي چې دمخه خدای ﷻ وويل ﴿له مافي السموات وما في الارض يعلم مابين ايديهم وما خلفهم﴾ نو وروسته فراخي د علم او ملک د خدای ﷻ بيانول مستدرک دی

دروښ وايي: چې مظهري اراده علم د کرسي څخه وابن عباس رضي الله عنه ته منسوبه کړه چې ابن عباس رضي الله عنه په متفقه ډول رئيس المفسرين دی، او وروسته دی سوال د استدراک پر کوي.

دروښ وايي: چې دا استدراک د دواړو قولو مدفوع دی، ولي چې مقصود په دې آيت کې فراخي د علم الهي او ملک الهي ده بعبارة اخرى تاکيداً فلا اعتراض عليهما ومثل ذالک کثير في کلام العرب بل في القرآن العزيز واعترف المظهري بذالک ايضا في الجزء العاشر من تفسيره في تفسير سورة النازعات في تفسير قوله تعالى ﴿فالسبقت سبقا﴾ فطالع هناک (۳) حسن بصري رحمه الله وايي چې کرسي عين عرش دی (۴) ابو هريره رضي الله عنه وايي چې کرسي موضوع امام العرش ومعنى قوله تعالى ﴿وسبع کرسيه السموات والارض﴾ ان سعة الکرسي مثل سعة السموات والارض.

دروښ وايي: چې په باره کې د کرسي روايات آخر هم منقول دي چې د تولو راوړه او رد او قبول به يې سامعانو ته ډير گران تمام سي

دروښ وايي: چې د هيڅ آيت بايد داسي ترجمه ونه کړل سي چې خلاف له مذهب څخه د اهل السنت والجماعة وي، يعني خدای پاک جسم دی او يا پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عرش يې مکان دی او يا پر کرسي ناست دی الی غير ذالک، ددالسي آيتو تفويض د علم دي وخداى ﷻ ته وکړه سي لکه د متقدمينو چي مذهب دی په متشابهاتو قرآنيه او حديثيه وو کي، وهذا الطريق اسلم، او يا يې تاويل وکړه سي په تاويلاتو صحيحه وو سره کما هو مذهب المتاخرين ؒ

دروښ وايي: چي محقق بيضاوي په تانيد کي دا آيت يعني "وسع کرسيه" آه تصوير او تمثيل دی د عظمت د خداى ﷻ په دي آيت سره کړی دی "وما قدروا الله حق قدره والأرض جميعًا قبضته يوم القيامة والسموات مطويات بيمينه آه" فتامل فيه وفي المثنوي المعنوي

گفت پيغمبر که حق فرموده است من نه گنجم هيچ در بالا وپست
در زمين و آسمان و عرش نيز من نه گنجم اين يقين دان ای عزيز
در دل مؤمن به گنجم ای عجب گر مرا جوئی در آن دلها طلب
خود بزرگی عرش باشد بس مديد ليک صورت چيست چون معنی رسيد

دروښ وايي: په دي ابياتو کي د جلال الدين الرومي رحمه الله هم اشاره بلکه تصريح په دي سره ده چي خداى ﷻ لره مکان نسته وهذا يؤيد قول البيضاوي رحمه الله.

دروښ وايي: چي صاحب د روح المعاني وايي والكلام مساق على سبيل التمثيل لعظمته تعالى شانه وسعة سلطانه واحاطة علمه تعالى بالاشياء قاطبة ففي الكلام استعارة تمثيلية وليس ثمه كرسي يعني بالمعنى الذي يقعد عليه القاعد ولا قاعد ولا قعود وهذا الذي اختاره الجم الغفير من الخلف اى المتاخرين فرارا عن توهم التجسيم له تعالى.

دروښ وايي: چي وروسته صاحب د روح المعاني هغه احاديث په تفصيل راوړي دي چي په هغو کي ذکر د اعظاؤ لکه قدم وغيره وخداى ﷻ ته سته، ثم قال بعد اسطر واكثر السلف الصالح جعلوا ذالک من المتشابه الذي لايحيطون به علما وفوضوا علمه الى الله تعالى مع القول بغاية التنزيه والتقديس له تعالى شانه، يعني من امارات الحدوث والجسمية والمكان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والجهة وحقيقة القدم واليد والوجه الى غير ذالک.

دروښ وايي: چې دا قول د آلوسي موافق دی د قول سره د بيضاوي او د قول سره د مولوي معنوي، او چې دروښ دمخه وويل هغه هم ددې اقوالو سره موافق دی.

دروښ وايي: چې يوه طائفه سته چې مجسمه يې بولي هغه دغه ټوله آيتونه او احاديث نبويه محمول پر ظاهره معنا بولي، او هيڅ تاويل او مجاز او تشابه نه پکښې وايي، يعنې خدای ﷻ لره مخ وايي او خدای ﷻ لره لاسونه وايي او خدای ﷻ لره پښې وايي او د خدای ﷻ مکان عرش بولي، او وايي چې خدای ﷻ پښې پر کرسی ايښې دي الى غير ذالک ومنهم الفرقة المعهودة في العرب والعجم.

دروښ وايي: ابطال د قول د د مجسمه وو، په شرح العقائد او شرح المقاصد للعلامة التفتازاني رحمه الله او په مواقف د قاضي عضد الملة والدين او په شرح کې د سيد جرجاني رحمه الله پر مواقف باندې مطالعه کړه سې.

دروښ وايي: چې دېر احتياط پکار دی چې د مجسمه چې دا اوس هم دېر په پاکستان کې په يوه نامه او بل نامه شهرت لري خصوصا په عربي ممالکو کې په قال الله وقال الرسول خطا نه وزئ، او له مذاهب اربعه وو څخه تجاوز ونه کړئ، او عوامو ته پکار دی چې خپل ساده لوح کوچنيان په داسې مدارسو کې داخل نه کړي چې څه مده وروسته پلار او مور ته او نيکه ګانو ته مشرکان وايي، ومن الله التوفيق.

وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ ﴿٢٥٥﴾

او نه درنېږي پر خدای ﷻ باندې ساتنه د اسمانو او مخکو "من آده الشئ وياوده اذا اثقله"

پوه سه: چې وجه د عدم ثقل د حفاظت د اسمانو او مخکو پر خدای ﷻ باندې داده چې قليل او کثير، او قريب وبعيد د خدای ﷻ وقدرت ته برابر دي وکيف يثقله وانما امره اذا اراد شيئا ان يقول له کن فيکون او خدای ﷻ عالي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی د ند او د ضد څخه، او عظیم المرتبه دی چې هر شی وذات ته دده حقیر او ذلیل دی اذ لا یشبهه شیئ ولا بماثله لا في الذات ولا في الصفات الا في مجرد اللفظ.

لَآ اِكْرَاهَ فِى الدِّيْنِ

او مجبوره کول نسته په دین کې یعنې پر اسلام باندې.

پوه سه: چې بعض مفسرین وایي چې دا آیت په شان کې د مجوسیانو او یهودیانو او نصاراوو نازل سوی دی، یعنې ددغو درو ډلو څخه جزیه قبلول کیږي، او دوئ داسې نه دي لکه مشرکین د عربو چې جزیه نه څندي قبلول کیږي بل ان اسلموا فبها والا قتلوا، قال الله تعالی في حقهم تقاتلونهم او یسلمون

دروښ وایي: چې پر دې تفسیر دا جمله خبریه ده په معنی د نهي ده یعنې لاتجبروهم علی الاسلام ان بذلوا الجزیة، او صاحب د روح المعاني وایي چې دین په معنی د ایمان دی، نو معنی د آیت داده چې اکراه پر ایمان نسته یعنې متصوره نه ده، ولې چې د اکراه معنی خو داده چې پر سړي الزام او تکلیف د داسې فعل وکړي چې هغه سړی په راضي نه وي او دا خو په افعالو کې د جوارحو کېدای سي مثلا د یو سړي لمونځ نه وي خوښ په زوره یې پر لمانځه ودروي وهکذا الوضوء وغیره او ایمان خو عقیده د زړه ده او انقیاد ده د باطن وهو لایوجد بالاکراه.

دروښ وایي: چې پر دې تفسیر لااکراه في الدین جمله خبریه ده، او پر خبریت باقي ده یعنې لایتصور الاکراه في الایمان، او بعض مفسرین وایي چې مقصود په ایجاب کې د ایمان او د نورو عباداتو خو ابتلاء ده کما قال الله تعالی "لیبلوکم ایکم احسن عملا" والمعتبر في الایمان والعبادات هو الاخلاص کما قال الله تعالی واعبدوا الله مخلصین له الدین ولا اکراه والاجبار نیا في الاخلاص والابتلاء فهذه الجملة خبریة محضة، او بعض مفسرین وایي چې څه وخت چې پر بني النضیر چې د یهودیانو یوه قبیله وه د علیه السلام له خوا حکم د جلاوطنی صادر سو، نو په دغو یهودیانو کې د بعضو انصارو دوه زامن هم شامل یعنې د یهودیت په دین کې وه، نو هغه انصاري چې مسلمان و علیه الصلوة والسلام ته یې وویل چې موږ خپل زامن نه پرېږدو چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د یهودیانو سره فراره سي یعني مور یې پر اسلام مجبوره کوو. نو دا آیت نازل سو "لااکراه في الدین" نو علیه السلام وهغه انصاري ته وویل چي ته دي زامنو ته اختیار ورکړه چي تاسي مختاره کړئ فهما منکم وان اختاروا الیهود فاجلوهم معهم

قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ

په تحقیق سره معلوم سو رشد یعني هدایت د غي او ضلال څخه، معنی داده چي اوس په دلائل عقلیه وو سره او په معجزاتو واضحه وو سره د علیه الصلوة والسلام دا معلومه سوه چي ایمان او اسلام هدایت دی چي سړی وسعاداتو دینیه او اخرویه وو ابدیه وو ته رسوي، او کفر غي او ضلال دی چي سړی د بدبختۍ سره ددنیا او آخرت یعني النار المؤبده مخامخ کوي، نو حجة خدای ﷻ پر خلګو تام سو، او دوئ لره نور هیڅ عذر نه دی پاته یعتذرون به یوم القیامة فلاحاجة الی اکراههم علی الایمان.

دروښ وایي: چي دا جمله په معنا کي دلیل دی پر دي قول د خدای ﷻ "لااکراه في الدین"

دروښ وایي: چي دا تفسیر موافق د قول سره د روح المعاني، روح البیان، مظهري او بغوي وغیرهم من المفسرین رحمهم الله تعالی اجمعین.

فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ

نو وروسته تر وضوح د رشد له غي څخه که څوک کفر وکړي په طاغوت سره یعني د طاغوت په قول ونه کړي او ایمان راوړي پر خدای ﷻ یعنی "لا اله الا الله" نو په تحقیق سره ده لاس ټینګ کړی په دستکي او رسۍ محکمي سره چي کلمه د توحید ده.

بوه سه: چي مراد له طاغوت څخه شیطان دی په قول د عمر بن الخطاب او د حسین بن علي ؓ، او د مجاهد، قتاده، سعید بن جبیر او عکرمه ؓ مراد څنډي کاهن اخلي، او په قول د ابي العالیه مراد څنډي ساحر دی، او مالک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بن انس مراد خندي كل ما عبدمن دون الله من الانس كفرعون ونمرود او الجن او الشياطين لكن يشرطون ان يكون ذالک المعبود مذموما عند الله فيخرج منه عيسى وان عبده النصارى، فلا يرد بقوله تعالى "انتم وما تعبدون حطب جهنم" لكن اولى داده چي طاغوت تولو مايطغى ته شامل دى، والتخصيص في تلک الروايات على سبيل التمثيل دون الحصر

فائده: طاغوت صيغه د مبالغه ده كالجبروت والملكوت لكن اختلاف په دي كي دى بعض وايي چي طاغوت مصدر دى نو خكه مفرد او مذكر مستعملېږي لكه نور مصادر واليه ذهب ابو علي الفارسي، او بعض وايي چي اسم جنس مفرد، نو خكه مذكر او مفرد راځي واليه ذهب سيبويه، او مبرد وايي چي جمع د طاغي ده.

فائده: طاغوت مشتق د طغى يطغي څخه او يا د طغى يطغواڅخه چي مصدر ده، اول طغيان دى او مصدر د ثاني طغوان دى، نو اصل د طغوت پر اول تقدير طغيوت وو او پر دوهم تقدير يې اصل طغووت وو، نو لام يې وخاى ته عين يو وي، او عين كلمه يې وروسته كړى، نو حرف علت متحرک سو او ماقبل يې مفتوح نو حرف علت يې چي يا او واو دى په الف بدل كړه كماهو القانون الصرفي، فالوزن القبلي فعلوت والوزن الفعلي الموجود قلعوت.

فائده: خداى پاک ذكر د كفر بالطاغوت مقدم كړى تر ذكر د ايمان بالله لانهم قالوا التخلية بالخا متقدمة على التحلية بالحاء.

دروېش وايي: چي دا تحقيق د لفظ د طاغوت صرف د طالبانو لپاره دى نو څوک دي اعتراض نه كوي چي عوام په دي تحقيق څخه پوهېږي، ولي تفسير د دروېش خو پښتو دى لكن مختص يوازي په عوامو پوري نه دى كما اعتذرت بذالک العذر كرات ومرات.

پوه سه: چي سين د استفعال لپاره د طلب نه دى كما يفهم من كلام المظهري، حيث قال اى طلب التمسک بلكه سين لپاره د تاكيد د تمسک دى كما يفهم من كلام روح البيان حيث قال اى بالغ في التمسک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: وثقی" مونث دی د اوثق او اسم تفضیل دی فمعنی د وثقی المستحکمة غایة الاستحکام، نو دا قول د باري تعالی مبني دی پر تشبیه د معقول په محسوس سره یعني شبه الایمان والاسلام والدلائل العقلیة والنقلیة والمعجزات الباهرة بالعروة المحسوسة للجسم الکبیر یتعلق بها من یرفع ذالک الجسم الثقیل فکذالک ینبغي لطالب الحق ان یتمسک بتلک الدلائل حتی یصل الی انوار الحق المبین

لَا انْفِصَامَ لَهَا ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٢٥٦﴾

ای لا انقطاع لها وهذه جملة مستانفة لبیان قوة دلائل الحق بحیث لایعتریها شیئ من الشکوک والشبه او خدای ﷻ اورېدونکی ستاسي د خبرو او عالم ستاسي په احوالو ظاهره او باطنه وو سره دی

فائده: مجاهد رحمه الله وایي چې مراد د عروة وثقی څخه ایمان بالله ورسوله دی، او انس بن مالک رضی الله عنه وایي چې مراد خندي قرآن دی، او ابن عباس رضی الله عنه وایي چې مراد خندي اخلاص دی، المعبر عنه بالاحسان في الحدیث النبوي وهو ان تعبد الله کانک تراه فان لم تکن تراه فانه یراک. کذا فسره النبي ﷺ في الحدیث الطویل الذي، رواه البخاري ومسلم

تحقیق بیاني: احتمال لري چې په "عروة" کې دي استعاره تصریحیه وي، او "استمسک دي ترشیح د استعاره مذکوره وي، او دا هم احتمال ستې چې "استمسک" دي جلا استعاره تبعیه وي، او بعض محققین وایي چې نبه داده چې دا آیت دي استعاره تمثیله وي بان یشبه الهیئة العقلیة المنتزعة من التمسک بالحبل المحکم المامون من نقطاعه من غیر تعرض للمجاز في المفردات کذا قال علامة البغداد الآلوسي رحمه الله.

فائده: په اخیر آیت یعني وهو السمیع العلیم" کې باعثه کول دي د خلګو پر ایمان باندي، او منع کول دي له کفر او نفاق څخه فهي مشتمل علی الوعد والبشارة للمؤمنین والوعید والتخویف للکافرین والمنافقین.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَللّٰهُ وَلِیُّ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا

خدای ﷻ محب او دوست دی د هغو کسانو چې خدای ﷻ یې اراده د ایمان لرې

یُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ؕ

دوئ باسي پخپل هدایت او توفیق سره د تاریکیو څخه د کفر او نفاق او د جهل او اتباع الشهوات الزائقة النفسیة والوساوس الشیطانیة المؤدیة الی الکفر والطغیان ونور ته د ایمان.

دروښ وایي چې چونکه انواع د کفر دهرې وې من الیهودیة والنصرانیة والشرک والمجوسیة والدهریة وغیرها نو څکه یې ظلمات په صیغه د جمع راوړی، او ایمان چونکه نوع واحدة ده وهو التبری عن الکل عبر عنه بالمفرد.

وَالَّذِیْنَ كَفَرُوْۤا اَوْلِیٰٓـُٔهُمُ الطَّاغُوْتُ ۙ یُخْرِجُوْنَهُمْ مِّنَ النُّوْرِ اِلَى الظُّلُمٰتِ ؕ

او هغه کسان چې کافران دي دوستان ددوئ شیطانان دي که د جن او که د انس مثلا د مشرکین د مکې لپاره طاغوت ابو جهل بن هشام امیه بن خلف وغیرهما من طغات مکه، او د یهودو لپاره کعب بن الاشرف و حیي بن الاخطب وغیرهما

دروښ وایي چې په هره زمانه او په هر قوم کې دغه طواغیت سته چې په لباس کې د دوستانو خانونه معرفي کوي او په حقیقت کې دښمنان دي، او دغه طاغوتیت دوئ باسي له نوره څخه د ایمان وتاریکیو ته ته د انواغو د کفر او طغیان او شکوک او شبهاتو ته.

پوښتنه دغو کافرانو خو نور د ایمان نه درلودی حتی چې دا وویل سي چې طواغیتو دوئ له هغه نور ایماني څخه وظلمات ته د کفر وه ایستله؟

ځواب په حدیث کې د بخاري او مسلم راغلي دي آنحضرت ﷺ وویل "ما من مولود الا یولد علی فطرة الاسلام، ای استعداد قبول الدین المبین، فالمراد بالنور في الآیة هو هذا النور والایمان الفطري "فابواه یهودانه او ینصرانه او یمجسانه"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعني مور او پلار يې سبب د يهوديت او يا نصرانيت او يا مجوسيت وگرځي، يعني په تعليم او تربيه او باعثه کول پر دغو اديانو باطله وو. نو د مولود مذکور لپاره مور او پلار طواغيت دي

أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٣٩﴾

دغه کسان دي صاحبان د اور د جهنم يعني يوم القيامة، او دوئ به په هغه اور کې همېشه او ابد الآباد وي

پوښتنه: تر "يخرجهم من الظلمات الى النور" وروسته خدای ﷻ داسي نه ويل "اولئک اصحاب الجنة هم فيها خالدون" د څه حکمت لپاره؟

ځواب: حکمت الهي تعظيم دی د حال د مؤمنانو په دې معنی چې بيان لفظي په هغو نعمتو سره چې خدای ﷻ دوئ ته په دار الثواب جنت کې اراسته او مهيا کړي دي ايفا نه سي کولای لان النعم الالهية في دار الثواب الجنة مما لاعين رئت، ولا اذن سمعت ولا خطر على قلب بشر، كما ورد في الحديث النبوي ﷺ فكيف يفى بها البيعان اللفظي

پوښتنه: د کفارو لپاره هغه عذابونه چې خدای ﷻ په دار البوار النار کې اراسته کړي هم بيان لفظي احاطه نسي پر کولای؟

ځواب: هو لكن النكات تطلب لمالم يقل لا لما قال فتدبر وهذا معنى قولهم النكتة للقار لا للقار.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِي حَاجَّ إِبْرَاهِيمَ فِي رَبِّهِ

آيا ستا علم نه دی رسېدلی و هغه سړي ته چې ده دليل وايه د ابراهيم سره په باره کې د رب د ابراهيم.

پوه سه: چې دا سړی نمرود يې نوم و او اول سړی دی چې تاج يې پر سر اينبی دی او فساد في الارض يې شروع کړی دی، حتی د دې هر حماقت څخه يې دعوه د خدايي کړې وه، نو استفهام لپاره د تعجب د خلګو دی د نمرود وحماقت او خرګړي چې څرنګه سره د علمه پر احوالو خپل ده دعوه د ربوبيت کوله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یوه سه: چې دلیل د نمرود د ابراهیم علیه السلام سره خو حجت نه و بلکه جدال و، لکن چونکه ده خبیث دا خپلې خبرې د حجت پر ډول بللې نو ځکه خدای تعالیٰ تعبیر په حاج وکړی، نمرود زوی د کنعان و او هغه زوی د سام و او هغه زوی د نوح علیه السلام و.

أَنْ اٰتٰهُ اللّٰهُ الْمُلْكَ

یعنې له دې سببه چې خدای تعالیٰ وده نه بادشاهي ورکړې وه، نو لام د تعلیل ورسره مقدر دی یعنې تکبر د بادشاهي یې سبب د دعوی د ربوبیت سوه د نمرود، مع ان الواجب علیه شکر ذالک الایتاء کما یقال عادیتني لانې احسنت الیک.

یوه سه: چې بادشاهي د تهولي کړې د مځکې ځلورو کسو کړې ده، دوه مسلمانان سلیمان علیه السلام او ذو القرنین، او دوو کافرانو نمرود او بخت النصر البابلي علی مانطق به القرآن والاحادیث النبویة وکتب التواریخ الاسلامیة.

فائده: د بخت نصر اصلي نوم شداد بن عاد دی چې په بعض صحراو کې د عدن د ارم ښار جوړ کړی و.

مسئله: معتزله بادشاهي د کافر پر مسلمانانو ممتنع بولي بناء علی مذهبهم الباطل چې اصلح د بندګانو پر خدای تعالیٰ واجبه بولي نو تسلیط د کافرانو پر مسلمانانو خو اصلح د حال د مؤمنانو نه دی.

والجواب: ان ایتاء الملک للکافر امتحان لذالک الکافر وامتحان لعباده المؤمنین ثم هذه الآیة رد صریح لمذهبهم الباطل لان نمرود کان اشد کافر واقبح الکافرین مع انه تعالی اعطاه الملک علی المسلمین والکافرین.

یوه سه: چې د وجوب الاصلح للعبد پر خدای تعالیٰ باندې د پر مفاسد لرې په شرح العقائد للعلامة التفتازاني رحمه الله کې وایي چې ابو علي الجبائي چې غټ شیخ د معتزله وو او شیخ ابو الحسن الاشعري دده شاګرد یوه ورځ جبائي مسئله د وجوب د اصلح پر خدای تعالیٰ بیانوله، چې شیخ اشعري چې په ولې کې د شاګردانو ناست د جبائي څخه یې پوښتنه وکړه چې درې ورونه وه، یو مسلمان و او پر اسلام مړ سو، او یو په کوچني والي نابالغ مړ سو، او بل کافر و او پر کفر مړ سو، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ددې دروو وروڼو خاى به چېرې وې په آخرت کې، جبايي ورته ووېل چې مسلمان به په جنت کې وي، او کوچنی ورور به يې خادم د جنتيانو وي، بلا ثواب ولاعقاب، نو اشعري ورته ووېل که دې کوچني ورور خداى ﷻ ته ووېل چې زما لپاره خو اصلح داوه چې زه دې بالغ کړى وايي تاچې ما ايمان راوړى وايي، اوس به زه هم استقلالا لکه ستا ورور جنتيان په جنت کې وايي، نو خداى ﷻ به څه جواب ورکوي، جبايي ورته ووېل چې خداى ﷻ به ورته ووايي چې زه په تا خبروم چې ما لوى کړى وايي ته کافر کېدې، نو اصلح تالره داوه چې په کوچنيوالي مې مړې کړې، او له دوزخ څخه مې خلاص کړې، نو اشعري ورته ووېل که هغه ورور چې پر کفر مړ سوى وو خداى ﷻ ته ووېل چې په ما خو هم خبرې وې چې زه کافر کېږم، نو زه دي ولي په کوچنيوالي نه وژلم زما لپاره خو اصلح د کوچني والي مرګ و چې له دوزخ څخه خو به اوس خلاص واى خداى ﷻ به څه جواب ورکوي، نو جبايي حيران او لا جوابه پاته سو، وترک الاشعري رحمه الله مذهبه وهو امام اهل السنة من يوم ذالک الى يومنا هذا والامام الثاني لاهل السنة والجماعة هو الامام ابو منصور الماتريدي دى والتفصيل لمذهب المعتزلة و اهل السنة والجماعة في كتب العقائد كشرح العقائد وشرح المقاصد للتفتازاني وغيرهما مطالعه کړئ.

إِذْ قَالَ إِبْرٰهٖمُ رَبِّيَ الَّذِيْ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ۙ

چې ووېل ابراهيم يعنې و نمرود ته چې نمرود وده ته ووېل چې ستا رب څوک دى چې ته ما وهغه ته وربولې، زما رب هغه ذات دى چې هغه حيوت او مرګ پيدا کوي

بوه سه چې چونکه د حقيقت الهي وېښونه ته لار نه وه، نو ابراهيم نمرود ته د خداى ﷻ په اثارو او افعالو سره ورويښوو، من الاحياء والامامة چې په عالم امکان کې دا دوه کاره مشهوره دي.

فائده: اذ چې ظرف دى متعلق په "حاج" پورې دى او داجمله بيان د "لحاج" ده، مظهري وايي چې شايد نمرود به دهري و، چې حوادث د دنيا بېله صانع اتفاقا پيدا کېږي، او دا به يې هم عقيده وه چې ذوى العقول د ممکناتو خالق د خپلو افعالو دى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لکه مذهب د معتزله وو او د رواقضو چې دی. راوې وایي چې ابراهیم چې نمرود ته هغه وړاندې خبره وکړه، نو نمرود دوه کسه واجب القتل یعنې چې محکوم بالقتل وه د بندي خانې څخه راوه ایستل یو یې ایله کړی او هغه بل یې قتل کړی، نو یې ابراهیم ته داسې وویل.

قَالَ اَنَا اُحۡیٖ وَاُمِیۡتُ ؕ

دروېش وایي: چې پوره قصه د ابراهیم علیه السلام او د نمرود چې په ژړه پورې حیرت انګېزه قصه ده او دېره طویله قصه ده په خپل خای کې ددې تفسیر به راسې ان شاء الله تعالی، دلته خدای ﷻ په مختصره توګه لږ بیان کړی دی.

فائده: ابراهیم چې نمرود لوی غبي او غویی ولیدی چې د خلق او کسب په فرق نه پوهېږي، نو یې انتقال وېل مثال اوضح ته د صنع د خدای ﷻ وکړی چې د تلبیس د خبیث قابل نه وو.

قَالَ اِبۡرٰهٖمُ فَاِنَّ اللّٰهَ یَاۡتِیۡ بِالشَّمۡسِ مِنَ الۡمَشۡرِقِ فَاۡتِ بِهَا مِنَ الۡمَغۡرِبِ

ابراهیم ووېل یعنې نمرود ته چې زما خدای ﷻ راتګ کوي په لمر سره، یعنې را خېژوي یې د مشرق له خوا، نو که ته خدای یې ته یې د مغرب له خوا راوخېژوه

فَبُهِتَ الَّذِیۡ کَفَرَ ؕ

نو حیران سو هغه څوک چې کافر وو یعنې لکه د مخه چې یو تلبیسي جواب ورکړی د هغه ورته جواب څخه په دې دلیل کې عاجز پاته سو.

دروېش وایي: چې لفظ د "بهت" که څه هم پر صیغه د مجهولي دی لکن معنی یې د معلومي ده، او "الذي کفر" یې فاعل دی.

فائده: صاحب د روح المعاني "بهت" پر څو قرائتونه راوړی دی المذکور في الآیة، بُهت بفتح الباء والهاء فیجوز اینکون الفعل لازما ایضا، او دا هم پر دغه قرائت احتمال د تعدیه هم لري، نو فاعل یې ابراهیم دی او الذي کفر یې مفعول دی ای غلب ابراهیم علی الذي کفر واسکته عن الاحتجاج.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۵۸﴾

او خدای ﷻ هدایت نه کوي وهغه قوم ته چې ظالمان یعني کافران وي، یا ولاړي ته د احتجاج مع الانبیاء او یا ولاړي ته د قبول د حق عند رویة المعجزات عن الانبیاء، لخبث باطلهم وسوء استعدادهم

پوه سه چې مظهري چې موږ نقل ځندي وکړی هغه خبره یې کړې وه وروسته هم په دغه صفحه کې په تفسیر کې ددې آیت "فبهت الذي کفر" یې داسې ویلي دي چې د نمرود رایه داوه چې که ابراهیم له ربه ځځه خواست وکړي خدای ﷻ به لمر د مغرب له خوا ځځه راوخېژوي، انتهی. نو عجبه خبره داده چې نمرود چې دهري وو نو څرنګه دده رایه دا وه چې ابراهیم که خدای ته خواست آه او سره ددې چې دهریان عالم لره صانع نه وایي لکه مظهري رحمه الله چې هم دمخه تصریح په وکړه والله اعلم بمراد عباده

دروښ وایي: چې بعض مفسرانو رحمهم الله په تفسیر کې ددې آیت فبهت آه او په تفسیر کې ددې آیت والله لایهدي القوم آه" یوه په زړه پورې نکته داسې بیان کړې ده چې نمرود خو یو جاهل مغرور شخص و چې دعوه د خدایي یې کړې وه نو که ده ابراهیم ته د ان الله یاتي بالشمس الآیة په جواب کې داسې ویلي وایي چې لمر د مشرق ځخه خو زه راخېژوم ستا که رب سته هغه دې د مغرب له خوا ځخه راوخېژوي، نو یو باطل جواب خو به وایي لکه نمرود چې د ابراهیم د هغه دلیل ان ربي الذي یحي ویمیت یو باطل غلط جواب ووایه انا احي وامیت، لکن خدای ﷻ د نمرود خوله او زړه د ابراهیم د وروستني دلیل یعني فان الله یاتي بالشمس آه واړول حتی تحیر او مبهوتیت په درباب کې ډوب کړی چې داهم د خدای ﷻ د قدرت عظیمه دلیل دی، او په عین حال کې د ابراهیم معجزه هم ګڼل کېږي چې دوئله مغرور متکبر شخصیت یې د غلط او باطل جواب ورکولو ځخه یې پر ګوډ وکړی او د شرمندګي په درباب کې یې ډوب کړی، او د نمرود د خدایي د دغوي غلطیا وخلګوته خصوصا دده واتباعو ته تر لمر ښکاره کړه ولي چې رب باید مبهوت او لاجواب نه وي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي هذه نکتة عجیبة.

پوه سه: چي راوي د قصې د نمرود وایي چي سر کښې وکړه او پسله مبهوتیت یې ابراهیم په اور کې واچاوه کماسینائي، نو خدای ﷻ پر قوم د نمرود غوماشي مسلطي کړې، چي ددوئ غوښې به یې خوړلې او وینې به یې څښلې نو صرف هډوکي به یې پاته سوه، او نمرود پر خپل حال باقي وو اخیراً خدای جلت قدرته یوه غوماشه پر مسلطه کړه چي دده په پڑه ننوتله او دده مغزونه یې خان ورساوه او کرار کرار به یې دده ماغزه خوړله، نو نمرود څلور سوه کاله هم پر دغه حالت و چي غوماشي به نهښ په جګ کړی ده به هغه خای په مطرقه تاکاوه فبقی في هذا العذاب اربع مائة سنة کما ملک اربع مائة سنة ثم مات بالعذاب المذکور، او نمرود هغه سړی وو چي مناره یې دوه لوړه جوړه کړې وه د خدای ﷻ د جنګ لپاره، نو خدای ﷻ هغه لویه مناره د بیخه څخه پر دوی راوه نړول چي ټوله قوم دده تر لاندې سو او مړه سوه، شیخ عطار وایي

سوی او خصمی که تیر انداخته　　پشه کارش کفایت ساخته

وفي بعض التفاسیر نقلا وقد وجدت صخرة عظیمة وعلیها اسطر قدیمة وهي هذه فرحک بشیئ من الدنیا دلیل علی بعدک من الله وسکونک علی شیئ مما في یدک دلیل علی قلة ثقتک بالله ورجوعک الی الناس في الشدة دلیل علی انک لم تعرف الله، انتهی قال السعدي الشیرازي قدس سره

شنیدم که جمشید فرخ سرشت　　بسر چشمه بربسنگی نوشت

برین چشمه چون مابسی دم زدند　　بر فتند چون چشم برهم زدند

گر فتیم عالم بمردی و زور　　ولکن نه بردیم با خود بگور

برفتند وهرکس درودانکه کشت　　نماند بجز نام نیکو وزشت

أَوْ كَالَّذِي مَرَّ عَلَىٰ قَرْيَةٍ

درویش وایي: چي بعض مفسیرین وایي چي دا جمله عطف ده پر "الم تر" والتقدیر او رئیت مثل الذي فعل کذا ای مارئیت مثله فتعجب منه، نو پر دې تقدیر کاف زائد نه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: په دمخه کي خدای ﷻ حرف تشبیه نه راوړي بلکه حرف الم تری الی الذي حاج الآية او دلته يې حرف تشبيه راوړی څه حکمت دی؟

خواب: لان المنكر للاحياء بعد الموت كثير والجاهل بكيفية اكثر من ان تحصى بخلاف مدعي الربوبية لانهم قليلون في الغاية.

پوه سه: چې مراد له قريه څخه بيت المقدس دی، او تېرونکی يې عزير بن شرخيا و، وهذا هو الاشهر الاظهر، په عمومي تفسيرو کي راغلي دي چې په بني اسرائلو کي چې څه وخت شر او فساد او ترک د احکامو د تورات نهايت ډېر شو، نو خدای ﷻ عقابا لهم بخت نصر بابلي پر مسلط کړی او بخت نصر په شپږ لکه فوج پر دوئ حمله وکړه حتی شام يې هم فتح کړی، او بيت المقدس يې خراب کړی، او بني اسرائيل يې دري حصې کړه، يوه حصه يې ووژله، يوه حصه يې شام ته واستوله، او يوه حصه يې له خانه سره د مريي توب په توګه يوتله، دريمه حصه چې يا بالغه ښځي يا نابالغه هلکان وه يو لک نفره وه، او دا نفر بخت نصر پر خپلو سردارانو او قومندانو ووېشله، او هر سردار او قومندان ته څلور نفره ورسېدله، او عزير ﷺ هم په جمله کي د اسيرانو بېول شوی و، نو ډېره مده وروسته چې خدای ﷻ دی خلاص کړی يو خر ور سره و او پر بيت المقدس تېرېدی، او بيت المقدس پر ډېر بد حالت و او لوتې لوتې يې ولېدی.

دروېش وايي: چې بعض مفسران وايي چې دغه تېرېدونکی ارميا ﷺ و چې د خضر په نامه شهرت لري، او هغه روايت چې له مجاهد ﷺ څخه منقول دی چې دا تېرودونکی يو کافر و چې په بعث بعد الموعت کي يې شک و، مظهري ﷺ وايي وهذا ليس بشيئ ولي چې کافر د دوندې کرامت لائق نه دی لکه په دې قصه کي چې په راسي.

سوال: کېدای سي چې دغه کافر دي بعد ما رای من الاحياء بعد الاماتة كما سيجئ ايمان په يې راوړی وي، نو دا احياء دده د کرامت لپاره نه وه بلکه د ده د ايمان راوړلو لپاره وه؟

خواب: دا خو ايمان بالغيب نه دی بلکه ايمان بالمشاهده دی ولا عبرة بهذا لايمان كما لايخفى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده بعض مفسران وایي چي کاؤ، زائد دی وتقدیر الکلام الم تری الی الذي حاج ابراهیم في ربه او الذي مرمآه.

پوه سه بعض مفسرینو په اعراب او عطف کي ددې پر سابق آیت دامې بعیده او د بلاغت د قرآن لوی احتمالات راوړي دي چي راوړه یې بې تضیع الوقت بله فائده نه لري فلهذا اعرضت عنها.

وَّهِيَ خَاوِيَةٌ عَلٰى عُرُوْشِهَا

او هغه قریه خالي وه او دېوالونه یې نړېدلي وه پر بامو یعني دمخه یې بامونه نړېدلي وه، او وروسته یې دېوالونه پر بامو رانړېدلي وه.

قَالَ اَنّٰى يُحْيٖ هٰذِهِ اللّٰهُ بَعْدَ مَوْتِهَا

دروښ وایي: چي مراد له حیوة او موت څخه معنا حقیقي نه ده، بلکه مراد د حیوة څخه تعمیر او آبادي د بیت المقدس ده. او مراد له موت څخه خرابي د بیت المقدس ده چي عزیر علیه السلام ولیده.

پوه سه: چي کلمه د "انی" چي استعمال یې په استبعاد کي کېږي له دې سبب عزیر نه ده ویلي چي دده د خدای ﷻ په قدرت کي شک و، او یادا تعمیر د بیت المقدس یې له قدرت څخه د خدای ﷻ بعید باله. بلکه دا استبعاد یې نظر وعادت ته د مخلوق و. یعني چي کوم مخلوق به وي چي دا ټولي خرابي د بیت المقدس به از سر نو په آبادي سره بدلي کړي، نو د عزیر علیه السلام چي خر د سپرتبا ورسره و د بیت المقدس په خرابو کي گرځېدی او درختي د انګورو او اینځرو وغیرهما ډکي وې، نو یې اینځر وشکول او ټوکری ته یې واچول یعني چي بل وخت به یې وخوري او د انګورو اوبه یې وایستلې او یوځه یې وځښلې او یو څه اوبه یې د بل وخت لپاره په کتورې کي واچولې، او خوب ورغلی نو په یوه لېرې کنډواله کي یې خر وتاړه، او ټوکری د اینځرو او اوبه د انګورو یې ورسر نه کښېښولې او بیده سو او په هغه خوب کي مړ سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَأَمَاتَهُ اللّٰهُ مِائَةَ عَامٍ

پوه سه: چې اماتة د عزیر علیه السلام پر اجل موعوده نه و، بلکه لپاره د اظهار د قدرت عظیمه خپل و چې عزیر علیه السلام وویل انی یحیي هذه الله بعد موتها.

فائده: خدای ﷻ سترګې د انسانانو او د سباعو او د مرغانو دده او د خره پر لیدو رندې کړې اظهاراً لقدرته الجلیلة. او خر خو مړ مسو او څخه مده وروسته یې غوښې ورستې سوې او هډوکي یې سره جلا جلا سوه او د لمر د تېرې څخه تک سپین سوه، او عزیر علیه السلام چې بیدبدی ځوان و، نو څه وخت چې اویا کاله د مرګ دده تېر سوه په روایت د مظهري پس له دې چې بخت نصر یوې غومانۍ مړ کړې کمامر في قصة نمرود، نو خدای ﷻ ملکه یو بادشاه مسلمان ته چې د ملوک څخه د فارس و راواستوله چې ولاړ سه بیت المقدس پر بهترین هیئت جوړ کړه، او اباد یې کړه، نوم د هغه بادشاه یوشک و نو یو شک د زړو کسانو قومندانانو سره چې د هر قومندان تر قومندي لاندي دري لکه خلګ وه بیت المقدس ته راغله او دهرش کاله یې کار پر وکړی او بیت المقدس یې پر دهر احسن صورت جوړ کړی او باقي مانده بني اسرائیل په اطرافو او اکنافو کې چې د عالم دنیا وه بیرته سره جمع سوه خپل وطن ته راغله، او یوشک چې خپله وظیفه سر ته ورسوله او بني اسرائیل یې په بیت المقدس کې جمع ولیدل بیرته خپل وطن فارس ته ستانه سوه. او د عزیر علیه السلام د مرګ سل کاله پوره سوه.

ثُمَّ بَعَثَهُ

او بیا دی د خپل خایه خدای ﷻ وپاڅاوه. بعث د لمر لوېدو پر وخت و، نو خدای ﷻ یوه ملکه ورته راواستوله

قَالَ كَمْ لَبِثْتَ

ملکې ورته وویله چې تا به څونده درنګ کړی وي یعني په خوب کې

قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا

نو ده وویله چې یوه ورځ، لکن دی خو په وخت کې د خابښت بیده سوی و

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

نو ده چې وکتله لمر لا ولاړ و دده خیال د ورځې د بیدیدو د لمر خیال پر راغلی نو یې وویل

أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ اضرابا عماقال اولا **قَالَ بَلْ لَّبِثْتَ مِائَةَ عَامٍ**

یعنې نه ورځ درنګ ده او نه بعض ورځ ده بلکه تا درنګ کړی سل کاله یعنې له رخته څخ د بیدېدو، یعنې ته سل کاله مړ وې بیده نه وې.

فَانْظُرْ إِلَىٰ طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْ

او وګوره چې بله د قدرت الهي علامه وویني چې ستا طعام یعنې اینخر او ستا د څښاک اوبه یعنې عصیر العنب هیڅ تغیر یې نه دی کړی سره د تېرېدو د مدت مدیده سل کاله، نو ده چې ورته وکتل داسې ورته معلوم سوه چې اینخر لکه تازه چې یې له درختې څخه شکول سوي وي، او عصیر ته چې یې وکتل داسې ورته برېښېدله لکه دستې چې د انګورو څخه را ایستل سوي وي.

فائده: کسائي رحمه الله او یعقوب رحمه الله لم یتسن وایي بحذف الها في الوصل واثباتها في الوقف، او نور قراء یې لم یتسنه بالهاء وایي وقفا ووصلا، نو هغه څوک چې دا ها په وصل کې ساقطوي هغه دغه ها د سکت بولي زائده یې بولي، او هغه څوک چې نه یې ساقطوي وصلا ووقفا هغه دا ها اصلي بولي.

فائده: دا خلاف پر دې مبني دی چې اصل خو "سنة" دی او ها د لام کلمه د اصلي، ان قدر ان اصله سنهة بدلیل تصغیرها علی سنیهة وقد قالوا ان التصغیر یرد الکلمات ال اصلها، او هغه څوک چې ها د اسکت بولي هغه وایي چې اصل د سنة سنو و، نو واو په سبب د فتحه د ماقبل په الف بدل سو او په جزم سره حذف سو نو په وقف کې ها پر بالا کړه.

پوښتنه: دمخه دوه شیه ذکر سوه یعنې طعام وشراب، نو باید لم یتسنها او یا لم یسنیا ویل سوی وایی؟

ځواب په تاویل د غذاء یې ضمیر مفرد ورته راجع کړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَانْظُرْ اِلٰى حِمَارِكَ

یعنې څرنګه یې هډوکي سره جلا سوي او پیوندونه یې شکېدلي دي او پوسیده سوي دي، نو تاته به دا درمعلومه سي چې رښتیا پر ما سل کاله تېر سوي دي.

دروښ وایي: چې بعض مفسرین وایي چې د وانظروا الی حمارک معنا داده چې د عزیر علیه السلام خر پر خپلو پښوو ولاړ و لکه هغه ورځ چې ده ترلی و، او ژوندی و سره له دې چې تېر سل کاله یې شی هم نه و خوړلی او نه یې اوبه څښلي وې، او د غاړې رسۍ یې هم نوې وه.

دروښ وایي: چې دا تفسیر که څه د قدرت الهي یوه لویه علامه ده لکن بیا هم ضعیف دی، ولې چې وانظر الی حمارک ته ضرورت نه و بلکه پر دغه تفسیر باید داسې ویل سوي وایي فانظر الی طعامک وشرابک وحمارک آه.

وَلِنَجْعَلَكَ اٰيَةً لِّلنَّاسِ

پوه سه: چې واو استینافي دی او لام متعلق بمحذوف، والتقدیر فعلنا ذالک ای احیائک واحیاء حمارک وحفظ ما معک من الطعام والشراب من التغیر لنجعلک آیة للناس ای الموجودین من بني اسرائیل.

وَانْظُرْ اِلَى الْعِظَامِ كَيْفَ نُنْشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوهَا لَحْمًا

او وګوره و هډوکو ته یعني د خره.

پوه سه: چې اهل حجاز او بصره دا آیت "ننشزها" بالراء وایي چې معنا یې نحییها کما في قوله تعالی ثم اذا شاء انشره، او باقي قراء یې بالزاء وایي چې معنا یې نرفعها من الارض ونرکب بعضها مع بعض.

پوه سه: چې کیف منصوب دی په ننشز او په سبب د تضمن معنا لره د استفهام دمخه سوی دی او ټوله جمله حال ده له عظام څخه، او بیا څرنګه مورِ په اغوندو یعني په هډوکو غوښې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: عظام يې جمع راوړه او لحم يې مفرد له دې سببه چې عظام خو صورة ډېر دي او غوښې خو ظاهرا يو صورت يې دی، روی چې عزیر علیه السلام د اسمان له خوا څخه اواز واورېدی ایتها العظام البالیة المتفرقة ان الله یامرک ان ینضم بعضک الی بعض کما کان وروسته يې غوښې او رګونه او پلې ورکړې، وروسته يې روح پکښې پوه کړه، نو خره خپله نعره وکړه او ژوندی سو.

دروښ وايي: چې د هغه علماؤ تاویل چې مونږ دمخه هم رد کړی ددې آیت څخه يې رد صراحةً رد معلومېږي کما لایخفی فتدبر.

فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ قَالَ أَعْلَمُ أَنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٥٩﴾

نو چې عزیر علیه السلام ته دا احیاء الموتی عیانا ومشاهدة معلومه سوه، نو يې وویل چې په دې پوهېږم چې خدای ﷻ پر هر شي قدرت لري، او خدای ﷻ ته هیڅ شی چې اراده يې ورته وکړه ګران نه دی، روی چې عزیر علیه السلام په ګمان ګمان سره هغه خپلې محلې ته ورغلی لکن نه ده په خلګو کې هیڅ څوک پېژندله او نه خلګو دی پېژندی، او نه يې کوم سرای پېژندی، ولې تعمیرات ټوله دده له وخته څخه بدل سوي وه، اخیر الامر په توهم سره خپل کور ته ورغلی په کور کې یوه ډېره سپینې سرې ښځه وه چې په ستر ګو ړنده وه او په پښو شله چې زمانه د عزیر علیه السلام يې لیدلې وه، نو عزیر علیه السلام وهغې ښځې ته وویل چې دا کور د عزیر دی هغې ورته وویل هوا کور خو د عزیر دی لکن د عزیر نوم تا څنګه واخستی هغه خو سل کاله کېږي لاپته دی، فکبت بکاءً شدیداً، قال عزیر انې عزیر ښځې ورته وویل سبحان الله دا کله کېدای سي چې ته دي عزیر يې، عزیر علیه السلام ورته ووېل چې خدای ﷻ سل کاله مړ کړم او بیرته يې ژوندی کړم، ښځې ورته ووېل چې عزیر خو مستجاب الدعوات و، نو که ته په رښتیا عزیر يې ته خواست وکړه خدای ﷻ ته چې ما په ستر ګو بنا کړي نو زه دې پېژنم، نو عزیر چې دعاء وکړه په قدرت د خدای ﷻ ښځه په ستر ګو بناء سوه، او بیا يې سپینې سرې چې شله وه تر لاس ونیوله او وه يې ویله قومي باذن الله ښځه بې تکلیفه ولاړه سوله، نو ښځې

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

چې عزیر ته وکتل وه یې ویل اشهد انک تعزیر بیا ښځه ورسره وه ویلي محلي ته د بني اسرائیلو چې هوري خلګ دهر ناست وه او د عزیر زوی چې عمر یې یو سل و اتلس (۱۱۸) کاله و هم موجود و او د زامنو زامن یې لاهم سپین ږیري وه، نو ښځي په بلند اواز وویل یا بني اسرائیل هذا عزیر، خلګو ښځي ته وویل درواغ مه وایه عزیر به تر اوسه څرنګه ژوندی پاته وي، ښځي خلګو ته وویل چې تاسي خبر یاست چې زه ږنده او شله هم وم نو دده غه سړي په دعاء سره زه خدای ﷻ هم په سترګو بینا کړم او پر پښوو یې هم ولاړه کړم، نو خلګ ورولاړ سوه، نو د عزیر زوی وویل چې زما د پلار خو د دوو ورځو په منځ کې یوه سوره لاړ وه لکه نوي میاشت، عزیر چې لمن ورته پورته کړه هغه نبتاني پکښې وه.

راوي وایي چې بخت نصر چې پر بیت المقدس حمله وکړه ځلوېښت زره قاریان د تورات یې قتل کړه، او د تورات ټولي نسخې یې وسوځلې، نو د هیڅ چا سره نسخه د تورات نه وه او نه د چا په حفظ کې تورات و، نو عزیر ټوله تورات له یاده څخه دوی ته ووایه بلا نقص حرف، نو یو سړی چې په سبې کې بیول سوی و، او پسله مرګه د بخت نصر بیرته بیت المقدس ته راغلی و، هغه وویل چې ماته پلار وویل او هغه ته زما نیکه ویلي وه په ورځ د سبې زمود مودې تورات په یوه خوم کې واچاوه او زما د نیکه په باغ کې مو ښخ کړی، نو که تاسي زما د نیکه باغ ماته وښایاست زه به تورات درپیدا کړم ان شاء الله، نو خلګ ورسره ولاړه او هغه باغ یې وروښووی، نو خلګو کرار کرار د هغه باغ شمل شروع کړه او تورات یې په هغه خوم کې روغ رمټ پیدا کړی، نو هغه تورات چې عزیر عن ظهر القلب ویلی و د تورات مدفون سره برابر و، فعند ذالک قال بنی اسرائیل عزیر ابن الله تعالی عن ذالک علوا کبیرا.

فائده: مظهري په نقل د محمد بن اسحاق صاحب السیر والمغازي داسي لیکلي دي چې تبرېدونکی پر بیت المقدس په وخت کې د خرابی ارمیاء و وهو الخضر علیه السلام

دروېش وایي: چې هیڅ مفسر دا نه دي ویلي چې خضر و او خضر ورسره و او

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

بیا سل کاله خدای ﷻ مړ کړی الی اخیر الآیات، او نه دا چا ویلي دي چې د خضر نوم ارمیاء و نو دا خبره د محمد بن اسحاق که نقل د مظهري هم صحیح وي د منلو وړ نه ده کما لایخفی، او بیا مظهري په ص (۳۶۷) د ارمیاء نوم چې دده په نیز خضر دی کمامر په طویل بیان سره کړی دی، او هم په دغه مخ کې بیا د ارمیا نوم یې ذکر کړی، او بیا یې هم په دغه مخ کې داسې لیکلي دي اقبل ارمیاء علی حمار له معه عصیر عنیب، نو چې بیت المقدس ته یې وکتل او هغه یې خراب ولیدی نو یې داسې وویل انې یحي هذه الله بعد موتها الخ

دروېش وایي: چې دا ټولې خبرې خو د ارمیاء دي چې محمد بن اسحاق یې خضر بولي، او هم په دغه مخ کې یې ویلي دي ثم ربط ارمیاء حماره بحبل والقی علیه النوم فاماته مائة عام الآیة، نو ارمیاء خو دده په نیز خضر و، نو ګویا خضر سل کاله مړ سو ولم یقل به احد من المفسرین ولا من المحدثین رح ثم قال ای الملک لارمیاء آه، ثم نقل الکلام یعني المظهري في ص (۳۶۹) الی الروایة المشهورة عند المفسرین واهل الحدیث یعني ان المار هو العزیر ﷺ ثم ساق المظهري الکلام علی ان المار هو عزیر فتامل في هذه العبارات.

دروېش وایي: چې برسوي مصنف د روح البیان یوه باریکي بیان کړې ده چې پښتو ژباړه یې داده، چې په دې قصه کې د عزیر ﷺ تنبیه ده پر دې باندې چې دعاء کونکی چې آداب د دعاء پر ځای کړي دعاء یې ژر قبلیږي بېله مشقته پر داعي، او که یې آداب د دعاء نه کړه پر ځای نو داعي ته تکلیف پېښیږي او اجابت د دعاء یې ځنډیږي، د مثال په توګه ابراهیم ﷺ چې وویل یعني خدای ﷻ ته یې خواست وکړی ﴿رب ارني کیف تحیی الموتی﴾ اول یې ثناء د خدای ﷻ وویله یعني رب، وروسته یې خواست د کیفیت د احیاء الموتی وکړی، نو خدای ﷻ دا کیفیت د احیاء الموتی په ابراهیم کې نه بلکه په مراغانو کې په ولیدی کماسیئاتي عنقریب، او خواست یې بلا مهلته ورقبول کړی، او عزیر ﷺ چې اولاً داسې وویل ﴿انې یحي هذه الله بعد موتها﴾ نو خدای پاک دغه خواست دده په ځان په ولیدی او پسله سله کاله مرګ دده انتهی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِذْ قَالَ إِبْرٰهِمُ رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِ الْمَوْتٰى

پوه سه: چې عامل د "اذ" محذوف دی ای اذکر. والمعنی په یاد او ذکر کړه ای محمد ﷺ هغه وخت چې ابراهیم وویل ای خدایه زما په ما وویني چې ته څرنګه مړي ژوندي کوې

پوه سه: چې له ذکر څخه د وخت مراد ذکر دی د ماوقع في الوقت من قصة ابراهیم

فائده: مراد له رؤیت څخه رؤیت بصري دی یعنې په سترګو لیدل یعنې ای خدایه ته مړي ژوندي کړه چې زه ورته ګورم تاچې ماته عین الیقین بلکه حق الیقین پیدا سي چې اعلی د مقاماتو د یقین دی

پوه سه: چې صحیح شان نزول ددې آیت دادی چې ابراهیم علیه السلام یوه ورځ د دریاب پر غاړه یو مردار سوی خر ولیدی چې دریاب به څپه ووهل او خر به اوبو پټ کړی د دریاب حیوانان د خره د غوښو په خوړلو بخت سوه او چې دریابي څپه به ولاړه او خر به بېکاره سو د وچي حیوانان به یې په غوښو خوړلو بخت سوه، نو ابراهیم علیه السلام د تعجب په دریاب کې غرق سو، نو داسي یې وویل چې زما خو یقین دی ته دا خر له بحر او بر څخه خدای ﷻ جمع کوې لکن ته یې په ما وویني چې ته یې څرنګه جمع کوې او ژوندي کوې یې، او نور شان نزول هم مفسرانو ذکر کړی چې په راوړلو کې یې فائده نسته، او شان نزول چې دروېش ذکر کړی، مروي له حسن بصري او د قتاده او د عطار خراساني او د ابن جریج رحمهم الله تعالی اجمعین څخه دی.

قَالَ أَوَلَمْ تُؤْمِنْ

خدای ﷻ ورته ووېل ایا ستا ایمان نه دی پر دې چې زه قادر یم پر احیاء الموتی وجمع اجزء الموتی بعد تفرقها.

پوښتنه خدای ﷻ خو په دې خبر و چې ابراهیم قوي تر د خلګو و په ایمان کې پر احیاء الموتی، نو فائده د سوال مذکور به څه وي؟

ځواب: فائده ددې سوال داده چې سامعان جواب د ابراهیم واوري

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

قَالَ بَلٰى وَلٰكِنْ لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِيْ

نو ابراهیم ﷺ وویل چې هوا خدایه زما ایمان دی پر احیاء الموتی سته، لکن سوال مې له دې سببه وکړی چې زما زړه ارام سي او یقین مي وحق الیقین ته ورسېږي چې وعلم استدلالي او علم بالوحي ته د ستر گو لیدل هم ور ضم سي.

فائده: متعلق د حرف جر په لیطمئن کې محذوف دی ای سئالت ما سئلت لیطمئن.

فائده بعض علماوو په دې پښتنه کې د ابراهیم ﷺ واذ قال ابراهیم رب ارني کیف تحي الموتی" دېرې وړې خبرې کوي یعني چې دا سوال د منصب سره د نبوت او خلة دده مناسب نه و، ولي چې له دې سوال څخه توهم د شک د ابراهیم کېږي په احیاء الموتی من جانب الله کې.

دروښ وایي چې دا توهم په قرآني آیاتو سره دفع سو حیث سئال الله عنه بقوله اولم تؤمن، واجاب عنه ابراهیم بلی ولکن لیطمئن قلبي، نو بیا د توهم او شک څه منشاء پاتېږي لکن مع هذا بعض محققین رح د دفع د توهم د شک لپاره داسي وایي چې که قرآني سوال او جواب د خدای ﷻ او د ابراهیم ﷺ تر منځ هم نه وایی بیا هم رب ارني کیف تحیی الموتی منشاء د توهم د شک په ابراهیم کې نه سوه کېدای، ولي دا سوال خو له علمه څخه پر کیفیت د احیاء الموتی دی تاچې ابراهیم پر کیفیت د احیاء الموتی احاطه علمي ورته حاصله سي، او په ایمان کې د احیاء الموتی له جانبه څخه د حق سلطانه دا شرط نه دی چې سړی په تفصیل او تصویر د احیاء الموتی هم علم لري، نو ابراهیم طلب د علم د داسي شي وکړی چې اصل ایمان پر علم د دغه موقوف نه وو یعني العلم بالکیفیة ولا تلازم بین الایمان باصل الشیئ والعلم بکیفیة.

دروښ وایي چې ددې لپاره دېر مثالونه موجود دي، مثلاً زمور ایمان دی پر دخول د مؤمنانو جنت ته او د کافرانو دوزخ ته او پر دې چې القبر روضة من ریاض الجنان او حفرة من حفر النیران، او دغه رنگه هر مرور پر پل صراط الی

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

غير ذالک مع عدم علمنا بكيفية تلک الامور.

پوښتنه: څرنګه به صحيح وي نفي د شک له ابراهيم عليه السلام څخه او سره ددې چې په حديث کې د ابو هريره رضي الله عنه چې روايت يې بخاري او مسلم دواړو کړی دی عليه الصلوة والسلام ويلي دي نحن احق بالشک من ابراهيم؟

ځواب: ابو سليمان الامام الخطابي وايي ليس في الحديث اعتراف بالشک على نفسه ولا على ابراهيم بل فيه نفي الشک عنهما يعني اذ لم اكن اشک فابراهيم اولى بان لايشک وانما قال النبي ﷺ ذالک تواضعا وهضما لنفسه.

درويش وايي: چې ومثل هذا التواضع والهضم لنفسه ماقال النبي ﷺ في الحديث المذكور في بيان حسن صبر يوسف عليه السلام على طول الحبس، ولو لبثت السجن طول مالبث يوسف لاجبت الداعي وقصة طول لبث يوسف عليه السلام في السجن يې په تفسير کې د سورة يوسف راسي ان شاء الله تعالى، والدليل على كون قول رسول الله ﷺ تواضعا ان النبي ﷺ كان اشد بلاءً من يوسف عليه السلام بل عن سائر الانبياء عليهم السلام ومع ذالک قد صبر ﷺ على تلک البلايا والفتن من جهة الكفرة الفجرة صبرا جميلا ولهذا ورد في الحديث النبوي ﷺ ما اوذي احد مثل ما اوذيت آه.

درويش وايي: چې څوک تاريخ د ۲۳ کالو د نبوت د عليه السلام کاملا وتماما مطالعه کړي نو به دا ورته يقين سي چې رسول الله ﷺ اشد صبرا وو پر بلايا و تر يوسف او وجه د حديث مذكور آنفا به هم ورته معلومه سي.

قَالَ فَخُذْ أَرْبَعَةً مِّنَ الطَّيْرِ فَصُرْهُنَّ إِلَيْكَ

وويل خداى عزوجل وابراهيم ته چې ته دروا خله څلور د مرغانو څخه، چې يو طاؤس و او بل چرگ و، او بل کارگه و، او بله کوتره وه، او بعض راويان په خای کې د کوترې بابنه ذکر کړې ده.

فائده: تخصيص د مرغانو خداى عزوجل وکړی له دې سببه چې دغه مرغان و انسانانو ته نژدې دي او خواص د حيوانانو تولي پکښې دي، او بيا فصرهن اليک من صاره يصوره او صاره يصيره والمعنى واحد يعني وخان ته جمع کړه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې ته فکر په کښې ووهې او ښې وپېژنې او شکلونه د ټولو هم درته معلوم سي تاچې وروسته تر احیاء ددغو مرغانو درته معلومه سي چې هیڅ جزء د اجزاو ځخه ددوئ له ځایه ځخه نه دی بې ځایه سوی، راوي وایي چې ابراهیم علیه السلام دغه څلور مرغان ذبح کړه او بنکې او غوښې ددوئ یې سره وکوټلې او سره ګډې وډې یې کړلې او سرونه ددوئ سره له ځان سره خوندي کړه، بیا خدای ﷻ امر ورته وکړی.

ثُمَّ اجْعَلْ عَلٰى كُلِّ جَبَلٍ مِّنْهُنَّ جُزْءًا

او بیا وګرځوه پر هر غره یعنې چې تاته نژدې وي غرونه دي یو جزء ددغو مخلوط اللحوم د مرغانو.

ثُمَّ ادْعُهُنَّ يَأْتِيْنَكَ سَعْيًا ؕ

او بیا دغه مرغان در وبوله یعنې قل لهن تعالین باذن الله نو به دا مرغان راسې وتاته په ځغاسته، را وي وایي چې ابراهیم علیه السلام هم دغه سې وکړه، نو د مرغانو غوښې له یوه غره ځخه په طیران وبل غره ته نقل سوې حتی چې د څلور سرو مرغانو بدنونه جوړ سوه، نو بیا په ځغاسته هر مرغه وخپل سر ته راغلی او ابراهیم ورته کتله او د خدای ﷻ وعظیم قدرت ته یې تعجب کاوه.

وَاعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۲۶۰﴾

او په دې پوه سه چې خدای ﷻ غالب پر خپل مراد دی هیڅ شی یې له خپل مراد ځخه نه سې منع کولای، او په هر کار او شي کې حکمت لري یعنې که څوک په پوهېږي او که نه.

دروښ وایي: چې پوه سه چې په دغو څلورو مرغانو کې څلور صفته سته چې هغه په نفس انساني کې هم سته، په طاؤس کې زینت سته چې وزرونه وغیره یې دېر ښائسته دي، او په کارګه کې طول امل د ژوند سته، او په چرګ کې دېر شهوت سته او په هیلی کې دېر حرص سته، فاشار بهذه الآیة الی ان من لم یذبح نفسه بالمجاهدة في دفع هذه الصفات الذمیمة عن نفسه لم یحي قلبه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بالمشاهدة وتحلي انوار صفات الجلال والجمال الالهيه لانهم قالوا التخلية مقدمة على التحلية بالحاء المهملة والاول بالخاء المعجمة.

دروښ وايي: چې صاحب د روح المعاني وايي چې په دې طيور اربعه وو کې اشاره ده وهغه څلورو مرغانو ته د عالم غيب چې عبارت دي د عقل او زړه او نفس دی او روح دی چې په قفس کې د جسم بند يان دي، وروسته آلوسي دې اشاري ته د ډېره توضيح ورکړې ده او لوی بيان يې يکښې کړی دی.

دروښ وايي: داسې اشارات بيانولو ته څه ضرورت دی، ولې چې د طالبانو ذهن د معنا مراد في القرآن څخه بلې خوا ته اوړي، ددوی توهم دا کبږي چې په قرآن مبارک کې هم دغه معنا مراد ده ولې کک.

فائده: امام مظهري رحمه الله د عطار خراساني رحمه الله ددې څلورو مرغانو په باره کې داسې نقل کړی دی چې يوه به شنه ايلي وي او بل به تور کارګه وي او بله به سپينه کوتره وي او بل به سور چرګ وي.

دروښ وايي: چې دا رنګونه د مرغانو په کوم حديث کې راغلي دي، او يا د يو صحابي قول دی، مظهري بيا ددې قول د عطار توجيه کړې ده چې دا رنګونه د و عناصر اربعه وو ته اشاره ده ثم بين دالک.

دروښ وايي: چې دا صرف طبع ازمايي ده مظهري آه، ولله در البيضاوي حيث قال چې په دې آيت کې اشاره ودې ته ده چې ژوند د نفس په حيوة باندې په دې سره کبږي چې سړی په حب الشهوة والزخارف چې صفت د طاؤس دی ورځني، او حمله بې خايه چې چرګ په مشهور دي ورځني بې، او خسته د طبع او طول الامل چې کارګه په مشهور دی ورځني به يې، او ترفع او لوړ والی چې په کوتره کې ستە له خانه څخه به يې ايسته کړي، نو به خداى عزوجل ته ورسېږي يعني الهي معرفت په احسنه وجه سره ورته حاصله سي او حيوة جاودانې اخروي په دار النعيم جنت کې وي بلکه په لوړو مانيو کې د جنت په مقيم وي آه بزيادة.

پوښتنه: بعض تاويلي اشارات تا ناخوښه کړي او بعض دي قبول کړي سبب يې دی؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواب: هغه تاویل چې د احادیثو مبارکه وو سره سمون خوري او د دې تفسیر د مطالعه کونکو فهم ته في الجملة نژدې وي فقیر یې خوښ بولي، دا توهم دي څوک نه کوي چې زه رد د بعض تاویلاتو صوفیانه کوم العیاذ بالله. دا سوال او خواب د حاسدانو د دفع حسد لپاره دی.

مَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ

مثال او حال د هغو کسانو چې صرفوي خپل مالونه په لار کې د خدای ﷻ یعني کالجهاد وصلة الرحم والانفاق علی الیتامی والارامل او په بناء کې د مساجدو او یا په بناء د عامة المنفعة خایو وغیر ذالک، وافضل ذالک الانفاق الزکوة المفروضة ثم وثم.

كَمَثَلِ حَبَّةٍ

لکه حال د هغه دانې یعني تخم دی.

پوه سه: چې ایږدن یا باجری وغیر ذالک اوه سوه دانې له یوې دانې څخه راوزي.

پوښتنه: مشبه خو حال د الذي ینفقون دی، او مشبه به خو حال د حبة دی فکیف التشبیه؟

خواب: ټوله مفسرین په یوه خوله وایي چې تقدیر د مضاف ضروري دی یا د مبتداء په خوا کې یعني مثل نفقه الذین آه، او یا د خبر په جانب کې یعني کمثل باذر حبة یعني شنه کونکي د دانې.

أَنْبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ

یعني راشنه کړي دغه دانه اوه وړي.

پوه سه: چې نسبت د انبات وه حبة ته بناء پر عادت الهي دی ورنه منبت حقیقة خو خدای ﷻ دی.

فِي كُلِّ سُنْبُلَةٍ مِائَةُ حَبَّةٍ

په هر وړي کې سل دانې وي چې مجموع اوه سوه کېږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاللّٰهُ يُضٰعِفُ لِمَنْ يَّشَآءُ ؕ

او خدای ﷻ مضاعف کوي و هغه چاته چې خوښه يې وي يعني من عباده

بوه سه چې تضاعف مربوط په اخلاص پورې د بنده دی او يا په وخت پورې د انفاق او يا په محل پورې د انفاق مثلا منفق به د رياء او سمعه څخه وپرلرې وي، ولې چې دا شرک خفي دی، او مياشت به د روژې مثلا او محل د انفاق مسکين دا متربة وي او يا يتيم ذا مقربة وي مثلا الی غير ذالک من اسباب التضاعيف.

وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿٢٦١﴾

او خدای ﷻ فراخه دی فضل يې، او خبر دی په نياتو د بندګانو کما روی البخاري ومسلم وغيرهما ﴿انما الاعمال بالنيات وانما لامرء ما نوی الی اخير الحديث﴾ وورد في الحديث النبوي ﷺ صدقة المؤمن تدفع عن صاحبها آفات الدنيا وفتنة القبر وعذاب يوم القيامة، وفي الحديث الصحيح الساعي علی الارملة والمساكين كالمجاهد في سبيل الله، قال السعدي الشيرازي رحمه الله

يکی از بزرگان اهل تميز	حکايت کند زا بن عبدالعزيز
که بودش نگينی در انگشتری	فرومانده از قيمتش مشتری
بشب گفتی آن جرم گيتی فروز	دری بود در روشنائی چو روز
قضارا در آمد يکی خشک سال	که شد بدر سيمايی مردم هلال
چو در مردم آرام وقوت ندید	خود آسوده بودن مروت ندید
چو بيند کسی زهر در کام خلق	کيش بگذرد آب شرين بحلق
بفرمود بفروختندش به سيم	که رحم آمدش بر فقير ويتيم
بيک هتقه نقدش تباراج داد	بدرويش مسکين ومحتاج داد
فتادند دروی ملامت کنان	که ديگر بدستش نيايد چنان
شنيدم که ميگفت وباران دمع	فرومیدويدش بعارض چو شمع
که زشتست پيرايه بر شهريار	دل شهری از ناتوانی فگار
مرا شايد انگشتری بی نگين	نه شايد دل خلق اندو هگين

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خنک انکه آسایش مرد وزن گزیند بر آسایش خویشتن
نکردند رغبت هنر پروران بشادی خویش از غم دیگران

بستان سعدي شيرازي قدس سره

پوښتنه: په دمخه نڑدې حدیث کي تېره سوه انما الاعمال بالنیات آه، او په بل صحیح حدیث کي راغلي دي چي نیة المؤمن خیر من علمه، نو ددې حدیث مبارک په څه معنا وي؟

ځواب: روح البیان والا وایي چي مورد د حدیث مذکور عثمان ﷺ دی چي علیه السلام وویل چي که چا یو محکم څاه یعني پر فلاني ځای جوړ کړی خدای ﷻ لوی اجر عظیم به ورکړي، نو عثمان ﷺ نیت او قصد وکړی چي هغه څاه به جوړ وي، لکن یوه کافر دمخه تر عثمان ﷺ هغه څاه جوړ کړی، نو علیه السلام وویل نیة المؤمن یعني عثمان خیر دی تر عمل د کافر.

دوویش وایي: چي په دې حدیث کي یوازي مؤمن ذکر سو نو ضمیر وکافر ته راجع کول اضمار قبل الذکر دی الا ان یقال المعهود کالمذکور، لکن اولی په ځواب کي داده چي د مؤمن څخه جنس مؤمن مراد دی نو د حدیث معنا داده چي یو مؤمن چي ریاء د سمعة یو غوبی خیرات کړي مثلا، او یا ریاءً وسمعةً مهمان ځانه جوړه کړي او خلګو ته ډوډۍ ورکوي، یو بل مسکین بالفعل سړی دا قصد وکړي که ماته خدای ﷻ روپۍ راکړې زه به هم غوایي خیراتوم او مبلمانه به خورومه، نو ددغه مسکین نیت د هغه مرایي تر عمل خیر دی لان في عمل المرایي شرک خفي، او نیت د مسکین خالصا لرضا الله ﷻ دی، او بعض مفسرین د حدیث مذکور داسي ترجمه کوي چي نیت مجرد د مؤمن یعني بېله عمله خیر دی تر عمل مجرد د نیت څخه، کالوضوء للتبرد لا للثواب، لکن بعض علماؤ دا جواب تر تنقید لاندې نیولی دی چي اعمال د خیر خو بعض بېله نیت نه دي صحیح لکه لمونځ بېله نیته نه دی روا، او بعض افعال الخیر وه نیت ته ضرورت نه لري کقرائة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

القرآن والاذکار، نو په کوم بعض کې نیت د مؤمن خیر تر عمل دی.

فائده: انفاق د عامة الناس په مال سره دی یعنې بهله ریا او سمعة، ددوې ثواب جنت دی او انفاق د خواصو اعنې اولیاء الکرام رح په تزکیه د نفس د رزائلو ملکاتو څخه او تصفیه د زړه د محبت څخه د مال بالانفاق في سبیل الله، نو ددوې ثواب نظر دی الی وجه الله الکریم في جنة النعیم، اللهم اجعلنا منهم بجاه سیک المجتبی المنعوت بما زاغ البصر وما طغی، ع باکریمان کارها دشوار نیست

اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

هغه کسان چې نفقه کوي خپل مالونه په لاره کې د خدای ﷻ

پوه سه: چې رسول الله ﷺ چې اصحاب کرام ؓ امر کړه په کومک سره په غزاء کې د تبوک چې دېره سخته غزاء وه او دېر مسافت هم په مخ کې و، او دېره سخته ګرمي هم وه، نو عبدالرحمن بن عوف ؓ څلور زره درهمه د کومک او صدقې په توګه وعلیه السلام ته راوړه او عبدالرحمن ؓ وویل چې ما اته زره درهمه درلوده. نو څلور زره مي خان ته مي خان او عیال ته راوګرځول او څلور زره مي وخدای ﷻ ته په قرض ورکوم. نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل بارک الله فیما امسکت وفیما اعطیت، او حضرت عثمان بن عفان ؓ د غزاتو سره د تبوک په زر اوښانو سره د کتو او د نورو شیانو چې د اوښانو سره مناسب شیان وه کومک وکړی، او عبدالرحمن بن سمره ؓ وایي چې عثمان ؓ سره د اوښانو د کومک یو زر دیناره هم راوړې وه او د علیه الصلوة والسلام په لمن کې یې ور واچول، او علیه السلام لاس پکښې واهه، او دا یې ویله چې عثمان که تر دې وروسته هر څه عمل وکړي ده ته ضرر نسته، رواه البغوي ؒ، نو دا آیت نازل سو ﴿الذین ینفقون اموالهم في سبیل الله الآیة﴾

دروښ وایي: چې نفس انفاق في سبیل الله خو ښکاره دی، لکن چې "من"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یا "اذی" او یا ریاء ورسره ملګري وي هغه ذخیر کار فاسدوي یعني په آخرت کي یې هیڅ ثواب نسته لکه په پاکو ابو کي د ځاه چي مرداري ورولوبږي ټولې اوبه د ځاه مرداروي، نو ددې د بیان لپاره خدای پاک دا آیات نازل کړه.

دروښ وایي: چي په اخلاص سره د صدقاتو وزن درنېږي که څه هم لږ وي. او په من او اذا او یا ریاء له منځ څخه بالکلیه نیستي کېږي که څه هم دېري وي.

ثُمَّ لَا يُتْبِعُونَ مَا أَنْفَقُوا مَنًّا وَلَا أَذًى لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٦٢﴾ قَوْلٌ مَعْرُوفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِنْ صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَا أَذًى وَاللَّهُ غَنِيٌّ حَلِيمٌ ﴿٢٦٣﴾

او وروسته تر انفاق نه کي په پسې په "مانفقوا" سره احسان اچول پر منفق علیه باندې. صورت د من یې دادی چي منفق ومنفق علیه ته وایي چي ما څونده احسانونه ستا سره کړي دي، یعني لایعتد المنفق بالانفاق علی المنفق علیه، او نه دي منفق علیه ازاره وي، صورت د ازار دادی چي منفق مؤذي ومنفق علیه ته یا داسي ووایي چي ماڅونده انفاق پر تا کړی تا زما هیڅ شکر نه دی اداء کړی، او یا ورته ووایي چي تر څو پورې ماته راځې او ما ازاره وي، او یا داسي ورته ووایي چي تر څو به ته سوال او فقر کوې نه شرمېږي، او یا داسي ورته ووایي چي دونده پند او خوان یې او فقر کوې ولي مزدوري نه کوې، وامثال ذالک من کلمات الاذی، قوله لهم اجرهم آه، نو دوئ لره اجر او ثواب دی په ورځ کي د اخرت، او ګاهي په دې دنیا هم خدای ﷻ ومنفق مذکور ته عوض او اجر ورکړي.

پوښتنه: الذین ینفقون آه مبتداء وه او متضمن و معنا لره د شرط کماتقرر في النحو، او دا قول د خدای ﷻ "لهم اجرهم آه" یې خبر دی، نو څه حکمت الهي دی چي پر خبر یې کلمه د فاء نه کړه داخله تاچي پر سببیت د ماقبل مابعد لره یې دلالت کړی وایي؟

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

خواب: ددې لپاره يې فاء سببيه نه راوړه چې ترتب د اجر پر انفاق وترک المن والاذى بتکاره خبره ده، نو راوړو ته د فاء سببيه ضرورت نشته، او نه به بېره پر منفقين مذکورين وي يعنې په مستقبل الزمان کې يعنې په ورځ کې د قيامت. او نه به دوئ غمجن وي پر ما مضى من امور الدنيا په دې معنا چې هغه مؤمن چې انفاق مذکور په دنيا کې نه وي کړى هغه به په آخرت کې غمجن وي چې کاشکې ما ورته انفاق کړى وايى يعنې حين يرى ثواب المنفقين بلا من ولا اذى في العقبى من عجائب قدرة الله، په حديث شريف کې راغلى دي چې يوه ورځ حسن بن علي رضي الله عنه د خپلې مور فاطمة الزهراء رضي الله عنها قميص د طعام رانيولو لپاره په شپږ درهمه خرڅ کړى، يوه سائل ورته ودريدى او د شيئاالله په ويلو يې سوال خندي وکړى، حسن رضي الله عنه هغه شپږ درهمه وسائل مذکور ته ورکړه، وروسته حسن رضي الله عنه يوه اوښه په اجل او پور له يو چا څخه رانيول بائع ولاړى، حسن يوګړى اوښه وګرځول، بل سړى ورته راغلى اوښه يې په نغدو روپو په ګټه لاهم خندي رانيول، حسن رضي الله عنه په بائع پسې وګرځيدى په دې نيت چې د اوښې قيمت به قبل حلول الاجل وهغه ته ورکړي او په ګټه به يې طعام رانسي، هرڅه سعي چې يې وکړه بائع يې پيدا نه کړى، نو عليه الصلوة والسلام ته يې دا موضوع پېش کړه، نو عليه السلام ورته وويل چې سائل رضوان خازن الجنة و، او بائع د اوښې ميکائيل عليه السلام و، او مشتري يې جبرائيل عليه السلام و نزلت هذه الآية كذا في روح البيان

دروښ وايي چې اکثره مفسران رح پر دې دي چې دا آيت په شان کې د عثمان بن عفان رضي الله عنه او عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه نازل سوى دى وقد مر عنقريب

مسئله که يو سړى فقير ته خو يو شى ورکړى لکن من يا اذى يې ورسره ملګرې کړه. بعض فقهاء رح وايي چې د صدقې ثواب خو يې نسته او عذاب د من او اذى پر ده سته، او وهب بن منبه رحمه الله وايي چې لا اجر له ولا وزر عليه، او بعض محور فقهاء رح وايي چې د اصل صدقه ثواب يې سته لکن په من او اذى سره يې تضاعف له منځه ولاړى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: خدای ﷻ مړو امر کړو په دې سره چې تاسي په صدقه سره پرچا من او احسان مه اچوئ، او سره له هغه خدای ﷻ وایي ﴿بل الله یمن علیکم آد﴾

ځواب: ټوله شیان که اعیان دي او که اموال دي او که افعال د عبادو دي ټوله مال او ملک د خدای ﷻ دي، او ملک د رب ﷻ د بل چا نه دی، او د بنده که مال دی او افعال دي د خدای ﷻ له خوا څخه دي او د بل چا په ورکړې شي سره خو څوک احسان پر چانه سي اچولایی، د بنده مثال د من اچولو داسي دی لکه چې یو سړی خپل مریی ته روپی. په لاس ورکړي چې فلاني فقیر ته یې ورکړي، نو مریی چې هغه روپی. وهغه فقیر ته ورکړي، نو حق د "من" او "اذی" لري کلا وحاشا، او د آیة مذکوره مضمون خو دادی چې خدای ﷻ مسلمان ته وایي ﴿قل﴾ اې محمد ﷺ یعني ومسلمانانو ته ﴿لاتمنوا علي اسلامکم، بل الله یمن علیکم ان هداکم للایمان﴾ حسین کاشفي رحمه الله وایي

آنچه که بدهی چو دهنده خداست — منت بیهوده نهادن خطاء است
هر چه میدهی می ده ومنت منه — وآنچه پشیمان سوی آن هم مده

سعدي شیرازي قدس سره وایي

چو انعام کردی مشو خود پرست — که من سرورم ودیگران زیردست
چو بینی دعا گوی دولت هزار — خداوند را شکر نعمت گذار
که چشم از تو دارند مردبسی — نه تو چشم داری بدست کسی

په بعض روایاتو کې راغلي دي چې ابراهیم علیه السلام پنځه زره پرکه پسونه درلوده، او ددې مواشیو د سپو په غاړه د سرو زرو طوقونه وه، نو یوه ملکه په صورت بشري ورته راغله او ابراهیم علیه السلام د خپلو مواشیو نندارې کوله په دښت کې، ملکي سړي وویل "سبوح قدوس رب الملائکة والروح" نو ابراهیم علیه السلام چې دا واوریدل هغه سړي ته یې وویل دا ذکر یو وار بل مکرر کړه سم نیمی ددغو مواشیو یې ستا، ملکي بل وار ذکر مذکوره مکرر کړی، نو ابراهیم ور ناري کړې چې یو وار یې بل وویله ولک جمیع ما تری من مالي، فتعجب الملک، وقال جدیر ان یتخذک الله خلیلا، ته لائق ددې یې چې خدای ﷻ ته خلیل خپل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بللی یې ویجعل لک في الملل والنحل ذکرا جمیلا، او خدای ﷻ به تاته درکوی په آینده ملتو کې ذکر جمیل

پوه شه چې نحل عطف تفسیر دی د ملل، ولهذا سمی الکتاب الذي صنفه محمد عبدالکریم الشهرستاني ؒ في بیان مذاهب اهل الارض، بکتاب ملل والنحل، په دې بیت بلیغ عربي کې ښه فکر ووایه، دروېش به یې ترجمه هم درته وکړي.

حسنوان من منح سائله ومن ومن منع نائله وضن

یعني دوه مثله شی چې څوک ورکړي وسائل ته لکن من پر وکړي، داسې دي لکه چې یو سړی منع وکړي له نائل څخه یعني سائل څخه، او بخل په وکړي و حاصل البیت انه لا فرق بین المعطی المان والمانع البخیل.

دروېش وایي چې دغه بیت که بېله حرکاتو او د شد څوک نوشته کړي شاید ډېر دقیق الفهمه سړی به یې معنا کوي، مثلا داسې یې نوشته کړي لکه دمخه چې موږ نوشته کړي وه، او که حرکات او شد ورکړي لکه دا اوس چې نوشته دي، نو په ترجمه یې سړی اسانه پوهېدی سي.

صَنْوَانِ مَنْ مَنَحَ سَائِلَه وَمَنْ وَمَنْ مَنَعَ نَائِلَه وَضَنْ

قوله قول معروف آه، او رد د سائل په قول معروف سره یعني په ښه خبره سره چې هغه ئې سي په زهیر مثلا ورته ووایي چې خدای ﷻ دي پرده وکړه، خدای ﷻ دي ښه رزق در کړي فعلا خو زه هم تنګدست یم ورنه سټاخو حق و، امثال ذالک، او بخښه وکړه وسائل ته چې ډېر دي په عذاب کړي او په بار بار سره غوښتنه درڅخه وکړي، او الحاح په سوال کې وکړه بهتر دی تر هغه صدقې چې ازار د سائل ورسره وي

سوال: خیر خو اسم تفضیل دی نو په مفضل علیه کې خو هم نفس خبر والی غواړي، او سره له دې چې په هغه صدقه کې چې اذی او ازار ورسېږي هیڅ خیریت نه ستە؟

خواب: دغه صدقه چې ازار ورسره وي که څه هم په واقع کې خو هیڅ خیر

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

والی نه لري لکن په زعم د منفق خو خیر پکښې دی.

دروښ وایي: وقد مر الاختلاف في امثال هذه الصدقات وعلى مذهب البعض فيها، خير ايضا فتدبر فيما مر من الاختلاف، او خدای ﷻ غني دی ستاسي د صدقاتو څخه پر فقراؤ باندي، ولي فقير ته به خدای ﷻ له بله خوا رزق ور ورسوي، صرف ستاسي اغنياؤ امتحان يې کاوه، امام شعبي رحمه الله وايي که مصدق خان خپل وثواب ته د صدقه ډېر محتاجه نه وباله تر فقير وصدقه ته فقد ابطل صدقته.

فائده: صدقه يوازي په مال کي نه ده حصر بلکه بل تجري في کل معروف مثلا الكلمة الطيبة والشفاعة الحسنة والاعانة في حاجة احد وعيادة مريض و تشييع جنازة وتطيب قلب مسلم كل ذالک صدقه، روح البيان

حکایت: يو بادشاه چې د يو ولي الله سره يې ډېر اخلاص درلودی، نو په ډېر منت او زاريو سره يوه شپه هغه ولي الله مېلمه کړی ولي الله چې ډوډی له بادشاه سره وخوړل، نو بادشاه خپل تخت او زېبا حرم سرای او ښې ښې مېوه داري درختي او ډول ډول ګلان د ګل باغ يې هم ورښکاره کړه، او ولي الله ته يې وويل چې څرنګه بولي زما بادشاهي او دغه خايونه چې ماپه تا وليدل. ولي الله ورته وويل چې ددې ټولو يو ګوز قيمت دی، د بادشاه خوا خندي بده سوه، او په اهانت يې له کوره څخه وايستی، خير ولي الله ولاړی خپل کور ته او دا بله شپه د بادشاه سخت پر نس درد سوه او نس يې وار په وار له باده څخه پرسپدی، آخير الامر هر څه علاج طبي چې يې وکړی نه در آرامېدی او نه پارسوب کښته کېدی، خو ناچار هغه ولي الله يې راوباله، هغه چې راغلی بادشاه ورته وويل چې پر ما يو دم وکړه، ولي الله ورته وويل چې دم په دې شرط درباندي کوم چې تا به خدای ﷻ جوړ کړي لکن بادشاهي به ماته راسپاري، شاه چونکه ډېر په عذاب و، نو تر بادشاهيت يې خپل صحت خير وباله، او ولي الله ته يې وويل که زه خدای ﷻ جوړ کړم تر شاهي تاته در تېريم، ولي الله بسم الله الرحمن الرحيم ووايه او د شاه پر نس يې لاس ورتېر کړی،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بادشاه یو غټ او اوږد بد بویه ګوز واچاوه او چور سو، نو بادشاه سم دلاسه ولي الله ته وویل راسه زما پر تخت کښېنه، صبا به زه حرم سرای در خالي کړم او ته به ورته راکډه سي. ولي الله ورته وویل چي زه حاجت نه لرم وداسي شاهي ته چي قیمت یې بدبویه ګوز و. لکن ته په بادشاهي او په شاهي منزله او ګل باغ مه مغروره کېږه بلکه د خدای ﷻ شکر وایه، او د خدای ﷻ په عبادت کي مال خان او مال صرف کړه ولي الله خندي ولاړی.

دروېش وایي: چي هغه ډلي معروفة الحال دا حکایت وامثالها درواغ بولي او دا صرف موضوعي حکایات بولي. او هغه حدیث قدسي مبارک چي په شان کي د رسول کریم ﷺ راغلی دی چي په نور الظلم او ابو المنتهی کي مذکور دی، یعني لولاک لماخلقت الافلاک ولولاک لما اظهرت الربوبیة دغه معلوم الحال ډلي دا صرف موضوعي بولي، دوئ وایي چي فلاني او فلاني محدث دا حدیث موضوعي بللی دی او سره له دې چي امام مظهري رحمه الله چي لوی محدث دی د جلد لسم (۱۰) په ص (۳۰۳) کي داغه حدیث راوړی دی او اشاره وضعف ته یې فضلاً عن الوضع هم نه ده کړې، او سره له دې چي امام مظهري رحمه الله په ټوله خپل تفسیر کي چي یو حدیث راوړی، نو که ضعیف و، ضعف یې بیانوي، او که منکر وو نکارت یې بیانوي، ویقول في بعض الآحادیث هذا حدیث ضعیف جدا او منکر جدا الی غیر ذالک، او د امام مظهري تفسیر دغه مخالفي ډلي هم مني چي صحیح تفسیر دی

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُبْطِلُوا صَدَقَاتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْأَذَىٰ

اې هغه کسانو چي ایمان یې راوړی دی تاسي مه باطلوئ خیراتونه خپل، یعني ثوابونه د خیراتو په من سره پر سائل او په ازار سره دده، وقد مر بیان صورة المن والاذی.

پوه سه: چي دا قضیه سالبه کلیه ده یعني بشیئ من المن والاذی د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایلله لایدخل الجنة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

منان، ای في الصدقات ولاعاق" ای لوالدیه او لاساتذته رواه النسائي والدارمي

فائده مراد دخول اولی دی.

فائده ابن عطیه رحمه الله دلته یو سوال کړی دی چې مذهب د اهل السنة والجماعة خو دادی چې سیئات حسنات نه سي باطلولای خلافا للمعتزله. نو د من او اذی په صورت کي خو حسنه چې صدقه ده له مخه صادره سوه، او وروسته سیئه په من او اذی پورې ملحق سوه، نو څرنګه په سیئه لاحقه سره حسنه سابقه باطلیږي، صاحب د روح المعاني داسي جواب ورکړی دی چې خدای ﷻ په هغه صدقه چې صاحب به یې من او اذی کوي خبر دی هغه صدقه نه قبلوي، حتی چې کرام کاتبین ته هم خدای ﷻ یوه نښاني ورښوولې ده چې هغه دا صدقه د مال او موذي په لست کي د حسناتو نه لیکي، او زمونږ او د معتزله وو اختلاف په حسنه مقبوله کي دی انتهی مع الزیادة.

كَالَّذِي يُنفِقُ مَالَهُ رِئَاءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ

پوه سه: چې کلمه د کاف منصوب المحل ده مفعول مطلق دی لقوله لاتبطلوا ای ابطالا کابطال الذي چې نقه کوي مال خپل لپاره د رونټ د خلګو نو رئاء الناس منصوب دی مفعول له دی، او ایمان یې نه وي پر خدای ﷻ او پر ورځ د آخرت.

فائده: عدم ایمان پر خدای ﷻ او په ورځ د آخرت قید د ابطال د ریاء صدقې لره نه دی، ولي که سړی مؤمن پر خدای ﷻ او پر ورځ د آخرت هم وي، دغه صدقه یې هم په ریاء سره باطلیږي، بلکه دا قید خدای ﷻ ددې لپاره ووایه چې انفاق ریاء د مؤمن له شانه څخه نه دی بل هو من شیون الکافر، او مؤمن لره نه ښایي چې خان د کافر سره مشابه کوي.

پوه سه: چې د مرائي مثال داسي دی چې یو سړي پر شکل د کالدارو یو څو کودرې په یوه خلطه کي اچولي وي او په بازار کي یې په شاوي، نو خلګ چې ورته ګوري دا وایي چې ددې سړي څونده دهري کالداري په شا دي لکن که یې یو دکاندار ته دغه کودرې دی وروړي هیڅ شی نه په رانیول کیږي، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دده د پلټلو د کودرو جزاء صرف او صرف د خلګو خبري وي چې ددې سپرې خوندې کالداري په شا دي، دغه رنګه د مرايي ثواب او جزاء د خلګو خبري دي چې فلاني خوندې لوی منفق دی، مګر په بازار کې د آخرت هیڅ شی له ځانسره د آخرت نه په راښول کېږي

فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَأَصَابَهٗ وَابِلٌ فَتَرَكَهٗ صَلْدًا

یعني حالت عجیبه د مرايي لکه حال د صافي ښوېدلي ډبري دی.

پوه سه: چې "صفوان" بعض اهل لغت وايي چې جمع دی، چې مفرد يې صفوانة دی، او بعض اهل لغت وايي چې مفرد ددې او جمع يې صفي دی، او پر هغه ښوېدلي ډبري باندې لږ خاوري پرتې وي

پوه سه: چې لږ والی د خاورو له تنکیر ځخه معلومېږي، نو ورسېږي هغې ښوېدلي ډبرې ته غټ غټ ځاځکی باران لکه د پسرلي يا د دوبي باران، نو پرېږدي هغه باران هغه ډبره ښويه. يعني هغه ګرز چې پر و، باران يې ځندي يوسي

لَا يَقْدِرُونَ عَلَىٰ شَيْءٍ مِّمَّا كَسَبُوا

نو قدرت نه لري دغه کسان، يعني رياکاران پر يو شي د هغه انفاق چې دوئ رياء کړی وي، يعني په ورځ کې د قيامت ثواب يې نسته لانه لاثواب قطعا للشرک الخفي

فائده ضمير د لايقدرون راجع و موصول سابق نه دی وجمع الضمير باعتبار الجنس او الفريق

وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ

او خدای ﷻ هدايت نه کوي و هغه قوم ته چې کافر وي، يعني ما دامرا مصرين للكفر

پوه سه چې په دې آيت کې اشاره ودې ته ده چې من او اذی او رياء له خواصو ځخه د کافرانو ده لعدم ايمانهم بالبعث بعد الموت والثواب والعقاب، نو بايد مسلمانان دده‌وئ په خواصو ځان ورګډ نه کړي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: بعض سلف صالحینو رح له ریاء څخه د خان ساتلو په خاطر به یې صدقه د رانده فقیر په لاس کې ور اینبوول چې دا فقیر یې هم ونه پیژني، او بعضو به د یو بده مسکین په پټو یا بله جامه پوري به یې روپۍ ورغوته کولې وعلی هذا القس، وفي الحدیث الصحیح قال رسول الله ﷺ ان اخوف ما اخاف علیکم الشرک الاصغر، صحابه کرامو رضی الله عنهم وویل چې شرک اصغر څه شی دی یا رسول الله ﷺ، قال ﷺ الریاء" چې په ورځ د جزاء الاعمال الحسنة ریاکارانو ته خدای ﷻ ووایي چې ورسئ تاسي هغو کسانو ته چې تاسي ددوئ د روئیت لپاره دا عمل صالح کاوه چې د هغو سره به یو ثواب پیدا کړئ، سعدي شیرازي قدس سره وایي.

طریقت همین که اهل یقین ﷺ نکو کار بود ند و تقصیر بین
بروی وریا خرقه سهلست دوخت ﷺ گرش باخدای در فروشی نکوست
همان به گر آبستن گوهری ﷺ که همچون صدف سر بخود دربری
وگر آوازه خواهی در اقلیم فاش ﷺ برون حله کن گو درون حشوه باش

دروښ وایي: چې په دې حدیث کې د ابو هریره رضی الله عنه چې مسلم یې روایت کړی دی او ګڼ شمیر مفسرینو رح یې هم روایت کړی دی داسي راغلي دي، چې خدای ﷻ چې ورځ د قیامت سي د خلګو د قضاوت لپاره نازل سي یعني متوجه سي، او هره ډله د خلګو پر زنګنو ناست وي، نو اول خدای ﷻ هغه درې قسمه خلګ راغونډ کړي، یو حافظ القرآن وقاریه، او بل هغه سړی چې په غزاء او جهاد في سبیل الله کې وژل سوی وي، او بل هغه سړی چې خدای ﷻ اموال کثیره ورکړي وي، نو اول حافظ القران ته یعني علاوه تر نورو نعمتو دا ورته ووایي چې ما تاته تعلیم د ماانزلته علی رسولي نه وو کړی؟ حافظ ورته ووایي بلی یاربي، نو خدای ﷻ ورته ووایي چې تا نو څه عمل وکړی فیما علمت، یعني لرضائي؟ نو قاري ورته ووایي ما وایه قرآن په ساعاتو د شپې او د ورځې، یعني ستا د رضاء لپاره، نو خدای ﷻ ورته ووایي کذبت او ملکي هم ورته ووایي کذبت، نو خدای ﷻ ورته ووایي چې ستا په قرائت قرآن کې دا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غرض و چې خلګ ووايي چې فلانی قاري دی. هغه خو تاته وويل سوه.

پوه سه: چې دا تکذيب د خدای ﷻ ددې قاري په قيد محذوف کې دی يعني ستا د رضاء لپاره، وقد صرح بهذا القيد بعض المحدثين رح، او بيا صاحب المال راوغواړي. او خدای ﷻ به ورته ووايي چې ماتاته فراخي د مال نه وه درکړې، او د بل له احتياجه مې نه وې خلاص کړی، قال بلى يارب، خدای ﷻ به ورته ووايي چې تا نو خه عمل وکړی في ماآتيتک يعني من المال، هغه غنې به ورته ووايي چې ما په هغه مال سره صله رحمي د اقرباؤ سره کوله، او نور خيراتونه مې کوله يعني ستا د رضی لپاره. نو خدای ﷻ به ورته ووايي کذبت او ملکي به هم ورته ووايي کذبت، يعني په هغه قول چې ستا د رضا لپاره بلکه تا ددې لپاره دا خيراتونه وغيره کوله چې خلګ ووايي چې فلانی جواد دی وقد قيل، وروسته بيا هغه سړی ورته حاضر کړې چې په في سبيل الله يعني جهاد کې وژل سوی وي، نو خدای ﷻ علاوه تر نورو نعمتو دا ورته ووايي چې ته پر څه باندې وژل سوی يې مجاهد ورته ووايي چې تا امر په جهاد في سبيل الله سره کړی و، نو ما هم جهاد وکړی حتى چې شهيد سوم يعني لپاره د اعلاء د کلمة الله، خدای ﷻ به ورته ووايي کذبت او ملکي به هم تولې ورته ووايي کذبت، يعني په دې قول کې چې لپاره د اعلاء د کلمة الله، او خدای ﷻ به ورته ووايي چې تاخو ددې لپاره جهاد کاوه چې خلګ ووايي چې فلانی ډير دلاوره سړی و، وقد قيل، وروسته عليه الصلوة والسلام داسې ووېل اولئک الثلاثة اول خلق الله تسعربهم النار يوم القيامة.

دروېش وايي: لعل المراد بكون هؤلاء اول، اوليتهم في المسلمين.

فائده: توله محدثين وايي چې نقل د حديث بالمعنى روا دی، نو له دې کبله دغه مذکوره حديث مفسرينو په مختلفو الفاظو راوړی دی، او په ترتيب کې ددغو درو کسانو هم په تفاسيرو کې فرق موجود دی، او دغه رنګه بعض مفسرينو هغه قيود مذکوره في هذا التفسير صراحةً راوړي دي، لکن نبه داده چې سړی ماخذ ته د حديث مذکوره چې مسلم دی رجوع وکړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي چې احاديث شريفه په باره کې د وخامت د رياء ښکې ډير دي، له ابو هريره ﷺ څخه روايت دی چې رسول کريم ﷺ وويل چې خدای ﷻ وايي "انا اغنى الشركاء عن الشرك من عمل عملا اشرك فيه معي غيره تركته وشركه، وفي رواية انا منه بريئ هو للذي عمله له" رواه مسلم، وعن جندب ﷺ، من سمع اى عمل للسمعة سمع الله به، ومن يرائي يرائي الله به، متفقه عليه، يعني سمعه او روئيت عوض دی او ثواب د آخرت ورلره نسته، وفي حديث رواه احمد رحمه الله بسنده عن ابي سعيد ﷺ عن رسول الله ﷺ قال اذا جمع الله الناس يوم القيامة ليوم لاريب فيه نادى مناد من كان اشرك في عمل عمله لله احدا فليطلب ثوابه من عند غير الله فان الله اغنى الشركاء عن الشرك، وهذا بحث طويل لعله يخرج الى الملال.

دروښ وايي: چې دا مرض وبايي په اوسنۍ زمانه کې ډير له جهالو او عوامو څخه سرايت کړی دی وعلماء او خواصو ته، وان شئت مصداق ماقلت فتفكر في الدورات المتعارفة في بلد كويته يعني "دورة الصرف" دورة النحو" دورة المنطق" دورة اصول الفقه" وغير ذالک خصوصا ترجمة القرآن العظيم الذي انزله الله تعالى في (٢٣) من زمان النبوة، وصاحب دورة القرآن يقرئها للطلبة في اربعين يوما وغايته في شهرين، والى الله المشتكى.

وَمَثَلُ الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ

بوه سه: چې په دې آيت کې مفسرين رح ټوله مضاف محذوف بولي په قرينه د مشبه به، يعني مثال د نفقاتو د هغه کسانو چې مالونه خپل نفقه کوي او صرفوي يې لپاره د طلب د رضاء د خداى ﷻ، نو مرضات مصدر ميمي دی يعني رياء او سمعه کار د عاشق الهي نه دی، وفي المثنوي

عاشقان را شاد مانی وغم اوست ﷺ دست مز دو جرت خدمت هم اوست
غير معشوق ار تماشايی بود ﷺ عشق نبود هر زه سودايی بود
عشق آن شعله است کوچون برفروخت ﷺ هرچه جز، معشوق باقی جمله سوخت

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

حافظ شیرازي مېګوید

توبنده گی چون گدایان بشرط مزد مکن که خواجه خودروش بنده پروری داند

والحاصل ان الخدمة بالاجرة لاتناسب الرجولية فان من علم علما يقينيا ان مولاه كريم يقطع قلبه عن ملاحظة الاجرة وتجيئ اجرته من ذالك الكريم على التمام والكمال.

حکایت: رابعه عدویه یا بصریه چې یوه مینځه وه چې د خوانۍ او پېغلتوب په وخت کې ډېره ښائسته وه او د بادار ظاهري ډېره خدمت ګاره وه، نو په هغه په وخت کې به په ډېرو روپو یوه مشتري د بل بائع څخه رانیول، او ډېر به هر بادار نازوله، رفته رفته چې د رابعه عمر تېرېدی کرار کرار يې حسن ظاهري مخ پر زوال کېدی، آخیر الامر د سر وېښتان يې سپین سوه، او مخ يې ژړ او ګونجي ګونجي سو، او له خدمته هم ولوېده، نو اخیري بادار ددې رابعه و هغه ځای ته بوتله چې مریان او مینځیانې به پکښې خرڅېدلې او رانېول کېدلې، یوه ورځ تر مابنامه يې په ګنج کې د برده فروشۍ درولې وه، هیڅ چا يې طلب د رانیولو ونه کړی، دوهمه ورځ هم هکذا تېره سوه، دریمه ورځ یو سړی چې په مخکښۍ دوو ورځو کې هم په ګنج کې حاضر و، پر رابعه يې زړه وسو چې وچ شونډان به بادار په ګنج کې درولېوه ورته راغلی مالک ته د رابعه يې وویل چې مینځه دې په خو ده، آخیر الامر پر دې درهمه يې فیصله د قیمت سره وکړه، او رابعه يې رانیوله. تر ګنج چې يې راوه ایسته، نو هغه مشتري ورته وویل چې ما صرف د زړه سوي له کبله ته رانیولله. نه د خدمت لپاره ورځه زما له خوا ازاده يې، سړی چې خندي ولاړی رابعه وه یوه دېوال ته کښېښتل، او سر يې په ګریبان د فکر کې پټ او خپل د خوانۍ د بادارانو د عزت او خدمت وختونه يې ورپیاد کړه، او تر سترګو يې اوښکې بهېدلې. آخیر الامر يې خدای ﷻ ته مناجات وکړی چې خدایه ظاهري بادارانو خو تهول بېوفاء ثابت سوه، ته اې خدایه چې حقیقي بادار يې اوس زه ستا وخدمت او عبادت ته مخ در اړوم ته خو به مې خپل له درباره نه شړې لکه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مجازي بادارنو چي وشړلم.

دروښ وايي: چي چونکه د رابعه په زړه کي عشق حقيقي د معبود قرار ونيوی، نو په قرار د هغه حديث قدسي چي خدای پاک وايي ﴿من تقرب الي شبرا تقربت اليه زراعا ومن تقرب الي زراعا تقربت اليه باعا ومن يمشي الي اتيته هرولة او كما قال﴾ (رواه كتب الصحاح اكثرها) نو خدای پاک رابعه خپله مقبوله مينځه وګڼله، وروسته رابعه پو يوه نژدې غره کي د بصري يوه چينه پيدا کړه، او هغې ته نژدې يې يو غار د عبادت لپاره وټاکی، لږ مده به رابعه بصري ته راغله او يو څه دوډی به يې پيدا کړه او هغه به لمر وچه کړه او ميده به يې کړه او د اوبو سره به يې خوړله، وروسته تر څو مدې به د بصري خلګو هغې ته ښه مکلفه دوډی غره ته وروړله او دې به هغه خوړله او او شپه او ورځ به يې د خدای ﷻ لپاره لمونځونه او عبادتونه کول او روژې به يې نيولې او اذکار الهيه به يې هم ويله، نو ميا شتي چي تهربدلې مخور علماء د بصري به ددې زيارت او ملاقات ته ورتله، روايت دی چي رابعه به زائد تر صلواتو خمسه وو په هر شبانه روزه کي دوه سوه نفلي لمونځونه هم کوله، يوه ورځ چي علماء ددې په ملاقات کي حاضر وه، رابعه ددې څخه پوښتنه وکړه چي تاسي عبادت د خدای ﷻ له څه سبب کوئ؟ بعض علماؤ وويل چي له عذاب څخه بهربرو په ورځ کي د قيامت، رابعه ورته وويل چي تاسي خو له بهري دا عبادت کوئ، اخلاص د خدايه سره مو څه شی دی، بعضو وويل چي موږ عبادت د خدای ﷻ کوو په طمع د جنت في يوم القيامة، رابعه ورته وويل چي تاسي مزدور کاره ياست او مزدوري هم ډبله غواړئ، اخلاص د خداي ﷻ سره مو څه دی، نو ملايانو دې ته وويل چي ته نو د څه لپاره عبادت کوې؟ رابعه ورته وويل چي که خدای ﷻ له سره دوزخ نه وايی پيدا کړی فرضاً نو خو بهره له دوزخه به نه وايی، او داغه رنګه که يې جنت فرضاً نه وايی پيدا کړی، نو خو طمع د جنت به هم نه وايی، لکن خو بيا هم ما به عبادت د خدای ﷻ کولايی لانه المولی وانا امته وللمولی حق العبادة علی الاماء والعبيد.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې دغه دی مقام حقيقي د عبوديت او اخلاص د خدای ﷻ او مقام د عشق حقيقي للمولی ﷻ انتهى الحكاية.

وَتَثْبِيتًا مِّنْ أَنْفُسِهِمْ

او ثابت ګرځول د خپل اسلام وي، او تصديق يې وي پر ما وعده الله من الثواب على ذالک الانفاق.

پوه سه چې "وتثبيتا" عطف دی على "ابتغاء مرضات الله" او کلمه د "من" ابتدائيه ده داخل پر منشی ده ای تثبيتا ناشيا من انفسهم، قاضي بيضاوي وايي چې له دې آيت څخه دا فهميږي چې حكمت الهي په انفاق کې تزکيه او پاکول دي د نفس د منفق د بخل او له حب المال څخه آه، مظهري رحمه الله دا پر تفريع کړې ده ومن ثم قال ابو حنيفة رحمه الله لايجب الزكوة في مال الصبي حتى يؤديها الولي من مال الصبي، لان الحكمة في الزكوة ابتلاء المكلف ببذل ماهو شقيق الروح ابتغاء مرضاة الله وذا لايحصل باداء الولي انتهى، او بعض مفسران د آيت ترجمه داسې کوي وتثبيتا للمال الى يوم الآخرة، ولي چې د مال منفق ثواب آخيرت ته پاتېږي والمال الغير المنفق فهو الهالک ويوافق ذالک التوجيه ماروى عن ابن مسعود رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ايكم مال وارثه احب اليه من ماله (څوک دی له تاسې څخه چې مال د وارث دي خوښوي تر خپل مال) قالوا يا رسول الله ﷺ ما منا احد الا ماله احب اليه من ماله وارثه (صحابه کرام رضي الله عنهم وويل يا رسول الله ﷺ نسته هيڅ څوک مګر خوښ خپل مال لري تر مال د وارث) قال ﷺ فان ماله ماقدم ومال وارثه ما اخر (رسول الله وويل چې ما د سړي هغه دی چې د مخه يې واستاوه يعني آخيرت ته بالانفاق لمرضاة الله، او مال د وارث هغه دی چې ده وروسته پرېښوی ورثه وو ته رواه الترمذي، غرض د عليه السلام دا وُ چې عموما خلګ خو کوشش کوي چې ورثه ورته ډېره شتمني پرېږدي، او د انفاق في سبيل الله څخه ډډه کوي حتى فرضي زکوة لا هم پوره نه ورکوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروېش وايي: ويدل عليه التوجيه المذكور ما روى الترمذي بسنده عن عائشة رضي الله عنها انه عليه الصلوة والسلام ذبح شاة" يعني وروسته عليه السلام دباندې ولاړې بيرته چې کور ته راغلى، نو يې له عائشه رضي الله عنها څخه پوښتنه وکړه ما بقى من شاة. د پسه يو څه غوښې پاته سوي؟ عائشه رضي الله عنها ورته وويل چې يو ولى يې پاته سوى دى، ددې غرض دا و چې ټوله پسه مو خيرات کړى يو ولى يې کور ته پاته سو، قال رسول الله بقى كلها الا كتفها يعني ټوله پسه پاته سو يعني ورځې ته د آخرت. يعني هغه غوښې چې مسکينانو ته ورکړه سوې هغه باقي دې مګر يو کتف يې چې تاسي د خوراک لپاره راوګرځاوه.

پوه سه: چې مال د انفاق في سبيل الخير لمرضات الرب جل سلطانه کار د سخيانو دى، او د روح ښندنه په لار کې د حق جل جلاله کار د عاشقانو دى، قال المولوي المعنوي مولوي جلال الدين البلخي ثم الرومي في مثنوي السامي

آن درم دا دن سخى را لائق است جان سپردن خود سخاى عاشق است
نان دهى از بهر حق نانت دهند جان دهى از بهر حق جانت دهند
درشريعت مال هركس مال اوست در طريقت مال ما مملوك اوست

حافظ شيرازي چه خوش سرائيده كه ميگويد

هرگز نميرد آنكه دلش زنده شد بعشق ثبت برجريده عالم دوام ما

ودر جاى ديگر ميگويد

واز درون پرده زعشاق مست پرس كين حال نيست زاهد عاليمقام را

حاصل آنكه زهد وتقوى چيزى ديگر است اما عشق حقيقى ازو بالاتر است

دروېش هيچ مدان ميگويد كه چون عاشقان حقيقي ذات والاى حق جل جلاله بديدار انوار ذاتي وصفاتي آن ذات والا صفات درپرده عمومي شب مشرف گردند، از غايت سرور اينچنين اظهار آن ميكنند.

تعالى الله چه دولت دارم امشب كه آمد ناگهان دلدارم امشب
چو ديدم روى خوبش سجده كردم بحمدالله نكو كردارم امشب

بدانيد كه مراد شاعر از آمدن دلدار ظهور انوار ذاتى است، ومراد از

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سجده سجده شکر است برین نعمت عظمی، که عاشقان حقیقی معبود حقیقی را در بعض شبها بطور برق خاطف میسر میشود

کشد نقش انا الحق بر زمین خون — چو منصور دار کشی بر دارم امشب
برات لیلة القدر ی بدستم — رسید از طائع بیدارم امشب
همی ترسم که حافظ محمو گردد — ازین شوری که در سر دارم امشب

كَمَثَلِ جَنَّةٍۭ بِرَبْوَةٍ أَصَابَهَا وَابِلٌ فَاٰتَتْ أُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ

پوه سه: چې "کمثل" خبر دی د "مثل الذین آه" والمعنی مثال د نفي د هغه چا چې په مبتداء کې ذکر سوه لکه حال د هغه باغ دی چې واقع وي پر یو لوړ ځای چې مستوي محکه یې وي، یعني چې اوبه پکښې بهېږي، اوبه نه پکښې درېږي چې محکه یې کمزوري کړي او نه له اوبو څخه لوړه وي چې اوبه نه ور خېژي حتی چې مېوه یې ټوی سي په سبب د عدم الماء ، وانما قید الجنة بهذا القید لان اشجا مثل هذه الجنة تکون احسن وازکی کمایدل علیه التجربة، او ورسېږي وباغ غټ ته څاځکي د باران یعني چې ښې اوبه په درختو کې جاري سي، نو ورکړي دغه باغ مېوه خپل هره مېوه چې وي چې درختي د هغې مېوي په دغه باغ کې موجودي وي، دوه مثل منصوب علی الحال یعني مثل ماکانت تثمر بلا وابل.

فَإِن لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ

او که دغه باغ ته نه ورسېږي وابل فطل یعني یکفیها هغه باران چې کوچنې څاځکي یې وي، والفرض ان تلک الجنة تثمر علی تقدیري اصابة الوابل وعلی تقدیر اصابة الطل، ولي چې پر مرتفعه مستوي محکه چې باغ وي هوا یې سره وي، نو په هر صورت مېوه کوي، والحاصل ان نفقات د مؤمن نه ضائع کېږي بلکه که نفقات د مؤمن یو داسې شی ورضم سي چې تضاعف د اجر واجبوي مثل حسن الاخلاص ووضعها في المواضع اللائقة لها تتضاعف اجرها وثوابها الی ماشاء الله تعالی اولایضم الیها مایوجب التضاعف لایبطل اصل العمل ویوجب الاجر والثواب لامحالة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۲۶۵﴾

او خدای ﷻ په ټولو عملو ستاسي خبر دی.

پوه سه چي دا جمله تعلق په دواړو ډلو پوري لري يعني المنفقين بالمن والاذى والرياء، نو د هغو لپاره وعيد دی، او د منفقين لمرضات الله، نو د هغو لپاره وعد دی.

پوه سه: چي دا راتلونکی آيت ربط لري د هغه آيت سره يا ايها الذين آمنوا لاتبطلوا "الآية.

اَيَوَدُّ اَحَدُكُمْ اَنْ تَكُوْنَ لَهٗ جَنَّةٌ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ لَهٗ فِيْهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ

پوه سه: چي همزه لپاره د استفهام انکاري دی، يعني نه ده خوښه د يوه ستاسي چي ده لره دي وي يو باغ د خورما او د انګورو، او بهېږي لاندي تر درختو د هغه باغ ولي د اوبو، او ده لره علاوه تر انګورو او خورما په دغه باغ کي ټولي مېوې موجودي وي، لکه اينځر شپتالو انار وغيرها.

پوښتنه: د آيت په نص سره دا ثابته سوه چي په دي باغ کي ټولي مېوې موجودي وي، نو تخصيص د خرما او د انګورو د څه لپاره وسو؟

ځواب: تخصيص يې لپاره د شرف ددغو دوو مېوو وکثرة منافعهما وسو.

وَاَصَابَهُ الْكِبَرُ

او مالک د باغ ته کلان سالي رسېدلي وي، يعني چي پر کسب او مزدوری قدرت نه لري.

پوه سه: چي کلمه د واو لپاره د حال، او قد ورسره مقدر دی کماتقرر في النحو، ای والحال انه قد اصابه الکبر.

وَلَهٗ ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَآءُ ﴿۲۶۶﴾

او مالک لره د باغ اولاد وي کوچنيان نر او ښځي يعني هغه هم پر کسب او مزدوری قدرت نه لري، والجملة للعطف علی اصابه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَأَصَابَهَآ إِعْصَارٌ فِيهِ نَارٌ فَٱحْتَرَقَتْ ۗ

نو باغ ته ورسېږي اعصار، اعصار هغه تند باد دی چې لوړې خوا ته پورته کېږي لکه یو میل، او په هغه اعصار کې اور وي یعنې سخت تود باد وي، نو باغ یې وسوځل سي، یعنې په سبب د تود باد، او تولې میوې له منځه ولاړې سي، والحاصل لکه د دغه باغ والا چې د کامل احتیاج دده ومیوې ته د باغ احتراق د میوو د باغ یې نه دی خوښ په دار الفنا دنیا کې، نو څرنګه خوښ لري یو ستاسي چې حسنات او انفاق دده لغوه سي په سبب د من یا د اذی یا د ریاء په ورځ کې د قیامت چې دی و هغو حسناتو ته کامل حاجت لري په دار البقاء کې، فیخیب وتحسر ابدا.

كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْـَٔايَٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ ﴿٢٦٦﴾

او دغسې خدای ﷻ په قرآن کې ستاسي ته یعنې ستاسي د هدایت لپاره آیات بیانوي، ددې لپاره چې تاسي فکر وکړئ په هغو آیاتو او په مقتضی د هغو آیتو عمل وکړي لئلا یلحقکم تحسر وندامة یوم القیامة، مع انه لا ینفع یومئذ کمالا یخفی.

موعظت: عاقل سړی هغه دی چې عبادت د خدای ﷻ په اخلاص کوي، او همېشه خدای ﷻ ته التجاء کوي چې ما له طاغوت خفي څخه او ما له شرکه خفي څخه خلاص کړې، وهو الریاء والسمعة، فان الخلاص من هاتین الآفتین مبني عن الاخلاص.

قال السعدي رحمه الله

همینست پندت اگر بشنوی که گر خار کاری سمن نه دروی

یعنې که چا تخم د خوزانو وکړی، د ګلانو حاصل به پرې وانه خلي، وفي المثل العربي وبالکاس الذي تسقی تشرب، او د علي ﷺ بن ابي طالب څخه روایت دی چې علیه الصلوة والسلام وویل چې صدقه چې له لاسه د صاحب الصدقه ووځي دمخه تر دې چې په لاس کې د سائل واقع کېږي پنځه خبرې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کوي يعني باللسان الحال.

(۱) تقول كنت قليلة فكثرتني (۲) كنت صغيرة فكبرتني (۳) وكنت عدوا فاجبتني (۴) وكنت فانيا فابقيتني (۵) وكنت محروسا والآن صرت حار سالک. كذا في روح البيان، وقال بعض الشعراء.

زان پيش كه دست ساقی دهر — در جام مرا رت افگند زهر
از سر بنه اين كلاه و دستار — جهدی بكن و دلی بدست آر
كين سر همه سالی باكله نيست — وين روی همیشه همچو مه نيست

درويش وايي: ومن بلاغات البرسوي رحمه الله فمن ساعده المال فلينفق في سبيل الله الملک المتعال وليشكر على غني ومدد فلا يقطع رجاء احد.

فائده: په صحيح حديث كي راغلي دي من قطع رجاء من التجاء اليه قطع الله رجائه. د تاريخ په پانو كي راغلي دي چي يو عالم چي دا حديث ووايه دهر يې وژړل، او په دې كي حيران پاته سو چي ددې حديث په تر څه اندازې مراعات او عمل به په كوي، نو يو صالح عالم عامل ته روان سو چي ددې حديث په باره كي پوښتنه څندي وكړي، او د خپل زړه شک زائل كړي، د هغه صالح خای ته ورغلی، د هغه صالح په لاس كي دوډی ده او سپي ته يې ټيولې ده، سپي دوډی خوړله، او هغه عالم سلام ورته ووايه هغه صالح وعليک ورته ووايه او ورته ولاړ نه سو لكه پخوا چي به دغه عالم ددې صالح وملاقات ته ورغلی هغه به ورته ولاړ سو، او بنه احترام د هغه عالم به يې وكړی، نو چي سپي په دوډی مور سو، نو هغه صالح سړی ورته ولاړ سو او د عالم مبلمه سره يې هغسي لطف او پوښتنه وكړه، او ددې په عذر كي چي زه اول ولي وتاته نه سوم ولاړ. داسي يې وويل لم اقم امتثالا لقوله عليه السلام من رجاء الى آخر الحديث، نو دې سپي ماته اميد دوډی راوړی و، نو زه تاته نه سوم ولاړ خشية ان اقطع رجائه، نو عالم چي دا خبره د صالح ولي واورېدله، نو حيران پاته سو، يعني په دې معنا چي د انسان رجاء وسړي ته خو څه كوي د سپي رجاء به هم سړی نه قطع كوي، نو يې بالا نوره پوښتنه نه څندي وكړه، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تعجب يې وکړی وکرامت ته د صالح په باب کې د ولایت.

فوائد شتی: په روایت کې د معاذ ﷺ راغلې دي چې آنحضرت ﷺ چې دی ویمن ته د حاکم په توګه استاوه، نو په اخیر ملاقات کې يې د وداع وعلیه السلام ته وویل ماته وصیت وکړه، علیه السلام ورته وویل اخلص دینک یکفیک العمل القلیل، ته خلاص وګرځوه عملونه د دین خپل یعنې د ریاء او سمعه څخه، نو ستا لپاره کافي دی لږ عمل. وفي الفتاوی التاتارخانیة که چا لمونځ شروع کړی خالصا لله تعالی، وروسته يې په زړه کې ریاء وروګرځېدل فهو علی ما افتتح علیه یعنې لمونځ يې پر اخلاص باقي دی عارضي ریاء تاوان نه ورته کوي، والریاء انه لو خلی عن الناس لایصلی مثلا صلوة التهجد، او یا صلوة الضحی الی غیر ذالک ولو کان مع الناس یصلی.

مسئله: که یو سړي په اجتماع کې د خلګو لمونځ په تعدیل الارکان او خشوع سره کاوه، او چې یوازې به يې کاوه هغه تعدیل وغیره به يې نه کوله، نو دې سړي لره ثواب د اصل لمانځه سته نه د تعدیل وغیره.

حکایت: په اسلامي تاریخ کې وایي چې د یو شیخ الوقت یو حاکم الوقت بناءً علی حسن الظن ډېر معتقد او مخلص و تقربا لکه مرید، نو حاکم الوقت په ډېر عجز او نیاز شیخ الوقت ته دعوت د مهمانۍ ورکړی او شیخ الوقت دا دعوت قبول کړی نو حاکم الوقت یو ډېره فوق العادة مطعومات شهیه ورته تیار کړه مابنام مهماني ته شیخ الوقت د خپله خانه سره یو نابالغه عاقل زوی هم را راهي کړی، خیر د حاکم کور ته چې ورغله حاکم الوقت يې ډېر احترام وکړی، او ګرده فامیل د حاکم الوقت خوشحاله دي، چې نن فلانی شیخ مرشد زموږ کور ته راغلی دی، خیر د ډوډۍ چې وخت سو، نوکرانو د حاکم الوقت دسترخوان او ډوډۍ او رقم رقم خواړه پر پراته وه حاضر کړه شیخ الوقت له یوه غابه په درو ګوتو یوه ګوله وکړه او له بل او بل غابه څخه يې هم، غرض دا چې دا ډېري محدودي ګولې يې وخوړلې او ډوډۍ يې بس کړه، حاکم الوقت ورته وویل صاحبه ډوډۍ دي ولې بس کړه شیخ ورته وویل چې زما همېشه دومره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خوارګ دی، ولي که په ډک نس ډوډۍ وخورم د شپې تهجد او ذکر د خدای ﷻ نه سم کولای، هرڅه چې حاکم الوقت اصرار وکړی چې ته مهرباني وکړه یو څو ګولي ډوډۍ زمونږ لپاره وخوره، څو شیخ الوقت ونه منله، نو د ماخستن د لمانځه وخت چې داخل سو، حاکم الوقت شیخ ته وویل چې د ماخستن لمونځ په جماعت تبرکا زمونږ په مهمان خانه کې به راکوې شیخ صاحب دمخه سو او حاکم الوقت او نوکرانو او د شیخ زوی تولو اقتداء پسې وکړه، نو شیخ ښه په تعدیل الارکان او خشوع سره پر طریقه د احسان لمونځ ورکړی، او تر لمانځه وروسته شیخ له حاکم څخه رخصت سو، کور ته چې ورغلی ماینې ته یې وویل چې دسترخوان راواخله زه وږی یم، ماینې یې ورته وویل چې د حاکم له کوره څنګه وږی راغلې، شیخ ورته وویل چې ډوډۍ خو ډېره مکلفه وه لکن ما به قصد ډېره ونه خوړل چې بیا د حاکم الوقت اعتقاد زما څخه بدلېدی، ولي چې دده به دا بدګماني پیدا سوې وایی چې دا څونده خپتور پیر دی، خیر ماینې یې دسترخوان ورته راواخستی او شیخ په وچه ډوډۍ څان تر پوزې پورې مور کړی، زوی یې ورته وویل چې بابا لمونځ هم راوګرځوه، ولي چې پلاره تا تر اوسه پورې په کور کې په داسې خشوع او خضوع او احسان سره لمونځ نه وو کړی.

دروېش وایي: چې دا یو مثال د ریاء په هیښت کې د لمانځه و، په حدیث شریف کې چې روایت یې ابو ذر الغفاري ﷺ کړی دی داسې راغلې دي چې علیه الصلوة والسلام وده ته وویل یا اباذر جدد السفینة فان البحر عمیق، کښتی دي نوې کړه ولي چې دریاب ژور دی "واکثر الزاد فان السفر بعید" او تونبه ډېره درسره واخله ولي چې سفر لېرې دی، واقل من الحمولة فان الطریق مخوف، او بار دي سپک کړه ولي چې لار د ببرې ده، واخلص العمل فان المناقد بصیر، او عمل په اخلاص کې یعني له ریاء څخه خلاص کړه ولي چې کتونکي د عمل یعني خدای ﷻ د عمل په حال دانا دی.

پوه سه: چې مراد له تجدید څخه د کښتی نکرار دی د کلمة التوحید "لا اله الا الله" او مراد له دریاب څخه جهنم دی، او مراد له سفر څخه سفر د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اخیرت دی. کماقال الله تعالی "في یوم کان مقدارہ خمسین الف سنة" او زاد النعیم طاعات دي، او زاد الجحیم سیئات دي، او مراد په حمولة سره ګنهونه دي، او مراد له اقلال او لږوالي څخه نفي بالکلیة دي، او سبب د خوف د لاري دادی چې ملکي د دوزخ چې زبانیه یې بولي درانه باروونو والا یعنې غټ ګناه کاران دلاري څخه ګرځوي، او هوري دروند بار د سړي پل څوک نه وړسره اخلي که څه هم قریب وي "ولا تزر وازرة وزر اخری" وقال الله تعالی وان تدع مثقلة الی حملها لایحمل منه شیئ "وان کان ذا قربی" او مراد له ناقد څخه رب جل وعلاء دی، ولي خدای ﷻ نه قبلوي مګر هغه عمل چې خالي وي د شرک او د ریاء څخه، لماورد في الحدیث النبوي ﷺ القدسي "انا غنی الشرکاء، فمن عمل لي واشرک فیه غیري فاني منه بریئ" وقد مر مثل هذا الحدیث من قبل ایضا، برسوي رحمه الله مع زیادة.

دروېش وایي: چې له وهب بن منبه څخه روایت دی په قول د روح البیان چې خدای ﷻ ابلیس امر کړی چې ورسه محمد ﷺ او دده ټولو پوښتونو ته رښتیا خوابونه ووایه، نو ابلیس په صورت کې د یو سپین ږیري سړي چې په پلاس کې یې لکړه وه وعلیه الصلوة والسلام ته راغلی، علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې ته څوک یې ده ورته وویل انا ابلیس، علیه الصلوة والسلام ورته وویل د څه شي لپاره راغلی یې، ابلیس ورته وویل چې خدای ﷻ امر کړی یم چې ټاله درسم او ستا وپوښتنو ته خوابونه ووایم، علیه السلام وابلیس ته وویل چې ستا دښمنان څو دي زما په امت کې، ابلیس ورته وویل پنځلس دي.

(۱) اول در ټولو لوی دښمن مي ته یې.

(۲) امام د مسلمانانو چې عادل وي.

(۳) هغه غنې سړی چې تواضع لري.

(۴) هغه سوداګر دی چې رښتیا وایي.

(۵) هغه عالم دی چې له خدایه ډیر ډاریږي.

(۶) هغه مسلمان چې وبل ته نصیحت کوي، او د خیر ولاري ته یې رابولي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(۷) هغه مسلمان دی چې زړه سوی لرې یعنې رحم دله وي.
(۸) هغه سړی دی چې له ګناه څخه توبه وکاږي او پر توبه ټینګ وي.
(۹) هغه مسلمان دی چې له حرامو څخه پرهېز کوي.
(۱۰) هغه مسلمان دی چې همېشه په اوداسه ګرځي.
(۱۱) هغه مؤمن دی چې صدقات ډېر کوي یعنې فرضي او نفلي.
(۱۲) هغه مسلمان دی چې د خلګو سره په ښوو اخلاقو ژوند کوي.
(۱۳) هغه مسلمان دی چې خلګو ته یې نفع رسېږي یعنې یا دیني یا دنیوي.
(۱۴) حافظ القرآن دی.
(۱۵) چې د شپې تهجد کوي او خلګ بیده وي.
علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې څو دي ستا رفیقان زما په امت کې، ابلیس ورته وویل لس دي.
(۱) باچا دی ظالم.
(۲) غنې دی متکبر.
(۳) سوداګر دی خائن.
(۴) شارب الخمر.
(۵) کیسه بر (جیب وهونکی)
(۶) ریاء کاره.
(۷) خوړونکی د مال د یتیم.
(۸) مانع الزکوة.
(۹) طول امل والا.
(۱۰) تارک الصلوة، سعدي شیرازي وایي.

غم و شادمانی نماند ولیک — جزای عمل ماند و نام نیک
کرم پای داردنه دیهیم وتخت — بده کزتو این ماند ای نیک بخت
مکن تکیه بر مال وجاه وحشم — که پیش از تو بودست وبعد از تو هم

دروېش وایي: چې پر ناقل په اتفاق د علماؤ تصحیح د نقل لازمه ده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تصحیح د منقول نه ده پر لازمه، فتامل. علاج الریاء والسمعة من شرح الاسباب الروحانیة.

پوه سه: چې علاج د ریاء دوه قسمه دی، یو دادی چې د ریاء اصول او ریښه سړی ورقطع کړي هغه په دې سره امکان پذیر دی چې سړی اسباب د ریاء له منځه یوسي، نو پوه سه چې اصل اسباب د ریاء دري شیان دي حب الدنیا، او شهوات او لذات فانیه، او ترجیح ورکول پر لذاتو د آخرت، او بل دادی چې سړی به حتی الامکان دفع د ریاء کوي په شروع کې د عبادت که بدني او که مالي وي، او بیا د هغې ریا چې په دفع کې به هم کوشش کوي چې په منځ کې دعبادت ورته پیښېږي، نو په شروع کې د عبادت دي سړی وزړه ته متوجه سي چې یو شی له اثارو څخه د ریاء پکښې سته او که نه، او که وه دفع دې کړي او عزم مصمم دي وکړي چې تر اخیره پوري د عبادت به زه پر دغه اخلاص یم، لکن شیطان خو نو تانه پرېږدي پر دغه اخلاص بلکه د عبادت په منځ کې ریائي کارونه په زړه کې در اچوي.

پوه سه: چې خطرات د شیطان دري قسمه دي، اول دادی چې کاشکي ستا په دغه عبادت خلګ خبر وایی نو به ښه وایی، دویم دا چې کاشکي څوک راغلی وایی او زه یې په دې عبادت باندې لیدلی وایی، دریم دا چې کاشکي خلګو زما تعریف کولایی، او ماته یوه رتبه ددوئ په زړو کې ورپیدا سوې وایی، نو سړی دي کوشش کوي چې دا دري خطري دي هم له زړه څخه وباسي، قال السعدي الشیرازي رحمه الله

قیامت کسی بینی اندر بهشت — که معنا طلب کرد ودعوی بهشت
گناه کار اندیشه ناک از خدای — بسی بهتر از عابد خود نمای
اللهم اجعلنا من طالبی المعانی — لا من اصحاب مجرد الدعاوی

لکن الوصول الی هذه الرتبة کالکبریت، الاحمر وتوفیق الوصول الیه من الله الاکبر، باکریمان کارها دشوار نیست.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ

اې هغه کسانو چې ایمان یې راوړی تاسي صرفوئ یعنې په لاره کې د خدای ﷻ بعض د طیباتو د هغه مال چې تاسي ګټلی دی.

پوه سه چې د "طیبات" تفسیر بعض مفسرینو په حلالو مالونو سره کړی دی. او بعض وایي چې مراد له طیباتو څخه جیاد او ښه مالونه دي لقوله تعالی ﴿لن تنالوا البر حتی تنفقوا مما تحبون﴾ او علامه زمخشري ﷺ په کشاف کې داسي تفسیر کړی دی "من جیاد ماکسبتم" او بعض حواشي د کشاف توجیه ددې تفسیر داسي کړې ده وانما فسر الطیب بالجید دون الحلال لان الحل استفید من الامر لان الانفاق من الحرام لایؤمربه وبقرینة قوله تعالی "ولاتیمموا الخبیث منه تنفقون الآیة" لان المراد هناک الردي من المال بدلیل سیاق الآیة هناک کما لایخفی.

وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ

او بعض له طیباتو څخه د هغو مالو چې ما را ایستلي دي ستاسي د نفع لپاره له مخکې څخه، لکه میوې رنګارنګ، او دانې قسم قسم او معدنیات رقم رقم.

پوه سه: چې د ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چې علیه الصلوة والسلام وویل "لایکسب عبد مال حرام فیتصدق منه فیقبل منه ولا ینفق منه فیبارک له فیه ولا یترک خلف ظهره الاکان زادا له الی النار لا یمحو السیئ بالسیئ ولکن یمحو السیئ بالحسن ان الخبیث لا یمحو الخبیث" رواه احمد رحمه الله.

فائده: داوډ ظاهري وایي چې زکوة نسته مګر په نقودو کې او په چهارپایانو کې، او دا آیت د ابطال د داوډ ظاهري دی، او حجت دی د جمهورو پر ده باندې، ولې چې خدای ﷻ وایي "من طیبت ماکسبتم" او طیبات ماکسبتم عام دی عروض یعني قالین کمبلي موټران او مخکو او سرایونو ته هم شامل دی، لکن چې دا مذکوره شیان د تجارت لپاره وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي وعليه انعقد الاجماع ولايبالي بمخالفة داوٗد الظاهري واتباعه من اهل الظواهر.

پوښتنه: نيټ د تجارت په مذکوره شيانو کي ولي د زکوة شرط دی، او په نقودو او چهارپايانو کي شرط نه دی؟

ځواب: په اجماع د امت محمديه ﷺ نماء شرط ده د وجوب الزکوة لپاره ولانمو في الاشياء المذکورة الا بنية التجارة، ويدل عليه ما روی عن ابن عمر ؓ ليس في العروض زکوة الا ماکان للتجارة" رواه الدار القطني.

اختلاف الائمة: که عروض لپاره د تجارت څو کاله خرڅ نه سوه، امام مالک رحمه الله وايي چي هيڅ زکوة نسته پکښي وان طال زمانه او چي خرڅ سوه يو زکوة پر لازم دی، او نور دري امامان ؒ وايي چي د هر کال زکوة پر واجب دی وان لم يبع لان قوله عليه الصلوة والسلام يخرج الزکوة ممايعد للبيع عام يشمل لمابيع اولا.

تفريع: په سراى کي د استوګنې د سړي زکوة نسته هر څو قيمت چي لري، او که يو کوچنی سراى وي لکن د تجارت لپاره وي، په هغه کي زکوة سته، او د خپلي سپرتيا لپاره هرڅو لوړ قيمته موټر چي وي يعني که څه هم په لکوو روپو قيمت لري زکوة نسته پکښي، او که يو بهکاره موټر چي سړي د تجارت لپاره رانيولی وي که يې قيمت د زکوة نصاب ته رسيدی زکوة يې پر مالک واجب دی.

دروښ وايي: وعلى هذا القياس مفروشات البيت، لکه کمبلې قالينې وظروف الاطعمة والسيارة للاجرة دون التجارة وغيرها من الامور الغير النامية الا بنية التجارة.

دروښ وايي: چي چونکه کتابونه د فقه شريفي متکفل د تفاصيلو د مسائلو فقيه وو دي، نو ځکه دروښ تفصيلي لست د مايجب فيه الزکات ومالا يجب فيه الزکوة په خپل تفسير کي وبيان ته نه وسپارله لکن مع ذالک قالوا مالايدرک کله لايترک کله، فلا اعتراض على العبد الضعيف في بيان بعض المسائل الفقهية في التفسير، قوله تعالى "ومما اخرجناه آه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: مفسرین ؒ وایي چي دا آیت په نفلي صدقاتو کي نازل دی واستدلوا بما رواه الشیخان واحمد والترمذي ؒ عن انس بن مالک ؓ قال قال رسول الله ﷺ "ما من مسلم یغرس غرسا او یزرع زرعا فیاکل منه انسان او طیر او بهیمة الا کانت له به صدقة. ویقولون ان هذا الا صدقة نفلیة. والصحیح ان الآیة في الزکوة، ولي چي ومما اخرجنا لکم آه داخل دی لاندي تر انفقوا وهو امر والامر للوجوب. فلا وجه لحملها علی التطوع، نو مقصود په دي آیت کي امر دی په اخراج سره د عشر ما خرج من الارض.

مسئله: د ائمة ؒ ټولو اتفاق دی چي عشر په خورما او انګورو کي او په هغه دانو کي چي قوت په کېږي لکه غنم، جوار، وربشي ورجي وغیرها که چېرې دغه درختي یاکښت اوبېدی د اسمان په اوبو یعني دیمه کښت و، او یا په چینو او یا د شپلو په اوبو او یا د رودو په اوبو چي په هغه کي کوم تکلیف زارع ته نه وي متوجه، او نصف عشر دی که په سولغو د اوښانو یا غوبو اوبېدی.

پوه سه: چي نن صبا چي کښتونه او درختي په باورېو اوبېږي د مشینانو په ذریعه، زما شخصي رایه داده چي په دې غلو او باغو کي نصف عشر دی لان في سیقها موئنة ظاهرة للعوام والخواص.

دروښ وایي: چي زما په شخصي رایه زه څوک نه مکلفوم ولعل العلماء لهم دلائل بحوالة الکتب الفقهیة راجحة مماقلت علی ان فیها العشر فلیفتوا بذالک ویلقوا رای العبد الضعیف في الحش، او پر دې هم علماء متفق دي چي په وښو او په لرګو چي مقصوداً یې اشتغال د محکي نه وي په کړی، بلکه خدایي وانښه او لرګي وي زکوة نسته پکښې.

تفریع: نو په شپشتو کي او په شوتلو کي زکوة سته، ولي چي په هغو مقصوداً خلګ محکي مشغول کوي، البته په چارتراشو او د غرو په لرګو چي د خدای ﷻ په قدرت سره شنه کېږي، که هر څو لوړ قیمتونه لري زکوة نسته.

مسئله: په ماسوا کي د اقسامو مذکوره وو اختلاف د ائمه موجود دی، د سراج الائمة ابو حنیفه ؒ په نبز په جمیع اقسامو کي د ماخرج من الارض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مقصودا اشتغال الارض بها زكوة سته كه داني وي لكه تخمونه د بعض نباتاتو، او كه مېوي وي لكه شفتالو، اينځر، شليل، الوبالو وغيرها او كه له قسمه څخه د شنو شيانو وي، لكه رومیان، بانجن، سبزي، ترتېزک، گندنه، پياز وغيرها زكوة سته، د امام اعظم رحمه الله دليل عموم د آية مذكوره دی يعني ومما اخرجنا آه، او بل دليل يې عموم هغه حديث مبارک دی چې بخاري، مسلم، ابو داوٗد، نسائي، او ابن ماجه له مختلفو صحابه كرامو څخه روايت كړی دی. يعني قوله عليه السلام فيما سقت السماء والعيون الى اخير الحديث كمامر عنقريب، او مذهب د امام مالک او امام شافعي رح دادی چې په هغو مېوو او دانو كي چې قوت په كېږي لكه خرما، انگور، غنم، اوربشي، جواري، نخود، ورجي وغيرها كي زكوة سته لافي غيرها، او د احمد، ابو يوسف او محمد رح مذهب دادی چې هغه مېوي دانې چې د خلگو په لاسونو كي پاتېږي، او كېلي او يا وزني وي زكوة سته لافي غيرها، نو په پسته، بادام، زعفرانو او كنجدو وغيرهما كي زكوة سته، او په خضرواتو كي زكوة نسته، دوئ دا دليل وايي چې د حديث طويل په يوه برخه كي داسي راغلي دي، واما القثاء يعني بادرنگ او بطيخ يعني خټكی او انار او نيشكر او خضروات فعفو عفى عنها رسول الله ﷺ.

دروېش وايي: چې دا حديث له معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه دار قطني، بيهقي او حاكم نقل كړی دی، لكن دا حديث محدثانو ضعيف ګڼلی دی، والتفصيل في شروح كتب الحديث وفي المظهري ايضا. نور حديثونه چې په عدم الزكوة في الخضروات دوئ ذكر كړي دي ټوله د ضعف او انقطاع څخه خالي نه دي، امام مظهري رحمه الله په دغو حديثو كي دېر طويل او په زړه پوري بيان كړی، د دروېش تفسير چونكه د عوامو وروڼو او د مساجدو د امامانو او خطيبانو لپاره دی، نو څكه جرح او تعديل دروېش په خپل تفسير كي صرف نظر كړه.

اختلاف الائمة: پوه سه" چې اشتراط د نصاب په ماسوكي د نقودو او حيواناتو اختلاف دی، امام اعظم رحمه الله وايي لايشترط النصاب فيما خرج من

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

الارض بل تجب الزكوة فيها وان قل للعمومات المذكورة من الآية الشريفة والآحاديث كمامر من قبل. او دا مذهب د ابو حنيفه رحمه الله مروي د عمر بن عبد العزيز، مجاهد او د ابراهيم نخعي رح څخه دی، او امام شافعي، مالک، احمد، ابو يوسف او محمد رح وايي چې يشترط النصاب فيما خرج من الارض وذالک النصاب پنځه وسق دی چې هر وسق به يې شپېته کاسې وي په هغو شيانو چې په اوسوقو خرڅېږي، او که په اوسوقو نه خرڅېدی، بيا يې نصاب هغه لوړ مايقدر به ذالک الجنس پنځه عدد دی، نو په پنبه کې په نبز د محمد پنځه اندې د وښانو دی چې هر اندې به يې دري سوه منه وي په من شرعي، او په زعفرانو کې پنځه منه شرعي نصاب دی.

دروښ وايي: والدلائل والاجوبة من الطرفين مذكورة في مطولات كتب الفقه الحنفي، فاكتفينا بايراد المذاهب فقط، قال الله تعالى

وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنْفِقُونَ

او تاسي قصد مه کوئ وردي او خسيس او خبيث مال ته، چې تاسي د هغه خبيث او ردي څخه انفاق کوئ.

پوه سه چې جار ومجرور په "تنفقون" پورې تعلق لري وقدم لرعاية الفواصل والجملة حال من فاعل تيمموا، له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چې بعض اهل النخل به چوارې يعني د ببکاري خورما څخه تصدق کاوه، يعني عشر به يې روکاوه فنهوا عنه

پوه سه: چې خبيث ضد د طيب دی چې په آيت سابقه کې ذکر سو، او ددوئ دوو درې معناوي دي (۱) الطيب بمعنى الحلال والخبيث بمعنى الحرام (۲) الطيب بمعنى الطاهر، والخبيث بمعنى النجس (۳) والطيب بمعنى الحسن والخبيث بمعنى الردي، والآية السابقة وهذه الآية وان جوز تفسير الطيب والخبيث فيهما بالمعاني الثلاثة لكن قوله تعالى ولستم بآخذي الآية والحديث المروي عن ابن عباس رضي الله عنه المذكور آنفاً يدل على ان المراد بالطيب الحسن وبالخبيث الردي والله اعلم بالصواب، وللناس فيما يعشقون مذاهب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَسْتُمْ بِاٰخِذِيْهِ

پوه سه: چې دا جمله حال له "واو" څخه د "تنفقون" ده، یعنې حال دا دی چې تاسې نه اخلئ دغه خبیث مال په خپلو معاملاتو کې

اِلَّآ اَنْ تُغْمِضُوْا فِيْهِ ؕ

پوه سه: چې دا استثناء مفرغ ده والمعنی لاتاء خذون هذا الخبیث في وقت من الاوقات او بوجه من الوجوه الاوقت اغماضکم یعنې چې سترګې پرې پټې کړئ، او "الا باغماضکم" کې ان مصدریه وې، او وخت نه وې ورسره مقدر کمافي المعنی الاول یعنې که ستاسې پر یو سړي حق باندې وي او هغه تاسې ته دغه خبیث او ردي مال د جنس ستا د حق راوړي تاسې یې نه خندي قبلوئ مګر هغه وخت چې پر دنائت او خباثت یې سترګې پټې کړئ، یعنې پوروړی ستا بد سړی وي، او بنه مال نه سې خندي اخستلای، نو دغه ردي مال غنیمت وبولئ او خندي وایه خلئ:

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ ﴿۲۶۷﴾

او په دې پوه سئ چې خدای ﷻ غني او بې پرواه دی ستاسې د انفاق او ستاسې له صدقاتو څخه، او امر د انفاق چې یې درته کړی دی ستاسې د نفع لپاره دی.

پوه سه: چې په دې آیت کې توبیخ او سرزنش دی ودغو منفقینو ته د خبیث او د ردي اموالو في سبیل الله للفقراء والمساکین ته، او خدای ﷻ مستحق دی د حمد که یې څوک حمد وایي د هغه نفع ده، خدای ﷻ د چا وحمد ته محتاج نه دی.

پوه سه: چې د متصدق مثال د کښت کونکي دی، او د کښت ګر چې اعتقاد وي پر خپل حصول د دانو له کښته څخه، نو دی کوشش کوي په کښت کې د یو بنه تخم برابرولو، ولې چې دی په دې پوهېږي چې بنه والی د تخم سبب دی د بنه حاصل او دپر حاصل، نو د متصدق چې هر څو عقیده پښته

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

وي او ایمان دده پر خدای ﷻ او پر بعث بعد الموت باندي او پر ثواب او عقاب باندي وي، نو دی یو خو زیاتې صدقې کوي، او بل هغه ښه شی ورکوي، ولې خو دده یقین دی چې خدای ﷻ لایظلم مثقال ذرة وان یاتک حسنة یضاعفها ویؤت من لدنه اجرا عظیما، او بنده چې خپل محبوب شی وخدای ﷻ نه ورکړي، خدای هم خپل له خوا وده ته محبوب شی ورکوي، قال الله ﷻ هل جزاء الاحسان الا الاحسان.

مسئله: ددې آیت مبارک څخه دا وفهمیده چې کسب روا دی، او ښه د کسبو تجارت او زراعت دی، قال علیه الصلوة والسلام ان اطیب ما اکله الرجل من کسبه وان ولده من کسبه، یعنې د زوی ګټه هم د پلار ده، او دغه رنګه افضل د صدقاتو هغه چې د عمل الید څخه وي، وکان داؤد ﷺ یاکل من عمل یده، یعنې جنګي زغرې یې جوړولې او هغه به یې خرڅولې، سعدي مېګوید

بقنطار زربخش کردن زگنج　　نباشد چو قیراط از دست رنج

په صحیح حدیث کې راغلي دي چې رسول کریم ﷺ یو وخت صحابه کرام ﷺ امر کړه په صدقاتو سره، نو چا دېره صدقه راوړه او چا حسب الطاقة لږ صدقه راوړه، ابو امامة الباهلي ﷺ په دغه وخت کې حاضر و، او شونډان یې ښورولې، نو علیه السلام ورته وویل چې ته شونډان ښوروې څه وایې؟ ابو امامه ﷺ ورته وویل چې خلګ صدقې راوړي، زه خو مسکین یم شی نه لرم چې خیرات یې کړم، نو د خانه سره سبحان الله، والحمدلله، ولا اله الا الله والله اکبر وایم، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې دغه کلمات خیر دي تا لره تر یو مد سرو زرو چې خیرات یې کړې پر مسکینانو.

نو عاقل سړی باید همېشه توب کوي پر اذکارو في اللیل والنهار او تصدق کوي پر فقراؤ او مساکینو بخلوص النیة والیقین في کل وقت وحین، سعدي رحمه الله

کرامت جوان مردي ونان دهیست　　مقالات ببهوده طبل تهي ست

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَلشَّيْطٰنُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَاْمُرُكُمْ بِالْفَحْشَآءِ ۚ وَاللّٰهُ يَعِدُكُمْ مَّغْفِرَةً مِّنْهُ وَفَضْلًا ۗ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۶۸﴾

او شیطان تاسي ببروي له فقر څخه، یعني که مو انفاق وکړی، نو تاسي په پېښله وړي او فقران سئ، او تاسي امر کوي په فحشاء سره یعني منع د زکوة فرضي سره او یا په عمومي بدو کارو چي ترک د واجباتو دي، او کول د منهیاتو، والتفسیر العام اولی، والتفسیر الاول بقرینة المقام کما لایخفی، او خدای ﷻ وعده له تاسي سره پر انفاق او یا پر عمومي عباداتو باندي، بخښنه د ګنهو اوبالا بود تر ما انفقتم، یا بالا ستاسي تر عباداتو یعني في یوم القیامة، او خدای ﷻ فراخه دی فضل او قدرت یې او ښه خبر دی د هر چا په عمل او نیت او اخلاص، فیجازیکم حسب اعمالکم ونیاتکم، وقد روی البخاري قال رسول الله ﷺ انما الاعمال بالنیات. الحدیث.

الاحادیث النبویه ﷺ: د ابو هریره ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وویل چي داسي ورځ نسته چي له اسمان څخه دي دوې ملکي نه راکښته کېږي، یوه ملکه وایي چي خدایه منفق ته عوض ورکړې، او هغه بله ملکه وایي خدایه چي بخیل ته تلف المال ورکړې، رواه البخاري ومسلم چي داسي حدیث ته متفق علیه وایي، له ابو هریره ؓ روایت دی چي علیه السلام ویلي دي السخي قریب من الله قریب من الناس قریب من الجنة بعید من النار، والبخیل بعید من الله، بعید من الجنة، بعید من الناس قریب من النار، وجاهل سخي احب الی الله من عابد بخیل، رواه الترمذي.

يُؤْتِي الْحِكْمَةَ

پوه سه: چي مراد له حکمت څخه علم نافع دی چي سړی ورضا ته د خدای ﷻ رسولې، لا الحکمة المصطلحة، او داسي علم اصالة د انبیاء علیهم السلام او وارثة د علماء صالحینو عاملینو دی، او په یو حدیث مرفوع کي د ابن عباس ؓ څخه روایت دی چي الحکمة القرآن ای العلم بالقرآن.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَمَنْ يُّؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ اُوْتِيَ خَيْرًا كَثِيْرًا ؕ وَمَا يَذَّكَّرُ اِلَّآ اُولُوا الْاَلْبَابِ ﴿۲۶۹﴾

او که چاته ورکړه سي حکمت، نو په تحقیق ده ته ورکړه سو ډېر لوی خیر چي خیر د دنیا او آخرت پکښي درج دی.

دروښ وایي: چي هر څه احادیث مبارکه چي په مدح کي د علماء او د علم راغلي دي مراد په هغو کي علماء عاملین دي په علم سره لا المجرد المسمی بالعالم او یا په مولوي یا په ملا وغیره سره، ولي چي هغه عالم په خپل سره عمل نه کوي هو والجاهل سواء بل العالم المذکور اسوء حالا من الجاهل لان الجاهل قد یعذر، او له څخه هغه علم مراد دی چي علم په امور دینیه سره وي کعلم العقائد وعلم التفسیر للقرآن العزیز وعلم الآحادیث النبویة ﷺ وعلم الفقه، او هغه علوم دي چي په هغو نفع اخستل کېږي په علوم مذکوره وو کي کاللغة والنحو والصرف والمعاني والبیان والبدیع وغیرها من العلوم النافعة في العلوم الدینیة.

دروښ وایي: چي طبراني رحمه الله له ابو امامة ﷺ څخه روایت کړی دی چي رسول الله ﷺ وویل لقمان وخپل زوی ته وویل "یابني" پر تا لازمه ده ناسته د علماؤ سره، او اوره خبري د پوهانو خلګو، ولي چي خدای ﷻ ژوندی کوي قلب میت یعني جاهل زړه په رنا د علم دین لکه چي خدای ﷻ ژوندی کوي مړه مځکه یعني بې نباتاتو مځکه په غټ څاڅکي باران سره، واخرج البخاري ومسلم عن ابن مسعود ﷺ قال قال رسول الله ﷺ چي حسد نسته مګر په دوو خصلتو کي یو خصلت د هغه سړي دی چي خدای ﷻ مال ورکړی وي، او دی یې مسلط کړی وي یعني توفیق یې ورکړی وي چي هغه مال هلاکوي یعني نفقه کوي یې په لاره کي د رب جل وعلا، او بل خصلت د هغه سړی دی چي خدای ﷻ ده ته ورکړي حکمت یعني علم دین کمامر، نو دی په هغه قضاء او حکم کوي بین الناس ویعلمها او دی دغه حد اداء د علم دین وخلګو ته ښیي

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

بوه سه: چې له حسد څخه غبطه مراد ده، ولې چې حسد حب د زوال د نعمت دی په بله څخه، دا خو کبیره ګناه ده. او غبطه تمنا کول دي د حال د مغبوط وهي جائزة بل مندوب، واخرج الطبراني رحمه الله عن ابي موسى الاشعري رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ يبعث العباد يوم القيامة ثم يميز العلماء، يعني علماء له نورو بندګانو څخه فيقول يامعشر العلماء، خداى ﷻ به دوايي اې دلي د علماؤ اني لم اضع فيكم علمي لاعذبكم، ماتاسي ته نه دی درکړی علم چې تاسي ته مي د عذاب اراده وايي اذهبوا فقد غفرت لكم، ولاړ سئ د بخښلي ياست، اللهم بحرمة سيد الانبياء ﷺ صدق هذا الحديث في هذا العاصي بانواع المعاصي الصغائر والكبائر وفي اخواني من العلماء مثلي.

دروښ وايي: چې علامه بغدادي السيد الآلوسي رحمه الله په پای کي ددې حديث ډاسي ليکلي دي وهذا بالنسبة الى حملة العلم الشرعي الذي جاء به حكيم الانبياء ونبي الحكماء حضرت خاتم الرسالة محدد جهات العدالة والبسالة ﷺ لا ماذهب اليه جالينوس وديمقراطيس وافلاطون وارسطاطاليس ومن مشى على اثارهم فان الجهل اولى بكثير مما ذهبوا اليه

وَمَآ أَنفَقْتُم مِّن نَّفَقَةٍ أَوْ نَذَرْتُم مِّن نَّذْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُهُۥ ۗ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ﴿٢٧٠﴾

او هغه شی او مال چې تاسي نفقه کړئ که قليل او که کثير وي، په حق کي وي او که په باطل کي وي. نو تنوين او تنکير د نفقة لپاره د تعميم دی که څه هم دا نکره په اثبات کي واقع ده لکن تعميم په قرينه د مقام دی كما سيأتي، نو دا آيت لپاره د بيان د حکم کلي دی چې شامل ټولو اقسامو ته د نفقاتو دی، دروسته تر دې چې بيان د نفقې في سبيل الله يې وکړی، او يا تاسي نذر وکړئ د يو شي يا له اموالو څخه او يا د افعالو څخه په دې نظر کي تنکير لپاره د تعميم دی، يعني که دا نظر په شرط سره وي له يو سړی چې ووايي، زما زوی مريض دی که خداى ﷻ راجوړ کړی زه به يو پسه ذبح کوم، او يا به دري روژې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نیسم مثلا الی غیر ذالک، او یا ہیله شرطه او قیده یې نذر پر خان اینبی وی، او عام تر دې که دا نذر په طاعت کې وي او که په معصیت کې وي.

پوه سه: چې نذر عقد د زړه دی او وینا په خوله ده مثلا ووایي پر ما یې نذر، او یا ووایي لله علي ان افعل کذا او غیر ذالک من الصیغ الدالة علی لزوم الشیئ علی نفسه، والتفصیل في کتب الفقه، نو په تحقیق خدای ﷻ په خبر دی.

پوه سه: چې ان الله یعلمه کنایة د مجازات څخه یعني انفاق او یا نذر که د خیر په کار کې وي او که لله وي، نو خدای ﷻ جزاء د خیر ورکوي، او که انفاق او نذر في الباطل او یا په معصیت کې وي، نو خدای ﷻ عذاب د دوزخ ورکوي.

پوه سه: چې چې کلمه د "فا" جزائیه ده که کلمه د ما شرطیه سې او زائده ده في الخبر که کلمه د ما موصوله سې.

پوښتنه: مرجع د ضمیر د یعلمه خو دوه شیه دي یعني انفاق او نذر، نو ضمیر بې ولې مفرد راوړی؟

ځواب: په کتابو کې د نحو او د اصول الفقه وایي چې معطوف په لفظ د او هر څو شیان چې وي ضمیر مفرد ورته راجع کېږي، لان کلمة او لاحد الامرین او الامور، او دا ځواب ابن عطیه رحمه الله رد کړی دی په دې سره چې متعاطفین خو فعلین دي، یعني په کمله د او، او ضمیر خو راجع ونفقه او نذر ته دی، او هغه په او سره نه دی عطف سوی، ددې سوال په ځواب کې چا داسې ویلي دي چې عطف د فعلین خو مستلزم عطف لره د مصدرینو دی، نو گویا مصدرین هم په او سره ذکر سوي دي، فصح ارجاع ضمیر المفرد الیها، ابن عطیه دا ځواب رد کړی دی په دې سره چې ضمیر خو مذکر دی قطعا، او مصدر خو یوه ثفقه ده چې موټنث ده، او پل نذر دی چې مذکر دی فاعتبار احدهما دون الآخر ترجیح بلا مرجح، علامه بغدادي الوسي رحمه الله ددې سوال په ځواب کې داسې ویلي دي چې په ورته متعاطفینو کې په قرآن مبارک کې ګاهې حال د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

متاخر معطوف په سبب د قرب معتبر سوی دی کما في قوله تعالى ﴿ومن يكسب خطيئة او اثما ثم يرم به بريئا﴾ آه حيث اورد الضمير مذكرا راجعا الى الاثم باعتبار قربه وما نحن فيه من هذا القبيل. نعم في القرآن العزيز قد يعتبر اللفظ المتقدم مراعاةً للاولية كما في قوله تعالى شانه واذا رأو تجارة او لهوا انفضوا اليها الآية، حيث اورد التفسير مونثا راجعا الى التجارة باعتبار الاولية. او ابن عطية چې په توجيه د راوړلو د ضمير مفرد او سره ددې مرجع دوه شيه ويلي دي چې افراد د ضمير په اعتبار د تاويل بالمذكور دی، علامه الوسي هغه وجه رد کړې، او دی وايي والتاويل في جميع ماذكر في القرآن على هذا الطريق من العطف تكلف مستغني عنه كما لايخفى

دروېش وايي: چې د هر مفسران وجه د افراد د ضمير دا وايي چې دا ضمير مفرد راجع دی ولفظ ته د "ما" لکن دا جواب هلته صحيح کېږي چې لفظ د ما موصوله سي او که ما شرطيه سي بيا دا جواب نه صحيح کېږي وقد مر الاحتمالان من قبل فتذكر وتدبر.

پوښتنه: دا تحقيق علمي د افراد د ضمير، او په سوال او خواب سره د علماو رح تا وکړی په دې کې به عوام يا بعض خطيبان د جامع ګانو او مبتدي طالبان څه فائده تر لاسه کړي؟

خواب: دروېش څو واره دا خبره مکرره کړې ده چې زما دغه تفسير په يوه دله پورې نه دی مربوط، يعني د يوې دلې لپاره نه دی بلکه تفاسير د قرآن کريم لکه دريابونه دي د هر چا سره چې هرځونده ظرف او لوستي ورسره وي هغونه اوبه به له دريابو څخه د تفاسيرو وړي، ته عربي تفاسير مطالعه کړه څومره تفاوت سره لري.

پوه سه: چې معنا د "ظلم" وضع د شي بېله هغه خايه چې حق دا و چې دا شي هوري وضع سوی واى فيشمل هذه الآية المنفقين بالرياء والمنفقين بالمن والاذى، والمتحرين للخبيث في الانفاق والمنفقين في الباطل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والنادرين في المعصية والممتنعين عن اداء ما نذر في حق والباخلين في اداء الحقوق المفروضة او الواجبة مما اتاهم الله من فضله.

پوه سه: چې انصار جمع د نصیر ده لکه احباب چې جمع د حبیب ده او یا جمع د ناصر ده لکه اشهاد چې جمع د شاهد ده، په هر صورت مراد د انصارو څخه معاونان دي چې سړی له عذابه څخه د خدای ﷻ خلاص کړي په ورځ د قیامت لا مدافعة ولا شفاعة.

إِنْ تُبْدُوا الصَّدَقٰتِ

که تاسي په ښکاره وکړئ صدقات.

پوه سه: چې کلبي رحمه الله وايي چې څه وخت چې هغه مخنی آیت نازل سو یعني "وما انفقتم الآية" نو صحابه کرام رضي الله عنهم د علیه الصلوة والسلام څخه پوښتنه وکړه، اصدقة السر افضل ام صدقة العلانية فنزلت هذه الآية، نو دا جمله تفصیل دی لبعض ما اجمل في الشرطية السابقة وبيان لها ولهذا ترک العطف بينهما لكمال الاتصال كما بين في علم المعاني.

پوه سه: چې جمهور مفسرین رحمهم الله پر دې رایه دي چې مراد په دې آیت کې صدقات نفلیه دي، او بعض مفسرین رحمهم الله وايي چې صدقات مفروضه مراد دي لکه زکوة، او بعض وايي چې مراد عموماً نفقې دي.

فَنِعِمَّا هِيَ

پوه سه: چې کلمه د فاء جواب د شرط ده چې "ان تبدوا" دی، او لفظ "نعم" فعل ماضي ده، او ابن جني رحمه الله وايي چې کلمه د ما چې د نعم میم پکښې مدغم سوی دی نکره تامه ده، او منصوب د تمیز دی د نعم له ضمیر مبهم څخه، او هي ضمیر راجع دی وصدقات ته په حذف د مضاف ای نعما ابداء الصدقات. اختلاف القراء.

پوه سه: چې ابن کثیر، ورش او حفص رحمهم الله دا لفظ په کسره د نون او د عین وايي لغة هذيل، او بن عامر، حمزه او کسائي رحمهم الله يې په فتحه د نون په کسره د عین وايي على الاصل لانه كعلم وهذه القراءة هي المشهورة عند القراء اليوم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِنْ تُخْفُوهَا

او که تاسي ورکړئ په پټه صدقات.

پوه سه: چي مراد له ښکاره صدقاتو څخه صدقات مفروضه دي يعني زکوة او عشر دی، او مراد له پټو صدقاتو څخه صدقات نافله دي.

فائده: په جمع کي د ابدا او اخفا د محسناتو بديعيه وو څخه ضعة طباق دی يعني جمع الضدين في عبارة واحدة.

مسئله: په فقه کي مسئله ده که يو سړی په غناء چانه پېژندی او ددې دا خيال و چي که زکوة په ښکاره ورکړم، نو خلګ به مي په غناء خبر سي، او دی يو بې چاره بې کسه سړی و، نو غله به کورته را ولوټي، نو ددغسي سړي لپاره هم اخفاء اولی ده.

وَتُؤْتُوهَا الْفُقَرَاءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ

او تاسي دا صدقه د پټي ورکړي وه فقراؤ ته نو دا اخفاء ښه ده تاسي ته يعني تر ابداء لبعدها من السرياء.

پوښتنه: په مخفي صدقه کښي يې تصريح وکړه په ورکړه سره وفقراؤ ته، او سره ددې چي په ښکاره صدقه کي هم فقر د معطي له شرط دی لانه لايجوز اعطاء الزکوة الی الغني.

ځواب: پټه صدقه به ګاهي غني سړی دعوه د فقر کوي، نو پټه صدقه به قبوله کړي، او په ښکاره صدقه سره ځو غني د فقر دعوه نسي کولای، ولي چي خلګ يې پېژني چي دا سړی غني دی، او دی هم په دعوه د فقر عند الناس شرمېږي.

پوه سه: چي په افضليت د صدقة السر وجهر احاديث مبارکه راغلي دي، منها هغه حديث دی چي امام احمد رحمه الله يې د ابي امامه څخه روايت کړی دی چي ابو ذر رضي الله عنه عليه السلام ته وويل يا رسول الله اي صدقة افضل؟ عليه السلام ورته وويل صدقة سر الی فقير، الحديث ثم قرء الآية المذكورة، واخرج

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

الطبراني رحمه الله مرفوعاً ان الصدقة السر تطفئ غضب الرب، او بخاري يو لوی اورد حديث راوړی دی "سبعة يظلهم الله في ظله الحديث او په جمله د هغو اوو کسانو عليه السلام داسړی هم ذکر کړی دی "ورجل تصدق بصدقة فاخفاها حتى لا يعلم شماله ما تنفق يمينه.

پوه سه: چي مراد د يمين او شمال څخه من على شماله ومن على يمينه. ولي چي نفس چپه لاس او راسته لاس خو اهل د علم نه دي، ابن عباس رضي الله عنه وايي صدقة السر في التطوع تفضل على علانيتها سبعين ضعفاً، وصدقة الفرضية علانيتها افضل من سرّها بخمس وعشرين ضعفاً.

مسئله: وعلى قياس صدقة العلائية والسر جميع الفرائض والنوافل في العبادات كلها من الصلوة والصيام وغيرهما.

وَيُكَفِّرُ عَنكُم مِّن سَيِّئَاتِكُمْ

پوه سه: چي كلمه د من تبعيضي ده، ولي چي صدقات خو ټوله ګناهونه نسي رژولای، او ضمير د "يكفر" راجع وخداى ﷻ ته دی، او بعض مفسرين رحمهم الله وايي چي راجع دی و اخفاء ته والاسناد مجازي دی، والمعنى او خداى ﷻ به ورژ وي، او يا اخفاء الصدقات به ورژوي، او اخفش من زائد بولي، والله اعلم.

وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٢٧١﴾

او خداى ﷻ خبر دی په عمل ستاسي من الابداء والاخفاء ، لايخفى عليه شيئ فيجازيكم على ذالک کله که څه هم د ابداء او اخفاء فرق سته په افضليت کي.

پوه سه: چي كلمه د ما يا موصوله ده والعائد محذوف اى تعملونه، او يا مصدريه اى بعملكم.

مسئله: ماسوا له حقوق الناس څخه په توبه على شرائطها د ګناه کبائرو بخښنه خو يقيني ده، او موعود الهي ده په خو خايه کي د قرآن عزيز او په احاديث شريفه وو سره چي تقريبا حد ته د شهرت رسيدلي دي ثابته ده، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حقوق الناس یا اداء غواړي او یا بخښه د صاحب الحق غواړي.

پوه سه: چې غیبت او بهتان هم له حقوق الناس څخه دی، او په صدقاتو سره او یا د جمعې په لمانځه او نوافلو سره د صغائرو ګناهو بخښه هم تخمیناً یقیني ده. واما الکبائر فیرجی تخفیفاً واما عفوها ففي علم الله عزوجل. ولنعم ماقیل به بها نمي بخشد. وببهانه مي بخشد.

لَيْسَ عَلَيْكَ هُدَاهُمْ

یعني نه ده واجب او لازم پر تاباندي ایها الرسول هدایت د خلګو یعني د کافرانو و ایمان ته رسېدل، او یا له ټولو ګناهو څخه توبه کښل، ولي خو ته نه یه ایها الرسول مګر بشیر د خلګو او نذیر ددوئ وما علیک الا البلاغ المبین.

وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَن يَشَاءُ ۗ

لکن خدای ﷻ هدایت کوي، المراد بهذه الهدایة الدلالة الموصولة الی المطلوب قطعا دی وهغه چاته چې د خدای ﷻ اراده وسي د هغه وهدایت ته.

پوه سه: چې شان نزول ددې آیت ابن عباس ﷺ داسې بیان کړی دی، چې نبي کریم ﷺ مونږ امر کولو یعني صحابه کرام ﷺ چې تاسي انفاق او تصدق مه کوئ مګر پر مسلمانانو، دده مبارک غرض دا و چې فقراء د کفارو په مجبوره سي و ایمان راوړلو ته، فنزلت هذه الآیة، نو معنا د آیت داده چې نسته پر تاباندي چې تا خامخا خلګ یعني کفار مؤمنانوي حتی چې تا صدقات د صحابه کرامو ﷺ پر دوئ بندي کړي دي د ایمان راوړلو په غرض.

او ابن جریر ﷺ داسې روایت کړی دی چې بعض انصارو ﷺ اقرباء درلودل په کفارو کې؛ نو دوئ و هغو ته چې فقراء به هم وه صدقه او خیرات به یې نه ورکاوه او مطلب به یې دا و چې تاسي په اسلام کې داخل سئ، فنزلت هذه الآیة.

پوښتنه: پر دې روایت مانعین د صدقاتو پر اقاربو کافرانو باندي خو صحابه کرام وه، نو د څه حکمت لپاره خدای ﷻ مخاطب علیه السلام وګرځاوه، نو داسې یې نه وویل لیس علیکم آه؟

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

ځواب: چونکه علیه السلام ددوئ په دغه فعل راضي و کمایدل علیه الحدیث السابق په توجه الخطاب الیه.

وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ فَلِاَنْفُسِكُمْ ط

او هغه مال چي تاسي نفقه کوئ په لاروکي د بر لکه په غزواتو کي یا پر فقراء او یتامی او یا پر ذوي الارحام باندي من خیر یعني له نفس مال څخه که لږ وي او که ډیر که نقود وي او که مطعومات، او که ملبوسات الی غیر ذالک، نو د هغه د انفاق نفع وتاسي ته راجع ده یعني په ورځ د قیامت لا الی غیرکم، نو چي نفع تاسي ته راجع ده نو باید چي خبیث او ردي مال نه کړئ نفقه، او دغه رنګه نفع د ورځي د قیامت په من او اذی او په ریا سره باطله نه کړئ، او یا معنا داده چي تاسي انفاق مه منع کوئ له فقیر څخه که څه هم کافر وي، ولي چي ستاسي نفع په هر انفاق کي سته په ورځ د آخرت، او نفع د کافر صرف دنیوي ده.

فائده: کلمه د ما شرطي ده جازم د تنفقوا دی، او منصوب محلاً دی په تنفقوا سره یعني مفعول یې دی، فاللفظ الواحد عامل ومعمول کلاهما او لفظ د من تبعیضي دی په من خیر کي او من خیر صفت د اسم شرط دی چي لفظ د ما دی او صفت مخصصه دی اشارة الی النهي عن انفاق جمیع المال، وهذا النهي بالنسبة الی اوساط المؤمنین کمالایخفی.

وَمَا تُنْفِقُوْنَ اِلَّا ابْتِغَآءَ وَجْهِ اللّٰهِ ط

پوه سه: چي ما تنفقون په نهږ د بعض مفسرینو رح خبریه ده لکن په معنا د انشاء ده یعني تاسي انفاق مه کوئ، او لفظ د الا استثنا مفرغ ده له اعم الاحوال والاسباب څخه. ای لاتنفقوا بحال من الاحوال وسبب من الاسباب من المن والاذی والریاء مگر نه لپاره د طلب د وجه الله ای رضائه تعالی.

پوه سه: چي لفظ د وجه الله لپاره د تعظیم دی او د نفي د شرکت دی، ولي چي سړی چي ووایي فعلت ما فعلت لوجه زید کان اعلی واجل من ان یقول فعلته لزید لان الوجه اشرف الاعضاء في زید، ثم کثر استعماله کنایةً عن الشرف

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بمعنی فعلت کذا لشرف زید، او بله خبره داده چې سړی داسې ووایي فعلت کذا لزید یحتمل الشرکة یعني فعلته لزید وغیره، او چې سړی داسې ووایي فعلته لوجه زید اهل عرف دا فهموي چې خاص الخاص د زید لپاره یې دا کار کړی دی، او بعض مفسران رح وجه په معنا د ذات بولي، ای لذاته تعالی یعني لا لغیره تعالی، او بعض مفسران وجه په معنا د رضاء بولي کما ورد في آیة اخری ﴿الا ابتغاء مرضات الله﴾ او علامه بغداد رحمه الله دا جمله پر خیریت باقي بولي، او دا جمله یا حال ده او یا عطف ده پر سابقه جمله یعني "وما تنفقوا من خیر الآیة" او استثناء هغسي مفرغ ده من اعم العلل واعم الاحوال والمعنی ما تنفقون بسبب من الاسباب الا لهذا السبب ای وجه الله، او في حال من الاحوال الا في هذا الحال ای طلب وجه الله، وحاصل المعنی اذا کان حالکم ان لا تنفقوا آه، او الا طالبین وجهه سبحانه لا موذین ولا مانین ولا مرائین ولا منفقین الخبیث فصدقاتکم ونفقاتکم نفع لکم في الآخرة ولا ضیر علیکم البتة.

وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ خَيْرٍ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تُظْلَمُونَ ﴿٢٧٢﴾

او هغه څه چې تاسي یې انفاق وکړئ له یو ماله څخه یعني که قلیل او که کثیر وي، نو تنکیر د خیر لپاره د تعمیم دی کامل او پوره به در کړه سي وتاسي ته ثواب د هغه انفاق په ورځ د قیامت لکه چې مخکې تېر سوي آیتونه هم پر هغه دلالت کوي، او بعض مفسران رح وایي چې معنا د "یوف" داده چې په دې دنیا به خدای ﷻ عوض کامل درکړي، او ستاسي له ماله څخه خدای پاک شی نه کموي مع مالکم في الآخرة من الثواب الجزیل والاجر العظیم، او دا عوض دنیاوي په سبب د قبلولو د هغه دعاء د علیه الصلوة والسلام دی اللهم اجعل لمنفق خلفا ولممسک تلفا.

فائده: دا آیت په عموم سره دلیل دی ددې چې صدقه نافله وکافر ته هم روا ده کمامر في شان قوله تعالی لیس علیک هداهم آه فتذکر، واما الصدقة الواجبة کالزکوة التي اخذها مفوض الی الامام فلایجوز اخذها ودفعها

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

للكافر، او ماسوا له زكوة څخه لكه صدقة الفطر والنذر والكفارة ففيه اختلاف والامام الاعظم رحمه الله يجوز دفعها للكافر، والظاهر قوله تعالى ويطعمون الطعام على حبه مسكينا ويتيما واسيرا والتفصيل في كتب الفقه فراجعها.

لِلْفُقَرَآءِ الَّذِينَ أُحْصِرُوا۟ فِى سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِى ٱلْأَرْضِ

پوه سه: چې لام جاره متعلق دی په محذوف پورې چې له سیاق څخه د کلام فهمیږي، ولهذا حذف ای اعمدوا للفقراء، او یا اجعلوا ما تنفقونه للفقراء او صدقاتكم للفقراء، والجملة استيناف في جواب سوال مقدر كانه قيل اين نجعل نفقاتنا، او الى اي فريق نصرف صدقاتنا فاجيب للفقراء آه، نو ترجمه د آیت داده چې صرفوئ صدقات او نفقات خپل وهغو فقیرانو ته چې بند کړه سوي وي په لاره کې د خدای ﷻ ای حبسهم الجهاد في سبيل الله عن الكسب والاجرة، په طلب کې د علومو دینیه وو، او دوئ طاقت نه لري په سبب د اشتغال په جهاد سره او یا په طلب د زدکړې د دین د تګ په مخکه کې لپاره د کسب یا تجارت.

پوه سه: چې دا آیت په قول د ابن عباس او د محمد بن كعب القرضي رض نازل سوی دی په شان کې د اصحابو الصفه ﷺ.

پوه سه: چې سقیفه یا صفه د یوې ناحیې نوم دی په مسجد نبوي کې چې په دې صفه کې به درې سوه کسه اوسېدل د فقراؤ څخه د مهاجرینو چې نه یې کورونه درلوده او نه یې اهل او عیال درلودی، او دوئ ټوله اوقات خپل په زدکړه کې د دین او یا په جهاد کې بامر رسول الله ﷺ صرف کړی و، او ددوئ څخه بعض به په هره کوچنی ډله کې د مجاهدینو چې په عربي یې سریه بولي په امر د رسول الله ﷺ به وتله، نو ګاهې به په صفه کې پوره درې سوه کسه وه او بعض اوقات تر درې سوه کم اوسېدل، یعني هغه وخت چې به ددوئ څه نفر جهاد ته واستول سوه، نو دا اصحاب صفه د مسلمانانو ګویا مهمانان وه، عیناً په شکل د طالبانو د ننۍ زمانې چې په مساجدو کې د مسلمانانو اوسېږي او یا په مدارسو اسلامیه وو کې اقامت پذیر دي، لکن چې په صحیح

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

توګه لپاره د زدکړې د ديني کتابو اوسپړې، نه هغه طالبان چې د ورځې يې سائيکلان تر شکرو ټيولي وي په بازارو کې ګرځي او د شپې ټيپونه ورته چالان وي چې د سبقه وخت سي يوه عالم ته ورسي سبقانو ته يې غوږ نيولی وي نه يې فهم وي نه يې ادراک.

چشم دید واقعه: د دروېش په جامع مسجد کې چې د کوټې په ښار کې واقع دی، دو منزله مسجد دی په لوړ منزل کې يې د طالبانو حجره هم سته، نو يو ماښښين زه د يو کار لپاره لوړ منزل ته وروختلم يوښه په ډېره پوخ طالب په حجره کې و، بخاري شريف خلاص ورته پروت و او تېپ هم ورته چالان و او طالب ورته بيده و.

فائده: اګرچه محدثانو ؒ په متفقه ډول دا آيت په شان کې د اصحاب صفه نازل بللی دی، لکن مقصود ددوئ حصر په اصحابو صفه وو کې نه دی بلکه اصحاب صفهؓ اولين او بهترين افراد دي د مضمون د آياتو مذکوره وو مګر دا حکم جاري دی په ورته کسانو کې د اصحابو صفه الی يوم القيامة لکه دروېش چې دمخه اشاره ورته وکړه.

يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ أَغْنِيَآءَ مِنَ التَّعَفُّفِ

او ګمان کوي پر دغو اصحاب صفه ووؓ يعني وامثالهم بعدهم کما سبق آنفاً هغه څوک چې جاهل و ناخبره په حال ددوئ چې دا کسان غنيان دي له سببه د ځان سائلو ددوئ له سوال څخه، نو کلمه د من لپاره د تعليل د حسبان د جاهل آه.

پوښتنه: نو تعفف څو مفعول دی د يحسبوهم، نو له څه سببه داسې نه وويل سوه تعففاً يعني منصوبا على انه مفعول له؟

ځواب: نحات په يوه خوله دا وايي چې شرط د نصب د مفعول له دادی چې فاعل دده او د فعل معلل به سره يو وي، او دلته هغه شرط نسته ولې چې فاعل د يحسب چې فعل معلل دی جاهل دی او فاعل د تعفف فقراء د اهل

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

صفه دي، او بعض مفسران ؒ وايي چي کلمه د من لپاره د ابتداء ده چې پر منشاء داخلېږي فمعنى الآية على التقدير المذكور ان حسبان الجاهل غناهم نشاء من تعففهم عن السوال

تَعْرِفُهُمْ بِسِيمَاهُمْ

پوه سه: چي فاعل د تعرف هر مخاطب دی چي اهل د معرف وي، ومعنى الآية ته اې مخاطبه پېژني دوئ يعني فقر ددوئ په علاماتو ظاهره پر دوئ، لکه عجز، زړ مخان، خيرني او څېري جامي، ابو نعيم د فضاله بن عبيد څخه روايت کړی دی چي بعض اوقات چي عليه السلام به د جماعت لمونځ کاوه بعض کسان به غوځار سوه د ولاړې څخه په سبب د غايت لوږې يعني اهل صفه، نو بعض له صحرايانو څخه چي د اصحاب صفه غايت لوږه به نه ورمعلومه دا به يې ويل چي دا کسان لکه چي د جن يعني د صرع په مرض مبتلا دي.

فائده: وزن د سيماء عفلا دی ولي چي مشتق منه يې وسم دی چي په معنى د علامه ذی، نو چي صيغه د فعلا څندي جوړه سوه نو د فا او د عين تر منځ يې قلب مکاني وکړی، نو سوما جوړ سو بيا نو بيا يې واو په يا بدل کړی لسکونها وانکسار ما قبلها نو سيما جوړ سو.

لَا يَسْـَٔلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا

او دوئ يعني اصحاب صفه ومن يماثلهم في الفقر والسيما سوال نه کوي له چا څخه په الحاف.

پوه سه: چي د الحاف او الحاح معنى يوه ده، هغه دا چي فقير په مسؤل منه چي غني دی مبتلی وي او دېري دېري زاړۍ ورته کوي هر څو چي غني دفع کوي چي خدای ﷻ دي درکړي ومثل ذالک من الفاظ الرد لايفارقه.

پوه سه: چي الحاف له لحاف څخه ماخوذ دی چي معنا يې تلتک دی، کما في قولهم الحفني من فضل لحافه يعني بعض د تلتک يې پر ما واچاوه، والمراد اعطاني من فضل ماعنده من ماله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اعراب: نصب د الحافاً په سبب ددې چې مفعول مطلق نوعي ده، يسئلون لان الالحاف نوع من السوال، او يا حال دی له ضمير څخه د يسئلون ای ملحفين فالمصدر بمعنى الفاعل.

سوال: اهل عقل او نقل وايي چې نفي چې په يو کلام کې راسي چې په هغه کې يو قيد وي، نو نفي د قيد کوي فقط نو پر دې بنا معنى د آيت خو داسي کېږي چې اصحاب صفه خو سوال کاوه لکن الحاح يې نه کوله او سره ددې چې دوئ سوال هم نه کاوه، وهو المروي عن ابن عباس والیه ذهب الفراء والزجاج واکثر اهل المعاني، نو نفي په آيت کې متوجه وقيد او مقيد دواړو ته دی، کما في قوله تعالى ﴿لاتاكلوا الربوا اضعافاً مضاعفة﴾ او په دې آيت کې بله قرينه هم سته چې دوئ نه سوال کاوه او نه يې الحاح کوله، وهو قوله تعالى يحسبهم الجاهل اغنياء، وقوله تعالى تعرفهم بسيماهم، او چا چې ددې آيت ترجمه داسي کړې ده چې دوئ خو اول سوال نه کاوه که په يې د ضرورت په سبب د چا سوال بعض يو وخت کاوه بيا يې الحاح نه کوله هغه ترجمه د اقول سره د صحابه وو او د امامانو مخالفه ده، بلکه که يې د اشاراتو څخه د آيات سابقه وهم منافي ده کما اشرنا اليه عنقريب فهذه الترجمة ليست بشيئ يعتد به.

وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ ﴿٢٧٣﴾

هغه شی چې تاسي نفقه کړی له ماله څخه يعني في وجوه الخيرات كالانفاق على اهل صفه في ما نحن فيه نو په تحقيق خدای په هغه انفاق ستاسي خبر دی او علم پر لري، والمراد فيجازيكم في الآخرة او في الدارين، وفي الحديث النبوي الذي اخرجه مسلم والبخاري عن ابي هريره چې عليه الصلوة والسلام وويل ليس المسكين الذي ترده التمرة والتمرتان واللقمة واللقمتان انما المسكين الذي يتعفف واقرؤا ان شئتم لا يسئلون الحافاً.

اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً

او هغه کسان چې انفاق کوي د خپلو مالو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعني په لاره کي د خیر په جهاد کي، یا فقراؤ ته یا په صله رحمي کي الی غیر ذالک ممالایخفی، په شپه کي او په ورځ کي.

پوه سه: چي مراد له لیل او نهار څخه ټوله اوقات دي. او په پته او په ښکاره

پوه سه: چي مراد عموم د احوال دی.

فائده: خدای ﷻ لیل تر نهار دمخه کړه، او سر یې تر علانیه دمخه راوړی، لپاره ددې چي مسلمانان پوه سي اخفاء د صدقې او انفاق په پته تر اظهار ښه ده وقد مر تحقیق ذالک عنقریب.

فائده: سراً وعلانیةً چي منصوب دي بناء یا پر دې ده چي دوه مصدره دي په معنا د فاعل دي، او حال دی له فاعله څخه د ینفقون ای حال کونهم مسرین ومعلنین، او یا دواړه صفت د مصدر محذوف دی ای انفاق سر و اعلان. نو مفعول مطلق د ینفقون دی وعلی کل تقدیر فالباء بمعنی في.

اختلاف المحدثین في شان نزول هذه الآیة: عبدالرزاق او ابن المنذر د عبدالله بن عباس ؓ څخه روایت کړی دی چي دا آیت په شان کي د علي کرم الله وجهه نازل سوی دی، چي ده څلور درهمه درلوده، یو درهم یې د شپې وفقیر ته ورکړی، او بل درهم یې په ورځ کي او بل درهم یې په پته او یو درهم یې په ښکاره ورکړی، نو علیه السلام چي خبر سو نو علي ؓ ته یې وویل ما حملک علی هذا. یعني ته پر دې څلور قسمه انفاق څه شي باعث کړې، علي ؓ ورته وویل قال حملني علی هذا ان استوجب علی الله تعالی الذي وعدني فقال علیه الصلوة والسلام الا ان ذالک لک فنزلت الآیة، او ابن المنذر له ابن المسیب ؓ څخه روایت کوي چي دا آیت ټوله په شان کي د عثمان بن عفان ؓ او د عبدالرحمن بن عوف ؓ په شان کي نازل سوي دي، چي دې دوو د جیش العسرة یعني د تبوک په غزاء کي ډېري لوی نفقې وکړې، او بعض محدثان رح وایي چي دا آیت په شان کي د ابوبکر صدیق ؓ نازل سوی دی چي ده لس زره دیناره د شپې صدقه کړه او لس زره دیناره یې د ورځې اولس زره یې په پته صدقه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړه او لس دینارہ یې علائیة نفقه کړه. لکن پر دې شان نزول جلال الدین سیوطي رحمه الله سوال کړی دی، چې تفصیل یې په روح المعاني کې دی.

فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٧٧﴾

نو دوئ لره دی هغه ثواب موعود د خدای ﷻ په نهز یعني په ورځ کې د آخرت، او نه بېره سته پر دوئ او نه به دوئ غمناکه وي په ورځ کې د آخرت.

پوه سه: چې خوف د راتلونکي شي وېرې ته وایي، او غم پر تېر سوي شي افسوس کولو ته وایي، یعني په ورځ کې د آخرت به د دوزخ له عذاب بېره نه وي، او د دنیا د ژوند د عیش تېرېدو پښېماني او افسوس به نه وي ورسره.

اَلَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ الرِّبٰوا

پوه سه: چې ظاهره معنا د آیت خو داده چې هغه کسان چې خوري سود، لکن مراد دادی چې اخلي سود که یې خوري، او که بله نفع پر اخلي هره نفع چې وي مګر تخصیص د اکل په ذکر سره له دې وجهې وکړ سو چې معظم نفع چې مقصود په ربوا کې دی اکل دی.

پوه سه: چې ربوا په لغت کې زیات والي ته وایي کما في قولهم ربی الشیئ یربوا اذا زاد، او په شرع شریف کې فضل د مال په اموالو ربویه کې چې په مقابل کې یې عوض نه وي في معاوضة المال بمال.

پوښتنه: د ربوا لفظ په واو سره ټوشته کېږي لکه د صلوة لفظ وجه یې څه ده؟

ځواب: دا بناء دی پر لغت د هغه چا چې لفظ د صلوة او زکوة او ربوا په تفخیم د لام وایي یا کاف یا با وایي او په اخیر کې د لفظ د ربوا وروسته تر واو الف لیکلی دی تشبیها بواو الجمع، نو لفظ د ربوا موافق سو له معنا سره د ربوا په دې معنا چې هر یو د لفظ د ربوا او د معنا د ربوا مشتمل دی پر زیادت غیر مستحقه، یعني په لفظ د ربوا پسله واو څخه الف دی لکه په جمع کې او سره ددې چې د لفظ د ربوا دا الف حق نه و، ولي چې دا الف حق د جمع دی کماتقرر في علم الصرف، او لفظ د ربوا خو جمع نه دی بلکه مفرد دی لکه په معنا کې د ربوا چې زیادت غیر مستحقه سته په معاوضه مالي کې

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

تشبيها بمعنى لفظ البيع لاشتمال كل واحد منها على معاوضة المال بالمال بالرضا، وان كان احد العوضين ازيد هذا ماقاله العلامة البغدادي رحمه الله.

لَا يَقُوْمُوْنَ اِلَّا كَمَا يَقُوْمُ الَّذِیْ یَتَخَبَّطُهُ الشَّیْطٰنُ مِنَ الْمَسِّ ؕ

دوئ به نه ولاړېږي يعني په ورځ ځي د قيامت الا قياما كقيام، فكلمة مامصدرية والموصوف محذوف وهو قياما، د هغه چا ولاړه چې دماغ يې شيطان ورګډ وډ کړی وي له مسه څخه يعني به الجنون چې وداسي سړي ته په اصطلاح مصروع وايي چې ګاهي ولاړ وي بې اختياره د مخکې ومنبلي او ګاهي روان وي غوخار سي او بېهوښه سي، نو سود خور چې له قبره را ووزي په ورځ د قيامت محشر ګاه ته به دغه ډول روان وي دا به يې علامه وي چې ټوله اهل محشر به په دې پوهېږي چې دغه سړی سود خور و، والى هذا ذهب ابن عباس وابن مسعود وقتاده رضي الله عنهم واختاره الزجاج رحمه الله.

پوه سه: چې ابن عطيه رحمه الله وايي چې مراد په دې آيت تشبيه ده د سود خور چې دی حرص لري په جمع کولو د دنيا په سود سره، او يوې خوا او بلې خوا ته خلي کتاب د سود به يې په لاس کې وي، ددې پورته ورپې دروازه ورټکوي چې راوړه ماهواره سود، او بل دکان چټک چټک روان دی، دکان دار ته وايي چې د دوو ميا شتو سود مې درباندې دی مثلا راوړه د دوو ميا شتو د سود روپۍ لکه په پخوانی زمانه کې د بعض پښتنو به دا دنده وه چې د هند په لويه وچه کې به يې روپۍ په سود هندوانو او مسلمانانو ته ورکولې، نو ابن عطيه وايي چې دغه مختلف حرکات د سود خورو مشابه کړه د حرکاتو سره د متخبط مصروع، او دا محاوره ابن عطيه دليل کړی چې څوک چې په بازار او کوڅو کې حرکات مختلفه کوي نو خلګ وايي قد جن فلان، انتهى مع الزيادة، علامه بغداد رحمه الله په روح المعاني کې دا خبره د ابن عطيه په سختو الفاظو رد کړې ده، دی وايي ولايخفى انه مصادمة لما عليه سلف الامة، يعنى مامر عنقريب في بيان معنى الآية عند السلف المذكورين رح، او دی وايي چې د ترجمه د ابن عطيه مخالفه ده ما روى عن رسول الله ﷺ من غير داع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوى الاستبعاد الذي لا يعتبر في مقابلة النصوص، انتهى بحاصله.

پوه سه: چې معتزله او قفال د شافعيه وايي چې ان كون الصرع والجنون من الشيطان باطل لانه لايقدر عليه كما قال الله تعالى يعني حكاية من الشيطان يعني په ورځ كې د قيامت وخپلو اتباعو ته من المشركين وماكان لي عليكم من سلطان الآية او دوئ يعني معتزله وايي چې دا په آيت كې چې راغلي دا مبني پر زعم د مشركانو د عربو چې ددوئ دا عقيده وه چې شيطان يخبط الانسان فيصرع، وان الجن يمسه فيختلط عقله وليس لذالك حقيقة انتهى قولهم الفاسد وزعمهم الكاسد.

دروښ وايي: چې سبحان الله واستغفرالله چې دوئ آيت قرآنيه حكايت بولي د اقوالو فاسده وو د مشركانو وما انزل القرآن الا لمحو خرافات العرب والمشركين، وهل هذا منهم الاجرة عظيمة على القرآن.

دروښ وايي: ولله در المحقق الآلوسي رحمه الله في روح المعاني حيث قطع عرق الاعتزال باقوال النبي العربي ﷺ وقال هذا ليس بشئ، بل هو من تخبط الشيطان بقائله ومن زعمائه المردودة خزلهم الله اني يوفكون وكيف يخالفون قواطع الشرع المبين فقد ورد في الحديث الصحيح الذي رواه جماعة عظيمة من المحدثين، قال رسول الله ﷺ ما من مولود يولد الا يمسه الشيطان فيستهل صارخا، وفي رواية الا طعن الشيطان في خاصرته ومن ذالك يستهل صارخاً الا مريم وابنها لقول امها ﴿واني اعيذها بك وذريتها من الشيطان الرجيم﴾ وقال رسول الله ﷺ كفوا صبيانكم اول العشاء فانه وقت انتشار الشياطين الحديث، وقد ورد في حديث المفقود الذي اختفطته الشياطين وردته في زمن النبي ﷺ انه حدث من شانه معهم قال فجائني طائر كانه جمل الحديث وفي اكام المرجان في احكام الجان كثير من الاحاديث واعتقاد السلف الصالحين رح واهل السنة ان مادلت عليه الآحاديث النبوية امور حقيقية كما اخبر الشرع عنها، والتزام تاويل كلها يستلزم خبطا طويلاً لا يميل اليها المعتزلة ومن خذا خدوهم وبذالك وامثاله خرجوا عن قواعد

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

الشرع القويم فاحذرهم والآية التي ذكروها في معرض الاستدلال على مدعاهم لاتدل عليه اذ السلطان المنفي فيها هو القهر والالجاء الى متابعته اى الشيطان لا التعرض والتصدي لما يحصل بسببه المرض او الهلاك ومن تتبع الاخبار النبوية وجد كثيرمنها قاطعا بجواز وقوع ذالك من الشيطان بل وقوعه بالفعل، والحديث الصحيح المروي عن رسول الله ﷺ ﴿الطاعون من وخزاعدائكم الجن صريح في ذالك﴾ انتهى كلامه الشريف.

دروېش وايي: چې حكماء او اطباء ددې څخه منكر دي چې صرع او جنون دي له مس الشيطان والجن له خوا وي، دوئ وايي چې صرع وغيره له غلبې څخه د مرة خلط السوداء پيدا كيږي چې دوئ يې سودا محرقه بولي، وعلى التقدير التسليم لامنافات بين ما ورد في الآية وبين ماقالوا لان ماذكروه هو السبب القريب وما في الآية هو السبب البعيد، او ددې دوو تر منځ تلازم نشته. ولي گاهي له مس الشيطان څخه مرض او جنون نه سي پيدا لكه چې مزاج د ممسوس قوي وي په مس الشيطان باك ونه كړي غايته انه يحصل له غشي خفيف ثم يضيق، او گاهي جنون پيدا كيږي بهله مس الشيطان والجن څخه كما اذا فسد مزاج الشخص من الاخلاط الاربعة من دون عروض امر اجنبي كمس الشيطان والجن والجنون، الحاصل بالمس قد يحصل احياناً وله عند اهل الممسوس الحاذقين امارات يعرفون الجنون الحاصل بالمس بتلك العلامات، قال الآلوسي رحمه الله وهذا كالمشاهد المحسوس الذي يكاد يعد منكره مكابرا منكرا للمشاهدات انتهى كلامه الشريف.

دروېش وايي: چې حدوث د مرض په مس د شيطان ثابت دى په قرآن او احاديثو نبويه وو سره قال الله تعالى في قصة ايوب عليه السلام ﴿رب اني مسني الشيطان بنصب وعذاب﴾ او عليه السلام ويوې مستحاضې ښځې ته وويل چې دغه وينې سترا وينې د حيض نه دي بلكه ركضة من ركضات الشيطان وهو حديث طويل رواه جميع اصحاب الحديث.

پوه سه: چې ولاړه د اكلة الربوى كما هو مذكور في الآية ددې سبب دى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې سود خور چې د سود روپۍ خوري، خدای ﷻ وهغې ډلې ته تربیه ورکوي او لویوي ددوئ په نسو کې حتی چې نسونه یې لکه خونې داسې سي، او په دې نسو کې ددوئ ماران ګرځي، نو نسونه ددوئ ډبر درانه وي، نو چې له قبره راپاڅي ګاهي غوخار سي او ګاهي بیهوشه سي او ګاهي روان وي، وهذا معنی قوله لایقومون الا کمایقوم الآیة، او ابي سعید الخذري ﷺ له علیه الصلوة والسلام څخه روایت کړی دی چې ده مبارک وویل په حدیث د اسراء یعني لیلة المعراج چې زه جبرائیل ﷺ بوتلم وګڼ شمېر خلګو ته چې د هر سړي نس لکه خونه دومره وو، الی اخیر الحدیث رواه المظهري.

په یوه صحیح حدیث کې راغلي دي چې روایت یې مسلم کړی دی له ابن مسعود ﷺ او بخاري له ابي جحیفه ﷺ څخه قال لعن رسول الله ﷺ اکل الربوا وموکله، وفي روایت ابي داوٗد والترمذي وکاتبه وشاهده وقال هم سواء.

دروېش وایي: لعل مراد رسول الله ﷺ من المساوات المساوات في اصل الاثم لافي مقداره، او په روایت د احمد او دار قطني د عبدالله بن حنظله ﷺ چې په غسیل الملائکة سره شهرت لري راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام وویل چې یو درهم د ربوا چې سړی وخوري او دی په خبر وي اشد دی تر شپږ دېرش (۳۶) واره زنی، وفي روایة ابن ماجه والبیهقي عن ابي هریرة ﷺ چې ده وویل چې علیه الصلوة والسلام وویل چې د سود اوښا (۷۰) ګنهونه دي هغه اسانه ګناه یې داده لکه سړی چې له موره سره نکاح وکړي.

دروېش وایي: چې د ربوا په باره کې خدای ﷻ دومره سخته خبره کړې ده چې په هیڅ ګناه کې یې دمومره سخته خبره نه ده کړې یعني فان لم تفعلوا فاٴذنوا بحرب ورسوله کما سیٴاتي.

ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوٓا إِنَّمَا ٱلْبَيْعُ مِثْلُ ٱلرِّبَوٰا۟

او دغه عقاب چې په دمخه آیت کې ذکر سو په دې سبب دی چې دوئ په ویله چې نه ده بیعه مګر مثل د سود. له دې آیت څخه دا واضح معلومه سوه چې هغه مذکور عذاب د تخبط مخصوص په کفاره سره دی، ولي چې دوئ

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

حرام شی چې سود دی حلال بولي، او تحلیل د حرام یا بالعکس کفر دی په اتفاق د امت، او مسلمان سود خور ته که څه هم سود خو ګناه کبیره ده لکن چونکه مسلمان حکم د حلال پر سود نه کوي بلکه خپل خان په کولو سره یې ګناه کار بولي، او د مسلمان لپاره خو که یې شفاعت علیه السلام ونه کړي او یا په رحمت عامه د خدای ﷻ ونه بخښل سي، او کلمه د لا اله الا الله یې هم سبب د بخښي ونه ګرځي ابدي عذاب د دوزخ خو نسته باجماع اهل السنة والجماعة خلافاً للمعتزلة اذا مات صاحب الكبيرة بلا توبة فانه مخلد في النار كالكافر، لكن څو مدته به په دوزخ کې وي ولا يعلم مدة مكثه في النار الا الله الملک الجبار.

پوښتنه: کلام خو په تحریم کې ربوا و، چې کفارو حلال بلل او خدای ﷻ حلال وګنهل، نو کفارو خو باید داسې ویلي وایی انما الربوا مثل البيع يعني كما ان البيع حلال فالربوا حلال ايضا لانه مثله؟

ځواب: هو حق خو داغه و لکن کفارو د ډېر تعنت او ضدیت څخه د حکم د قرآن چې په حرمت د ربوا یې کړی دی بیعه چې په اتفاف حلاله ده مشبه وګرځول او ربوا ورته مشبه به وګرځول په روا والي کې.

وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا

او حال دادی چې خدای ﷻ حلاله ګرځولې ده بیعه او حرام یې ګنهلی دی سود، قالوا وللحال والجملة حال بتقدير قد في الماضي كما هو القانون النحوي، او یا واو استینافیه دی کما وقع في الهداية في كثير من المواضع، او یا واو عاطفه دي ومعنى الآية چې خدای ﷻ بیعه حلاله ګرځولې ده او سود یې حرام بللی دی فكيف يصح التشبيه بينهما كما وقع من الكفار الفجار.

معذرت: پوه سه چې امام مظهري در اینجا تفسیر خود را فتاوی فقه ساخته واختلاف المذاهب را تفصیلاً اورده ونقص وابرام دلائل هم نموده وصفحه (۱۳) تفسیر خویش بآن مسائل فقیه مزین ساخته وهیچ مفسر قرآن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کریم اینچنین نه کرده اند بلکه عموما مفسرین در بیان شان نزول آیات قرآنیة ودر بیان اعرابهای مشکل قرآن عزیز فرداخته اند، ونیز بعض مفسران حدیثهای نبویه بمناسبت آیات قرآنیة بیان فرموده اند، وبعض قصهای مناسب آیات قرآنیه وتمثیلات بورنهای تفسیر سپرده اند ومسائل فقیه را بکتب فقها مذهب من المتون والشروح والفتاوی المعتبرة في المذاهب سپرده اند. ودرویش نه اینکار مظهري میکند ونه برکار مظهري انکار میکند حالا درویش به تفسیر قرآن رجوع میتماید

فَمَنْ جَآءَهٗ مَوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ فَانْتَهٰى فَلَهٗ مَا سَلَفَ ؕ وَاَمْرُهٗۤ اِلَى اللّٰهِ ؕ

که چاته راغلی نصیحت یعني په باره کي د د تحریم د سود له جانبه څخه د خدای ﷻ یعني تبلیغ رسول الله ﷺ. نو ده متابعت د نهي د خدای ﷻ وکړی یعني له سود خوری څخه یې توبه وکښل، نو هغه سړي لره دي هغه د سود روپی چي د مخه تر تحریم یې اخستي وي یعني د هغو اداء پر لازمه نه ده. وما مضی من الربوا قبل التحریم قد غفرله من المولی ﷻ او کار ددغه سړي مفوض دی وخدای ﷻ ته یعني په مستقبل الزمان کي یې بیا سود وکړی نو که یې خدای ﷻ بخښي او که عذاب ورکوي

وَمَنْ عَادَ فَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝

او که څوک بیرته وگرځیدی واکل د ربوا ته یعني سود، او یا و هغه قول ته ﴿انما البیع مثل الربوا﴾ نو هغه کسان ملازمین دي ه اوز او دوی به په اور کي همیشه وي

پوه سه چي که مراد له عود څخه عود و هغه قول ته وي چي انما البیع مثل الربوا، نو خلود پر ظاهره معنی دی یعني همیشه والی ولي چي تحلیل د حرام دی کافر سو، او د کافر څای همیشه دوزخ دی، او که یې معنی عود وي واکل ته د ربوا نو مراد له خلود څخه مکث طویل دی مجازاً لان اهل الکبائر لیسوا مخلدین في النار عند اهل السنت والجماعة وان ماتوا بغیر توبة

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

کمامر، نو دا آیت پر دې تاویل له لسله ځکه د هغه آیت دی ﴿ومن یقتل مؤمنا متعمداً فجزائه جهنم خالداً فیها﴾

يَمْحَقُ اللّٰهُ الرِّبٰوا

پوه سه چې محق نقصان د شي دی حالا بعد حال حتی چې ټوله ختم سي لکه محاق د سپوږمۍ چې وار په وار یې نور کمیږي خو لمر یې واخلي او برکه سي د خلګو له سترګو ځکه، والمعنی ههنا داده چې مال د سود کرار کرار په کمیږي او برکت یه یې نه وي کما في حدیث ابن مسعود ﷺ عن النبي ﷺ قال ما احد اکثر مما لا من الربوا الا کان عاقبة امره الی قلة، رواه ابن ماجه او که فرضاً د سود خور په ژوند مال یې لږ نه سي تر ده وروسته به یې عیال له قلت سره مخامخ سي

دروښ وایي چې په کندهار کې یو سړی و سود خوړه چې نوم احسن یه یې غیبت وي، دده په ژوند د سود مال یې ښه پر مخ روان و، او باغونه جائیداد مخکې یې رانیولي دده له مرګه وروسته رفته رفته یې د اولاد لاسه مخکې او باغونه ووتله حتی چې مزدوري او روزاني نه اړ سوه.

وَيُرْبِي الصَّدَقٰتِ

او خدای ﷻ تربیه یعني دوچنده کوي صدقات که فرضي وي لکه زکوٰة او که نفلي وي، او ثواب یې دېروي او دده او د عیال لپاره یې خدای ﷻ برکت پکښې اچوي، وفي حدیث مسلم الذي رواه عن ابي هریرة ﷺ ان رسول الله ﷺ قال ماانقصت صدقة من مال" نه کموي مال د چا صدقه، یعني خدای ﷻ صدقې عوض ورکوي "وما زاد الله بعفو الا عزا" او نه زیاتوي خدای ﷻ به عفوه سره یعني د یوه سړي چې بل سړي پر ده ظلم کړی وي او دی عفوه ورته وکړي مګر له عزت د عفوه کوښکې "وما تواضع احد لله الا رفعه" او تواضع او عاجزي نه مختاره کوي یو ځوک لپاره د خدای ﷻ مګر خدای ﷻ رتبه لوړوي

وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ اَثِيْمٍ ۝

او خدای ﷻ نه خوښوي یعني بغض ورسره کوي وهذا المعناه الکنائي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولي چي اگر چه خدای ﷻ د خپلو بنده گانو سره محبت کوي په مقتضی د قیومیت او د رحمانیت خپل لکن په عارض د کفر او اصرار پر کفر هغه محبت په بغض بدلیږي

پوه سه: چي کفار صیغه د مبالغي ده مراد څنديِ هغه څوک دي چي پر تحلیل د محرماتو لکه ربوا هغه ټینګ وي او اثیم هم صیغه د مبالغي ده یعني ډوب په ګناهو کي

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ

او په تحقیق هغه کسان چي ایمان یې راوړی وي یعني پر خدای ﷻ په وحدانیت سره او پر علیه السلام په رسالت سره وبما جاء به رسوله او عملونه صالح کوي یعني اوامر د خدای ﷻ او د رسول پر ځای کوي او د منهیاتو څخه پرهیز کوي.

وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ

او لمونځونه پر خپلو شرائطو او فرائضو او واجباتو او سنتو پر ځای کوي، او زکوة د مال هم ورکوي.

پوه سه: چي لمونځ او زکوة که څه هم په صالحاتو کي داخل وه لکن بیرته یې په خصوص ذکر کړه لان الصلوة راس العبادات البدنیة کما ورد في الحدیث النبوي ﷺ "الصلوة عماد الدین" وقال الله تعالی ان الصلوة تنهی عن الفحشاء والمنکر" والزکوة رئیس العبادات المالیة کما ورد في الحدیث النبوي ﷺ "الزکوة قنطرة الاسلام.

لَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٧﴾

دوی لره دی ثواب د اعمال حسنه و ددوی په نېز د رب ددوی او هیڅ بېره نسته پر دوی یعني په ورځ د قیامت یعني حین یخاف الکفرة واهل الاعمال السیئة من عقاب الله ﷻ، او نه دوی غم کوي پر تېر سوي عمر د دنیا ولي چي دوی تونبه د ورځي د قیامت له دنیا څخه دمخه را استولي وه یعني بخلاف الذین ضیعوا اعمالهم الدنیویة في المعاصي واللهو واللعب لانهم یحزنون علی ذالک.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې په مختلفو روايتو کې د احاديث مبارکه وو راغلي دي چې مسلمانانو بعض د مکې مکرمې او بعض د مدينې منورې دمخه تر تحريم د ربوا يو پر بل باندې د سود روپۍ يا د سود خورما باندې وه، نو څه وخت چې تحريم د ربوا نازل سو، نو ددوئ به داسې خيال و چې مونږ خو دا عقدونه د ربوا دمخه تر تحريم کړي دي، نو ددې ربوا اخستل به مونږ ته روا وي، البته له دې وروسته به له عقد الربوا څخه پرهېز کوو، فنزلت هذه الآية

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٢٧٨﴾

اې هغه کسانو چې ايمان يې راوړی دی له خدای ﷻ څخه وېرېږئ، او پرېږدئ هغه بقايا د سود چې ستاسو د خلګو په ذمه کې باندې پاته وي که چېرې تاسې د رشتيا ګو او د زړه مسلمانان ياست، والجزاء محذوف دل عليه ماقبله اى فذروا الخ او امتثلوا ما امركم الله به وانما قال ان كنتم آه اشارةً الى ان امتثال الاوامر والنواهي دليل صدق الايمان.

فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ ۖ

او که تاسې مابقی من الربوا نه پرېږدئ نو اعلان د جنګ وکړئ له خدای ﷻ سره او د رسول د خدای ﷺ سره.

پوه سه: چې د حمزه قرائت داسې دی "فآذنوا على زنة آمنوا" او باقي قراء يې ببله مده د الف وايي على ما هو المرسوم في المصاحف اليوم.

پوه سه: چې تنکير د حرب لپاره د تعظيم د جنګ دی وهو الحرب مع جنود الغيب. سعيد بن جبير له ابن عباس ﷺ څخه روايت کړی دی چې سود خور ته به په ورځ د قيامت داسې وويل سي خذ سلاحک للحرب، او په صحيح حديث کې راغلي دي قال رسول الله ﷺ اذا ظهر الربوا في قرية فقد احلوا بانفسهم عذاب الله، او د عمرو بن العاص څخه روايت دی چې ما واورېده له رسول الله ﷺ څخه چې وه يې ويل چې داسې قوم نسته چې په دوئ کې دي سود خوري بنکاره سي مګر خدای ﷻ به دوئ ونسي په قحط سره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعنې کاڅتې به پر مسلطه کړي، او داسې قوم نسته چې په دوئ کې رشوت خوړې نېکاره وي مګر خدای ﷻ ېهره د دښمن پر مسلطه کړي، رواه احمد.

پوه سه: چې پوهان علماء ؒ وايي چې حرب الله دوړخ دی او حرب الرسول توره ده، نو ځکه قاضي بيضاوي وايي چې ددې مقتضی داده چې اول دې له سود خوړه ځخه طلب د توبې وکړه سې که يې توبه له سوده نه کښل بيا دې امام المسلمين جنګ ورسره وکړي لکه د باغي سره.

دروېش وايي: چې معنا ددې خبرې د بيضاوي داده لکه امام مظهري ؒ چې وايي که چېرې دې سود خور نفر د جنګ نه درلوده، نو امام المسلمين دې بندي کړي حتی يتوب، او که يې نفر د جنګ درلوده چې امام نه سوای بندي کولای فهو الباغي فالامام يقاتله، علماء ؒ وايي چې داغه حکم د تارک د فرض د فرائضو ځخه د خدای ﷻ لکه لمونځ، زکوة وغيرهما، او يا يو سړی عملا پر يوه کبيره ګناه لکه زنی، شراب خوړي، قمار بازي الی غير ذالک او پر هغه ګناه باندې کلک او علانيه ولاړ وي کما هو الرائج اليوم في بعض بلاد المسلمين، ويدل عليه ما روی رزين ؒ عن عمر بن الخطاب ؓ في مناقب ابي بکر ؓ چې آنحضرت ﷺ چې وفات سو او ابو بکر ؓ خليفه سو، او بعض عرب له زکوة ځخه په انکار سره مرتد سوه، نو ابکر صديق د جنګ تياري ورته ونيوله او دا يې وويله چې قسم په خدای ﷻ که دوئ له ماځخه منع کړي عقال يعني يو شی قليل د زکوة يعني پر وجه د انکار لجاهدتهم، عمر ؓ وايي ماورته وويله ياخليفه رسول الله تالف الناس وارفق بهم ته الفت د زړو د مسلمانانو طلب کړه او لږ نرمي ورسره وکړه، نو ابوبکر ؓ په ډېرو سختو الفاظو عمر ؓ ته داسې وويله اجبار في الجاهلية وخوار في الاسلام يعني په جاهليت کې ته اې عمره ډېر د زړه ډک سړی وې او په اسلام کې ډېر ضعيف القلب سوې يعني د مانعي الزکوة له جنګ ځخه ډه ډه کوې او ماته وايي چې جنګ مه ورسره کوه، ابو بکر ؓ زياته کړه قد انقطع الوحي وتم الدين يعني کما قال الله تعالی ﴿اليوم اکملت لکم دينکم واتممت عليکم نعمتي ورضيت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لکم الاسلام دیناً» ا ینتقص وانا حي. آیا دین به څوک کموي او زه به ژوندی یم یعني په انکار د زکوة چې له امورو څخه د دین دی. او زه به ژوندی یم یعني دا امکان نه لري معنا دا چې زه به حتما جنګ ورسره کوم تاچې دین پر خپل کمال پاته سي.

دروښ وایي: چې واقعه د قصد د جنګ د مانعینو سره د زکوة، او نصیحتد عمرؓ و ابوبکرؓ ته چې جنګ مه ورسره کوه، او د ابوبکرؓ دلائل د عمرؓ سره او قناعت د عمرؓ په رایه سره د ابوبکرؓ په بخاري او مسلم او نورو صحاح سته وو کي په وجه اتم او تفصیل کامل سره مذکور دي فلیراجع الی الکتب المذکورة.

وَإِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوسُ أَمْوَالِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا تُظْلَمُونَ ﴿٢٧٩﴾

او که تاسو توبه وکاږئ له اخستلو څخه د ربوا، نو ستاسو حق دی روښ د اموالو ستاسي یعني روپۍ وغیره چې تاسو په اول وار په سود ورکړي وي یعني نه سود او ګټه چې تاسي په اوله ورځ پر پوره ورې شرط کړې وه. او نه به تاسو ظلم کوئ پر پورورو یعني په اخستلو د سود، او نه پر تاسي ظلم کړه کیږي یعني د پورورو له خوا یعني په نقصان د راس المال او یا په ځنډولو د راس المال.

دروښ وایي: چې په حدیث متفق علیه د ابي هریرهؓ داسي راغلي دي چې علیه السلام وویل مطل الغنی ظلم الحدیث یعني ځنډول د پور د پورورې له خوا چې دی غني هم وي ظلم دی. بیضاوي وایي چې له دې آیت څخه دا فهمیږي چې که دغه سود خواره توبه ونه کاږي او پر تحلیل د ربوا ټینګ وي هغه راس المال یې هم حق نه کیږي ولي چې مصر پر پر تحلیل د ربوا مرتد دی او د مرتد مال غنیمت دی.

پوه سه: چې دا مذهب د امام شافعي رحمه الله دی لکه چې بیضاوي هم شافعي المذهب دی، او د امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله مذهب دادی چې هغه مال چې ده په وخت کي د اسلام درلودی هغه مال وروسته تر قتل دده او یا چې دار الحرب ته ولاړ سي، و ورثه وو ته د دغه مرتد نقل کیږي، یعني چې مسلمانان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وي، او هغه مال چې ده په وخت کې د ارتداد کسب کړی و هغه يې غنيمت دی د بيت المال.

پوه سه: چې بغوي رحمه الله وايي چې دغه آيت چې نازل سو يعنې فاءذنوا بحرب من الله ورسوله آه، بنو عمر چې دهر مالونه د سود يې پر خلګو باندې وه او تور ګټ شمېر سود خواره راغله، او عليه الصلوة والسلام ته يې ووېل چې مونږ توان او طاقت د حرب د خدای ﷻ او د رسول د خدای ﷺ نه لرو بل نتوب الى الله تعالى ورضوا براس المال.

وَإِنْ كَانَ ذُو عُسْرَةٍ

پوه سه: چې بعض مفسران وايي چې کان تامه دی لايقتضی الخبر، نو معنا يعنې ان وجد غريم ذو عسرة او بعض مفسران وايي چې خبر يې محذوف دی يعنې ان کان ذو عسرة غريما.

فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ ط

پوه سه: چې "نظرة" خبر د مبتداء محذوف دی، ای فالحکم نظرة، او يا خبر دی مبتداء يې محذوفه ده، فالمعنى عليكم نظرة، نظرة مهلت ته وايي يعنې ده ته به مهلت ورکول کېږي، او ميسرة مصدر ميمي دی په معنا د يسار يعنې الغنى، د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی من يسر على معسر يسر الله عليه في الدنيا والآخرة رواه مسلم

وَأَنْ تَصَدَّقُوا خَيْرٌ لَّكُمْ

او که معسر پوروړي ته پور وروبخښې د هغه په ثواب کې خير دی تاسي لره تر مهلت ورکولو، ولې چې په انتظار کې د پوروړي زړه نه بېغمه کېږي او په تصدق کې زړه بېغمه کېږي، او بعض مفسران وايي چې د تصدق هم انظار مراد دی، لکن دروېش وايي چې پر دې تفسير تکرار لازمېږي، نو بنه تفسير هغه و چې مونږ دمخه وکړی يعنې الابراء عن الدين، له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې زه شاهدي اداء کوم پر رسول الله ﷺ چې ده وويل اول الناس يستظل في ظل الله يوم القيامة يعنې في ظل عرشه اذ لاظل له تعالى لانه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يقتضي الجسمية، او يا مراد د ظل الله څخه رحمت الهي دی، فالمعنى يدخل في رحمته تعالى په ورځ کي د قيامت لرجل هغه سړی دی انظر معسراً، چې مهلت يې ورکړي وتنګدست پوروړي ته تر هغو چې يو شی پيدا کوي، او تصدق عليه مما يطلبه او يا خيرات وکړي د هغه مال چې ده به له هغه غوښتی يعني پور، او داسې وپوروړي ته ووايي مالي عليک صدقة ابتغاء وجه الله وبحرق صحيفته او هغه د پور حجت او کاغذ وسوځي، رواه الطبراني

دروښ وايي: چې په متقاربه الفاظو د حديث مذکور بغوي په شرح السنة کي روايت کړی دی، او دغه رنګه روايت د عثمان بن عفان ﷺ څخه هم راغلی دی او د ابي اليسر څخه هم ورته حديث راغلی دی، او طبراني د اسعد بن زرارة ﷺ هم په قريبو الفاظو روايت کړی دی، او طبراني په اوسط کي هم له شداد بن اوس څخه روايت کړی دی.

إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٢٨٠﴾

جواب د شرط او مفعول د "تعلمون" محذوف دی، يعني که تاسي پوهېږئ په ثواب د انظار او تصدق فافعلوا ذالک، او يا تعلمون نازل منزلة اللازمي دی يعني ان کنتم من اهل العلم، له عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دی چې ملکو د يو سړي روح چې په من کان قبلکم امتو کي وو قبض کړی، نو ملکو ورته وويل هل عملت خيرا قط تا يو عمل د خير کړی دی يو وخت؟ سړي ورته وويل يا نه مي دی کړی، ملکو ورته وويل چې ته فکر په عملو کي ووهه چې د خير عمل نسته پکښې، سړي ورته وويل نسته مګر دا که د خير کار وي چې ما وخلګو ته شيان په پور ورکوله نو مابه خپلو نوکرانو ته ويله که زما پوروړی غني هم وي لکن مهلت يې وغوښتی مهلت ورکوئ، او که مسکين و زما پور وربښئ، نو خدای ﷻ ملکو ته وويل چې تاسي هم دده تر ګنهونو تجاوز وکړئ، رواه مسلم، عن عقبة بن عامر ﷺ، او په بخاري او مسلم کي له حذيفه ﷺ څخه ورته روايت راغلی دی وفي الحديث الصحيح چې رسول الله ﷺ وويل لايحل دين رجل مسلم فيؤخره الا کان له بکل يوم صدقة، يعني هره ورځ ګونا

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

دا سړی په مقدار د پور خیرات کوي، وفي الحدیث الصحیح من انظر معسرا او وضع له انجاه الله من کرب یوم القیامة. که چا مهلت د پور ورکړی وو مسکین پوروړي ته او یا یې وز وبخښلی خدای ﷻ به نجات ورکړي وهغه سړي ته د تکلیفو د ورځي د قیامت، له ابو امامة الباهلي ﷺ څخه روایت دی چې ما یوه شپه جنت په خوب ولیدی چې پر دروازه یې نوشته وه چې د قرض ثواب په اتلس (۱۸) مثله دی او د خیرات ثواب په لس (۱۰) مثله دی، نو بعضې ملکي چې هوړې حاضري وې پوښتنه مې وکړه چې ولې د قرض ثواب پر صدقه بالا دی؟ ملکو راته وویل چې په دې سبب بالا دی چې خیرات ګاهي د غني سړي په لاس کې واقع سي، او قرض غوښتونکی چاته نه ورځي مګر چې محتاجه وي، په صحیح حدیث کې راغلي دي چې آنحضرت ﷺ وویل چې دری خویه چې په سړي کې وي په ورځ د قیامت لکن سره له ایمانه دخل الجنة من ای ابواب الجنة شاء وزوج من حور العین کم شاء. (۱) من عفی عن قاتل. یعنې که چا له اولیاؤ څخه د مقتول عفو وکړه وقاتل ته (۲) تر هر فرضې لمانځه وروسته یوولس (۱۱) واړه قل هوالله احد تر پایه پورې ووایي (۳) هغه سړي چې مسلمان پور څندې وغواړي هغه پور ورکړي، فقال ابو بکر الصدیق ﷺ او احدی هن یا رسول الله قال او احدا هن لکن څوک چې له چا څخه پور غواړي نو باید نیت یې د اداء وي، ولې چې په حدیث شریف کې راغلي دي که چا د بل سړي پور وکړی او نیت یې د ورکړي وو، خدای ﷻ به د هغه سره ملکي مقرري کړي چې هغه سړی ته دعاء کوي یعنې د قدرت د اداء د پور.

درویش وایي: چې په اوسنی زمانه کې د پور او قرض ورکولو دروازه تقریبا بنده ده په سبب ددې چې په اوسنی زمانه کې څوک چې له چا څخه قرض غواړي په اوله ورځ کې خیال د ورکړي نه لري، او اوس خلګ چې پور له چا څخه وکړي غنیمت یې بولي، نو خلګ که څه هم روپۍ لري چاته یې پور او قرض نه ورکوي، ولې چې صبا ورځ چې دی دا پور له چا یعنې پوروړي څخه غواړي تیار جنګ او مصیبت څندې جوړ پرې، او بعض خلګ بهله ضرورته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پورونه کوي په یوه بهانه او بله بهانه اخیر چي دهري روپۍ په پور سره جمع کړي نو پوروړو ته پر نه داد کنبښني او پوروړو ته وایي چي ماته تاوانونه رسېدلي دي زه اوس دېوالي یم هغه ته هغه حکومت او هغه ته هغه دي زور څرخه چي دي له لاسه کېږي وه یې کړه، پوروړي اخیر الامر پر خای کنبښني، او که یو سرای دغه مدیون درلودی پوروړو ته ووایه چي دغه سرای تاسي واخلئ او سره تقسیم یې کړئ، که هغه سرای مثلاً یو لک روپۍ ارزېدی په لس لکه یې پر خرڅ کړي، وروسته چي پوروړي په هغه سرای راضي سي او پور یې اداء کړي خو درځي وروسته په هغه جمع کړي روپو دی تجارت شروع کړي.

او بعض کسان داسي هم سته چي دېر پورونه وکړي اخیر الامر له پوروړو څخه بل ملک ته وتښتي او خان لاپته کړي، نو دداسي تکالیفو پر بناء څوک اوس وچانته پور او قرض نه ورکوي او د قرض دروازه بنده سو، او بعض خلګ داسي هم سته چي د فرائضو الهیه وو لکه لمونځ، روژه وغیره او د منهیاتو پابندي نه لري نو چي د خدای ﷻ پور نه ورکوي نو د مخلوق پور به څرنګه ورکړي، نو داسي فاسق او فاجر او شراب خور ته پور ورکول نه دی روا، ولي چي دی دغه د پور روپۍ په معاصیو کي صرفوي، وقال اللهﷻ تعاونوا علی البر والتقوی ولاتعاونوا علی الاثم والعدوان ولنعم ماقیل

واش مده انکه بینماز است ورخود دهدنش زفاقه باز است
کو فرض خدا نمی گذارد از قرض تو نیز غم ندارد

وَاتَّقُوا يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى اللَّهِ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٨١﴾

او وېرېږئ له هغي ورځي څخه چي تاسي به راجع کړه کېږي وخدای ﷻ ته لپاره د حساب او جزاء چي ورځ د قیامت ده او ورځ د عدالت ده او حاکم رب العزت دی، نو د هغي ورځي لپاره تیاري وکړئ، باداء الاوامر وترک المنهیات چي من جملتها پور نه له خلګو څخه کول دی لپاره د خپل عیش او عشرت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بلکه پر مسکنت قناعت وکړه د چا مالونه مه ضائع کوه، او په هغه ورځ ورکول کېږي و هر سړي ته جزاء د ماکسبت او پر دوئ به ظلم نه کېږي په دې معنا چې چادې عمل د پر کړی وي او ثواب دې لږ ورکړي او یا دې عذاب ورمضاعف کړي، له ابن عباس ؓ څخه روایت دی چې دا ایت یعنی واتقوا یوما الخ اخیري ایت دی چې پر علیه الصلوة والسلام نازل سوی دی، نو جبرائیل و علیه السلام ته وویل چې دا آیت ته کښېږده پر سر د دوه سوه اتیا (۲۸۰) آیتو د سورت بقرې، او علیه السلام پسله نزوله ددې آیت یووېشت (۲۱) ورځې حیوة و، او بعض راویان وایي چې یو اتیا (۸۱) ورځې حیوة و. او بعض وایي اوه (۷) ورځې، بعض راویان وایي چې د دوشنبې په ورځ چې دوې شپې د ربیع الاول تېرې سوي وې، او صحیح داده چې دوولس شپې د ربیع الاول تېرې سوي وې په وخت کې د زوال د قمري سنه (۱۱) په یولس د هجرت وفات سو انا لله وانا الیه راجعون

پوه سه: چې علیه الصلوة والسلا د دوشنبې په ورځ له موره پیدا سوی دی، او د دوشنبې په ورځ نبي سوی دی. او مدیني منورې ته د دوشنبې په ورځ داخل سوی دی او د دوشنبې په ورځ عملونه د امت دده وړېښول کېږي، او د دوشنبې په ورځ په مدینه منورد کې د سیدنا عائشة ؓ په خونه کې بې روح وخدای ﷻ ته وسپارې.

فائده: راویان وایي چې اتلس (۱۸) ورځې علیه السلام ناجوړی و، او صحابه کرام ؓ نوبت په نوبت پوښتنې ته ورتله، او اخیري وصیت نبي کریم ﷺ وټولې امت ته دا کړی دی ﴿الصلوة وماملکت ایمانکم فانا لله وانا الیه راجعون﴾ وفي الحدیث قال رسول الله ﷺ من اصیب عصیبة فلیذکر مصیبته بي یعني بموتی فانها اعظم المصائب قال بعض الانصار ؓ الصبر یحمد في المواطن کلها الا علیک فانه مذموم

مدینه منوره: تاریخ وایي چې پر اهل مدینه یره ورځ د یوې خوشحالۍ راغلې ده چې هغه دوئنده خوشحالي نه وه لیدلې، چې هغه ورځ د رسېدلو د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علیه السلام ومدیني منوري ته وه، او یوه ورځ د لوی غم چې پر اهل مدینه باندې راغلی و او نه به راسي چې هغه ورځ د وفات د علیه الصلوة والسلام وه

سوال: ابن عباس رضی الله عنه وویل چې اخیري آیت چې پر رسول الله ﷺ نازل سوی دی دغه آیت دی واتقوا یوما آه او سره ددې چې په بخاري، ابو عبید، ابن جریر او بیهقي کې داسې راغلي دي چې اخیري آیت چې پر علیه الصلوة والسلام نازل سوی دی آیة الربوا دی، نو پوښتنه داده چې ددغو دوو روایتو تر منځ تعارض نسته؟

ځواب: علامه بغداد رحمه الله په روح المعاني کې وایي چې مراد د ابن عباس رضی الله عنه دادی چې اخیر حقیقي هغه آیت دی واتقوا یوما آه، او په حدیث کې د بخاري وغیره مراد دادی چې اخیري آیت د بیوع په بیان کې آیت الربوا دی کما قال محمد بن سلمة رحمه الله کما نقل عنه علي بن احمد الکرباسي رحمه الله، او یا مراد د بخاري وغیره د روایت داده چې ایت الربوا بعض د مانزل علی رسوله ﷺ في آخیر حیوته کما یصرح به ما اخرجه الامام احمد رحمه الله فلا تعارض.

دروښ وایي: چې چونکه خدای ﷻ په اخیري آیتو کې په انظار د معسر تاجیله امر وکړی، تر هغه وروسته یې هغه حقوق ذکر کړه چې اجل پکښې مشروط وي په یو طویل آیت کې د قرآن چې د آیة المداینة په نامه سره مشهور دی.

دروښ وایي:

دا د نیا د ه بې و فا خندي تلو نکي انبیاء واولیاء
که د نیا بقی د ر لو د ای نو به پا ته وای محمد مصطفی
دا جل و ر خ د ه معلو مه په هغه ورځ به هرڅوک ځي له دنیا
عبید وایي دا تفسیر خدایه پوره کړې بیا وتګ ته د ی تیار عبید الله
دا تفسیر به خیر باقي وي د عاصي بل عمل د خیر نه لر م رشتیا
د ا تمام د د ي تفسیر ا یو بي خواست کومه په دربار کې د الله
خاتمه غواړم له خدایه پر ایمان خواست قبول کړې یا الله یا الله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَدَايَنْتُمْ

اې هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی چې تاسې معامله وکړئ چې په هغه کې پور وي په ذمه د یوه معامله کونکي.

پوه سه: چې ددې قید چې په هغه معامله کې پور وي آه داده چې معامله د پور په پور سره وي چې بیع الکالي بالکالي یې بولي نه ده روا بالاجماع وبالحدیث الذي رواه ابن عمر رضي الله عنه بهذه اللفظ نهى رسول الله ﷺ عن بیع الکالي بالکالي رواه الدار قطني.

فائده: دا آیت شامل دی د پور بیع لري، سلم لره، اجاري لره، قرض لره، نکارح لره، خلع لره او الصلح لره.

بِدَيْنٍ

پوښتنه: دین خو لفظ د تداینتم مفهوم سو نو د دین فائده څه ده؟

ځواب: فائده یې داده چې مرجع د ضمیر د فاکتبوه پیداسي صراحةً.

پوه سه: دین" نکره ده له شرط سره چې "اذا" دی ملګری راغلی، او قانون نحوي دی چې نکره چې په حیز کې د شرط راسي هغه عامېږي، یعني هر پور ته شامله ده که پور ثمن وي لکه یو شی هر شی چې وي په پور یې خرڅ کړي او یا مبیع وي لکه په عقد سلم کې، او که مکیل وي لکه غنم، اوربشي، خرما او نور، او که موذون وي لکه سره زر سپین زر الی غیر ذالک او که بیع لاس په لاس وي او که په موده وي.

إِلَىٰ أَجَلٍ

تر مودې پورې، په دې قید سره یې بیع د لاس په لاس ویستله، ولي چې په هغه کې لیکل نه غواړي، لکه چې نان وای ته چې روپۍ ورکړې دودی خندي واخلي بلکه داسې رانیول بعث واشتریت هم نه غواړي.

مُسَمًّى

چې هغه مده یې معلومه کړې وي، یا په ورځو او یا په میاشتو او یا په کلو، دا قید یې ددې لپاره ووایه چې بیع په ثمن مؤجل سره او یا سلم چې

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

مبیعه یې اجل ده تر هغو نه دی روا چې مده یې معلومه نه وي، لان جهالة الاجل یفضی الی المنازعة بین المتعاقدین. نو په فرض کې تعین د اجل نه غواړی ولې چې فرض شرع شریف عاریة ګنلی. ګویا هغه روپۍ یا بل شی چې پورورې ورکوي عین هغه شی دی چې مالک ورکړی و، تاچې پورې یې سود ونه ګرځي

مسئله نو فرض که څه هم په اجل ورکړي لکن اجل نه دی لازم، یعنې مالک د پور یې في الحال قبل الاجل حتدې غوښتلای سي او پورورې د اسراط السجیل بهانه نه سي ورنه کولای

فائده ابن عباس رض هم دغه آت دلیل د جواز د سلم بولي، حیث قال اشهد ان السلف ای السلم المضمون الی اجل مسمی قد احله الله في الکتاب واذن فیه ثم قرء ابن عباس رض هذه الآیة

مسئله تعین د مدې په داسې دول چې اختلاف پکښې وي نه دی روا نه په بیع کې او نه په سلم کې، لکه پښتانه چې وایي چې داشی در څخه رانسم تر لو پورې، او یا د حاجیانو تر راتګه پورې الی غیر ذالک لانه یفضی الی المنازعة بین المتعاقدین، ولې په لو کې تقدیم او تاخیر راځي، او داغه رنګه د حاجیانو په راتګ کې وبر تقدیم او تاخیر وي کما هو المعلوم بالتجربة، نو بائع د اول لو په وخت یا د اول حاجي په راتګ کې به خپل پور غواړي، او مشتري به تر اخیري لو پورې او یا تر اخیري حاجیانو پورې پور ځنډوي وعلی هذه فقس الآجال المبهمة الاخر

پوه سه چې امام مطهري رح په دې ځای کې لکه چې دده عادت دی مسائل د فقه شریف په باره کې د سلم وغیره سره د دلائلو د مذاهبو مختلفه وو او د نقض او د ابرام وبرې ښې څېړلي دي، نو که د متعلمانو هغه تفصیل ته شوق کېږي نو دده تفسیر دي مطالعه کړي.

فَاكْتُبُوهُ

نو تاسې هغه د پور ټپه او وعده نوشته کړئ، لپاره د اینده یادګار او د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دفع د نزاع په وروسته کي.

پوه سه: چي جمهور د مفسرينو رح لکه روح المعاني، روح البيان، مظهري، بيضاوي وغيرهم وايي چي دا امر استحباب دی يعني که دائن او مديون خط نه کړی سره نوشته پروا نه لري. لکن روح المعاني وايي چي ظاهر دا آيت خو دلالت پر دي کوي چي د هر پور حکم داغه دی يعني چي خط به سره نوشته کوي، او ابن عباس رض وايي چي دا نوشته کول د پور يوازي په سلم پوري خاص دی يعني استحباب يې مخصوص په سلم پوري دی، او بعض فقهاء رح وايي چي ابن عباس رض د خط نوشته کول په سلم کي واجب بولي، او شعبي رح الله وايي چي خط نوشته کول او شاهدان درول او ګرو ورکول تولـه فرض وه او په دي آيت سره فان امن بعضكم بعضا الآية د تولو فرضيت منسوخ سو. لکن نور مفسرين رح وايي چي په نسخ کي دا ضروري ده چي ناسخ به تر منسوخ وروسته نازل وي كماهو المسلم باجماع المفسرين والفقهاء رح، او دلته دا وروسته والی نسته ولي چي تولـه ايت المدانية په يوه وار نازل سوي دي، نو دا علامه ددي ده چي امر بالكتابة مستحب دی، كما في قوله تعالى في باب صلوة الجمعة فاذا قضيت الصلوة فانتشروا، نو انتشار خو واجب نه دی.

وَلْيَكْتُبْ بَّيْنَكُمْ كَاتِبٌ بِالْعَدْلِ

او خط دي نوشته کړي يو کاتب ستاسي تر منځ په عدالت سره يعني کاتب بايد حقوق د دائن او مديون دواړه په نظر کي ولري نه دی نه دي مال او نه دي مده پکښي بالا بود کوي او نه دي کمبود کوي مراعاةً لحق احد الجانبين

مسئله: پر کاتب باندي دا امر وجوب دی، نو بايد چي دائن او مديون د كتابة الدين لپاره يو داسي کاتب پيدا کړي چي هم د فقه په احکامو خبر وي او هم ديندار وي.

پوه سه: چي دا آيت بيان دی د کيفيت د کتابت ماموربها بعد الامربها اجمالاً، او مفعول يكتب محذوف دی ولي چي له مقامه څخه فهميږي يعني الكتاب، او د تقييد بالظرف چي بينكم دی فائده يې داده چي کاتب چي خط

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

نوشته کوي طرفين به دواړه حاضر وي نه به يې يوازي نوشته کوي او نه به يې په حضور کي د يوه طرف.

وَلَا يَأْبَ كَاتِبٌ أَنْ يَكْتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ اللَّهُ

او منع به نه کوي کاتب مذکور له کتابت څخه د خط لکه چي خدای ﷻ وده ته ښوولي وه، ولي لکه خدای ﷻ چي ده ته خط ورښوولی دی د هغه تعلیم په شکر کي د کاتب وبندګانو ته د خدای ﷻ نفع ورسوي، وهذا من قبیل واحسن کما احسن الله الیک.

فَلْيَكْتُبْ وَلْيُمْلِلِ الَّذِي عَلَيْهِ الْحَقُّ

پوه سه: چي دا امر بالکتابت دی وروسته ترنهي له منع څخه د کتابت لپاره د تاکید دی.

مسئله: دا امر په وجوب د کتابت مختلف فیه مجاهد رحمه الله يې واجب بولي که طلب خندي وکړي، او حسن بصري رحمه الله وايي چي دا کتابه واجب کفايي دی نو که کاتبان ډېر وه خو د يو کاتب په منع سره غاړي نه دي بندي او که کاتب فقط دا يو سړی و نو پر هغه واجب عین دی.

دروېش وايي: تحمل د شهادت چي طلب خلق خندي وکړي قیاس دی پر کتابت شبراً بشبر، او ضحاک رحمه الله وايي چي کتابة الخط او تحمل الشهادت په ابتداء کي واجب وه او په لایضار کاتب ولا شهید سره منسوخ سوه وفیه مثل مامر عنقریب ان النسخ یقتضی تقدم المنسوخ علی الناسخ وههنا لیس کذالک لان نزول آیة المدنیة کلها في زمان واحد.

او القاء او بیان به وکاتب ته هغه سړی کوي چي پرده پور باندي وي، ولي چي اقرار دده پر ده باندي حجت ګرځېدای سي شرعاً او د صاحب الدین خبري ته اعتبار نسته چي مدیون اقرار په ونه کړي، او یا قاضي وروسته تر ثبوت شرعي په قول د دائن حکم ونه کړي.

وَلْيَتَّقِ اللَّهَ رَبَّهُ وَلَا يَبْخَسْ مِنْهُ شَيْئًا

او له خدایه دي وېرېږي املا کونکی او یا کاتب چي رب دده دی، او نه

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

دي کموي له حق څخه هیڅ شی یعني که څه هم لږ شی وي

دروبش وایي که څه هم مظهري رحمه الله مکلف په ولیتق الله ګاهي مملي بولي او ګاهي کاتب لکن صحیح ده اده چي مخاطب املاء والا دی، ولي چي په هغه کي احتمال د بخس ستنه او په کاتب کي خو احتمال د زیادت او نقصان دواړو ستنه کما مر من قبل قریبا کذا قال صاحب روح المعاني العلامة البغدادي رحمه الله

فَإِنْ كَانَ الَّذِي عَلَيْهِ الْحَقُّ سَفِيهًا

او که چېري و هغه سړی چي پر ده پور باندي و، ناقص العقل او یا اسراف کونکی ویدخل فیه المجنون والمعتوه.

أَوْ ضَعِيفًا

یا ضعیفه په سبب د صغر او یا د هر سپین ږیری و.

أَوْ لَا يَسْتَطِيعُ أَنْ يُمِلَّ هُوَ

او یا یې طاقت نه و چي دی پخپله املاء او بیا وکړي یعني یا ګونګی وي او یا په ژبه د کاتب نه پوهیدی، او یا بندي و، او یا سخت ناجوړی و، چي د خبرو توان یې نه در لودی، او یا غائب و چي کاتب ته نه سوای حاضر بدلای، او یا پرده نشینه حیا ناکه بنځه وه چي کاتب ته یې القا نه سوای کولای.

فَلْيُمْلِلْ وَلِيُّهُ

نو بیا دي کاتب ولي د مذکوره کسانو یعني قریب د صبي او یا مختل العقل سړی او یا وکیل ددوئ یا مترجم دي بیان وکاتب ته وکړي.

بِالْعَدْلِ ط

یعني بېله نقص او یا زیادت.

پوښتنه: څه فائده ده په املاء د پور والا وو سره ددې چي که خصومت منځ ته راسي دده قول پر پوروړي الزام نه سي کېدای؟

ځواب: مظهري رحمه الله وایي فائدة الكتابة ان لاينسى العاقد ان قدر الثمن او قدر راس السال او المسلم فيه او الاجل او نحو ذالک لا ان يكون حجة لان

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

الحجة انما هو الشهود انتهى بعبارته.

دروښ وايي: چې سائل خو سوال د بيان د پوره والا د فائدې کوله، او مظهري جواب په فائده د کتابت ورکړی بل الحق في الجواب دادی چې که خصومت منځ ته راسي نو دائن خو مدعي گرځي او شاهدان هم ده لره دي نو په منځ کي د شاهدانو چې دی املا وکړي د مديون په حضور کي، نو شاهدان به دده د املال سره برابر شاهدي ادا کړي والله اعلم، قال عليه الصلوة والسلام البينة على المدعي واليمين على من انكر، رواه اصحاب كتب الآحاديث اكثرهم.

وَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِنْ رِّجَالِكُمْ

او تاسي طلب وکړئ د دوو شاهدانو چې دوئ تحمل د شهادت وکړي پر ماجرى بين العاقدين من العقد والامور المتعلقة به كما ذكرت من قبل.

سوال: چې خصومت واقع سي بيا ب نو دوئ شاهدان بلل کيږي، نو اوس په وخت کي د عقد يې دوئ څرنگه شاهدان مسمى کړه؟

ځواب: ان هذه التسمية من قبيل التسمية الواقعة في قوله عليه الصلوة والسلام من قتل قتيلا فله سلبه وتسمى مثل هذه التسمية مجاز بالمشارفة، قوله من رجالكم جار او مجرور متعلق دی په استشهدوا پوري فالمعنى من اهل دينكم، يعني من الاحرار المسلمين البالغين، ووجه ذالک ان المخاطبين بقوله يا ايها الذين آمنوا اذا تداينتم الآية هم المسلمون الاحرار، والمداينة لايكون غالبا الا بين الاحرار، نو زمور حنفيانو رح شاهدي د نابالغ روا نه بولي لانه ليس رجل، او دا د شافعي، د مالک، احمد او د عامو فقهاؤ رح دی.

تفريع: چونکه فقهاء رح وجه د عدم جواز د شاهدي د کوچنې دا وايي چې د کوچنې په عقل او تمييز کي نقصان سته، نو دغه رنگه نه ده روا شاهدي د لېونې او دماغ خرابي چې معتوه يې بولي او پر دې د ټولو علماؤ فتوى او اجماع د لانهما في معنى الصبي بل اولى بعدم القبول، او دغه رنگه نه ده روا شاهدي د مريي وبه قال مالک والشافعي رح، او امام احمد رحمه الله وايي چې شاهدي د مريي پر احرار او پر مريانو دواړو روا ده.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

مسئله: لايجوز شهادة كافر على مسلم اجماعاً، او امام مالک او شافعي او احمد رحمه الله شاهدي د كفار بعضهم على بعض روا نه بولي، ولي چي كافر خو مطلقا فاسق دی كما قال الله تعالى والكافرون هم الظالمون، او امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله وايي چي شاهدي د كفارو يو پر بل روا ده كي څه هم ملتونه سره مخالف وي، لكه چي يو يهودي او بل نصراني وي مثلا لان اهل الذمة من اهل الولاية لان لهم ولاية على اولادهم الصغار، وقال الله تعالى في حق الكفار بعضهم اولياء بعض، واما كفرهم ففسق في نفس الامر، واما في عقيدتهم فذالک الكفر ديانة والكذب حرام في الاديان كلها.

فَإِنْ لَّمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ

او كه نه وه دوه شاهدان دوه رجل.

پوه سه: چي دا رفع د ايجاب كلي ده سلب كلي نه دی، يعني چي يو رجل هم نه وي لعدم صحة ترتيب الجزاء على السلب الكلي كما لايخفى، والجزاء هذا.

فَرَجُلٌ وَّامْرَأَتٰنِ

نو بيا دي شاهدان وگرځول سي يو نر او دوي ښځي.

مسئله: شاهدي د ښځو د نرو سره روا ده په اموالو كي بالاجماع نه په حدود او قصاص كي لانها تندرئ بالشبهات وفي شهادة النساء شبهة البدلية فلابد فيها من الرجال فقط، وهذه المسئلة مذكورة في كتب الفقهه.

مِمَّنْ تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَآءِ

پوه سه: چي حرف جر متعلق دی په محذوف سره چي هغه محذوف صفت دی د رجل او امرئتان، ای كائنون من الشهداء المرضين عندكم.

سوال: مرضی شاهدان خو په مطلق شاهدانو كي شرط، نو څه حكمت دی چي د ښځو د شاهدی سره يې دا قيد وويل سو؟

خواب: لقلة العدالة في النساء.

پوه سه: چي حرف جر په "من الشهداء" كي متعلق دی په محذوف پوري چي هغه بيا حال دی له ضمير راجع الی الموصول څخه، ای فمن ترضونهم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کائنین من بعض الشهداء لعلمکم بعد التهم وثقتکم به.

فائده: په مذکوره آیت سره امام اعظم رحمه الله دلیل وایي پر دي باندې چې قاضي دي حکم نه کوي په شهادت د یو رجل سره د یمین د مدعي في الاموال کما في غیرها بالاجماع. وجه الاستدلال که په اموالو په شهادت د یوه رجل سره د یمین د مدعي حکم روا وای، نو امرئتان ته ضرورت څه و

مسئله: شهادت د یوازو ښځو روا دی په داسي شیانو چې نر د هغه شیانو و علم ته لاره نه لري لکه ولادة، بکارة وعیوب النساء ولکن امام اعظم رحمه الله وایي چې په دغو شیانو کې شهادت ته د یوې ښځې روا دی چې حره وي، مسلمانه وي او عادله وي لکن بیا هم دوې ښځې افضله دي، او امام مالک رحمه الله دوې ښځې شرط بولي، او امام شافعي رحمه الله وایي چې ځلور ښځې شرط دي تا چې هري دوې ښځې په ځای کې د یوه رجل ودرېږي.

اَنْ تَضِلَّ اِحْدٰىهُمَا فَتُذَكِّرَ اِحْدٰىهُمَا الْاُخْرٰى ؕ

یعني ددې سبب عدد په ښځو کې شرط دی چې د یوې ددې دوو ښځو شاهدانو څخه به هېره سي شاهدي نو هغه بله ښځه بې وریه یاد کړي.

پوه سه: چې اصلي علت د تعدد د ښځو خو تذکر دی د یوې و بلې ته لکن چونکه تذکر خو پسله هېرې څخه وي نو ځکه په آیت مبارک ان تضل آه علت د تعدد وګرځاوه

فائده: له دې آیت څخه دا معلومه سوه چې د ښځې حافظه او قوت عاقله کمزوري ده، نو ځکه تعدد غواړي ولذا ورد في الحدیث النبوي ﷺ الذي رواه البخاري وغیره قال رسول الله ﷺ ما رئیت من ناقصات عقل و دین اذهب للب الرجل الحازم من احدا کن قلن یا رسول الله ما نقصان عقلنا قال الیس شهادة المرئة علی النصف من شهادة الرجل قلن بلی قال فذالک من نقصات عقلها قما نقصان دیننا یا رسول الله، قال الیس اذا حاضت لم تصل ولم تصم قال فذالک من نقصان دینها.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَا يَأْبَ الشُّهَدَآءُ إِذَا مَا دُعُوا۟

او منع دي نه کوي شاهدان چې دوئ وبلل سي يا د تحمل د شهادت لپاره او يا د شاهدي د اداء کولو لپاره، ولي چې کومک د ورور مسلمان سره لازم دی خصوصاً اداء الشهادة.

پوه سه: چې دعوت د شهداو که د تحمل لپاره وي، نو دا امر ایجاب دی، په نهز د بعض علماء وهذا ضعیف، او بعض فقهاء وایي که د تحمل د شاهدي لپاره خلګ وهڅوي، نو هر دوه مخیر دي که تحمل د شاهدي کوي او که نه یعني واجب کفائي دي، او که بل څوک نه وي نو امر ایجاب دی، کما في صلوة الجنازة، وقیل هو امر ندب مطلقا، او که چېرې دعوت د شهداء لپاره د اداء د شاهدی وو چې دوئ يې قبلاً تحمل کړی و، نو اجابت يې واجب دی، بدلیل قوله تعالی ولاتکتموا الشهادة، او بعض فقهاء رح وایي که شاهدان لپاره د اداء د شاهدی وغوښتل سوله چې د قاضي په حضور شاهدي اداء کړي، نو که مجلس د قاضي نژدې و، نو اجابت يې واجب دی او که لېرې و بیا واجب نه دی.

دروښ وایي: چې اندازه د قرب يې بعض فقهاو رح دا بیان کړې ده چې شاهد چې مجلس ته د قضاء تللي وای او شاهدي يې اداء کړې وای په دغه ورځ بیرته کورته را رسېدی، نو دا قریب دی، او که نه سوای رسېدلای نو دا بعید دی پر دوئ واجب نه ده چې اداء ته د شاهدئ په ورځي لقوله تعالی ولایضار کاتب ولاشهید، البته مندوب ده لقوله علیه الصلوة والسلام انصر اخاک ظالما او مظلوما.

مسئله: که شاهدان سپین ږېري وه یا ناجوړې وه، نو طالب د شاهدئ دوئ پخپل موتر کي مثلاً بوتله نو شاهدان نه دي ګناه کاره، او که طالب د شهادت خپل موتر هم نه درلودی او خای د قضاء في الجملة لېرې و نو طالب د شهادت وشاهدانو ته یو یا دوه خره مثلا ورکرایه او یا موتر ورکرایه کړی سلیمان علیه السلام وایي شهادت يې نه قبلېږي لکن شیخ ابن الهمام په فتح القدیر کي دا خبره رد کړې ده وایي چې اکرام د شاهدانو لازم دی شرعا وهذا من نوع

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

الاكرام لهم فيصح شهادتهم.

مسئله: که طالب د شاهدانو پخپل کور کې دوديږ او مهماني جوړه کړې وه، نو که دمخه تر طلب د شهادت دا مهماني جوړه کړه سوې وه، نو د شاهدانو شهادت صحيح دی او که يې صرف د شاهدانو لپاره دا مهماني جوړه کړې وه نو د شاهدانو شاهدي نامنظوره ده لانه کالرشوة اليهم على الشهادة، او دا هم قول د ابو حنيفه رحمه الله دی، او له امام محمد رحمه الله څخه روايت دی چې په دواړو صورتونو کښې شاهدي مردوده ده، او امام ابو يوسف رحمه الله وايي چې په دواړو صورتونو کې شهادت صحيح دی، ابن الهمام رحمه الله وايي وهو الاوجه للعادة الجارية بالاطعام عند اهل المروة لمن حضر دارهم شهوداً كانوا او غيرهم نعم كه اطعام د شهود له خوا مشروط و، نو اجرت او رشوت پر شهادت حرام على الشاهد اكله وعلى المشهود به اعطائه، قال عليه السلام الراشي والمرتشي في النار رواه الطبراني رحمه الله.

وَلَا تَسْـَٔمُوٓا۟ أَن تَكْتُبُوهُ صَغِيرًا أَوْ كَبِيرًا إِلَىٰٓ أَجَلِهِۦ

او تاسې اې پور ورکونکو مبه ستړي کېږي يعنې په سبب د ډېروالي د معاملاتو ستاسې په پور له دې څخه چې تاسې نوشته کوئ خپل پور او اجل وغيره په کاتب سره.

پوه سه: چې د ان تكتبوه سره كلمه د من مقدر ده كما اشرت اليه بقولي له دې څخه كه هغه حق او پور كوچنی يعنې لږ وي او كه غټ يعنې ډېر وي نو مدې پورې.

پوه سه: چې د الى متعلق محذوف دی او هغه متعلق حال له ضمير څخه تكتبوه فالمعنى مضافا ومنصوبا ذالك الحق يعنې پور په خط كې و اجل ته بمعنى تكتبوا الحق مع الاجل المقرر.

ذَٰلِكُمْ أَقْسَطُ عِندَ ٱللَّهِ وَأَقْوَمُ لِلشَّهَٰدَةِ وَأَدْنَىٰٓ أَلَّا تَرْتَابُوٓا۟

پوه سه: چې "ذالكم" ومصدر ته د "ان تكتبوه" اشاره ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: مصدر ده ان تکتبوه خو کتابت دی نو په ذا مذکر سره اشاره څرنګه ورته وسوه؟

ځواب. کتابة مصدر دی و مصدر ذوالتاء اشارة په مذکر او مونث دواړو روا ده، او داغه رنګه ارجاع د ضمیر مذکر او مونث ورته روا ده، او بعض حواشي و د بعض کتابو چې مصدر په ذو التاء سره نه مقید کړي هغه سهوه ده، ولې چې ارجاع د ضمیر مذکر خو په تاویل د مصدر په حدث سره او ارجاع د ضمیر په اعتبار د لفظ روا ده، هکذا قالوا نو کله مصدر ذو التاء نه وي نو مونث ضمیر په کوم اعتبار ورته روا دی، صرح بما قلت في بعض حواشي خلاصة الحساب وغیره فتذکر فان هذا سانح عزیز. وقد اشار صاحب روح البیان الی دفع سوال ارجاع الضمیر بقوله ای کتب الحق الی اجله، یعني اول الکتابة بالکتب وهو مصدر بمعنی الکتابة. نو معنا د آیت مبارک داسي ده چې دغه کتابت ای مؤمنانو اعدل دي په نېز د خدای ﷻ، یعني په حکم کې د خدای ﷻ او دا کتابت نښه کومک شاهدانو لره پر اداء د شاهدی عند الحاکم او دا کتابت نژدې دی ونفي ته د شک ستاسي في جنس الدین یعني چې پور نقدي روپۍ دي او یا مکیل دی لکه په سلم کې، او په مقدار کې د پور او په اجل کې د پور او په شاهدانو کې، یعني شاهدان څوک دي ولي دا شیان ټوله په خط کې درج دي، قال الله تبارک وتعالی.

إِلَّا أَن تَكُونَ تِجَارَةً حَاضِرَةً تُدِيرُونَهَا بَيْنَكُمْ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَلَّا تَكْتُبُوهَا

بوه سه: چې دا استثناء منقطع ده من الامر بالکتابة فالمعنی لکن وقت تجارتکم تجارة حاضرة یعني بحضور البدلین وقت التبایع، چې تاسي دا تجارت دائر کوي په منځ کې خپل یعني بتبایع او تجارت یدا بید وي، نو نسته پر تاسي ګناه په دې کې چې ددغه تجارت یداً بید خط نه کړي نوشته. ولې چې په داسي تجارت کښې تنازع او هېره ډېره لهري ده، بعض فقهاء وایي چې فائده د کتابت داده په حق کې د شاهدانو چې هغه واقعه چې دوئ پکښې شاهدان وي د خط په ذریعه به دوئ ته ورپیاد سي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله که شاهدانو خپلي امضاء او دستخطونه په هغه کاغذ کي وليدل، نو دوئ ته شاهدي اداء کول په دغه قدر سره نه ده روا مگر هغه وخت روا ده چې واقعه ورپياد سي، کذا ذکره القدوري وغيره لان الخط يشبه الخط، وقال صاحب الهداية وهذا قول ابي حنيفة رحمه الله وعندهما يجوز للشاهد ان يشهد بمجرد رؤية خطه وان لم يتذكر الواقعة لان مشابهة الخط للخط من كل الوجوه في غاية الندرة فتكون كالعدم، الا ترى ان الصحابة رض والتابعين رح كانوا يعملون على كتب النبي ﷺ وخلفائه كما يعملون على خطاباته ﷺ وعلى خطاباتهم رض يعني بالسماع والمشاهدة والله اعلم بالصواب اليه المرجع والمآب.

وَأَشْهِدُوٓا إِذَا تَبَايَعْتُمْ ۖ

او تاسي شاهدان دروئ په هغه وخت کي چې بيع کوئ، قال بعض العلم الاشهاد واجب که بيع په نقدو روپو او که په پور وي، ابو سعيد الخدري رض وايي چې اشهاد لپاره د ندب دي. ولي چې دې خله به عليه السلام شی رانيوی او اشهاد به يې نه کاوه، وروى احمد بسنده عن عمارة بن خزيمة عن عمه وهو من اصحاب النبي ﷺ چې يو وخت نبي ﷺ د يو صحرائي څخه آس رانيو يعني په نقدو روپو، نو عليه السلام په تلوار سره کور ته ولاړی چې صحرائي ته د آس ثمن راوړي، او د صحرائي دا خيال سو چې عليه السلام وخندېدی. او نور صحابه کرام رض پيدا سوه چې په دې نه وه خبر چې عليه الصلوة والسلام دا آس رانيولی دی، نو د اعرابي څخه يې آس بيع کړی، او بعض کسانو د آس په قيمت د عليه السلام ترقيمت بالا روپۍ وملي، نو اعرابي وعليه الصلوة والسلام ته ورناري کړې چې ته که آس رانسي ژر راسه ورنه زه يې پر بل سړي خرڅوم، نو عليه السلام چې دا نعره د اعرابي واوريدله را ولاړ سو، او اعرابي ته يې وويل چې آس خو ما له تا څخه رانيولی دی، اعرابي ورته وويل لا والله ما بعتک، او عليه السلام ورته وويل بلى قد ابتعته، نو اعرابي وعليه السلام ته وويل چې شاهد راوله چې شاهدي اداء کړي انی قد بايعتک، نو صحابه کرامو رض وصحرائي ته وويل دی يعني عليه السلام نه وايي مگر حق

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې دا صحرائي غالبا کافر و، ولې چې د علیه السلام تکذیب سې په دې خبره کې وکړی چې علیه السلام وده ته وکړه قد انتعته منک او صحرائي ورته وویل لا والله بیله کافره بل څوک داسې خبره نه سې کولای، خیر په دې دوران کې خبرو د علیه الصلوة والسلام او د صحرائي خزیمه بن ثابت انصاري ﷺ واړېدلې، نو خزیمه وویل زه شاهد یم چې علیه السلام دا آس له تا څخه رانیولی دی، نو علیه السلام وخزیمه ته وویل چې ته خو په وخت کې د بیع زما او د صحرائي حاضر نه وې، نو تا له څه رویه شاهدي اداء کړه، خزیمه ورته وویل چې په وخت کې د نزول د وحي پر تاباندې خو هم زه حاضر نه یم نو دي ولې زه تصدیق کوم په هغه اسماني خبرو کې، نو علیه السلام د خزیمه ﷺ شاهدي د دوو کسانو پر ځای د همېشه لپاره ودرول.

فائده: پوه سه چې علیه الصلوة والسلام چې له اعرابي څخه آس وګرځاوه په دې سبب چې دده یقین و چې ما آس رانیولی دی او اعرابي درواغ وایي، لا بشهادة خزیمة وحده.

پوښتنه: نو ولې علیه السلام شاهدي د خزیمه د دوو کسو شاهدي وبلل؟

ځواب: هغه له دې وجهې د دوو کسو شاهدي وګرځوله چې د خزیمه کمال د ایمان او قوت د عقل دده او لویه پوهنه دده یې ولیدل.

تفریع: له دې څخه دا خبره معلومه سوه چې قاضي که په حق خبر و دته روا ده چې موافق د خپل علمه سره حکم وکړي، ولې چې د قاضي خپل یقین بالا دی تر هغه ظن چې په شاهدي د دوو شادانو ده ته پیدا کېږي، نو ځکه ابوبکر ﷺ پر فاطمه ﷺ باندې حکم وکړی چې تاته میراث د علیه السلام نه درکوم په هغه حدیث سره چې ابوبکر ﷺ له علیه السلام څخه اوربدلی و نحن معشر الانبیاء لانورث، رواه اصحاب السنن.

مسئله: که د سلطان یا قاضي یا بل حاکم په شرط ددې چې عدل وې که یې له چا څخه شی رانیوی او یا یې پر چا پور باندې و او هغه منکر و جبراً دې څندې واخلي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې دا مسئله که څه هم مظهري رحمه الله راوړې ده لکن دا مسئله دې ملايان نه شائع کوي ولي چې ددې مسئلې په اساس د اوسنۍ زمانې ظالمان حکام او رشوت خواره قاضيان د خلګو څخه په زور او جبر روپۍ وغيره اخلي ولنعم ماقال الزمخشري في تفسيره.

قضات زماننا صاروا لصوصاً عموماً في القضايا لاخصوصا
نخاف منهمو لو صافحو نا للصوا من خوا تمنا خصوصاً

دروښ وايي: ولهذه الفائدة زدت في نقل قول المظهري قولي په شرط ددې چې عدول وي، قال عز من قائل

وَلَا يُضَآرَّ كَاتِبٌ وَّلَا شَهِيْدٌ ؕ

پوه سه: چې دا صيغه يعني لايضار احتمال د معلومي صيغې لرې چې اصل يې لايضارر دی نو معنا يې داده چې ضرر دې نه رسوي کاتب او نه شاهد و ومتبايعينو ته که ترک د اجابت د کتابت او د شاهدي وکړي چې دی متعين وي لپاره د کتابت او شاهدي او يا ضرر ورسوي شاهد يا کاتب په تحريف او تغيير سره په کتابت او شاهدي، او دا هم احتمال لرې چې صيغه مذکوره دې مجهوله وي يعني اصل يې لايضارر وي نو معنا د آيت داده چې متبايعان دې ضرر نه رسوي وکاتب ته چې مزدوري د کتابت نه ورکوي، او نه شاهد ته چې هغه مريض وي يا ضعيف وي، او دی متعين لپاره د شاهدي نه وي بلکه نور شاهدان وي په واقعه کې د تبايع پيدا کړي.

وَاِنْ تَفْعَلُوْا فَاِنَّهٗ فُسُوْقٌۢ بِكُمْ ؕ

او که تاسي وکړی ما نهيتم منه من الضرر، نو په تحقيق دا ستاسي د نسق او خروج دی له طاعت څخه د خدای ﷻ دليل دی.

وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ وَيُعَلِّمُكُمُ اللّٰهُ ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِيْمٌ ۝۲۸۲

او له خدای ﷻ څخه ويريږئ په ترک کې د اوامرو د خدای ﷻ او يا په کولو کې د منهياتو د خدای ﷻ. او خدای ﷻ تاسي ته دربيي مصالح د دنيا او آخرت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ستاسي، او خدای ﷻ په هر شي خبر دی، چي نه جملي څخه د هغه شیانو ستاسي فوائد د دنیا او آخرت دي فینبغي للعاقل الاعتصام بحبل الله المتین

وَإِنْ كُنْتُمْ عَلَىٰ سَفَرٍ وَّلَمْ تَجِدُوْا كَاتِبًا فَرِهٰنٌ مَّقْبُوْضَةٌ ؕ

او که تاسي پر سفر واست او کاتب مو نه کړی پیدا نو د مدیون څخه دي رهن یعني گرو واخستل سي.

پوه سه: چي رهن په لغت کي حبس ته وایي او په شرع شریفه کي نوم دی د هغه شي چي بنډ وي د صاحب الحق سره ددي لپاره که حق و صاحب ته نه ورسېږي د هغه محبوس شي څخه به استیفاء د خپل حق وکړي، او هغه گرو شی به مقبوض د صاحب الحق وي.

پوه سه: چي د مقبوضه قید له کبله امام اعظم، امام شافعي او امام احمد رح وایي چي نه لازمېږي رهن بېله قبض یعني په نفس عقد نه لازمېږي. او امام مالک رحمه الله وایي چي رهن په نفس عقد لازم دی یعني یجبر الراهن علی تسلیم الرهن بعد العقد ودلیل الائمة ح الثلثة المذکورین نص القرآن بالقبض.

دروېش وایي: چي امام مظهري رحمه الله دخپل عادت سره سم مسئله د رهن په دري مخه کي سره د نقض او ابرام څېړلې ده، چونکه د دروېش عادت همېشه پخپل تفسیر د فقه شریفي مسئلي او بیان د مذاهبو سره د دلائلو او نقض وجواب را وړه نه دي، نو ځکه دروېش هغه تفصیل د مسائلو د دین و مرحوم مظهري ته پرېښوله، ولي مطالعه کونکي د تفسیر د دروېش چي عمومي طالبان دي او یا د مساجدو خطیبان او امامان دي د هغه تفصیل څخه کومه فائده نه سي تر لاسه کولای.

فَإِنْ أَمِنَ بَعْضُكُمْ بَعْضًا فَلْيُؤَدِّ الَّذِي اؤْتُمِنَ أَمَانَتَهُ وَلْيَتَّقِ اللّٰهَ رَبَّهُ ؕ

او که بعض پور ور کونکو بعض پورورې امین وګڼله او په سبب د امین ګڼلو یې خط نه خندي واخستی، او ګرو یې هم نه خندي واخستی، نو باید

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

هغه پوروړی چې دائن آمین وبالله خپل امانت یعنې پور دې و دائن ته ورکړې، او پوروړې د له خدایه وبېرېږي په خیانت او انکار کې د حق د دائن، په حدیث شریف کې چې روایت یې انس ؓ کړی دی او بیهقي په شعب الایمان کې راوړی دی انس ؓ وویل فلما خطبنا رسول الله ﷺ الا قال لا ایمان لمن لا امانة له ولا دین لمن لا عهد له، او په حدیث شریف کې د منافق په علاماتو کې یوه دا خبره راغلې ده، اذا اوتمن خان.

وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ وَمَنْ يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿٢٨٣﴾

او تاسې یعنې ای شاهدانو مه پټوئ شهادت خپل یعنې که چېرې مدیون خیانت کاوه یا له حق څخه د دائن یې انکار کاوه، او که چا پټه کړه شاهدي په حق سره نو دغه پټونکی ګناه کار دی زړه دده.

پوه سه: چې د اعراب په باره کې "قلبه" فاعل دی د "اثم" او یا قلبه مبتداء ده اثم یې خبر مقدم دی، وعلی التقدیر الثاني ټوله جمله خبر ده ان ده، روح البیان داسې سوال کړی دی ولې اقتصار ونه کړه سو پر یوازې "فانه اثم" یعنې د کاتم الشهادة ګناه کاره دی، او څه فائده وه په ذکر کې د قلب، او بیا یې خواب ورکړی دی چې محل د کتمان چونکه زړه دی او کتمان د زړه کار دی نو ځکه یې اسناد د اثم وزړه ته وکړی تاکیدا کما یقال رئیته بعیني وسمعته باذني وحفظته بقلبي، او بله وجه د اسناد وزړه ته دا هم ده چې زړه رئیس د اعضاو د بدن دی او د زړه افعال ډېر غټ دي، ولهذا روی البخاري ومسلم عن النعمان بن بشیر ؓ قال رسول الله ﷺ ان في جسد بني آدم لمضغة اذا صلحت صلح الجسد کله واذا فسدت فسد الجسد کله الا وهي القلب.

دروېش وایي: لکه چې حیوة د ټولو اعضاو د بدن په محسوسه توګه په زړه پورې مربوط دی او دغه موت حسي د بدن هم په زړه پورې تړلی دی، یعنې تر څو چې زړه ژوندی وي د بدن اعضاء به ټوله په حیات معنوي ژوندي وي، او که زړه خپل حیوة معنوي له لاسه ورکړي د ټولو اعضاو حیوة معنوي هم له منځه ځي، او خدای ﷻ خبر دی په هغو اعمالو چې تاسو یې کوئ، یعنې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ په تاسي ته جزاء د ټولو عملو درکوي په ورځ کي د قیامت ان خیرا فخیر وان شر فشر

فائده: له دې آیت څخه دا صراحةً وفهمیده چي کتمان د شهادت حرام دی. او اداء د شاهدی فرض ده که څه هم مشهود له د شاهد څخه طلب د شهادت ونه کړي هغه وخت چي شاهد ووینې خصومت په منځ کي د مشهودله او مشهود علیه.

مسئله: که مشهودله په شهادت د شاهد نه و خبر یعني په وخت کي د عقد مشهودله شاهد نه و لیدی، نو پر شاهد لازمه ده چي مشهود له خبر کړي چي زه په فلانی موضوع کي ستا و د فلاني حاضر وم او ستا شاهدیم.

سوال: په سابق بیان کي تا وویل په رښا د آیت مذکوره چي اداء د شاهدي فرض ده که څه مشهود له د شاهده څخه طلب د شهادت ونه کړي آه. او سره له دې چي په یو حدیث طویل کي چي روایت يې عمران بن حصین ﷺ کړی دی په یوه حصه کي داسي راغلي دي چي علیه السلام داسي وویل "ثم ان بعدهم" ای بعد خیر القرون چي دمخه په حدیث کي ذکر سوي دي "قوما یشهدون ولا یستشهدون" دا خو علیه السلام په ذم کي ددغه قوم وویل، نو آیا ستاسي د خبري او د حدیث تر منځ به منافات نه وي؟

ځواب: مراد زما په خبره کي خو شهادت بالحق دی، او په حدیث شریف کي مراد شهادت بالباطل او کاذب شاهدي ده بقرینة مابعده ویخونون ولا یوتمنون ویندرون ولا یوفون، او په روایت کي د عمر ﷺ چي روایت يې نسائي کړی دی صراحةً دا جواب فهمیږي حیث قال ﷺ ثم یظهر الکذب حتی ان الرجل لیحلف ولا یستحلف ویشهد ولا یستشهد.

دروښ وایي: چي داسي روایات نورهم دیر دي متفق علیها وغیرها سته، یو له دې حدیثو څخه دا معلومه سوه چي د علیه السلام په مقام کي د ذم الشهادت بالباطل مراد دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ

او خدای ﷻ لره دي هغه شیان چې په اسمانو کې دي، او هغه شیان چې په مځکه کې دي ملکاً وخلقاً وعبیداً که اجزاء د اسمانو وي او یا د اسمانو له ماهیته څخه خارج شیان لکه ملکي، ستوري، جنتونه، بیت المعمور، بیت الغرة الی غیرها او د مځکې اجزاوې یا په داخل کې د مځکې وي او اجزاء د مځکې نه وي لکه معدنیات من الذهب والفضة والجواهرات وغیرها او که د مځکې پر مخ وي لکه حیوانات او نباتات او میوه جات وغیرها، ولا شرکة لغیره تعالی في خلقتها بوجه من الوجوه فلا تعبدوا ایها الناس الا ایاه ولا تعصوه فیما یامرکم به وینهاکم عنه.

وَاِنْ تُبْدُوْا مَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ اَوْ تُخْفُوْهُ

او که تاسي ښکاره کړئ هغه شی چې ستاسي په زړونو کې وي، او یا یې پټ وساتئ او چاته یې نه اظهار وئ.

پوه سه: چې مراد د مافي انفسکم څخه هغه رزائل عملونه لکه نفاق، ریاء، وسمعة عصبیة، حب الدنیا، کبر، عجب، طول امل و الحرص علی الدنیا من الحلال والحرام وترک التوکل علی اللّٰه ﷻ والحسد، والحقد وترک الصبر في الفقر والمرض والمصائب ونحو ذالک من خبائث افعال القلوب والنفوس، احادیث نبویه عن جبیر بن مطعم ؓ کما رواه ابو داؤد رحمه الله لیس منا من دعا الی عصبیة ولیس منا من مات علی عصبیة.

پوه سه: چې عصبیة بې ځایه او په روا او ناروا کې عزیز ګلوی ته وایي لکه زمونږ په پښتنو کې چې رواج ده، په چا کې لږ او په چا کې دېره او په چا کې تر حده ټپره، وفي الحدیث متفق علیه عن حارثة بن وهب ؓ الا اخبرکم باهل الجنة کل ضعیف متضعف، لو اقسم علی الله لابره، آیا زه تاسي ته خبر درنه کړم په اهل د جنت هر ضعیف سړی یعنې په دنیایي حالاتو کښې، او چې خلګ یې هم ضعیف ګڼي لکن پر خدای ﷻ دونده اعتبار لري چې که پر یو

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

شي قسم واخلي خداى ﷻ يي نه حانشوي، يو شاعر په بيان كي ددغو خلگو داسي وايي

بر فلک بر تر بود اسرار او شيئًا لله كار او

او بل شاعر وايي

گفته او گفته الله بود گرچه از حلقوم عبد الله بود

او بل شاعر داسي وايي

انانكه زره وار بصورت محقر اند فردا از خيال وناز بفردوس ننگرند

قال صلعم الا اخبركم باهل النار كل عتل، يعني ډير سخت او غليظ طبعيت "جواظ" بعض وايي چي مال جمع كونكى وي او هيڅ چاته يې نه وركوي. او بعض وايي په بدن چاغ او خيالور، او له حصن بصري رحمه الله څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وويل حب الدنيا راس كل خطيئة، رواه البيهقي في شعب الايمان، او د انس رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وويل حب ابي بكر وعمر ايمان وبغضهما نفاق، كما في الشعبة اليوم رواه ابن عدي، وروى جابر رضي الله عنه عن النبي ﷺ حب ابوبكر وعمر من الايمان وبغضهما كفر.

دروېش وايي: كما في الشيعة واقوام هزاره وغيرهم "وحب الانصار من الايمان وبغضهم كفر.

دروېش وايي: كما في فرق الضلال المعروفة وحب العرب من الايمان وبغضهم كفر، ومن سب اصحابي فقد كفر.

دروېش وايي: چي عموما كان السب او خصوصا فعليه لعنة الله، ومن حفظني فيهم، كه چا مراعات زما وكړى په باره كي زما د اصحابو رضي الله عنهم فانا احفظه يوم القيامة رواه ابن عساكر رحمه الله، وعن النبي ﷺ برواية المظهري حب علي رضي الله عنه عبادة، له عطية سعدي څخه روايت دى ان الغضب من الشيطان، رواه ابو داؤد وعن بهز بن حكيم مرفوعا ان الغضب يفسد الدين والايمان كما يفسد الصبر العقل رواه البيهقي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي چې بعض عوام وايي په وخت کې د غضب (ستا دين وغيم) نعوذ بالله عن ذالک، بعض عوام په وخت کې د غضب وايي چې (خدای راته ووايي زه دا فلانی کار والله که وکړم) نعوذ بالله عن هذا القول وامثال ذالک کثيرة في العوام ولاشک انهم يکفرون بذالک.

پوه سه: چې صبر بفتح الصاد وکسر الراء يوه ډېره ترخه ژړا ده د يوې درختي، وروى البيهقي مرفوعاً عن عمر بن شعيب بسنده ان اول صلاح هذه الامة اليقين والزهد و اول فسادها البخل، والامل، وروى احمد رحمه الله عن سعد رضي الله عنه قال رسول الله ﷺ من سعادة ابن آدم رضاه بما قضى الله ومن شقاوة ابن آدم سخطه بما قضى الله.

دروښ وايي چې په مهلکاتو کې ډېر آحاديث صحيحه مروية عن رسول الله ﷺ سته وفيما ذکرناه کفاية لمن عقل عن الله عزوجل.

يُحَاسِبْكُم بِهِ اللَّهُ فَيَغْفِرُ لِمَن يَشَاءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَاءُ ۗ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٨٤﴾

نو ستاسي سره حساب کوي خدای ﷻ يعنې په ورځ د قيامت، نو که حساب د صرف وي چې حساب يسير يې بولي نو هغه بخښنه کوي وهغه چاته چې اراده د بخښې ورته لري، او يا به حساب د مناقشه او سختۍ وي، نو په عذابوي هغه سړی چې اراده د تعذيب ورته لري، او خدای ﷻ پر هر شي قادر دی من المغفرة والتعذيب وغير ذالک هيڅ حق د اعتراض پر خدای ﷻ څوک نه لري، حتى ان شاء عذب على الصغيرة وان شاء غفر الكبيرة من غير توبة، وفي التفسير التيسير چې له ظاهر څخه ددې قول د خدای ﷻ او تخفوه" دا معلومېږي چې پر افعال قلوب هم مواخذه سته.

والتفصيل چې تېنګ قصد د کفر کفر دی، او په زړه کې راګرځېدل د ګناه بېله عزمه عفوه دي، او عزم د ګناه چې پر دې عزم وروسته پښېمانه سي او رجوع خندي وکړي او طلب د مغفرت له خدای ﷻ څخه وکړي "مغفور دی"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او که چا قصد وکړی د یوې ګناه لکه زنی مثلا ییاد هغې ګناه یو مانع وریښې سو ښله اختیاره دده لکن دی پر هغه قصد ټینګ و، نو دې سړي ته څو عذاب د فعل د زنی نسته، ولې څو زنی یې نه وکړه. اختلاف په دې کې دی چې پر هغه قصد د زنی خدای پاک عذاب ورکوي او که نه؟ بعض علماء ؒ چې هغه قصد د ده عفوه دی لقوله علیه السلام ان الله قد عفی لامتي عما حدثت به انفسها مالم یعمل" یعنې که عملي شی و لکه زنی او "یتکلم" که د خبرو ګناه وه لکه غیبت او بهتان لکن اکثر علماء پر دې دي چې قصد د ګناه چې بلا اختیاره دده په یوبل مانع دده پاته سوه معفو نه دي، او حدیث مبارک دوی محمول پر دې بولي چې صرف یو فکر د ګناه یې پر زړه ورګرځي درچې ته د قصد نه وي رسېدلی، کذا قال الامام ابو منصور الماتریدي ؒ انتهی مافي التیسیر.

مسئله: د پر څله یو سړی په یوه ګناه لکه قتل، زنی او شرک که څه هم دی یې نه وکړي شامل وي هلته چې دی په دغه قتل یا زنی د عمل کونکي راضي وي، او دی د پر سخت حریص وي پر هغه فعل له عامل څخه، او په صحیح حدیث کې راغلي دي "من حضر معصیة فکرهها فکانما غاب عنها ومن غاب عن معصیة فرضیها کان کمن حضرها" که څوک په ګناه کې د یوه چا حاضر و لکن بد یې ښدي راته ګویا دی حاضر نه و، او که څوک په ګناه کې د یو چا حاضر نه و لکن په راضي و ګویا دی پکښې ورته حاضر دی، وفي حدیث صحیح آخر من احب قوما حشر في زمرتهم" که د یو چا خوښ و او محبت یې وزمره درلودی له یو قوم سره د هغو نه ولې کې به په ورځ د آخرت حشر کېږي، اللهم ارزقنا حب حبیبک ﷺ وحب من یحبک وحب عمل یقربنا الی حبک، سعدي ؒ

گر نشیند فرشته باد یو — وحشت آموز دو خیانت وریو
از بدان نیکویي نیاموزي — نه کند ګرګ پوستین دوزي

فائده: اهل سنت والجماعت پر دې خبره متفق دی چې په ورځ د قیامت حساب د معاصي قلبیه وو او بدنیه وو حق دی، او عذاب ورکول د خدای ﷻ پر صغائرو ګنهو او پر کبائرو هم حق دی، لکن پر خدای ﷻ واجب نه دی، بلکه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په مشیت او اراده کې د خدای ﷻ دی چناچه طاؤس رحمه الله له ابن عباس رضي الله عنهما څخه داسې روایت کړی دی، چې خدای ﷻ بخښنه کوي لمن یشاء الذنوب الکبیرة سواء تاب عنه المذنب او لم یتب، او عذاب خدای ﷻ ورکولای سي لمن یشاء علی الذنب الصغیر لانه تعالی مالک الملک لایسئل عمایفعل وهم یسئلون. او معتزله او روافض له حساب څخه بېخي منکر دي، دوئ وایي چې خدای ﷻ ته هر شی معلوم دی نو حساب ته څه ضرورت دی، او معتزله او نور اهل هوا. وایي چې تعذیب د عصات پر خدای ﷻ واجب دی، مونږ اهل السنت والجماعة وایو چې دغه مذکور آیت او نور آیات قرآنیه او احادیث نبویه ددغو اهل الاهواء د مذهبو رد کوي او زمونږ لپاره دلائل دي، وروی الترمذي بسنده عن عائشة رضي الله عنها دا وایي چې یو سړی راغلی او د علیه السلام په حضور کې کښېنستی او ورته وه یې ویل یا رسول الله ﷺ زه مریان لرم چې زما خبری درواغ بولي او زما سره خیانت کوي او زما نافرماني کوي، او زه هم بنکنځل ورته کوم او هم یې وهمه نو زما او ددوئ به څه حال وي یعني په ورځ د قیامت، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې ورځ چې د قیامت سي حساب به وسي ددوئ د خیانت ستا سره او ددوئ د عصیان ستا څخه او ددوئ د تکذیب تا لره او حساب به وسي ستا د عقاب دوئ لره، نو که عقاب ستا دوئ لره په قدر د ګنهو ددوئ و، نو سره مجرا به سي نه ستا ګټه ده او نه ستا تاوان، او که عقاب ستا دوئ لره کم و د دوئ تر ګنهو نو ستا به حق پسې ورسي، او که عقاب ستا دوئ لره بالا و د دوئ تر ګنهو خدای ﷻ به ستا څخه حساب واخلي د بالابود یعني عذاب به درکړي، او په بل حدیث کې چې متفق علیه د بخاري او مسلم دی، له عائشة رضي الله عنها داسې روایت راغلی دی چې علیه السلام یوه ورځ وویل چې هیڅ څوک داسې نسته په ورځ د قیامت چې حساب ورسره وکړه سي مګر هغه هلاک کېږي یعني عذاب به وړکول کېږي، عائشه رضي الله عنها وایي چې نو ما رسول الله ﷺ ته وویل "اولیس الله تعالی یقول فسوف یحاسب حسابا یسیرا" آیا خدای ﷻ داسي نه دي ویلي چې زړ دی چې حساب

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

یسیر به ورسره وکړه سي، نو علیه السلام وویل "انما ذالک العرض" چې حساب یسیر څو عرض او وړاندې کول د ګنهو دی، یعني لکه په یو بل صحیح حدیث کښې چې راغلي دي خدای ﷻ خپل بعض بندګان په کنف او حجاب کې د نورو خلګو څخه جلا پټ کړي او ورته ووایي "اتعرف ذنب کذا فیقول یارب نعم حتی یقرره بذنوبه" چې په ټولو ګنهو هغه بنده اقرار وکړي، نو خدای ﷻ ورته ووایي "سترتها علیک في الدنیا وانا اغفرها لک الیوم فیعطی کتاب حسناته" ما دا ګنهونه ستا پټ کړي پر تا په دنیا کې یعني څوک مې نه دی در خبر کړی او زه یې نن وتاته دربخښمه، نو عمل نامه د نېکۍ یې په لاس ورکړي، او علیه الصلوة والسلام وعائشې ﷺ ته وویل "ولکن من نوقش في الحساب یهلک" او کد له چا سره مناقشه وسول په حساب کې یعني استیفاء د ټولو ګنهو صغائرو او کبائرو ورسره وسوه په حساب کې نو هغه سړی هلاک کېږي یعني جزاء به وویني او کما قال رسول الله ﷺ في الحدیثین.

دروېش وایي: د حدیثو په رڼا کې بعض مؤمنان په ورځ د قیامت بېله حسابه به جنت له ځي، چناچه یو حدیث د اسماء بنت یزید ﷺ څخه روایت دی چې علیه السلام وویل چې خلګ به ټوله په یوه مخکه کې په ورځ د قیامت سره یو خای کېږي، نو یو نعره ګونکی به نعره وکړي "این الذین تتجا في جنوبهم عن المضاجع فیقومون وهم قلیل فیدخلون الجنة بغیر حساب ثم یؤمر سائر الناس الی الحساب" رواه البیهقي

ترجمه: چېرې هغه کسان چې بغلونه یې پورته وه د پروتې له خایو څخه یعني د شپې چې د شپې عبادت ګونکي کسان دي، نو بعض خلګ به ولاړ سي او هغه کسان به لږ وي، نو به جنت له داخل سي بې حسابه، وفي حدیث صحیح متفق علیه ابن عباس ﷺ روایت کړی دی چې علیه السلام وویل "یدخل الجنة من امتي سبعون الفاً بغیر حساب هم الذین لایسترقون ولا یتطیرون وعلی ربهم یتوکلون" جنت له به داخلېږي زما له امت څخه او یا زره

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

(۷۰۰۰۰) کسه بیله حسابه. او دا په هغه کسان وي چي طلب د رقیه یعني دده دم یا تعویز نه کوي او نه په شي سره بد فالي کوي او خاص پر خدای ﷻ یې توکل وي. وعن ابي امامة ؓ قال سمعت رسول الله ﷺ وعدني ربي ان یدخل الجنة سبعین الفاً من امتي لاحساب ولا عذاب مع کل الف سبعون الفاً الی اخیر الحدیث رواه احمد الترمذي وابن ماجه

دروښ وایي: والله اعلم چي له کسانو څخه په مراد کوم کسان وي، او بعض مفسرین چي په توجیه عنده تعیین د دغو کسانو کړی دی هغه د هغه مفسر حسن ظن په دغو کسانو کي دی په هغو دوو اولو حدیثو کي خو علیه الصلوة والسلام تعیین د صفت د هغو وکړی یعني په اول حدیث کي په الفاظو "الذین تتجافی جنوبهم آه" او په دویم حدیث په دغو کلماتو "هم الذین لایسترقون الخ.

پوه سه چي بخاري، مسلم، احمد او نورو محدثینورح روایت کړی دی له ابن عباس ؓ څخه چي څه وخت چي دا آیت نازل سو "ان تبدوا مافي انفسکم او تخفوه یحاسبکم به الله" په اصحابو کي ډیر سخت اضطراب واقع سو، نو دوی وعلیه السلام ته ورغله او زنګونه یعني پر هیئت د تشهد ورته کښېنستل، او وه یې ویل یا رسول الله ﷺ موږ خو مکلف سوو په هغو عملو چي موږ یې طاقت درلودی من الصلوة والصیام والجهاد والصدقة اوس نازله دغه آیت نازل سو ولانطیقها ددوی قصد دا و چي د "ماتخفوه" د حساب طاقت نه لرو. ولي چي له ما تخفوا خان سانته ډېره ګرانه ده نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي تاسي دا اراده لرئ چي تاسي ووایاست لکه اهل د دوو کتابو یعني تورات او انجیل والا چي من قبلکم وخپلو انبیاؤ ته به یې ویله "سمعنا وعصینا بل قولوا سمعنا واطعنا غفرانک ربنا والیک المصیر" نو څرنګه چي اصحابو کرامو ؓ دا کلمات پر ژبه جاري کړي او په یار یار یې ویلي، نو دا آیت خدای ﷻ وعم کرمه وفشت رحمته نازل کړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِنْ رَّبِّهٖ

تصدیق لري رسول یعني محمد ﷺ په هغه کتاب سره چې ودته نازل کړه سوی دی له جانبه څخه د رب ﷻ دده.

پوه سه چې مراد له ما انزل څخه ټوله آیات قرآنیه دي او مراد د ایمان څخه ایمان تفصیلي دی، دی په ټوله ما في القرآن سره من الشرائع والاحکام والقصص والمواعظ واحوال الرسل والکتب المنزلة علیهم وغیر ذالک من حیث انها منزلة تعالی، والایمان بحقیة احکام القرآن وصدق اخباره ونحو ذالک من فروع الایمان.

پوه سه: چې مراد له آمن الرسول څخه حدوث د ایمان نه دی یعني بعد ان لم یکن، ولي چې علیه السلام خو مؤمن و بالله و وحدانیة الله تعالی معصوما قبل النبوة من جمیع الذنوب والآثام کما هو معصوم منها بعد النبوة وان شئت تفصیل عصمت الانبیاء علیهم السلام قبل النبوة وبعدها فارجع الی رسالة العاصي کشف العظاء عن عمت الانبیاء وهي رسالة جامعة من کتب الاحادیث الشریفة وکتب العقائد لاهل السنت والجماعة وکتب فقهاء الائمة الاربعة وعلیها المضاءت العلماء المعتبرین والصوفیة الکرام، لکن مراد دلته په آیت کې ایمان بالقرآن دی فانه قبل نزوله لم یکن له ﷺ الایمان به کما قال الله تعالی ماکنت تدري ما الکتاب والایمان ای الایمان بالقرآن وایضاً قال الله تعالی وماکنت ترجوا ان یلقی الیک الکتاب کذا في روح البیان وغیره من التفاسیر.

وَالْمُؤْمِنُوْنَ ؕ كُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ

پوه سه: چې "مؤمنون" مبتداء ده ولفظ "کل" مبتداء ثان ده، والتنوین عوض د مضاف الیه څخه ای کل واحد منهم ولفظ "کل" خبر دی د "کل" او ټوله جمله خبر د مبتداء اول څخه ده یعني والمؤمنون، او رابط یې هغه ضمیر دی چې د تنوین پر ځای ودرېدی.

سوال: ضمیر د "آمن" خو مفرد دی او مرجع یې ټوله مؤمنان دي؟

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

خواب: مقصود دلته ایمان دی د هر فرد د مؤمنانو بدون ملاحظة الاجسام وبعبارة اخرى مرجع د ضمير د "آمن" خو لفظ د كل دى وهو مفرد لفظا وان كان يشتمل جميع المؤمنين، والمعنى چې مؤمنانو هر يوه له دوئ ايمان راوړى پر خداى ﷻ يعني پر وحدانيت د خداى ﷻ اى بان لاشريک له في الالوهية اى وجوب الوجود، لاكما قالت الثنوية بان للعالم الهين واجبي الوجود احدهما خالق الخيرات والاشياء النافعة وسموه يزدان والآخر خالق الشرور والاشياء الضارة وسموه اهرمن او شيطان ويرد قولهم قوله تعالى "لوكان فيهما الهة الا الله لفسدتا" والتقرير لهذا الاستدلال في كتب الكلام كشرح العقائد للعلامة التفتازاني وحاشية المولى الخيالي وفي شرح المقاصد ايضاً للتفتازاني والمواقف للقاضي عضد الملة والدين وشرح السيد الجرجاني رح، ولا شريک في العبودية كما قال به الوثنية اى المشركون.

وَمَلٰٓئِكَتِهٖ

او پر ملكو يې ايمان راوړى دى بانهم عباد مكربون لايعصون الله وهم بامره يعلمون. او ملكي نه ذكور دي مثلنا او نه بنځي دي، او مشركانو چې به وويل "الملائكة بنات الله مردود بالقرآن والآحاديث" او داغه ملكي پر مختلفو كارونو باندې د خداى ﷻ له خوا مسلطي دي چې يو د كارو يې توسط بين الله ورسوله باتيان الوحي.

پوه سه: چې ملائكه اعظم جندالله دي ولايعلم جنود ربک الاهو وما اوتينا من العلم الا اقل قليل.

وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ

او دوئ ايمان لري پر كتابو د خداى ﷻ چې ټوله من عندالله دي او حق دي چې تعداد يې يو سل او څلور (۱۰۴) ښوول سوى دى، او پر رسولانو د خداى ﷻ ايمان چې ټوله د خداى ﷻ له جانبه د عالم بشر د هدايت لپاره مبعوث وه چې تعداد يې د يو لک او څلورويشت زره په شاوخوا كې بيان سوى دى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بوه سه: چې رسول دلته په معنا مصطلح سره نه دی چې صاحب د شریعت متجدد به وي چې تعداد يې ډېر سوه دیارلس (۳۱۳) دی بلکه په معنا د مطلق نبي دی

سوال ایمان بالیوم الآخرة نه سو ذکر؟

ځواب: ایمان د یوم الآخرة مندرج دی په ایمان کې بکتبه لان الیوم الآخرة بین في جمیع الکتب الالهیة.

بوه سه: چې دا مذکور بیان پر تقدیر ددې و چې وقف پر "من ربه" باندې وکړه سي، او "والمؤمنون" کلام مبتداء سي واختاره ابو السعود في تفسیره.

او دا هم احتمال سته چې "والمؤمنون" دې عطف پر "رسول" وي نو وقف به پر "والمؤمنون" کېږي او "کل" به کلام مبتداء وي، او هغه ضمیر چې د کل سره مقدر و ورسول او مؤمنون دواړو ته راجع وي فحینئذ ذکر الله سبحانه ایمان الرسول والمؤمنون اجمالاً ثم فصل بقوله تعالی کل واحد من الرسول والمؤمنون وایي آمن بالله آه، واختار هذا الوجه الکواشي رحمه الله في تفسیره حیث قال والاختیار الوقف علی المؤمنین لیکون المؤمنون داخلین فیما دخل فیه النبي ﷺ ای الایمان.

پوښتنه: پر تفسیر د کواشي رحمه الله څو علیه السلام او مؤمنون په مؤمن به سره شریکان دي، نو ولي علیه الصلوة والسلام په مؤمن به چې ایمان په ماانزل آه تر مؤمنون دمخه کړه سو؟

ځواب: له دوو سببو یو څو علیه الصلوة والسلام اصل دی په مذکور مؤمن به کې او مؤمنان یې تابع دي دده، او بل سبب دا دی چې ایمان د علیه السلام څو تفصیلي و او بمشاهدة الوحي و، او د مؤمنانو دا غسي نه و.

دروښ وایي: چې یو بل سبب د تقدیم هم سته وهو ان یذهب عقل السامع الی کل واحد من العطفین والوقفین فتدبر.

لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِ ۚ

یعنې رسول او مؤمنان وایي چې موږ فرق نه کوو په منځ کې د یوه د

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

رسولانو په د معنا چې پر بعض ایمان لرو او په بعض سره کفر او انکار کوو لکه یهود او نصاری چې یې کوي، ولي چې یهود په عیسی او محمد علیهما السلام سره کفر کوي او له نبوت څخه یې انکار کوي، او نصاری له نبوت څخه د موسی او محمد علیهما السلام انکار کوي.

پوښتنه: د عربیت په کتابو کې وایي چې د بین لفظ ومتعدد ته مضاف ښودل لیس الا، او احد لفظ خو مفرد دی؟

ځواب: لفظ د احد چې په سیاق کې د نفي راسي په معنا د جمیع دی ای الآحاد

وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا

او وایي مؤمنان مونږ واورېدی ستا قول په سماع قبلو سره یعني زمونږ یقین دی په صحت ستا د قول، او مونږ فرمانبرداري کوو ستا د اوامرو او منهیاتو، په حدیث شریف کې راغلي دي چې تر دې خایه پورې چې آیت شریف را ورسېدی جبرائیل علیه السلام ته یې وویل چې خدای ﷻ ستا او د امت ثناء وایي یعني ستایش مو کوي، نو اوس سوال کوه چې مسول به درکول کېږي، نو علیه الصلوة والسلام وویل دا وروسته سوال یې وکړی چې خدای ﷻ یې په قرآن کې حکایت کوي

غُفْرَانَكَ رَبَّنَا

پوه سه چې غفرانک منصوب دی په فعل مقدر سره ای فطلب غفرانک او نسئال غفرانک، ای لما لایخلوا عنه البشر من التقصیر في اداء حقوق ربوبیتک ولو بترک الاولی او الاتیان بما لاینبغي فحینئذ یشمل غفرانک لرسول الله ﷺ ایضاً.

وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ ﴿٢٨٥﴾

او تا ته ده رجوع پسله مرګه او بعث یوم القیامة لا الی غیرک کما یدل علیه تقدیم الخبر فافهم.

لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا

او تکلیف نه کوي خدای ﷻ د یو نفس مګر په قدر د قدرت د هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې په دې آیت سره خدای ﷻ هغه اضطراب د صحابه کرامو ؓ دفعه کړی چې ودوی ؓ ته د هغه آیت په نزول سره ور پېښ سوی و "ان تبدوا ما في انفسكم او تخفوه آه" کمامر سابقاً په دې دول چې خدای ﷻ د "اوتخفوه" مراد په دې آیت کې ښکاره کړی چې مراد له "ماتخفوه" څخه نفس خواطر نفسیه نه دی چې له هغو څخه خان ساتنه دېره ګرانه ده بلکه مراد له ماتخفوه څخه عزم مصمم دی پر یوه ګناه چې له هغو څخه خان ساتنه دېره ګرانه نه ده ځو د عزم حساب کېږي وقد مر تفصیله نه له خواطرو، قال الله تعالى يريد الله بكم اليسر ولايريد بكم العسر.

فائده: قدرت دوه قسمه دی، یو قدرت موهومه بولي چې معنا یې داده چې د بنده په خیال کې دا وي چې زه پر فلاني کار قادر یم چې مبني ددې قدرت موهومه پر دې د چې د سړي اسباب او الات د هغه فعل پوره وي، او وبنده ته دلائل پر احکامو او اوامرو هم موجود وي خواه اعتقادیات وي او که اعمال الجوارح وي، او د عقائدو په کتابو کې وایي چې دا قدرت موهومه تر فعل دمخه په سړي کې موجود دی، او مدار د تکلیف الهي هم دغه قدرت متوهمه دی والا فلا يتصور الامتثال للاوامر الالهية والنواهي لان الامتثال فرع للعلم اى علم المكلف بكونه مكلفاً بالفعل او الترک فاذا لم يكن تلك القدرة المتوهمة مدار التكليف لم يكن للمكلف علم بانه مكلف قبل فعل، او بل قدرت حقیقي بولي یعني مستجمع د ټولو شرائطو د فعل دا قدرت مع الفعل دی.

تفریع: نو چونکه مدار د تکلیف قدرت متوهمه دی او هغه قدرت په قوم نوح کې او په فرعون او په ابو جهل واشباههم کې موجود لسلامة اسباب الايمان فيهم من العقل والتميز ورویة المعجزات من الانبياء عليهم السلام والدلائل العقلية، نو څکه کفار ټوله مکلف بالایمان دي ولهم عذاب اليم بسبب عدم ايمانهم، وان اخبر الله تعالى فيهم بقوله ختم الله على قلوبهم وعلى سمعهم وابصارهم واخبر عنهم بانهم لايؤمنون، نو که مناط د تکلیف که قدرت حقیقي وای نو هغه په دوی ؓ کې نه و لانها مع الفعل فلاوجه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لتعذيبهم بالنار لعدم قدرتهم على الايمان فافهم فان هذا سانح عزيز وامر مكتوم وفيه دفع لكثير من التوهمات التي يخطر في قلوب كثير من العوام بل بعض الخواص ايضاً.

لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ

او هر نفس له اجر او ثواب د هغه عمل د خير چې ده کړی وي سواء بواسطة الجوارح او من افعال القلوب كالعقائد الحقة والملكات الفاضلة.

پوه سه: چې لام چونکه د نفع لپاره و، نو څکه مورِ تفسير د خير په کار وکړی او پر نفس د وزر او ګناه ده د ماكتسبت من اعمال الشر او کلمه د علی لپاره د ضرر ده حاصل د آیت دادی چې نفع د اعمال الخير او ضرر د افعال الشر خاصةً وده ته راجع ده لا الی غيره، قال الله تعالى "ولاتذر وازرة وزر اخرى"

فائده: چونکې د اکتساب معنی داده چې په جدي توګه به سړی هغه عمل کوي، او چونکه اعمال د شر په اشتهاء د نفوسو دی فتكون فيها اجد فلهذا قال وعليها ما اكتسبت بخلاف افعال الخير فلهذا اورد فيها الفعل المجرد وفيه تنبيه على ان افعال الخير وان صدرت عن فاعلها بلاجد و اجتهاد فلها اجر و ثواب.

رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَّسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا

اې زمورِ خدایه! مورِ مه نسي په ورځ د آخرت په هغې ګناه چې زمورِ څخه د هېرې په سبب صادره سوې وي، او یا د خطاء په سبب سره.

فائده: له دې آیت څخه دا معلومه سوه چې په خطاء او نسیان نه مؤاخذه جائز ده، ولي تحرز له اسبابو څخه د خطاء او نسيان في الجملة ممكن وي، ددې وجه داده که مؤاخذه په نسیان او خطاء کې جائز عقلاً نه وای، بیا نو ودې دعاء لره به څه فائده وای بلکې عدم المؤاخذة فضل، او احسان د خدای ﷻ ددې آیت مرحومه سره ولهذا قال النبي ﷺ "رفع عن امتي الخطاء والنسيان وما استكرهوا عليه" او ددې حدیث مبارک څخه دا معلومه سوه چې عدم المؤاخذة بالنسيان والخطاء من خواص هذه الامة المرحومة ده والامم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

السابقة كانوا يؤاخذون بهما.

پوه سه: چې دا آيت او وروستنې آيتونه حكايت له بقيه سوالو څخه د مؤمنانو دی

پوه سه: چې معنی د حديث مذكوره داده چې زما له امت څخه عذاب د خطاء او نسيان پورته دی يعنې په ورځ كې د قيامت. او دا معنا نه ده چې زما په امت كې خطاء او نسيان نه واقع كېږي، فان الخطاء والنسيان واقع في امته محسوس ظاهراء او نه يې دا معنا ده چې احكام شرعيه په دار الدنيا چې دار العمل ده پر خطاء او نسيان او اكراه نه مرتبېږي، ولې چې په دې دنيا كې تدارك حتى الامكان د خطاء او نسيان لازم دی.

تفريع: كه لمونځ يا روژه په خطاء يا نسيان او يا په اكراه د سړي څخه پاته سې قضاء يې پر لازمه ده اجماعاً، او داغه رنګه خبرې په لمانځه كې كه څه هم په هېره سره وي لمونځ فاسدوي عند ابي حنيفة رحمه الله خلافا للشافعي رحمه الله.

مسئله: كه چا د نسياناً د احرام بالحج په ايامو كې جماع وكړې، حج يې فاسد ېږي عند الجماهير خلافاً للشافعي رحمه الله، او طلاق د مخطي او مكره واقع كېږي عندنا خلافاً للشافعي رحمه الله.

مسئله: كه روژياتي په خطاء سره مثلا اوبه تېرې كړې روژه يې فاسد ېږي، مگر امساك د بقية اليوم به كوي او بيا به يې قضا راوړي عندنا وعند مالك خلافا لاحمد والشافعي رح.

مسئله: كه روژياتي په هېره سره روژه ماته كړه روژه يې په نېز د امام مالك رحمه الله ماته ده او قضاء پر لازمه ده خلافاً للجمهور رح، والدليل للجمهور قوله عليه الصلوة والسلام كما رواه ابو هريرة رضي الله عنه قال رسول الله ﷺ اذا نسي احدكم فاكل او شرب فليتم صومه فانما اطعمه الله وسقاه، متفق عليه.

مسئله: كه ذابح په وخت كې د ذبح بسم الله ناسياً پرېښوله نو هغه ذبيح د امام مالك رحمه الله په نېز مرداره ده، او زمونږ په نېز مرداره نه ده، للحديث الوارد في هذا الباب على خلاف القياس. وسيئاتي ان شاء الله تعالى في محله.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَآ إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِنَا

اې خدايه پر موږ مه اچوې درانه بارونه يعني التكاليف الشاقة من الاوامر والنواهي لكه چې تا اچولي هغه تكاليف شاقه پر هغو كسانو چې تر موږ دمخه امتونه وه، والمراد بهم اليهود، اول لمونځونه ددوئ پنځوس (۵۰) وه. دوهم زكوة يې ربع المال و، دريم: كه به د چا جامې مرداري سوې واى په پرهيښلو نه پاكبدله بلكې هغه نجس خاى د جامې به يې پرې كوى. څلورم: كه به دوئ په شپه كې پتې گناه كړې واى هغه گناه به سهار پر دروازه ورته ليكل كېدله، پنځم: كله چې يهوديانو په زمانه كې د موسى عليه السلام عبادة العجل وكړى قيل لهم من جانب الله ﷻ فاقتلوا انفسكم، شپږم: لمونځ ددوئ ببله مسجده نه و روا په شرط د رسېدلو ومسجد ته، اووم: تحريم د بعض حلالو شيانو په سبب د گنهو ددوئ حرام وه.

تنبيه: په بعض كتابو كې وايي كه به ددوئ بدن يا جامه مرداره سوه هغه به يې پرې كوله.

دروېش وايي: چې پرې كول د مراد خاى له بدنه د عقل او نقل څخه خلاف دى كما لايخفى.

رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِۦ ۖ

اې خدايه ته پر موږ مه اچوې هغه بار چې په موږ كې طاقت د هغه نه وي

پوه سه: چې مراد له دې څخه بلايا د دنيا دي لكه مرض، فقر، موت الاولاد وغيرها من المصائب.

فائده: لفظ د نداء يعني "ربنا" په دې دوو اخيرو سوالو كې را وگرځاوه لاظهار مزيد الضراعة والاحتياج

وَٱعْفُ عَنَّا وَٱغْفِرْ لَنَا وَٱرْحَمْنَآ ۚ أَنتَ مَوْلَىٰنَا فَٱنصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٢٨٦﴾

او موږ ته تجاوز وكړې له عذاب څخه پر گنهو زموږ، او زموږ گنهونه پټ كړې

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

په دنیا او اخرت کې، او پر مونږ رحم وکړې په توفیق سره د حسناتو او په عصمت سره د منهیاتو څخه فانه لاحول ولاقوة الابک، او ته ای خدایه زمونږ ناصر او حافظ او دوست یې، نو مونږ ته بری او ظفر راکړې پر هر قوم د کافرانو لان من حق السید والمولی ان ینصر عبیده ومواليه علی اعدائه تعالی واعدائهم.

بوه سه چې له "قوم کافرین" څخه تولـه انـواعې د کفر مراد دي من الیهود والنصاری والمجوس والمشرکین والدهریین من الجن والانس حتی ملګری شیطان له مونږ سره او نفس امارة بالسوء، لانه قادر علی النصر علی کل هولاء الاعداء. قال آمین.

دروښ وایي: چې ویستحب لقاري سورة البقرة الی تمامها ان یقول آمین، له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی علی ما في الصحیحین چې علیه السلام چې به هره جمله له دې دعاګانو څخه چې به یې وویل قال الله تعالی نعم وفي روایت ابن عباس رضی الله عنه قال الله تعالی کل ذالک قد فعلت وفي روایة عن ابن عباس رضی الله عنه قال الله تعالی بعد قوله غفرانک قد غفرت لکم، وبعد قوله او اخطانا لا اخذکم وبعد قوله لا تحمل علینا اصراً لااحمل علیکم وبعد قوله ولا تحملنا ما لا طاقة لا احملکم وبعد قوله واعف عنا الی اخیره قد عفوت عنکم وغفرت لکم ورحمتکم ونصرتکم علی القوم الکافرین.

فائده: اما عدم المؤاخذة علی النسیان والخطاء فثابت في حق جمیع الامة اجماعاً وکذا عدم حمل الاصر، وتحمیل مالاطاقة لنا به لان الشرع واحد مؤبد قما سقط عن الاول سقط عن الاواخر ولا نسخ ولا تبدیل بعد النبي صلی الله علیه وسلم خاتم النبیین، واما العفو والمغفرة لجمیع الذنوب والرحمة العامة والنصرة علی القوم الکافرین فالظاهر ان الاجابة في هذه الامور مختصة بالنبي صلی الله علیه وسلم واصحابه الذین کانوا معه والا لزم مذهب المرجئة بل الذنوب کلها في مشیة الله تعالی ان شاء غفر وان شاء عذب، انتهی قول المظهري رحمه الله.

دروښ وایي: چې امام مظهري نصرة علی القوم الکافرین مختص بللی دی په نبي صلی الله علیه وسلم او په اصحابو رضی الله عنهم پوري، نو پوښتنه داده چې ولي د احد په غزاء

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي شکست بين د عليه السلام او د اصحابو کرامو ﷺ په برخه سو چي په هغه
کي اويا کسه برجسته صحابه کرام ﷺ په شهادت ورسېدله، او د عليه السلام
غابني مبارک مات سو او سر مبارک يې تپي سو؟ البته مظهري ﷺ به روايې
چي ددې شکست وجه خداى ﷻ په قرآن پاک کي بيان کړې ده، او ټول
مفسرين رح د هغه توجيه داسي کوي چي د احد په غزا کي عليه السلام
پنځوس کسه په يوه دره کي په مشرۍ د عبدالله ﷺ پر غاړه کښېنولي وه، او دا
يې تاکيداً ورته ويلي وه چي که تاسي زمونږ فتح پر کافرانو د مکې وليدل
تاسي په مرکز يعني دره نه ايله کوئ خو چي ما نفر نه وي در استولي، او ک
مو کفار وليدل چي پر مونږ غالب سوه او مونږ يې يو له بله پرله پسې وژلو هم
به تاسي مرکز نه پرېږدئ خو چي ما حال نه وي درکړی، نو چي جنګ شروع
سو کفارو شکست وخوړ او مخ يې د فرار پر خوا ونيو، حتى راوي چشم ديد
واقعه په دې الفاظو بيان کړې ده "حتى رئيت نساء الكافرين الآتي كن مع
الكفار يشددن في الجبل يبدون عن خلاخيلهن، نو هغه پنځوسو (۵۰) کسانو
چي دا فتح د مسلمانانو وليدله وخپل مشر عبدالله ته يې وويل يا قوم الغنيمة،
يعني مونږ بالا دلته څه کوو مسلمانان غالبه سوه او کفارو شکست وکړ
درځي چي غنيمتونه جمع کړو، عبدالله ﷺ چي هر څوکده منع کړه خو دوئ ونه
منل حتى چي د عبدالله ﷺ سره څورلس کسه پاته سوه، نورو ټولو په طلب د
غنيمت مرکز يې پرېښوی، نتيجه دا سوه چي دې يوې خلاف ورزۍ د امر
نبوي ﷺ خداى ﷻ زړونه د کفارو قوي کړه او بيرته يې پر جنګ مخ را واړوی او
خالد بن وليد سره د دوو سوو (۲۰۰) کسو پر هغه دره راغله او عبدالله ﷺ او
دده څورلس ملګري يې په شهادت ورسول، او دغه خلاف ورزۍ د امر نبوي ﷺ
شکست د مسلمانانو په برخه کړی چي اويا کسه يې شهيدان ورکړه آه، حاصل
دا چي شکست د احد په سبب د شوم مخالفت د پهره دارانو د دوئ د امر
نبوي ﷺ پېښ سو، نو په اوسنۍ زمانو کي يعني وروسته تر زماني د عليه
السلام او اصحاب کرامو ﷺ چي په مسلمانانو کي چي په سلهاو بلکه په زرها

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

گنهونه منځ ته راغلي، نو که دوئ د کفارو په جنګ کي مغلوبه سي دا مغلوبیت راجع ددوئ وګنهو ته دی نه و خصوصیت ته، نصر په زماني پوري د علیه الصلوة والسلام کما قال الامام المظهري رحمه الله او سره ددي چي خدای پاک په خطاب عام سره وایي "وانتم الاعلون ان کنتم مؤمنین" یعني تاسي به اې مؤمنانو پر کفارو غالبه یاست که چېرې تاسي کامل مؤمنان یاست، نو اوس هم مؤمنان چي په کامل ایمان سره موصوف وي پر کفارو غالب دي ان شاء الله تعالی، لکن په وروستنی زمانو کي کمال ایمان نسته الا نادراً.

دروېش وایي چي بیا هم چي په مؤمنانو کي کمال ایمان نسته که ناقص مسلمانان په کمال عزم او صرف د اعلاء کلمة الله لپاره جهاد په مخه واخلي خدای ﷻ نصرت ورکوي پر لوېو ابرو قدرتونو باندي، چي نمونه د هغه د افغانستان بېچاره او مظلوم مسلمانان دي چي نه یې سلاح وه او نه یې کافي نفقه درلوده هغه وخټت د ټولي نړۍ ابر قدرت یعني روسانو چي پر افغانستان حمله وکړه، او په کومک د حزب الخلق په افغانستان کي ټوله افغانسان یې په قبضه کي واخستی هغه ضعیفه مسلمانان د افغانستان چي په کمال شجامت او شجاعت مقابله د روسانو سره د جهاد في سبیل الله شروع کړه، او روسانو هم د هیڅ سلاح چي ددوئ په قدرت کي وه پر دوئ استعمال کړه تر کلاشنکوفو، تر بمبار کونکو طیارو او تر لوېو توپو او زهري ګازو وغیرها لکن بیا هم ودغه ضعیفه مسلمانانو ته خدای ﷻ پر دغه لوی ابر قدرت نصرت ورکړي چي په دې خجالت یې روسان له وطن څخه وه ایستل بلکه خدای ﷻ جزاء للروسیة الملعونة هغه د اویا کالو مقبوضه ریاستونه د روسانو له قبضې څخه ازاد کړه.

دروېش وایي: چي په ټوله طویل بیان کي مطلب زما دادی چي امام مظهري رحمه الله په اخیري بیان کي خپل دلیل پر اختصاص د نصر پر زماني د علیه الصلوة والسلام او د اصحابو رضي الله عنهم دا ویلي دي "ومن ثم نری في کثیر من الاوقات عدم النصر علی الکفار والخذلان الخ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروېش وايي: چې دا عدم نصر او خذلان په سبب د ګنهو د مسلمانانو دی لايسبب اختصاص النصر بزمنه ﷺ واصحابه ﷺ فافهم والعلم عند الله.

دروېش وايي: چې حاسدان به شايد ووايي چې ستا د کم علمی سره تا څرنګه پر امام مظهري رحمه الله باندې تنقيد وکړی؟

ځواب: د امام مظهري رحمه الله په کمال د علم او معرفت په ټولو علومو کې زه قائله يم او په ډېرو مسئلو کې زه دده په قول استدلال هم کوم. او په ډېرو ځايونو ژر دده سپېځلی عربي عبارت په پښتو ژباړه بيانوم، لکن د توجيه دروازه خلاصه ده، لکه څنګه چې امام مظهري رحمه الله پر ډېرو لوړو مفسرانو تنقيد کوي او په غشي ليس بشيئ يې ولي، د علمي او توجيهي لحاظه نه د توهين په خاطر او يا د حسد په لحاظ کذالک تنقيد العاصي علی المظهري من هذا القبيل خبره تر خبري پورې يادېږي.

حکايت او شکايت: دروېش وايي چې يو ستر عالم چې منصف و او حاسد نه و په هم دغه هفته زما کور ته راغلی چې زه ستا د حاسدانو په يوه مجلس کې حاضر سوم. او ستا نوم منځ ته راغلی حاسدانو ستا په ذم کې وويل چې عبيدالله صرف ناقل دی عالم نه دی، نو هغه عالم وويل چې ما اجمالاً ورته وويل چې کوم مصنف يا عالم ناقل نه دی، ددې اجمالي ځواب حاصل دادی که چېرې دغه حاسدان صرف نقل مذموم بولي او انکار ځندي کوي، خو دا ډېره د اسلامه مخالفه خبره ده، ولي چې جبرئيل آمين په امر د خدای ﷻ قرآن کريم له لوح محفوظ څخه نقل کړی بيا يې په بيت العزت کې وساته او بيا يې اية اية او سورة سورة په زمانه کې د نبوت د عليه السلام وده ته ورساوه، او د عليه الصلوة والسلام څخه نقل صحابه کرامو وکړی وکذا الوحي الغير المتلو يعني الأحاديث الشريفة د عليه الصلوة والسلام څخه صحابه ﷺ نقل کړی دي، او له صحابه کرامو ﷺ څخه تابعينو رحمهم الله ثم وثم الی يومنا هذا نو دا نقل به هم مذموم وي معاذ الله، او بل دا چې دغه حاسدان دي کتابونه د آحاديثو شريفه وګوري چې ټوله بناء پر نقل دي، نو دا نقل به هم د ذم سبب وي حالتا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لله، او دغه رنګه کتابونه د فقه شریفي تر شروحو او فتاواو پورې دي مطالعه کړي چې څرنګه نقل پر نقل چې صاحب المذهب ته رسېږي وهکذا کتب العقائد، والنحو، والصرف، والمعاني، واصول الفقه بل الکتب العقلیة باسرها، نو دا ټوله نقلونه حاسد مذموم بولي العیاذ بالله، او که دوی نقل مطلق مذموم نه بولي بلکه نقل د دروېش مذموم بولي نو

دروېش وایي: چې د حسد وړغنډی مو غاړې ته ولوېدی، دا یوه ګناه کبیره ده، او بل چاته بیانول پر طور د غیبت بلکه ګناه کبیره وهکذا، نو هغه عالم ته ما وویل چې د ناقل په لفظ زما ذم کول دا د انصافدارو حاسدانو ذم دی، او کټر حاسدان خو وایي چې عبیدالله سارق دی، لکن دروېش خپل علمي کاروان پر مخ بیایي په توفیق د خدای ﷻ د خلګو وخبرو ته نه ګوري، خدای ﷻ خپله عطیه له دروېش څخه د چا په حسد واپس نه اخلي.

دروېش وایي: چې دا یو څو خبرې جمل معترضه وې اوس و اخیرو خبرو ته د تفسیر غوږ سی: روی في الحدیث الصحیح ان النبي ﷺ جائه ملک من السماء فقال ابشر بنورین اوتیتهما لم یوتهما نبي قبلک فاتحة الکتاب وخواتیم سورة البقرة لن تقرء حرفاً منهما الا اعطیته، په دې معنا چې په سورت فاتحه کې له "اهدنا" څخه تر پایه پورې دعاګانې دي، او په آخیر کې سورة البقرة د ربنا لاتواخذنا څخه تر پایه پورې.

پوه سه چې دا مختص دی په نبینا ﷺ پورې. او هم دا سبب دی چې امت د علیه السلام په اجتماعي توګه پر ضلالت نه جمع کېږي الی یوم القیامة وقد جاء في الحدیث الصحیح لا یجتمع امتي علی الضلالة.

پوه سه: چې په یوه برخه کې د حدیث طویل د معراج داسي راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام ته ورکړه سوه دري شیان اعطي الصلوة الخمس ورکړه سوه پنځه لمونځونه و اعطي خواتیم سورة البقرة ورکړه سوه، اخیري آیتونه د سورة بقره یعني قوله تعالی "ربنا لاتؤخذنا ان نسینا تر پایه پورې، وغفران لایشرک بالله من امته شیئا المقحمات، او پخښنه سوه هغه چاته چې نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شریک وي د خدای ﷻ سره هیڅ شی له امت څخه دده ګناه کبائر، یعنی خدای ﷻ وعده ورسره وکړه په مغفرت سره و امت ستا د کبائرو ګنهو رواه مسلم.

پوه سه: چي چونکه په تعذیب د بعض عصات د امت محمدیه کي احادیث صحیحه راغلي دي چي و حد ته د شهرت رسیږي فلا بد من التوفیق بینها وبین هذا الحدیث من تاویل، نو ددې حدیث تاویل دا دی چي د علیه السلام سره خدای ﷻ وعده وکړه چي زه به ستا امت ته بخښم کبیره ګنهونه، اما بتوبة کما هو الظاهر والمعلوم او یا په رحمت عامه سره خپل لمن شاء وان لم یتب، وهذا هو المرجو بجاه النبي ﷺ او برحمة من الله بعد العقاب الیسیر في النار، والحاصل انه لایخلد في النار من مات من امة محمد بلا توبة في النار بسبب ارتکاب الکبائر کما زعمه المعتزلة و الروافض خذلهم الله، وعن ابي مسعود الانصاري ﷺ قال قال رسول الله ﷺ هغه دوه آیتونه له اخیره څخه د سورة البقره څوک چي په شپه کي ووایي هغه لره کافي او بس دي رواه الآئمة الستة، او له نعمان بن بشیر ﷺ څخه روایت دی چي علیه الصلوة والسلام وویل چي خدای ﷻ یو کتاب لیکلی دی دوه زره کاله له مخه تر پیدا کولو د اسمانو او مځکو "انزل منه" او له هغه کتاب څخه یې نازل کړي دوه آیتونه، او په هغو سره یې سورة بقره ختم کړې ده. نو دا دوه آیته که په یو سرای کي درې شپې پرله پسې وویل سي، نو لبري ده چي بیا دي شیطان وهغه سرای ته نژدې سي، رواه البغوي رحمه الله. او له ابي مسعود انصاري ﷺ څخه روایت دی چي دغه دوه آیتونه د سورت بقره که څوک وروسته د ماخستن تر لمانځه ووایي کافي دي ده لره د قیام اللیل یعني التهجد، اخرجه بن عدي في الکامل مرفوعا الی النبي ﷺ، او له ابي سعید خدري ﷺ څخه روایت دی قال قال رسول الله ﷺ هغه سورت چي په هغه کي بقره ذکر کیږي ترازو د قرآن دی، نو تاسي دغه سورت ذکر کوئ یعني زده کوئ یاست، ولي چي په زده کړه ددې سورت برکت دی او پرښوول یې حسرت دی یعني غم دی، او طاقت ددې سورت نه لري بطلة، چا ورته وویل چي بطله څوک دي قال السحرة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner



درویش وایي: چي ددې مبارک سورت په تفسیر ما شورع وکړه د سهار تر لمانځه وروسته عند طلوع الشمس من یوم الجمعة (۲۰) شعبان المعظم من شهور سنه ۱۴۲۶ هجریة قمریة. اللهم وفقني لتفسیرها بالخیر والعافیة والصحة والسلامة واجعله لوجهک الکریم ولهذا العبد ذکراً جمیلاً وذخرا لیوم القیامة.

پوه سه: چي سورة آل عمران په اتفاق د مفسرینو پ په وفد کي د نجران چي نصاری وه او د بحث لپاره مدینې منورې ته راغلي وه تر څلور اتیا، او بعض راویان وایي چي تر اتیا پوري نازل سوي دي، لکن د مفسرینو رح تر منځ په قصه کي د وفد د نجران په زیادت او نقصان سره اختلاف سته کما یظهر لمن طالع التفاسیر المتعددة.

القصة: وفد د نجران ومدینې منورې ته شپیته (۶۰) سپاره وه په دې شپیتو کي څورلس اشراف وه، او په دې څورلس کسانو کي دري سوه اولو الامر کسان وه چي په هغو کي یو امیر د وفد و، او صاحب د مشورې د ګرد و چي لقب یې عاقب و او نوم یې عبدالمسیح، او دوهم وزیر او مشیر الدولة و چي نوم یې ایهم و، او دریم اسقف و یعني تر ټولو لوی ملا چي د ټولو مدرسو د نجران رئیس اعظم و چي نوم یې حارثه بن علقمه و، او دې عالم ته یوازې نصاری د نجران عزت نه ورکاوه بلکې ټولو نصاری وو او بادشاهانو عزت ورکاوه، ولي چي ددوئ په عقیده دا سړی مجتهد د دین د نصاری وو یې باله، او دده پر نامه ډېري کلیساوې په روم کي ملوک د روم جوړې کړې وې، چي په اوسنۍ اصطلاح کي رومیان وداسي شخص ته پاپای روم وایي او چي د ټولو نصاری وو د کلیساوو لوی شخصیت وي هغه ته پوپ جون پول وایي، څه وخت چي دغه وفد د نجران څخه ووتی ابو حارثه پر غاټره سپور و او دده ورور

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کرز بن علقمه یې پر بغل ورسره روان و، نو د ابو حارثه غاښري نوک وواهه چې
ټرډې و چې ابو حارثه څنډې ولوېږي، نو دده وروړ کرز وویل "تعسا للابعد"
هلاک دي وي پر لېرې سرې چې مراد د کرز علیه الصلوة والسلام و، ابو
حارثه ورته وویل "بل تعست امک" کرز ورته وویل ولې دي دا خبره وکړه یا
اخي؟ ابو حارثه ورته وویل والله انه یعني رسول الله ﷺ هغه نبي دی چې موږ یې
انتظار درلودی یعني النبي العربي المبعوث في آخر الزمان، نو کرز ورته
وویل چې ته یې پېژنې نو مانع د ایمان راوړلو دي پر هغه باندې څه دی، ابو
حارثه ورته وویل چې بادشاهان د نصاری وو موږ ته ډېر اموال راکوي، او زما
لوی احترام کوي، نو که زه پر هغه نبي ایمان راوړم دا ټوله اموال زما له لاسه
وځي او زما لوړ احترام له منځه ځي، نو دې خبرې د ابو حارثه د وروړ کرز په
زړه کې قرار ونیوی الی ان اسلم کرز وکان کرز یحدث الناس بتلک الواقعة،
خیر وفد د نجران مدینې منورې ته ورسېدی او مسجد نبوي ته داخل سوه چې
علیه الصلوة والسلام د مازدیګر لمونځ کړی و، د دې وفد کسانو تر ټولو
بهترینې چوخې او نېې نېې جامې اغوستې وې او ډېر د فخر پتوان یې پر اوږو
وه حتی بعض صحابه کرامو رضي الله عنهم چې دوديٰ دا د فخر جامې ولیدلې حیران پاته
سوه او داسې به یې ویل "مارئینا وفداً مثلهم" او د دوديٰ د لمانځه وخت
راغللی، او د نصاری وو دا دین او مذهب دی چې هر خپای چې وي د مشرق
وخواته لمونځ کوي، نو دوديٰ اراده وکړه په مسجد نبوي کې د مشرق وخواته
لمونځ وکړي او قبله د مسجد نبوي څو جنوبي وه، نو علیه الصلوة والسلام
وصحابه کرامو ته وویل چې پرې اړدیٰ هري خواته چې لمونځ کوي، نو دوديٰ
په مسجد نبوي کې د مشرق وخواته لمونځ وکړی، وروسته تر لمانځه هغه درو
مشرانو د وفد د علیه الصلوة والسلام سره په بحث شروع وکړه، ګاهې به یې
ویل چې عیسی هو الله، ولې چې عیسی علیه السلام مړي ژوندي کوله، او مور زاده
روند او د پېس مرض مریض به دده په دعاء جوړېدی او اخبار بالغیب به یې
باذن الله کاوه، او بل د څټو څخه په یې مرغه جوړ کړی چې پر پوه به یې کړه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغه به ژوندی سو او پرواز به یې وکړی، او دا کارونه خو تولـه د خدای ﷻ کارونه دي، او ګاهي به یې ویلـه چې عیسی د خدای ﷻ زوی دی. ولي که زوی د خدای ﷻ نه وای نور پلار یې څوک دی، او ګاهي به یې ویلـه چې عیسی دریم خدای دی، ولي چې خدای ﷻ فعلنا وقلنا لفظونه استعمالوي چې ضمائر د متکلم مع الغیر دي، نو دا معلومه سوه چې د خدای ﷻ سره نور خدایان سته چې هغه نو عیسی او مور د عیسی ده.

دروېش وایي: چې دا قولونه ددوئ سره مناقض دي، ولي چې عیسی ابن الله سي نو مریم به د خدای ماینه سي العیاذ بالله، او که عیسی پخپله خدای سي او یا ثالث ثلاثه سي، نو علاقـه د نبوت دده او د زوجیـة د مور دده خو د خدای سره قطع کېږي، خو بیا هم دوئ جاهلان په دې تناقض د اقوالو او افعالو نه پوهېدل او عناداً یې دا خبري کولې، نو رسول الله ﷺ ودوئ ته وویل اسلموا دوئ ورته وویل اسلمنا قبلک یعنون بعیسی، نو علیـه الصلوة والسلام ورته وویل کذبتم یمنعکم من الاسلام ادعائکم لله ولداً درواغ وایاست چې مورِ مسلمانان یو، تاسي منع کوي لـه اسلام څخه چې تاسي خدای ﷻ لره ولد وایاست، نو تاسي څرنګه وایاست چې مورِ خدای منو او سره ددې چې خدای ﷻ لم یلد ولم یولد دی، دوئ ورته وویل چې عیسی چې زوی د خدای نه وي نو پلار یې څوک دی؟ نو علیه السلام ورته وویل چې تاسي په دې نه پوهېږئ چې ولد به حتماً له پلار سره یو مشابهت لري، دوئ ورته وویل چې خبر یو، نو بیا علیـه السلام ورته وویل چې تاسي نه یاست خبر چې خدای ﷻ حي لایموت دی او پر عیسی فناء او موت راځي، دوئ ورته وویل چې خبر یو، بیا علیـه السلام ورته وویل چې آیا تاسي نه یاست خبر چې خدای ﷻ زمورِ قادر دی پر هر شي او خالق دی د هر شي او حافظ دی د هر شي او رازق دی د هر شي، دوئ ورته وویل هو خبر یو، نو علیـه السلام ورته وویل چې د عیسی ﷺ یو شی د دغو کارو څخه په وسه پوره دی؟ دوئ ورته وویل یا، بیا علیـه الصلوة والسلام ورته وویل چې آیا تاسي نه یاست خبر چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پر خدای ﷻ پټ نه دی شی في السموات والارض، دوئ ورته وویل چې خبر یو، بیا علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې آیا عیسی ﷺ ببله تعلیمه د خدای ﷻ په ټوله مافي السموات والارض خبر دی، دوئ ورته وویل یا نه دی خبر، بیا علیه السلام ورته وویل چې تاسي نه یاست خبر چې زمور خدای ﷻ وعیسی ته صورت ورکړی دی په رحم کې د مور کیف شاء، او زمور خدای ﷻ نه خورک کوي او نه څښل کوي، او حدث هم نه لري، دوئ ورته وویل هو اخبر یو، بیا علیه السلام ورته وویل آیا تاسي نه یاست خبر چې عیسی د مور په رحم کې و لکه نورې ښځې چې په رحم کې کوچنی ساتي، او بیا د عیسی مور لنګه سوه لګه نورې ښځې چې لنګېږي، بیا لکه نورو کوچنیانو ته غذا ورکول کېده عیسی ته هم دغسې غذا ورکول کېده او وروسته یې دودی وغیره خوړله او اوبه یې څښلې او لازم له خوارک او څښاک سره حدیث وربېښېدی، دوئ ورته وویل هو خبر یو، نو علیه السلام ورته وویل نو څرنګه به صحیح وي ستاسي وینا چې عیسی خدای دی او یا د خدای زوی دی نو دوئ پټه خوله سوله و ابو عن الاسلام، نو خدای پاک د سورة د آل عمران له اول څخه بیا تر تقریبا اتیا (۸۰) آیته پورې دا قصه را نقل کړه

الٓمٓ ﴿۱﴾

پوه سه: چې ابو یوسف یعقوب رحمه الله "الٓمٓ" مقطوع وایي په سکون د میم لکه نور مقطعات قرآنیة، او همزه د لفظ الله مفتوح وایي، للابتداء، او جمهور قراء په وصل سره وایي مفتوح المیم، او همزه د الله د لفظ ساقطوي په وصل کې، فقیل انما فتحت المیم لالقاء حرکة الهمزة من لفظ الله علیها لیدل علی انها في حکم الثابت لانها اسقطت للتخفیف لا للدرج فا: المیم في حکم الوقف، او روح المعاني نقلاً عن البحر دا توجیه ضعیف ګڼلې دی، فراجع روح المعاني.

دروښ وایي: چې زمخشري رحمه الله ددې توجیه تائید کړی دی حیث یقول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

انما هي فتحة همزة الوصل من الله نقلت الى الميم، وانما جاز ذالک مع ان الاصل في همزة الوصل اسقاطها مع حركتها لان الميم كان حقها الوقف ومقتضى الوقف ابقاء همزه الوصل مع الحركة كما قرء به يعقوب رحمه الله لكنها اسقطت لتخفيف فابقيت حركتها لتدل على انها في حكم الثابت ونظراً الى ان الميم في حكم الوقف وليس بموقوف على قرائة الجمهور رح. وقال سيبويه رحمه الله فتح الميم لالتقاء الساكنين الميم ولام الله على قرائة الوصل بل ثلث سواكن يعني الياء في لفظ ميم والميم في لفظها واللام في اسم الجلالة وحركت بالفتح لانها اخف الحركات ولم تكسر مع ان الساكن اذا حرک حرک بالكسر بسبب الياء لئلا يلزم توالي الكسرات، وقيل غير ذالک والله اعلم.

اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَیُّ الْقَیُّوْمُ ۚ﴿۲﴾

پوه سه: چي لفظ د الله مبتدا، ده، او لا اله الا هو يې خبر دی، يعني مستحق د عبادت الله دی لاغيره كما يفعل عبدة الاصنام والكواكب وغيرها، او الحي القيوم يې بل خبر دی چي معنا يې داده چي هغه باقي دی لاسبيل اليه للموت والفناء، او دائم دی او قائم دی بتدبير الخلق وحفظه

پوه سه: چي په صحيح حديث کي راغلي دي چي رسول الله کريم ﷺ وويل چي اسم اعظم په درې سورتو کي دی په سورت بقره کي "الله لا اله الا هو الحي القيوم، وفي آل عمران "الم الله لا اله الا هو الحي القيوم" وفي سورت "طه" وعنت الوجوه للحي القيوم نو چونکه په دې درو سورتو کي "الحي القيوم" فقط مکرر دی، له دې سببه بعض علماء وايي چي "الحي القيوم" اسم اعظم دی.

دروښ وايي: چي تحقيق د اسم اعظم په دوهم جلد کي ددې تفسير مطالعه کړئ، وبالله التوفيق.

دروښ وايي: چي په لمعات شرح مشكوة کي وايي چي اقوال د علماؤ په باره کي د اسم اعظم مختلف دي بعض وايي که اسماء الهيه ټوله عظيمه دي لايجوز تفضيل بعضها على بعض، او ددې قول نسبت و امام اشعري او امام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

باقلاني رح ته سوی دی، دوئ وایي چي هغه اعظمیت چي په احادیث مبارکه وو کي راغلی دی هغه په معنا د کثرة الثواب د داعي دی، او بعض علماء رح وایي چي اسم اعظم یوازې په علم کي د خدای ﷻ دی ولم یطلع علیه احداً. او بعض علماو رح په رښا کي د احادیثو مبارکه وو بنولی دی.

دروښ وایي: چي یو حدیث خو د مخه تاسو واورېدی، او په بل حدیث کي چي روایت یې ترمذي او احمد رح کړی دی د سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه څخه وایي چي رسول الله ﷺ وویل چي دعاء د ذي النون یعني یونس علیه السلام چي دی د ماهي په نس کي و دا وه "لا اله الا انت سبحانک اني کنت من الظالمین" او علیه الصلوة والسلام زیاته کړه "لم یدع بها رجل مسلم الا استجاب له" و په مستدرک للحاکم رحمه الله کي راغلي دي چي اسم الله الاعظم چي په هغه څوک دعاء وکړي اجابت یې کېږي، او چي په هغه سره څوک سوال وکړي مسؤل یې ورکړه کېږي "لا اله الا انت سبحانک اني کنت من الظالمین" وفي حدیث آخر الذي رواه احمد واصحاب السنن الاربعة وابن حبان والحاکم رح عن یزید رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ سمع رجلا یقول اللهم اني اسئلک باني اشهد ان لا اله الا انت، الاحد، الصمد الذي لم یلد ولم یولد ولم یکن له کفواً احد" فقال دعا الله باسمه الاعظم الذي اذا سئل به اعطي واذا دعی به اجاب، او حاکم ویلي دي چي دا حدیث صحیح دی پر شرط د شیخینو یعني البخاري ومسلم، او په بل حدیث کي چي روایت یې دغه مذکوره جماعت تولو کړی دی له انس بن مالک رضی الله عنه څخه دی وایي چي زه په مسجد یعني المسجد النبوي ﷺ کي ناست وم، او یو سړي لمونځ وکړی او داسي یې وویل "اللهم اني اسئلک بان لک الحمد لا اله الا انت الحنان المنان بدیع السموات والارض یا ذا الجلال والاکرام یا حي یا قیوم، فقال النبي ﷺ چي دې سړي خواست وکړ، په اسم اعظم سره د خدای ﷻ هغه اسم اعظم چي په هغه سره څوک دعا وکړي قبلېږي او چي په هغه سره سوال وکړي مسئول ورکول کېږي.

دروښ وایي: چي امام مظهري رحمه الله پخپل تفسیر کي یوه فائده ښکیه ذکر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړي ده، دی وایي چې کلمة التهلیل په احادیثو کې د اسم اعظم په دې دول راغلې ده " لا اله الا هو، یا "لا اله الا انت" او ده ویلي دي چې دغه دوه ډوله تهلیل پورته دی تر "لا اله الا الله" ولې چې ضمیر که د "هو" وي او که د "انت" وي وضع دی د ذات بحت الهي لپاره، نو په دغه دوه ډوله تهلیل کې ذهن د ریونکي اولاً وذات خالص ته د خدای ﷻ نقل کېږي بدون ملاحظة اسم من الاسماء وصفة من الصفات وشان من شیونات الله ﷻ.

پوښتنه: لفظ "الله" خو هم اسم ذات خالص دی بدون ملاحظة الصفات والشیونات نو ضمائر تر لفظ د الله څه تفضیل لري؟

ځواب: هو لکن په لا اله الا الله کې خو اولاً ذهن و اسم ته نقل کېږي وروسته وذات بحت ته، بلکه په لفظ کې د الله ګاهي ذهن و معبود بالحق ته نقل کېږي، نو بیا خو لفظ الله اسم صفت ګرځي، لکن دا قدر د معبود بالحق او د نورو اسماء صفاتو لکه رحمن، غفار، کریم وغیره فرق دی چې معبود بالحق یستدعی الاتصاف بجمیع صفات الکمال والتنزه عن جمیع شوائب النقص والزوال فیکون لفظ الله بمعنی المعبود بالحق اشمل من سائر اسماء الصفات.

سوال: صوفیه کرام رح ولي ومرید ته اولاً لا اله الا الله وربنیي، او لا اله الا هو او یا لا اله الا انت نه وربنیي؟

ځواب: مبتدي مرید خو و ملاحظه ته د ذات بحت لار نه لري بلکه په توسط د یو اسم او یا یو صفت به لار پیدا کوي، نو حاصل دا چې لا اله الا انت یا لا اله الا هو د منتهی ذکر دی.

پوښتنه: ستا له جواب څخه خو دا معلومېږي چې مبتدي ته د لا اله الا انت یا لا اله الاهو په ذکر کې کومه خاص فائده نه ده، او سره ددې چې په احادیثو شریفه مذکوره وو کې د منتهی او مبتدي فرق نسته لان خطابات الشرع الانور عامة لجمیع المسلمین والمسلمات؟

ځواب: هو خطابات د شرع شریفي خو عام دي او زمونږ د جواب خو دا معنا نه ده چې مبتدي په نومونږي تهلیل کې هیڅ برخه نه لري، بلکه معنا یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

داده چې په تفاوت د استعداد او د اخلاص او د حضور قلبي مبتدي او منتهی فرق عمیق لري، پښتانه یو مثل وایي دریاب که لوی دی کاچوغه دي خپله ده، کما قال الشاعر.

بقدر الکد تکتب المعالي ومن طلب العلی سهر اللیالي
تروم العز ثم تنام لیلا یغوص البحر من طلب اللالي

او شاعر فارسي وایي

نقصان زقابلست وگرنه علی الدوام فیض سعادتش بهمه کس برابراست

یو پښتون شاعر وایي

دا باران چې په همه خلگو اوري مشرف کړی ذات د کمیا ولي
دروېش وایي:

الهي ثبت عما کان مني فکفر سیئا تي وارض عني
دا تفسیر زما توبښه د آخرت کي هم سبب د عاصي د مغفرت کي

محبان اورندتصویر جانان در بغل من نیزحاضرمیشوم تفسیر قرآن دربغل

نَزَّلَ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَاَنْزَلَ التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ ۝ مِنْ قَبْلُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَاَنْزَلَ الْفُرْقَانَ ۝

پوه سه: چې نزل آه خبر د مبتداء محذوف دی ای هو نزل الآیة.

او خدای ﷻ نازل کړی دی پر تا باندي کتاب یعني القرآن عبر عن القرآن باسم الجنس یعني الکتاب اشارةً الی تفوقه علی سائر الکتب الالهیه کما یقال زید هو الرجل متلبسا ذالک الکتاب بالحق ای الصدق في احکامه حالکونه مصدقا للکتب التي بین یدیه ای قبله من التوراة والانجیل حیث نزل علی من وصفه في الکتابین المذکورین، او یا دغه کتاب قرآن تصدیق کونکی دی د تولو کتب سابقه وو، ولي چې کتب الهیه په اصولو کي د دین سره موافق دي لکه توحید او نبوت او ایمان بیوم القیامة والجنة والنار وغیرها من المعتقدات التبه په بعض فروع کي به سره مخالف وي، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ نازل کړی دی تورات یعنې پر موسی ؑ او انجیل یعنې پر عیسی ؑ د مخه تر نزول د قرآن مجید ، چې هغه تورات او انجیل هدایت دی د خلګو لپاره، ولې چې کتب الهیه ټولو خلګو ته دعوت ورکوي د توحید او د ایمان پر ټولو انبیا ع او پر ټولو کتب الهیه وو، او پر امتثال د اوامرو د خدای ﷻ او په اجتناب د منهیاتو وغیر ذالک.

پوښتنه: خدای ﷻ د قرآن په باره کې "نزل" چې ماضي ده له باب د تفعیل راوړه، او د تورات او انجیل په باره کې انزل وویل چې ماضي ده له باب د افعال سبب یې څه دی؟

ځواب: د صرفو په کتابو کې وایي چې تفعیل لپاره د تکثیر او تدریج دی، او افعال لپاره د یو وار دی والقرآن نزل علی محمد ﷺ نجما نجما وسورة سورة وآیة آیة في مدة نبوته ﷺ یعنې په دروېشت (۲۳) کاله، او تورات و انجیل دفعةً واحدةً نازل سوی دی.

سوال: خدای ﷻ فیما سیئاتي داسي وویلي دي "وانزل الفرقان" یعنې په ماضی د باب افعال؟

ځواب: قرآن مبارک د لوح محفوظ څخه و سماء الدنیا ته جملةً واحدةً راغلی دی په لیلة القدر کې د میاشتې د روژې، ففي القرآن جهتا الانزال والتنزیل معاً بخلاف الکتابین الاولین لان فیهما جهة الانزال فقط.

یوه سه: چې بعض مفسران ؒ وایي چې له فرقان څخه ټوله کتب سماویه مراد دي لانها تفرق بین المحق والباطل. او بعض وایي چې مراد څنډې قرآن کریم دی وهو الارجح لشیوع هذا الاسم في القرآن العزیز.

سوال: قرآن کریم خو دمخه ذکر سو في قوله تعالی "نزل علیک الکتاب" نو په بیا ذکر کې څه حکمت دی؟

ځواب: حکمت یې تعظیم د شان د قرآن دی او اظهار د فضلیت د قرآن دی.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ اللَّهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ ذُو انْتِقَامٍ ۝

په تحقیق هغه کسان چې کفر کوي یعنې انکار کوي له یو شي څخه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

آیاتو د خدای سواءٌ کانت من القرآن او غیره من الکتب المنزلة علی سائر الانبیاء ع، او روح البیان یې په قرینه د مقام تفسیر په آیات قرآنیه او په معجزاتو د علیه السلام کړی دی وعلی التقدیرین دوئ لره عذاب شدید ستر یعنې په ورځ د قیامت به په دوزخ کې وي او خدای ﷻ غالب دی څوک یې نه سي منع کولای له عذاب څخه د یو چا که څه هم فرعون او نمرود وي، او خدای ﷻ مالک د انتقام دی.

پوه سه: چې انتقام د "نقمة" څخه ماخوذ دی چې معنا یې عقوبة المجرم ده.

إِنَّ اللَّهَ لَا يَخْفَىٰ عَلَيْهِ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ ﴿٥﴾

په تحقیق پر خدای ﷻ نه پټېږي یو شی په مځکه کې او په اسمانو کې.

پوه سه: چې له عالم څخه خدای ﷻ تعبیر په مځکه او اسمانو سره وکړی، او سره ددې چې عالم نور جزئیات هم لري، له دې سببه چې حواس انسانیه پر دغو دوو منحصر دي، او مځکه یې تر اسمانو دمخه کړه، ولې چې مقصود دلته دادی چې له خدای ﷻ څخه هیڅ عمل د بندګانو پټ نه دی، نو خدای ﷻ به ودوئ ته جزاء ورکوي په ورځ کې د قیامت فهو کالدلیل علی قوله تعالی ان الذین کفروا آه.

هُوَ الَّذِي يُصَوِّرُكُمْ فِي الْأَرْحَامِ كَيْفَ يَشَاءُ ۚ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٦﴾

او خدای ﷻ هغه ذات مقتدر دی چې تاسي ته صورتونه درکوي یعنې په ارحامو کې د مندو مټاسي څرنګه چې یې اراده وي، یعنې نر وي او که ښځه، تور وي او که سپین، تام الاعضاء وي او که ناقص الاعضاء وي، ځګ وي که ګردی او که میانه، ښائسته وي که بدرنګه.

فائده: په دې آیت کې رد دی پر نصاری وو چې وایي عیسی خدای دی او یا د خدای زوی دی لان من صور في الرحم وعیسی منهم یمتنع انیکون الها او ابناً له تعالی لان من في صور في الرحم بعرضة من الزوال والفناء والله تعالی او ولده فرضاً منزه عن ذالک کما لایخفی، او نسته معبود بالحق بهله خدایه او خدای ﷻ غالب او د حکمت څښتن دی، او په بخاري او مسلم کې په

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

روایت د ابن مسعود رضي الله عنه راغلي دي، دی وایي چې حدثنا رسول الله وهو الصادق المصدوق ان خلق احدکم یجمع في بطن امه اربعین یوما نطفة ثم تکون علقة مثل ذالک ثم مضغة مثل ذالک ثم یبعث الله الملک الیه باربع کلمات فیکتب رزقه وعمله واجله او شقي او سعید وان احدکم یعمل بعمل اهل الجنة حتی مایکون بینه وبینها الا ذراع فیسبق علیه الکتاب فیعمل بعمل اهل النار فیدخلها وان احدکم لیعمل بعمل اهل النار حتی مایکون بینه وبینها الا ذراع فیسبق علیه الکتاب فیعمل بعمل اهل الجنة فیدخلها. وان یضاوي رحمه الله وایي چې مراد له دې کتاب خخه اظهار دی د دغو شیانو وملکي نه والا فقضاء الله سابق علی ذالک

دروښ وایي: چې بعض ملایان چې ددغه حدیث ترجمه وعوامو ته وکړي، او بیان د مراد د حدیث نبوي مذکور وعوامو ته بالتفصیل بیان نه کړي، نو زیر عوام دغه ملایانو د جبریه ومذهب ته دعوت کړه، ولي چې جبریه وایي چې ټوله کارونه چې موږ کوو که د خیر کارونه او که د شر هغه خدای ﷻ په موږ جبراً کوي ولا اختیار لنا في فعل من الافعال، وعلی هذا المذهب الخبیث د انبیاء علیهم السلام را استول د خلګو د هدایت لپاره او نازلول د کتاب، لپاره د خیر او شر بښولو لپاره ټول بې فائدې ګرځي نعوذ بالله من ذالک، نو ملا صاحب چې ددې حدیث د ترجمې تفصیل وعوامو ته ونه کړي، نو عوام وایي که زه زنا وکړم نو ولي خدای پاک ما دوزخ ته اچوي زنا خو خدای په ما وکړه او دغه رنګه نور معاصي. او دا بعینه مذهب الجبریة الملعونة کما لایخفی.

دروښ وایي: چې تفصیل ددې حدیث چې د جبر خلاص وي دا دی چې خدای ﷻ په علم ازلي سره په دې خبر و چې فرعون، نمرود، ابو جهل مثلاً بخپل اختیار وقت التکلیف من الله به کفر مختاره کوي او تر اخیره عمره به پر هغه کفر پاته وي خو چې پر کفر به یې موت وي فذالک هو الشقي، او په دې هم خدای ﷻ په علم ازلي خبر و چې ابوبکر، عمر، عثمان رضي الله عنهم مثلاً په نیز د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ارسال الرسول محمد ﷺ به ایمان پخپل اختیار راوړي بدون الجبر من الله، او پر هغه ایمان به پاته وي تر مرګه پوري فذالک هو السعید، ثم امر الله تعالی الموکل بالرحم ان یکتب الاول شقیاً والثاني سعیداً. ثم ان الله عزوجل علم بالعلم الازلي ان فلاناً یکون عند التکلیف یختار باختیاره الاسلام ویکون علیه طول عمره حتی اذا قرب اجله جداً یختار باختیاره الکفر بسبب من الاسباب ویموت علی ذالک الکفر و ن فلاناً یکون کافراً في ابتداء عمره باختیاره ثم اذا قرب عمره الی الآخیر و ب اجله جداً یختار الاسلام باختیاره فیموت مسلماً، نو دا دوه کسه یعني مختار الاسلام في اخیر عمره ومختار الکفر عند اجله یعلمه الله الملک فیکتب کذالک، وهذا معنی قوله علیه السلام فیسبق علیه الکتاب فیدخل الجنة او النار، یعني هغه سابق کفر او اسلام چې ملکي لیکلی وو چې هغه کفر او اسلام هم د خپل اختیار کړی و ده ته راوړاندي سو، وهذا معنی قوله علیه السلام في حدیث آخر المتفق علیه چې څه وخت چې علیه السلام د سعید او د شقي د نوشتې خبره وکړه حین کون الولد في بطن امه، او اصحابو پوښتنه خندي وکړه "افلا نتکل علی الکتاب وندع العمل، قال لا فکل میسر لماخلق له" الحدیث.

دروېش وایي: چې دا معنا ددې قول د اهل السنة والجماعت ان العبد کاسب والخالق هو الله تعالی" یعني بنده به صرف اراده د کار د خیر یا شر کوي، او داغه هم دده قدرت چې خدای ﷻ بنده ته ورکړی فائده ده لکن خالق د اسبابو او د آلاتو او شرائطو د کار د خیر او شر هو الله تعالی، وهذا معنی قوله علیه السلام فکل میسر لما خلق له.

پوه سه: چې د معاصیو مثال په نېز د جبریه وو دادی لکه یو سړی چې د بل سړي لاسونه او پښې وروتړي او مخ او ټول بدن یې په نجاست او مردارۍ ور ککړ کړي، نو دا سړی خو د ملامتیا او د عذاب وړ نه دی، ولي مجبور وو، او د طاعات مثال په نېز د جبریه وو دادی چې یو سړی وي کالي او بدن یې ډېر خیرن وي نو بل سړی په زوره دده بدن او کالي پاک ور پرېمینځي، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دا سړی قابل د مدح او د انعام او د ثواب مستحق نه دی ولې خو دده سره جبراً بل چا دا کار وکړی.

دروبش وایي: چې مفاسد د مذهب د جبریه وو ببخې دبر دي. والمذکور النموذج من مفاسد هذا المذهب.

فائده: د جبریه مذهب خو دا و چې دروبش یې بیان وکړی، او معتزله وایي چې هر بنده د هر کار د خیر او شر خالق پخپله دی. ویشهد بابطال مذهبهم آیات القرآن في مواضع متعددة، وایضا یشهد بابطال مذهبهم الأحادیث النبویة التي تبلغ حد الشهرة وتفصیل مذهبهم ورده في کتب عقائد اهل السنة والجماعة کشرح العقائد وشرح المقاصد للعلامة التفتازاني رحمه الله وشرح المواقف للسید الجرجاني رحمه الله وغیرها، او مذهب د اهل السنة والجماعت متوسط بین الجبر والخالقیة دی، یعني بنده صرف کاسب دی په دې معنا چې صرف دی اراده او قصد خپل وکار ته خیر یا شر مصرفوي او خالق د افعالو د بنده که خیر وي او که شر وي فقط خدای ﷻ دی. ولهذا ورد خالق کل شیئ وفعل العبد ایضا شیئ.

دروبش وایي: دا و مفصل بیان د حدیث مذکور والله الموفق، نو ملایان وعوامو ته دغه حدیث نبوي سره ددغه تفصیله باید وکړي لیخرجونهم من ظلمات الجبر.

هُوَ الَّذِیْٓ اَنْزَلَ عَلَیْكَ الْكِتٰبَ مِنْهُ اٰیٰتٌ مُّحْكَمٰتٌ هُنَّ اُمُّ الْكِتٰبِ

او خدای ﷻ هغه ذات دی چې نازل کړی یې دی پر تا کتاب یعني قرآن الکریم چې بعض د هغه کتاب آیتونه دي محکم چې هغه اصل د قرآن دي چې د هغو عبارات په داسي شان دي چې پر سامع نه مشتبه کېږي، لکن په شرط ددې چې سامع په لغت عربي خبر وي، یعني بمفرداتها ومرکباتها الناقصة کالمرکب الاضافي والمرکب التوصیفي ومرکباتها التامة کالجمل الخبریة والجمل الانشائیة من الامر والنواهي وغیر ذالک من مفهومات النصوص ومنطوقاتها ومقتضیاتها.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې خدای ﷻ قرآن مبارک ټوله محکم بللی دی في قوله تعالی "الر کتاب احکمت آیاته" او ددې معنا داده چې قرآن مبارک ټوله حق دی لاریب فیه، او صحیح دی لاتناقض فیه، او محفوظ دی د خلل او نسخ څخه، او په بل خای کې ټوله تشابه بللی دی یعني في قوله تعالی "کتابا متشابها" نو معنی یې داده چې د قرآن بعض آیتونه د نورو سره مشابه دي په صحت کې د معنا او په حقیقت د مدلول، او په بعضو آیتو کې یې قرآن دوه قسمه کړی دی، محکم او متشابه لکه په دې آیت کې:

پوښتنه: خدای ﷻ ټوله قرآن ولې محکم نه ګرځاوه؟

ځواب: چې په متشابه کې امتحان دی په منځ کې د ثابتین علی الحق او متلزیزینو فیه کما سیأتي.

پوښتنه: محکمات آیتونه خو ډېر دي، نو څه حکمت الهي دی چې ام الکتاب یې په صیغه د جمع نه ووایه؟

ځواب: محکمات ټوله پر منزله د ام واحد دي لان الاحکام المفروضة تؤخذ من جمیعها لا من کل واحدة منها، ولله در صاحب روح البیان حیث قال في تفسیر ام الکتاب ای اصل فیه وعمدة یرد الیها غیرها بالتاویل، ثم قال فالمراد بالکتاب کله والاضافة بمعنی في، واما المظهري رحمه الله فجعل ام الکتاب ای لفظ اللام والاضافة الی الکتاب ببیان المعاني المتعددة بالنسبة الی المتعلمین کالمتشابهات في صعوبة فهم المراد من اللام والاضافة الی الکتاب فارجع الی تفسیره.

دروښ وایي: چې امام مظهري رحمه الله څېړنه د محکماتو قرآنیه و په دې ډول کړې ده چې د محکم مراد به یا بلا تامل وسړي ته یعني متعلم ته معلومېږي نحو قوله تعالی قل تعالوا اتل ما حرم ربکم علیکم وقوله تعالی وقضی ربک ان لاتعبدوا الا ایاه وقوله تعالی لیس کمثله شیئ، وامثال ذالک، او یا به یې مراد پسله تامل او د طلب معلومېږي من غیر حاجة الی بیان من الشارع کقوله تعالی السارق والسارقة فاقطعوا ایدیهما، نو سړی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې په دې آیت کې لږ فکر وکړي نو کیسه ښه ښکاره شي چې سرقه شامل ښوولې بطریق الاولی، لان السرقة اخذ مال مملوک لغیره خفیةً، او کیسه ښه خو د ویښ او بیدار سړي څخه چې په صدد کې د حفظ د مال هم وي په یوه نوع د غفلت خندې وړي، نو د کیسه لاس پرې کیږي، او د کفن کښې لاس نه پرې کیږي، ولې چې د معنا د سرقه پکښې ناقصه ده، ولې چې کفن د میت مملوک د چا نه دی له دې جهته چې مړی په اعتبار د احکامو د دنیا لکه جماد دی لایصلح للمالکیة او حق د ورثه وو په مال پورې دده وروسته تر تکفین تعلق پیدا کوي، نو کفن خو دمخه ورکړه سوی دی، نو ددوی ملک هم نه دی، او بعض فقهاء رح چې وایي علت د نه پرې کیدو د لاس د کفن کښې دادی چې کفن د مړي مال محفوظه نه دی، ولې چې مړی خو حافظ نه سي کیدای، نو څکه دوی وایي چې که قبر په بیت مقفل کې و او کفن کښې کفن څندې یو وړی، لاس بې پرې کیږي لوجود حفظ الکفن بالبیت المقفل.

دروښ وایي: چې صحیح دلیل د مظهري رحمه الله دی او د بعضو فقهاو رح خبره صحیح نه ده، او داغه رنګه "وارجلکم الی الکعبین" في آیة الوضوء وروسته تر فکر او غور دا معلومیږي چې عطف پر مغسول دی یعني وجوهکم یا ایدیکم، اما علی تقدیر نصب ارجلکم فظاهر. واما علی تقدیر الجر فهو ایضا معطوف علی المغسول والجر للجوار ولیس بمعطوف علی رؤسکم حتی یکون وضیفة الرجلین المسح في الوضوء کما یقوله الشیعة. والدلیل علی ذالک ضرب الغایة یعني الی الکعبین لان المسح لیس له غایة انما الغایة للمغسول کما في قوله تعالی "وایدیکم الی المرفقین" وکذا قوله تعالی "ثلثة قروء" ولې چې لفظ د ثلثة اسم عدد لایقبل الزیادة ولا النقصان فبعد التامل القلیل یظهر ان القرء وان کان لفظا مشترکا بین الحیض والطهر، لکن مراد په آیت مذکوره کې حیض دی نه طهر لکه امام شافعي رحمه الله چې وایي، ولې چې طلاق مشروع او سنې خو هغه دی چې په طهر کې وي، نو که سړی مایني ته طلاق په طهر کې ورکړي چې بعض ایام یې تېرې سوي وي، نو که دغه طهر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په عده کي حساب کړي نو خو دري طهره پوره نه سوه، بلکه اول طهر خو ناقص دی، او که هغه طهر په عده کي نه سي حساب یلزم الزیادة علی الثلثة کما لایخفی، او چي عده حیض سي لایلزم شیئ من الزیادة والنقصان لان بعد الطهر الذي وقع فیه الطلاق یعتد بثلث حیض کوامل فافهم. وکذا قوله تعالی قواریر من فضة یظهر بعد التامل ان اواني الجنة في الصفاء کالقارورة وفي البیاض کالفضة، مظهري مع زیادة کثیرة من المعاصي.

دروښ وایي: چي ترجمه ددي آیت او تفصیل چي روح المعاني بیان کړي ده د مطالعه کونکو د تفسیر ایوبي ډیر لوړ دی، لهذا هغه تفسیر ما په دي عام الفهم تفسیر کي ونشر ته ونه سپارله، او د روح البیان تفسیر په مختصر توګه وتفسیر مذکور ته د مظهري راجع کړي.

وَاُخَرُ مُتَشٰبِهٰتٌ

پوه سه: چي اخر جمع د اخری ده، او معدول دی د اخر من څخه او یا د الاخر څخه، نو ځکه غیر منصرف دی للعدل والوصف کذا في البیضاوي والمظهري.

پوه سه: چي متشابه په معنا عامه سره هغه آیت یا کلمي ته د قرآن مبارک وایي چي عارف باللغة العربیة یي په معنا نه پوهیږي نه په اول وهلت سره او نه بعد التامل او نه بعد الطلب حتی چي بیان یي شارع په عبارت محکمه سره ونه کړی، نو هلته به یي مراد ښکاره کیږي چي دي ته په اصطلاح د اصولیانو مجمل وایي، کالصلوة والزکوة والحج والعمرة وآیة الربوا او نحو ذالک. او که بیان د شارع له خوا نه سو پیدا، دا نو متشابه اصطلاحي بولي او هم دغه معنا دلته مراد ده، کالمقطعات القرآنیة ویدالله فوق ایدیهم، وقوله تعالی الرحمن علی العرش استوی.

فائده: متشابهات اصطلاحیه په اعمالو پوري د بندګانو اړه نه لري والا یلزم التکلیف بما لایطاق.

پوښتنه: څه حکمت الهي دی چي مجملات یي مفصل را نه وړه؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواب: حکمت الهي دادی چي د علماوْ د امت مرحومه فضل مسلمانانو ته ښيي، په دي معنا چي د علماوْ په زړو کي به حرص پيدا کړي چي دوئ به کوشش وکړي چي هغه علوم اول ځان ته حاصل کړي چي فهم د مجملاتو پر هغو موقوفه وي کعلم اللغة والنحو والصرف وعلم الآحاديث النبوية ﷺ او نور، نو دوئ به خبر سي په معنا د مجملاتود قرآن کريم او يا په مجملاتو د احاديث نبويه وو. او دوئ به قادر سي پر توفيق بين المجملات والمحكمات، نو دوئ ته به خداى پاک درجات العلى ورکړي، وبهذا قال رسول الله ﷺ علماء امتي كانبياء بني اسرائيل" په دغه حديث کي د مساجدو امامان يا خطيبان د جوامعو مراد نه دي كما يزعمونه، بلکه مراد مجتهدين د امت مرحومه دي كالامام الاعظم سراج الامة ابي حنيفه والامام الهمام مالک بن انس والامام القمقام محمد بن ادريس الشافعي والامام المعظم احمد بن حنبل رحمهم الله تعالى ورضى عنهم، وهكذا ائمة الفتاوى في كل مذهب و اصحاب الترجيح وغيرهم كثرهم الله تعالى وجمع بيني وبينهم في دار كرامته تعالى يوم القيامة.

بيت

چار چيز اورده ام شاها که در گنج تو نست عاجزی ومکسينی فقر گناه آورده ام

بيت

ايوبي لمن کړه تينګه د اغيار د امت ته که غواړي چي ما خداى ورولي جنت ته

فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ

الفاء لتفصيل حال السامعين للقرآن العظيم، يعني هغه کسان چي په زړو کي يې ميل وي له حق څخه وخواهشاتو باطله وو ته، نو هغه پلټنه کوي او بحث کوي په ظاهر د متشابهاتو قرآنه وو، او اعراض کوي له محکماتو څخه د قرآن، او يا تاويل بالباطل کوي لپاره د فتني، او په شک کي اچول د مسلمانانو په دين کي، يعني مسلمانانو ته وايي چي فلانی آيت متشابه نقيض دی د فلاني محکم آيت.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې شان نزول ددې آیت بعضو روایاتو وایي چې وفد د نجران وو چې د علیه الصلوة والسلام سره یې په باره کې د عیسی علیه السلام خبرې او بحث کاوه، نو دوئ وویل چې ته نه وایې چې عیسی کلمة الله و او روح و د خدای لد خوا څخه؟ علیه السلام ورته وویل چې هو! زه وایم قالوا حسبنا یعنې دغه زموږ بس دی چې عیسی ابن الله و، او بعضو روایاتو وایي چې حیي بن اخطب او کعب بن الاشرف او نور یهودیان و علیه السلام ته راغله چې موږ خبر سوي یو چې پر تا باندې "الم" نازل سوی دی؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل هو نازل سوی دی، نو حیي بن اخطب ورته وویل که دا حق وي نو مده ستا د امت یو اویا (۷۱) کاله ده، نو علیه الصلوة والسلام ورته خندل لاتقریراً یل تعجباً لجهله چې ده کلام الهي عربي پر حساب د ابجد حمل کړی او سره له دې چې حساب د ابجد خو حادث دی او کلام الهي قرآن مجید خو قدیم دی، نو حیي مذکور ورته وویل هل غیرها، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل "الرا" حیي ورته وویل چې دا خو تر "الم" ډېر سو، بیا علیه الصلوة والسلام ورته وویل "المص المرا" نو حیي ورته وویل لقد خلطت علینا بایتها ناخذ، فانزل الله تعالی هذه الآیة

او ابن جریج رحمه الله وایي چې دا آیت په منافقینو کې نازل سوی دی، او حسن بصري وایي چې په خوارجو کې نازل سوی دی، وقیل هم جمیع المبتدعه.

پوه سه: چې امام مظهري وایي لفظ عام دی لجمیع من ذکر وجمیع اضاف المبتدعة.

وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ

عطف دی پر ابتغاء الفتنة باندې یعنې لپاره د طلب د تاویل د متشابه، یعنې تاویل د متشابه پر طریقه د خپلو خواهشاتو زائغه وو، او ګاهې تاویل د متشابه غوښتنه بناء پر جهل وي په معاني و د قرآن فقط، لکه بعض متاخرین د فرق مبتدعه و یا متقدیمن د منافقینو د عصر نبوي ﷺ یا وروسته تر هغو بقایا د منافقینو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ

او هیڅ علم نه لري پر تاویل د متشابه من الآیات موافق د ما اراد الله سره مګر خدای ﷻ.

پوښتنه: په الا الله کي څو علیه الصلوة والسلام هم داخل دی، نو آیا علیه السلام هم علم په تاویل د متشابه نه درلودی؟

ځواب: دا حصر اضافي دی یعني نظر وعمومي اهل علم ته دی، او علیه السلام څنډي مستثنی دی، بدلیل قوله تعالی "ثم ان علینا بیانه" ولي چي ددي آیت معنا داده چي خدای ﷻ وعلیه السلام ته وویل بیا پر ما دي بیان د قرآن محکمه و متشابهه نو د ټوله قرآن بیان ضروري او لازم دی، ولا یجوز انیکون منها غیر مبین له علیه الصلوة والسلام والا یخلو الخطاب عن الفائدة ویلزم الخلف في وعده تعالی بقوله ثم ان علینا بیانه، والحق ان المتشابهات اسرار مکتومة بین الله ﷻ ورسوله ﷺ کمایدل علیه ماجاء في الحدیث الصحیح ان جبرئیل لما انزل قوله تعالی "کهیعص" فکل حرف تکلم به جبرئیل قال علیه الصلوة والسلام فهمت فتعجب جبرئیل من علمه ﷺ مع ان جبرئیل حامل ولم یعلم ما اراد الله ﷻ، مظهري و دروېش عاصي.

پوه سه: چي بعض فقهاء او مفسرین وېي چي وقف پر الا الله لازم دی، والراسخون مبتداء ده، او یقولون یې خبر دی وهذا هو المشهور من مذهب الحنفیه، لکن صاحب د روح البیان چي حنفي هم دی وقف پر الا الله لازم نه ګولي، بلکي پر والراسخون عطف ګولي او دی داسي عبارت په لیل کي وایي فان الله تعالی لم ینزل شیئا من القرآن الا ینتفع به عباده ویدل به علی معنا اراده، فلوکان المتشابه لا یعلمه غیر تعالی للزمنا للطاعن مقال، وهل یجوز انیکون رسول الله ﷺ لایعرف ولایعلم معنی المتشابه.

دروېش وایي: چي دمخه مو د وویل چي دا امکان نه لري.

واذا جاز ان یعرف المتشابه (او سره له دې چي په الا الله کي څو علیه الصلوة والسلام هم داخل دی) جاز ان یعرفه الربانیون من صحابته ﷺ وان لم یعرفه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

النبي ﷺ وصحابته ﷺ والعلماء الراسخون وقالوا علمه عند الله لم يكن لهم فضل على الجهال لانهم جمعيا يقولون ذالک ولم يزل المفسرون الى يومنا هذا ويقولون كل آية ولم نرهم ان يقفوا شيئ من القرآن فيقولون هذا متشابه لا يعلمه الا الله بل فسروا نحو حروف التهجي وغيرها انتهى عبارة روح البيان.

دروبش وايي: چي صاحب د روح البيان په دې کي سهوه دی چي عليه الصلوة والسلام يې د صحابه ﷺ او علماء راسخين سره يو ځای کړی يعني چي عليه الصلوة والسلام او صحابه کرام او علماء راسخين په ګډه سره وايي لا يعلم تاويله الا الله، وليس كذالک لما قلنا ان هذه الآية مستثنى عنها رسول الله ﷺ بقرينة قوله تعالى ثم ان علينا بيانه لان هذه الآية تشتمل بيان المتشابهات والمحكمات كله وقد مر ان القصر اضافي، وهذه المتشابهات سر بين الله ورسوله ﷺ.

پوښتنه: نو چي عليه الصلوة والسلام په تاويل د متشابهاتو خبر و، نو بايد بعض خاص صحابه وو ته يې دا تاويل ورښوولی وای؟

ځواب: د سر بين الله ورسوله معنا خو داده چي هيڅ څوک به نه په خبر وي، وما قال يلزم للطاعن مقال ممنوع لانه لما علم رسوله ﷺ بتاويله فلا مساغ للطاعن بان يقوله فما فائدة نزولها لان المقصود في نزول المتشابهات هو بيان الاسرار لرسوله ﷺ، وبيان الاسرار غير لازم عليه الصلوة والسلام، الا ترى ان عليه الصلوة والسلام لم يفشو جميع الاسرار الواقعة بينه وبين ازواجه المطهرات في وقت الجماع لاحد من الصحابة وغيرهم فاذا كانت هذه الاسرار مصونة من الافشاء كانت الاسرار الواقعة بين الرب المجيد والحبيب مصونه عن الانشاء لاحد بالطريق الاولى، وما قال لم يكن للعلماء الراسخين فضل على الجهال آه ممنوع لان فضل العلماء الراسخين والصحابة على الجهال ليس محصورا في بيان تاويل المتشابهات بل للصحابة وللعلماء الراسخين فضائل كثيرة في فهم معاني مشكلات القرآن وشيون نزول الآيات بل في بيان اسرار المحكمات التي لاتعرفها الجهال وما قال اذا جاز ان يعرف رسول الله ﷺ جاز ان يعرفه الربانيون آه قلنا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الملازمة ممنوعة لان المتشابهات اسرار بين الله وحبيبه ﷺ وليست باسرار بين الصحابة والتابعين والعلماء الراسخين فكيف يعرفون تاويله وما قال لم يزل المفسرون الى مومنا هذا آه، قلنا نعم لكن بالتاويلات الظنية ولهذا يول بعض الصحابة والتابعين والمفسرين "الم" مثلا بتاويلات متنوعة وهكذا سائر المقطعات القرآنية يفسرونها بتاويلات بينها بعد السماء والارض، فلو كان لهم علم يقيني لاولوا المتشابهات على طريقة واحدة، ولنعم ماقال صاحب نور الانوار المفسر لآيات الاحكام الواردة في القرآن بتفسير يقال له التفسير الاحمدي ومقالته في نور الانوار ان النزاع بين من يقول ان الراسخون في العلم يعلمون تاويل المتشابهات انهم يعلمون تاويلها الظني ولهذا اختلفوا في تاويل المقطعات القرآنية اختلافاً بيناً وبين من يقول انه لا يعلم تاويلها الا الله ان لا يعلم تاويلها اليقيني بان هذا المعنى هو مراد الله تعالى قطعاً فالنزاع راجع الى النزاع اللفظي، وقد علمت مما قررنا سابقا ان رسول الله ﷺ خارج من هذا الحصر لانها اسرار بينه تعالى وبين حبيبه ﷺ.

دروښ وايي: وهذا هو الحق الذي يعض عليه بالنواجز وقد طالعت التفاسير المتنوعة فكلها او جلها يوافقها راى العبد الضعيف ولله الحمد على ما وفقني لتفصيل هذا المقام كما هو حقه.

دروښ وايي: چي زه خو په حقيقت کي خوشه چين د کتابو د مفسرينو رح يم لکن لدفع طعن الطاعنين وشبهة الزائغين واعلاء شان سيد المرسلين ﷺ اضطررت الى تطويل الكلام والجواب عن دلائل روح البيان، فلا تلوموني ايها الحساد ولوموا انفسكم والله الموافق.

وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ

پوه سه: چي دمخه مونږ وويل چي بعض قراء او فقهاء وقف پر الا الله باندي لازم بولي، او الراسخون في العلم" مبتداء بولي "يقولون" يې خبر بولي، او هغه علماء چي والراسخون عطف بولي پر "الله" باندي هغه د "يقولون" جمله حال بولي له "الراسخون" څخه والتقدير قائلين آمنا به.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: عطف د "الراسخون" پر لفظ الله قول دی د مجاهد او ربیع رح او ابن عباس ﷺ، او اکثر قراء او فقهاء پر دې رایې دي چې کلام پر الا الله پوره سو والراسخون في العلم جملة مستانفة والواو للاستيناف، وهو قول ابي بن كعب وعائشة وعروة بن الزبير ﷺ، ورواية طاؤس عن ابن عباس ﷺ وقول حسن بصري واكثر التابعين واختاره الكسائي والاخفش رح. او ددې مذهب تاکید کوي قرائت د ابن مسعود ﷺ "ان تاويله الا عندالله والراسخون في العلم يقولون آه" ولې چې پر دې قرآئت عطف د "الراسخون" پر لفظ د الله نه سې کېدای، ولې لفظ د الله پر دې قرائت مجرور دی په اضافت سره د عند، او لفظ د والراسخون مرفوع دی بالواو والنون كما هو اعراب الجمع المذكر السالم، او داغه رنګه د عدم عطف د الراسخون تائید کوي قرائت د ابي بن کعب ﷺ سيد القراء ويقول الراسخون في العلم آمنا به آه.

دروېش وايي: چې په دې آراوو او قرائتو سره تقویه پیدا کړه تضعیف د دروېش قول لره د روح البیان کمامر فافهم.

پوه سه: چې مراد له الراسخون څخه هغه کسان دي چې په دین کې د اسلام محکمه وې او په اسلامي امورو کښې يې هیڅ شک او شبه په زړه کښې نه ور ګرځي، وهم في الحقيقة اهل السنة والجماعة، چې دوئ کتاب الله او سنت نبوي بېله اتباع د خواهشاتو نفسانیه وو د زامې په غاښو کې تینګ نیولي دي، او په تفسیر کې د قرآن په صحابه کرامو او په تابعینو او تبع تابعینو رح پسې اقتداء کوي لانهم من اهل خير القرون بشهادة رسول الله ﷺ، او رد د متشابهاتو د قرآن او احادیثو بنویه وو محکماتو کوي، او تر خپلر خواهشاتو نفسانیه وو تېر وي، په حدیث کې د ابي درداء ﷺ راغلي دي چې له علیه الصلوة والسلام څخه چا پوښتنه وکړه چې راسخون في العلم څوک دي؟ علیه الصلوة والسلام ورته وفرمایله "من برت يمينه" يعني په قسم کې خپل ته حانثوي "وصدق لسانه" او ژبه يې رشتیا وایي "واستقام قلبه" او زړه يې له شک او شبهې څخه خلاص وي او پر دین مستقیم وي "وعفف بطنه وفرجه" او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ساتلی یې وي خپل نس یعني له حرامو څخه، او خپل فرج یعني له زنی څخه، او استمنا بالید څخه الا عند الضرورة یعني تسکین الشهوة لا قضاء الشهوة، او دوئ وایي چې زمونږ ایمان دی پر متشابه.

پوه سه: چې دا جمله یا خبر دی د والراسخون څخه که وقف پر الا الله وکړه سي، او یا حال دی له والراسخون څخه که عطف پر لفظ الله سي والمعنی قائلین آه.

كُلٌّ مِّنْ عِندِ رَبِّنَا ۚ

یعني هر یو له محکم او متشابه څخه که مونږ په پوهیږو او که نه نازل له جانبه څخه د خدای ﷻ دي فعلینا الایمان بالکل بدون التلبیس والتاویلات الزائغة.

فائده: امام مظهري رحمه الله وایي په توجیه د قول د بغوي رحمه الله چې وایي چې وقف پر الا الله باندي اقیس او اشبه دی آه، نو مظهري رحمه الله وجه دا ویلې ده چې استثناء له نفي څخه اثبات دی باجماع اهل العربیة او لام په والراسخون کې خو د باب لپاره د استغراق دی، نو که راسخون في العلم عطف سي پر لفظ الله باندي نو باید ټوله راسخون دي په تاویل د متشابهاتو خبر وي ولیس کذالک علی مایشهد به البداهة والدرایة آه.

دروښ وایي: اولاً دا ممنوع ده چې لام لپاره د استغراق دی لم لایجوز ان یکون للجنس یتحقق بتحقیق بعض الافراد وبعض الافراد الکمل من الراسخین دي لکه مظهري چې دمخه ویلي دي چې راسخون في العلم هم الصوفیة العلیة الراسخون في العلم المنسلخون عن الهواء بالکلیة الی اخیر کلامه، ولو سلم ان اللام للاستغراق نو بیا دا قول دده ممنوع دی چې د کل راسخ في العلم خبرتیا په تاویل د متشابهاتو خلاف البداهة آه، ولي چې دده پر ترجمه د راسخ في العلم هو الصوفیة العلیة الی اخیر ماقال نو مونږ وایو هر راسخ في العلم په معنا مذکوره په تاویل د متشابه خبر دی والله اعلم بالصواب.

وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ ﴿٧﴾

او پند نه اخلي مګر خاوندان د عقولو سلیمه و.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې اصل د یذکروا یتذکروا دی نو تا یې په ذال کې مدغمه کړه.

رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا

اې زمونږ ربه ته مه مائلوې زمونږ زړونه له حق څخه لکه قلوب د زائغینو مذکورینو في قوله "فاالذین في قلوبهم زیغ" الآیة.

فائده: دا آیت تر پایه پورې یا مقوله د راسخونو ده، نو تقدیر یې دادی یقولون ربنا امنا به آه ویقولون ربنا لاتزغ الآیة، او یا تعلیم دی د سوال له جانبه څخه د خدای ﷻ والتقدیر قولوا ربنا لاتزغ الآیة.

بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا

وروسته تر دې چې موږ ته تا هدایت وکړې په نازلولو سره د قرآ کریم او توفیق دې راکړی د ایمان پر محکم او متشابه ټولو له قرآن کریم.

وَهَبْ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً إِنَّكَ أَنتَ الْوَهَّابُ ﴿٨﴾

او موږ ته وبخښې یعني راکړې او پر موږ وکړې ستا له جانبه څخه رحمت.

فائده: له دې آیت څخه معلومه سوه چې هدایت په معنا ایصال الی المقصود یعني الایمان والطاعة او ضلالت چې ضد د هدایت دی له جانبه څخه د خدای ﷻ دی، او که چېرې د هدایت معنا ارائة الطریق وای فلا معنی لسوال الهدایة منه تعالی، لان ارائة الطریق حاصل من جانبه بانزال القرآن علی النبي ﷺ فالدعاء طالب الحاصل.

رَبَّنَا إِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيهِ إِنَّ اللَّهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيعَادَ ﴿٩﴾

اې زمونږ خدایه ته جمع کونکی یې د ټولې خلګو د هغه ورځې لپاره یعني لپاره د حساب او جزاء د هغې ورځې چې په هغې کې هیڅ شک نسته یعني لارباب العقول السلیمة الغیر المقلدین الا آباء الضالین والا فالمشرکون ینکرون الیوم المذکور، او په تحقیق خدای ﷻ خلاف نه کوي د خپلې وعدې څخه، نو میعاد مصدر میمي دی.

پوه سه چې یو وعد دی او بل وعید دی، وعد دادی چې یو څوک له یو چا

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

سره وعده د احسان وکړي، او وعید دادی چې یو څوک د چا سره وعده د عذاب وکړي، نو وعیدیه د معتزله وو وایي چې پر خدای ﷻ باندې خلاف د وعد او وعید څخه دوارې محال دي، ولې چې وعد او وعید خو داوړه اخبار دي په ثواب ورکولو یا په عذاب ورکولو، نو که له یوم څخه ددې دوو خلاف وکړي نو پر خدای ﷻ کذب لازمېږي تعالی الله عن ذالک علواً کبیراً او دوئ دلیل هم په دغه آیت وایي یعني "ان الله لایخلف المیعاد" مورږ اهل السنة والجماعة ودوئ ته وایو چې وعید د فاسقانو یعني عذاب ورکول خو مشروط دی په عدم توبه ددوئ في الدنیا باتفاق بیننا وبینکم، نو مورږ وایو چې دغه وعید د فاسقانو چې بې توبې مړه سي مشروط په دې دی چې خدای ﷻ عفوه او بخښنه ورته ونه کړي بدلیل قوله تعالی "یغفر لمن یشاء ویعذب من یشاء" وقوله تعالی "لاتقنطوا من رحمة الله" وقوله تعالی "ومن یقنط من رحمة ربه الا الضالون" وقوله ان الله لایغفر ان یشرک به ویغفر مادون لمن یشاء" واما سوال الکذب علیه تعالی فغیر وارد اذ اخبار وعیده مقیدة بعدم العفو، واما عدم جواز خلف الوعد فلانها خصلة رزیلة تنافي الوهیة تعالی.

دروښ وایي: چې بعض عمده علماء لپاره د دفع د سوال مذکور في خلف الوعید چې داسې وایي چې کذب او درواغ پر خدای ﷻ روا دی، لکن دا غلط جواب دی او له خاورو څخه پر هیرو کښېښتل دي لان الکذب عیب ونقص في الاناسي فکیف یجوز في ذات الباري المنزه عن العیوب والنقائص، والتفصیل في شروح مسلم الثبوت فراجع الیها ان شئت.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَن تُغْنِيَ عَنْهُمْ أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُم مِّنَ اللَّهِ شَيْئًا ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمْ وَقُودُ النَّارِ ﴿١٠﴾

په تحقیق هغه کسان چې کافران دي که مشرکان وي او که اهل کتاب وي.

فائده: نسې کولای ودوئ ته مالونه ددوئ او نه اولاد د دوئ په دې معنا چې نه بدل د رحمت او طاعت د خدای ﷻ کېدای سي او نه دافع د عذاب د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ کبدای سي.

پوه سه: چي شيئاً منصوب دی مفعول مطلق دی ای شيئاً من الغنی، او هم دغه کسان اور بلبدونکي لرگي دي د اور يعني دوزخ، که څه هم کفارو خو به ويل کما حکی الله تعالی عنهم وکانوا يقولون نحن اکثر اموالا و اولاداً وما نحن بمعذبين، وقال الله تعالی في رد قولهم ذالک وما اموالکم ولا اولادکم بالتي تقربکم عندنا زلفی الا من امن وعمل صالحاً.

فائده: پر کفر چي سړی مړ سي د هيڅ چا فائده نه ور رسېږي نه د پلار نه د مور، ولي که فائده د پلار رسېدای وکافر زوی ته لنفع نوح ﷺ الی کنعان، او نه د زوی نفع وکافر پلار ته والا لنفع ابراهيم خليل الله لابيه آذر، وعلی هذا القياس الاموال.

كَدَأْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ؕ وَاللّٰهُ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۱۱﴾

پوه سه: چي "داب" مصدر دی د داب في العمل چي دهر به په کار کي ستړی سو، لکن دا لفظ غالب الاستعمال په شان او حال او عادت کي دی او جار مجرور محلاً مرفوع دي او خبر د محذوف مبتداء دي ای فعل هولاء الکفرة وشانهم في الکفر وتکذيب الرسل لکه شان او حال او عادت د آل يعني فرعون او اتباع دده، او حال د هغو کافرانو چي تر فرعونيانو دمخه وه لکه عاديان، ثموديان، قوم لوط چي هغو تکذيب په آيتو زمونږ وکړی، والمراد بها معجزات انبيائهم او آيات الکتب المنزلة علی انبيائهم نو خدای ﷻ ونيوله يعني عذاب يې ورکړی رقم رقم څوک په غرق سره معذب سوه څوک په رجم الحجارة څوک په خسف الارض سره الی غير ذالک من انواع العذاب، او خدای ﷻ سخت دی عذاب دده.

پوه سه: چي جمله د کذبوا بآياتنا يا حال ده په تقدير د قد کما هو القانون النحوي في وقوع الماضي حالاً، او يا جمله مستانفه ده په استيناف بياني

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

یعنې جواب د سوال مقدر کانهم قیل ماکان شانهم.

قُلْ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَتُغْلَبُوْنَ وَتُحْشَرُوْنَ اِلٰى جَهَنَّمَ ۭ وَبِئْسَ الْمِهَادُ ⑫

او ته ووایه هغه کسانو ته چې کفر کوي یعنې ته دوام ورکړه ودې خپل تبلیغ ته والمراد منهم الیهود باجماع المفسرین رح ځکه دی چې تاسي به مغلوبه سئ یعنې عذاب د مسلمانانو له خوا څخه او بیا به ورځ د قیامت چې حشر سئ د جهنم دورځ او بئس المهاد جهنم دی.

پوه سه چې له دې ځایه نیولې بیا تر اولوا الابصار پورې وعده خدای ﷻ پر خای کړې ده په قتل د بنې قریضه د یهودو او فرار کولو د بنې النضیر الی الاریحاء او په فتح د خیبر او جزیه پر دوئ مقررول، او له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې څه وخت چې علیه الصلوة والسلام او مسلمانانو شکست ورکړی په ورځ د بدر ومشرکینو ته د مکې، او اویا (۷۰) کسه یې په قتل ورسېدل او اویا کسه بندیان سوه، نو یهودیانو د مدینې وویل هذا والله النبي الذي بشرنا به موسی علیه السلام فارادوا ان یؤمنوا به، بیا بعض یهودو بعضو ته وویل چې تاسي تلوار مه کوئ په ایمان راوړلو کې او تر بل جنګۀ پورې له کفارو سره د قریشو انتظار وکړئ چې بیا څوک غالبه کېږي، نو که بیا هم محمد ﷺ غالبه سو، نو په ایمان پر راوړو نو چې د احد غزاء واقع سوه او مسلمانانو ته لوی شکست ورپه برخه سو او اویا (۷۰) صحابه کرام رضی الله عنهم پکښې شهیدان سوه او د علیه الصلوة والسلام سر مبارک او غاښ مبارک پکښې مات سوه، نو یهودیانو ته بیرته شک پیدا سو چې دا نبي موعود نه دی، نو یې ایمان نه راوړی، او علاوه پر هغه په منځ کې د علیه الصلوة والسلام او د یهودیانو د مدینې داسي عهد سوی و چې مونږ او تاسي به جنګ نه سره کوو نه به مونږ ته کومک په جنګ کې د قریشو را کوئ او نه به قریشو ته پر مونږ کومک درکوئ، نو دوئ دا وعده هم ماته کړه حتی چې کعب بن الاشرف سره د شپیتو نفرو مکې مکرمې ته ولاړل چې کفار د مکې وبل جنګ ته د علیه الصلوة والسلام اماده کړي، نو یهودیانو او مشرکانو د مکې پر دې اتفاق وکړی چې د

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

علیه الصلوة والسلام سره به په ګډه جنګ کوو، فانزل الله تعالی هذه الآیة

قَدْ كَانَ لَكُمْ اٰيَةٌ فِيْ فِئَتَيْنِ الْتَقَتَا ؕ
فِئَةٌ تُقَاتِلُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَاُخْرٰى كَافِرَةٌ

پوه سه: چې مخاطب یهود د مدینې دي پر تقدیر ددې چې آیت سابقه هم د دوئ په شان کې نازل سوی دی، فالمعنی قد کانت لکن ایها الیهود دلیل واضح پر صدق د "ماقول لکم انکم ستغلبون" او یا خطاب و مشرکینو ته د مکې دی علی تقدیر کون الآیة فیهم، نو معنا داده چې په تحقیق تاسي لره ای کفارو د مکې آیت او معجزه ظاهره ده او دلیل د نبوت د علیه الصلوة والسلام دي په هغو داوړو ولو کې چې سره یو ځای سوې یعنې په ورځ د بدر کې چې یوې ډلې چې علیه الصلوة والسلام او مؤمنان و جنګ یې کاوه په لاره کې د خدای ﷻ یعنې لپاره د اعلاء کلمة الله چې عدد یې درې سوه دیارلس (۳۱۳) کسه و چې اوه اویا (۷۷) مهاجرین وه او بیرغ د هغو د علي ؓ پر غاړه و، او دوه سوه شپږ دېرش (۲۶۳) انصار وه چې د هغو بیرغ د سعد بن عبادة ؓ سره و. او د ټولو سره اویا اوښان او دوه اسان وه او اکثره یې پیاده وه، او په ټوله لښکر سره اته توري وې، او شپږ زغري وې، او بله ډله کافران د مکې وه چې د هغو تعداد په صحیح روایت نهه سوه پنځوس (۹۵۰) کسه و، او مشر د لښکر یې عقبه بن ربیعه و او سل (۱۰۰) آسان ورسره وه.

فائده: جنګ د بدر اول جنګ و چې رسول الله ﷺ پکښې حاضر و، اتلس میاشتې تر هجرت وروسته، او میاشت هم د روژې وه سنه دوهمه (۲) د هجرت.

يَرَوْنَهُمْ مِّثْلَيْهِمْ رَاْيَ الْعَيْنِ ؕ وَاللّٰهُ يُؤَيِّدُ بِنَصْرِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ
اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّاُولِي الْاَبْصَارِ ﴿۱۳﴾

پوه سه: چې نافع اول توری ددې آیت په تاء د خطاب وایي، نو که خطاب ویهودو ته وي، نو معنا داده چې تاسي یهودانو ولیدل کفار مکه دوه مثله د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسلمانانو، نو مخاطب هغه یهود دي چي جنګ ته د بدر راغلي وه تا چي وويني چي ځوک غالبه کېږي، نو ددې معنا داده چي تاسي یهودیانو په سترګو ولیدل چي کفار یعني مشرکین د مکې دوه مثله وه د مسلمانانو او سره د هغه یې بد ترین شکست وخوړی، نو باید تاسي یهود له واقعه څخه د بدر پند واخلئ. قال الشاعر

پند گیر از مصائب دیگران　　تانه گیرند دیگران زتو پند
نرود مرغ سوی دانه پراز　　چودیگرمرغ بیند اندر بند

سوال: څرنګه کفار د مسلمانانو دوه مثله وه بلل سوه او سره ددې چي کفارو خو درې مثله د مسلمانانو وه بلکه زائد؟

ځواب: مراد نفس کثرت د کفارو دی وتکرار امثالهم لا التثنیة فقط کما في قوله تعالی فارجع البصر کمرتین فان المراد هناک کرة بعد کرة لا حقیقة التثنیة، وان کان الخطاب للمشرکین، نو یې معنا داده چي تاسي اې مشرکانو لیدل مسلمانان دوه مثله خپل، یعني چي جنګ شروع سو تاچي کفار بذدله او شکست وخوري وقد کان کذالک، د سعد بن اوس ﷺ څخه روایت دی چي یو سړی د مسلمانانو څخه چي ژوندی د کافرانو په لاس ورغلی نو مشرکینو د مکې له هغه څخه پوښتنه کړې وه چي څو کسه واست هغه ورته وویل؟ هغه ورته وویل چي موږ خو درې سوه دیارلس (۳۱۳) کسه وو، نو مشرکانو ورته وویل چي موږ خو تاسي دوه مثله خپل لیدلاست.

سوال: په سورت انفال کي خدای ﷻ ویلي دي "ویقللکم في اعینهم" یعني تاسي مسلمانان خدای ﷻ لږ ښکاره کولاست په سترګو کي د مشرکانو، نو ددغو دوو آیتو په تناقض نه وي؟

ځواب: یا تناقض نسته ولي چي د تقلیل او تکثیر وخت سره جلا و فالتقلیل قبل وقوع القتال تاچي کفار پر دلاور سي او جنګ وکړي، او تکثیر هغه وخت و کمامر چي جنګ شروع سو تاچي کفار وېرېږي و شکست وکړي، وقد کان کذالک.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دا بیان و د قرآئت د نافع او یعقوب رح، او جمهور قراء یې "یرونهم" په صیغه د غائبې وایي والمعنی یری المشرکون المسلمین مثلی المشرکین کمامر او مثلی المسلمین یعنې (۶۲۶) او یا ضمیر د غائب راجع د مسلمانانو ته دی یعنې مسلمانانو مشرکان خپل دوه مثله بلل، او سرددې چې مشرکان دري مثله د دوئ وه وهذا معنی قول المفسرین رح تاچې مسلمانان وکفارو ته ثابت ودرېږي، ولي چې خدای ﷻ له دوئ سره وعده کړې وه "فان یکن منکم مائة صابرة یغلبو مائتین" له عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چې موږ د بدر د جنګ په ورځ مشرکینو ته وکتل نو اولاً زمونږ په سترګو مضاعف راغله وروسته چې د جنګ مراحل شروع سوه، زمونږ په سترګو کې خدای ﷻ داسې راکړه چې یو سړی به تر موږ بالا نه وي، وروسته چې جنګ شروع سو زمونږ په سترګو کې خدای ﷻ داسې راوستل چې تر موږ به دوبر لږ وي حتی نبه د جنګ اور بل سو، نو ما یو سړي ته چې زما پر اړخ ولاړو وویل د مشرکانو عدد په خیال خو در څې؟ هغه راته وویل سل (۱۰۰) کسه. امام مظهري رحمه الله وایي چې "رونیة" په یرونهم کې په معنا د علم دی تاچې "مثلیهم" یې مفعول ثاني سي، وقال في دلیله اذا لمعنی لایساعد کونه حالا وروسته امام مظهري ته دا رائ العین په معنا کې اشکال پیدا سو. ولي رئ العین خو صراحةً دلالت پر رؤیت بصري کوي، بیا مظهري رحمه الله ددې اشکال جواب پر مجازات یې بناء ورکړې ده

دروبش وایي: چې د امام مظهري رحمه الله د "مثلیهم" له حالیت څخه مانع څه و چې د هغه په سبب یې ځان له جنجال سره د مجازاتو مخامخ کړی چې د ساحه سره د قرآن مناسب نه دي، والله در صاحب روح البیان والبیضاوي رح حیث قال الاول نصب علی المصدر یعنې رائ العین یعنې رؤیة ظاهرة مکشوفة لالبس فیها معانیة کسائر المعانیات، وقال الثاني رؤیة معانیة، وقال الخفاجي رحمه الله في شرح البیضاوي وظاهر هذا التفسیر یدل علی ان الرؤیة بصریة، ثم قال ومثلیهم حال انتهی والله اعلم، قوله تعالی والله یؤید

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

آه او خدای ﷻ کومک کوي د تاسید له لاري د هغه چا سره چې اراده يې ورته وسي، او په تحقیق په دغه موضوع کې د تقلیل او د تکثیر په غزوه کې د بدر عبرت یعني پند او نصیحت دی لپاره د خاوندانو د بصیرت ای ذوي العقول.

بوه بله: چې تنوین د "عبرة" لپاره د تعظیم دی ای لعبرة عظیمة او تخصیص د الو الابصار يې په دې وکړی چې سې وقوف سړی د عبرت اخستو لائق نه دی؟

زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوٰتِ

او ښائسته کړل سوي دي وخلګو ته، والمزین هو الله کما في قوله تعالی زینا لهم اعمالهم وهذا التزیین للامتحان، او یا مزین شیطان دی کما في قوله تعالی وزین لهم الشیطان اعمالهم" وهذا التزیین من طریق الوسوسة، محبت د شهواتو او مراد په دې سره خواهشات د نفسو دي، والشهوة مصدر وهي جلب النفس الی ماتریده وههنا بمعنی المفعول ای المشتهیات لان ماذکر في بیان الشهوات کلها اعیان مشتهیات والتعبیر عنها بالمصدر مبالغة في کونها مشتهیات مرغوب فیها فکانها نفس الشهوات.

فائده: خدای ﷻ ملائکه وو ته عقول ورکړي دي او شهوت نسته ورسره، او بهائمو ته يې یوازي شهوت ورکړی دی او عقل نسته ورسره، او انسان ته يې عقل او شهوت دواړه ورکړي دي، نو د هر انسان چې عقل غالب سي پر شهواتو یعني الشهوات المحرمة والمکروهة فهو افضل من الملائکة کالانبیاء علیهم السلام والصدیقین و اولیاء الله الکاملین ومن غلب شهوته علی عقله فهو ارزل من البهائم، ولي چې بهائمو ته خو هیڅ عذاب نسته بخلاف الانسان، ولهذا قال الله تعالی في ذم علماء الیهود او جمیع اهل الکتاب "مثلهم کمثل الحمار یحمل اسفاراً"

بوه سه: چې معنا د تزیین کون الشیئ ذا حسن وجمال مستحقاً للمدح محبوبا في قلوب الناس، او دا تزیین ګاهي په صفات نفسانیه سره وي کالعلم والعقل والحلم والزهد وخوف الله ﷻ وسائر کمالات النفوس، او ګاهي په صفات بدنیه وو سره وي کالقوة في الاعضاء والقامة المعتدلة وحسن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المنظر، او ګاهي په خارجي شيانو سره وي لکه فاخره ملبوسات او فاخره مفروشات او اموال کثيره والجاه والجلال، او بنه بنه کوټې او بنګلي او يا بنه بنه مرکوبات من السيارات الى غير ذالک.

مِنَ النِّسَآءِ وَالْبَنِيْنَ وَالْقَنَاطِيْرِ

دروښ وايي: چې کلمه د "من" لپاره د بيان د شهواتو ده يعني شهوات ښځې او ماينې دي او زامن دي، تخصيص د زامنو يې وکړی ولې چې زامن هر چاته محبوب وي تر لوڼو.

بوه سه: چې قناطر جمع د قنطار ده، او قنطار په نيز د بعضو مال کثير ته وايي بدون تعيين العدد، او معاذ بن جبل رضي الله عنه فرمايي چې يو قنطار يو زر او دوه سوه (۱۲۰۰) اوقيه دي، او يوه اوقيه څلوېښت زره روپۍ دي، او ابن عباس رضي الله عنه وايي چې يو قنطار يو زر او دوه سوه مثقال دي، او يا دولس زره درهمه دي او يا زر دينار دي، او سدي رحمه الله وايي چې قنطار څلور زره مثقال دي، او حکم رحمه الله وايي چې قنطار مابين السماء والارض، دروښ وايي چې دا قول ډېر غريب دی، او بعض وايي چې د غوايي پوست چې د رورېدو ډک کړي، وهذا ايضا غريب، او وزن د قنطار څوک وايي فعلان دی او بعض وايي فنعال دی.

الْمُقَنْطَرَةِ

دا لفظ ماخوذ دی له قنطار څخه لپاره د تاکيد دی، او فراء نحوي وايي چې د مقنطرة معنا مضعفة ده، فالقناطير اريد به جمع القنطار وبالمقنطرة جمع الجموع وقيل غير ذالک، ومثل هذا التاکيد واقع في کلام العرب کقولهم الوف مؤلفة وبدر بکسر الباء جمع بدرة ده، ويقولون مبدرة بدء الشهوات بالنساء لانهن راس الشهوات الى المشتهيات النفسية، ولذا قيل انهن حبائل الشيطان، ثم ثنى بالبنين لان الرجل يحرص على جميع المال من الحلال والحرام لاجل البنين، ولهذا قيل اولادنا فتنة ان عاشوا افتنونا وان ماتوا احزنونا.

مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ

دا بيان د قناطر دی يعني من هذين الجنسين، قيل انما سمی الذهب ذهبا،

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

لانه يذهب ولايبقى، والفضة فضة لان معنى الفضة التفرق وهي ايضا تتفرق.

وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالْأَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ۗ ذَٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۖ وَاللَّهُ عِندَهُ حُسْنُ الْمَآبِ ﴿١٤﴾

پوه سه: چي لفظ د خيلِ عطف دی پر قناطر باندي. والخيل جمع د فرس ده او خپل له لفظ څخه مفرد نه لري، او د مسومه معنا معلمة ده يعني علامه داره يا په رنګ سره او يا په داغ سره، او انعام جمع د نعم ده، او نعم هم جمع ده ولا واحد له من لفظه. اى الابل والبقر والغنم، او امام اعظم رحمه الله وايي چي وحشي حيواناتو ته هم نعم وايي، لكن دلته هغه وحشي انعام نه دي مراد. البته په هغه آيت كي "جزاء مثل ماقتل من النعم" هغه وحشي نعم مراد دي.

پوه سه: چي ذالک وټولو مذكوره شيانو ته اشاره ده په تاويل د ما ذكر. يعني دا ټوله شيان ما يتمتع وينتفع بها دي په دې دنيا كي وتذهب عن قريب، او د خداى ﷻ په نېږ ښه ځاى د رجوع سته يعني الجنة ونعيمها الدائمة ابداً ابداً فينبغي للقائل انْ يختار الباقي على الفاني.

قُلْ أَؤُنَبِّئُكُم بِخَيْرٍ مِّن ذَٰلِكُمْ ۚ

ته ووايه اې محمد ﷺ وكافرانو ته چي آيا زه تاسي خبر كړم په ښه شي تر مذكوره شيانو.

سوال: د استفهام په آيت شريف كي څه فائده ده؟

جواب: فائده يې اشاره ده چي عليه الصلوة والسلام گويا متردد دی چي زه تاسي خبر كړم شفقة عليكم، وامتثالا لامره تعالى، او يا مونه كړم خبر لفرط غلوكم في الكفر وغاية بعدكم عن قبول الحق وعدم سمعهم المواعظ.

لِلَّذِينَ اتَّقَوْا عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَأَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللَّهِ ۗ

هغه خير دا دی چي هغو كسانو لره چي تقوى لري يعني له خداى ﷻ څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ببربري جنتونه او باغونه په نهز د خدای ﷻ د دوئ، يعني په ورځ د آخرت کي چي بهبري به لائدي تر جنتو يعني تر درختو د جنتو ولي، يعني يوه به د اوبو وي، او بله به د شيدو وي او بله به د عسلو وي او بله به د شرابو وي، او همېشه به وي دوئ په دغو جنتو کي ولي چي نه بيا مرګ سته او نه له جنتو څخه استل سته، او مايني ګاني دوئ لره چي اکثره به يې حُوري د جنت وي او بعض به نساء الدنياء وي، چي دوئ به پاکي وي د ماينتفر منه الازواج من البول والغائط والحيض والنفاس، او د نورو ورته شيانو څخه، او ددي سره سره به خدای ﷻ له دوئ څخه راضي وي.

دروښ وايي: چي اخيري نعمت تر ټولو بالا نعمت دی، ولي چي نور ټوله نعمتونه د آخرت اثار دي د رضاء الهي.

پوښتنه: خدای ﷻ په دې آيت کي جنت او انهار ذکر کړي چي په مقابل کي د حرث د دمخه آيت سي، ولي حرث د دنيا ېهله انهار خو نه کېږي، او هر حرث دنياوي شامل ټولو انواعو لره د مېوې دی کما لايخفی، او په مقابل کي د نساء وو د دنيا ازواج مطهره ذکر کړي، لکن د بنين په مقابل کي يې هيڅ شی ذکر نه کړی، له دې سببه چي په دې دار فاني کي خو وبنين ته ضرورت و لاجل بقاء النوع الانساني، او بل پلرونه په وخت کي د عجز د زامنو کومک ته ضرورت لري، او په دار جاوداني کي فناء او عجز نسته چي وزامنو ته ضرورت پيدا سي، او داغه رنګه يې د ذهب او فضة او خيلو او انعامو ذکر ونه کړی ولي چي اهل جنت د سپرتيا د آسانو او اوښانو د يو مقصد د رسېدلو لپاره په جنتو کي مستغني دي، ولي چي رسېدل وهر ځای او هر مقصد ته په اراده پوري د جنتيانو اړه لري، او بيع وشراء ته هم جنتيان ضرورت نه لري تاچي واثمانو ته چي ذهب او فضة دي ضرورت ولري، او يو شی په جنت کي خدای ﷻ ژبات کړی چي هغه رضوان د خدای ﷻ دی لکه چي مور ووېل چي رضوان الهي اعلی تر ټولو نعمتو د دنيا والآخرة دی، کما ورد في الحديث المروي عن ابي سعيد الخدري ﷺ قال قال رسول الله ﷺ چي الله تبارک وتعالی

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

واهل جنت ته وايي يا اهل الجنة فيقولون لبيک ربنا وسعديک والخير کله في يديک، نو خدای ﷻ به ورته ووايه چې تاسي راضي ياست، نو جنتيان په ورته ووايي څه سبب دي چې مونږ به نه يو راضي يا رب، او تا مونږ ته راکړي يعنې په جنت کې هغه نعمتونه چې وهيڅ چا ته د مخلوق خپل دي نه دي ورکړي، خدای ﷻ به ورته ووايه چې داسي شی درنه کړم چې تر دې ټولو نعمتو د جنت دي افضل وي، نو دوئ به ورته ووايي چې هغه افضل به نه څه شی وي چې تر نعمتو د جنت افضل دی، نو خدای ﷻ به ورته ووايي چې افضل تر نعمتو د جنت دادی چې زه به د همېشه لپاره ستا سې څخه راضي يم درته په غضب کېږم نه، بخاري مسلم، وكفاك في فضائل الجنة ما قال الله ﷻ وفيها ما تشتهيه الانفس وتلذ الاعين، له بايزيد بسطامي ﷺ څخه نقل دی چې ده په مناجات کې د رب ﷻ داسي وويل چې بايزيد په دوزخ کې وي مګر ته خندي راضي يې نو بايزيد ته به هغه دوزخ جنت وي، او که ته خدای ﷻ نا راض يې خو بيا دي هم بايزيد جنت ته داخل کړی وي، نو بايزيد ته په هغه جنت دوزخ وي

دروېش وايي: چې د بايزيد ﷺ دا وينا ډېره د تعجب ور خبره نه ده بلکه دا خبره په دنيا کې مثال لري، لکه يو سړی چې د دوست په کور کې مېلمه سي هغه دوست يې مسکين وي بېله شلومبو او ډوډی پر بل شي قدرت نه لري، نو هغه شلومبې او ډوډی ورته راوړي لکن په ډېره خندا او خوشحالی او په فراخه تندي يې سره وخوري، نو مېلمه ته شلومبې او ډوډی لکه ورجي او غوښي داسي معلومېږي، او که چېرې يو سړی د بل چا مېلمه سي او هغه ښه خوراکونه مثلا ورجي او غوښي ورته حاضري کړي لکن په تريو تندي او په غضب او غصه ورسره خبرې کوي، نو هغه مېلمه ته هغه ورجی او غوښي وغيره لکه زهر داسي ورته معلومېږي والتجربة شاهدة على ذالک.

وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۱۵﴾

او خدای ﷻ خبر دی پخپلو بندګانو او په اعمالو او احوالو ددوئ هم خبر دی، نو خدای ﷻ به لائق له حاله سره د هر چا جزاء ورکړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَآ إِنَّنَآ ءَامَنَّا فَٱغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴿١٦﴾

پوه سه: الذين يا مرفوع خبر د محذوف مبتداء دی ای هم الذين آه او يا منصوب دی د اعنی محذوف مفعول دی، او يا په محل کي د جر دی صفت د متقينو او يا د عباد دی، او پر دې تقدير ترجمه د آيت داده چې متقيان همه کسان دي چې وايي يا زمونږ ربه په تحقيق مونږ ايمان راوړی دی يعني بجميع ما يجب الايمان به، نو خدايه ته مونږ ته بخښنه د ټولو ګنهو وکړي، او مونږ له عذاب څخه د اور وساتي.

پوه سه: چې نفس ايمان سبب د مغفرت کېدای لکه په حديث کي چې روايت يې معاذ ﷺ کړی دی پر دغه ماقلنا دلالت کوي، قال قال رسول الله ﷺ چې حق دی د خدای ﷻ پر بندګانو چې عبادت به د خدای ﷻ کوي او نه به شريکوي په عبادت کي د خدای ﷻ بل هيڅ شی، او حق د بندګانو پر خدای ﷻ دادی چې نه به په عذابوي يعني په ورځ د قيامت هغه څوک چې خدای ﷻ ته يې شريک نه وي ګرځولی هيڅ شی، نو معاذ ﷺ ورسول الله ﷺ ته وويل چې زه په دې خبرو خلګو ته زېری ورنه کړم، عليه الصلوة والسلام ورته وويل لاتبشروهم دا زېری مه ورته کوه، ولي چې دوئ بيا پر دغه خبره تکيه کوي يعني اعمال صالحه پرېږدي.

پوښتنه: عليه الصلوة والسلام چې معاذ ﷺ له اخبار څخه منع کړی، نو دا حديث، تر مونږ پورې څرنګه را ورسېدی؟

خواب: په حديث کي راغلي دي معاذ ﷺ دا خبره په نېز د مرض موت خلګو ته وکړه، ولي چې ده ځان ساتی له وعيد څخه د پوهونکي د علم کما في قوله تعالى والذين يكتمون ما انزل الله الآية، نو دا حديث پسله اظهاره د معاذ ﷺ ونشر عام ته وسپارل سو.

پوه سه: چې د پوښتنې د مخه حصه بخاري او مسلم يې روايت کړې ده او د جواب حصه يې په بل حديث کي راغلې ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَلصّٰبِرِيْنَ

پوه سه: چې صابرين سره د معطوفاتو منصوب دی په تقدير د اعني چې وې ته په اصطلاح د نحو منصوب على المدح وايي، ولا احتمال آه للمرفوع على المدح لان هذه المعطوفات كلها بالياء بخلاف قوله فيما قبل يعني الذين يقولون فافهم.

فائده: صبر كه څه هم حروف يې درې دي لكن ټوله دين ته شامل دی، ولې چې د صبر صله چې "علىٰ" جاره راسي يعني الصبر على الشيئ ټولو مامورات ته شامل دی لكه صلوة، زكوة، صوم وغيرها لان المامورات كلها شاقة على النفس فينبغي للمؤمن ان يصبر على تلك الامور الشاقة، او چې صبر متعدی په كلمه د "عن" سې ای الصبر عن الشيئ نو ټولو منهياتو ته شاملږي، ولې چې منهيات ټوله طبعًا د اشتهاء سره د نفس برابر دي، والنفس يحبها فيلزم على المؤمن ان يصبر عنها للنهي عنها، او چې د صبر صله كلمه د "في" راسي يعني الصبر في الشيئ نو ټولو مصائبو ته لكه فقر، مرض، موت الاولاد وغيرها، نو مؤمن بايد صبر په دغو مصائبو كې وكړي، او له خدايه څخه طلب د دفع وكړي، او شكايت له خداى ﷻ څخه ونه كړي بلكه شكايت الى الله وكړي.

وَالصّٰدِقِيْنَ

او دوئ رشتيا وايي په خبر كې او په رواياتو كې د حديث، والنقل عن الغير والشهادات في امور الناس، او په دې كې چې څان ته د درواغو ولايت او بزرگي ثابته نه كړي، او د علم په باره كې د خپل حال سره برابره دعوه ولري مثلا داسي ونه وايي چې زه علامه يم او يا مفتي د دين اسلام يم الى غير ذالك، او تر ټولو صادقه شاهدي داده اشهد ان لا اله الا هو واشهد ان محمداً عبده ورسوله، قال النبي ﷺ من صبر على مصيبة فله ثلث مائة درجة وبين الدرجتين كما بين السماء والارض، ومن صبر على الطاعة فله ستمائة درجة مابين الدرجتين كما بين السماء والارض، ومن صبر عن المعصية فله تسعمائة درجة مابين الدرجتين كما بين العرش والكرسي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَالْقٰنِتِيْنَ

پوه سه: چې اصل قنوت دوام ته وايي، فالمعنى الدائمين على الطاعات، داسې نه وي لکه بعض عوام چې د روژې میاشت راسې تولـه لمونځونه په جماعت کوي او تلاوت او قرائت د قرآن عظیم الشان او تراویح په ډېر حرص سره کوي، او چې د روژې میاشت تېره سي، بیا نه جماعت کوي او نه تلاوت بلکه بعض لمونځونه لکه د سهار یکلخته بې قضاء کوي، او د مازدیګر لمونځ په مکروه وخت کې کوي الی غیر ذالک

وَالْمُنْفِقِيْنَ

او نفقه کونکي د خپلو مالونو.

پوه سه: چې افضل انفاق خو فرضي انفاق دی ای الزکوة ثم الواجب کصدقة الفطر والاضحیة والانفاق علی نفسه واهله وعیاله والاقارب علی طریق صلة الرحم والانفاق في الجهاد مع اعداء الله، او نور اقسام د بر او احسان.

پوه سه: چې "استغفار" طلب دی له مغفرت څخه د خدای ﷻ. او سحر سدس اخیر ته د شپې وایي.

وَالْمُسْتَغْفِرِيْنَ بِالْاَسْحَارِ ﴿۱۷﴾

پوه سه: چې استغفار طلب دی د مغفرت له خدای ﷻ څخه، او سحر سدس اخیر ته د شپې وایي، او تخصیص د اسحار په سوال د مغفرت کې دادی چې د دغه وخت بیداري او عبادت کول پر نفس باندې ډېر سخت دی، او بل دا چې په دغه وخت کې طبعیت ډېر رسته وي او روح وعقل جمع وي، د ورځې ستړیا نه وي او د شپې خوب هم پوره سوی وي.

راوي وایي چې لقمان حکیم و خپل زوی ته وویل چې ته باید تر چرګ عاجزه نه سي چې څرنګه د غفلت وزرونه وځنډي او په آذان شروع وکړي، په سدس اخیر کې د شپې چې د تهجد وخت دی او خلګو ته په قم قم ناري وهي، قال السعدي رح

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دلا بر خیز وطاعت کن — که طاعت به زهر کار است
سعادت آن کسی دارد — که وقت صبح بیدار است
خروسان در سحر گویند — که قم یا ایها الغا فل
تو از مستی نمیدانی — کسی داند که هوشیار است

وایضاً الاستغفار وقت السحر ابعد من الریاء والسمعة فکان اقرب الی الاجابة.

او داغه رنګه حضرت ابو هریره رضی الله عنه علیه الصلوة والسلام څخه داسي روایت کړی دی چې رسول الله ﷺ وویل "ینزل الله تعالی الی السماء الدنیا کل لیلة حین یبقی ثلث اللیل، فیقول انا الملک من ذا الذي یدعوني فاستجیب له من ذا الذي یسئلوني فاعطیه، من ذا الذي یستغفرني فاغفرله"

بخاري، مسلم، روح البیان، مظهري، قرطبي وغیرها

سوال: نزول خو په اجسامو پورې خاص دی، او خدای ﷻ خو جسم نه دی؟

ځواب: ودې ته صاحب د روح البیان داسي ځواب ورکړی دی چې مراد له نزول څخه د خدای ﷻ نزول د ملکې دی په امر د خدای ﷻ، او د خدای ﷻ له طرفه مذکوره اعلانونه کول او یا لفظ د نزول استعاره له کمال اقبال څخه د خدای ﷻ و داعینو ته او اجابت د سوالونو د دوئ آه.

دروېش وایي: چې ښه ځواب به دا وي چې داسي حدیث لکه نور حدیثونه چې مشعر په جسمیت د خدای ﷻ یا په مکان د خدای ﷻ وي له متشابهاتو څخه وګڼل سي، او د مراد تفویض یې وخدای ﷻ او رسول ﷺ ته وکړل سي، ولې چې په روایت ددغه حدیث په پای کې د حدیث راغلي دي ثم یبسط یدیه الی اخیر الحدیث. شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ

شاهدي اداء کوي خدای ﷻ.

پوه سه: چې د شاهدي څخه د خدای ﷻ مراد دادی چې دلائل عقلیه یې قائم کړي دي پر وحدانیت خپل او کتابونه یې نازل کړي پر انبیاء علیهم السلام باندې په دې سره چې نسته معبود بالحق او خالق العالم بېله ده یعنې بېله خدایه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: بغوي رحمه الله روایت کړی دی له کلبي رحمه الله څخه چې یو دوه ملایان له یهودو څخه د شام مدیني منورې ته راغله لپاره د ملاقات د علیه الصلوة والسلام نو دوئ چې د مدیني بنار ولیدی یوه وهغه بل ته وویل چې څونه ډیر مشابه دی دا بنار یعني المدینه د هغه بنار سره چې نبي اخیر الزمان چې منعوت في التوارة دی په هغه بنار کې به یې خای د هجرت وي، نو چې دوئ د علیه الصلوة والسلام وملاقات ته حاضر سول، نو دوئ علیه الصلوة والسلام وپېژندی په هغه صفت چې په تورات کې دوئ لیدلی و، نو دوئ ورته وویل چې ته محمد یې؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل نعم انا محمد وانا احمد، نو دوئ ورته وویل چې مونږ ستا څخه یوه پوښتنه کوو که دې د پوښتنې خواب راکړی، نو مونږ پر تا باندې ایمان راوړو او ستا تصدیق کوو، علیه الصلوة والسلام وته وویل چې پوښتنه وکړئ، نو دوئ ورته وویل چې مونږ ته خبر راکړه چې کوم آیت ستا په کتاب الله کې اعظم شهادةً دی فانزل الله هذه الآیة فاسلم الحبران معاً.

وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَاُولُوا الْعِلْمِ

او داغه رنګه شاهدي اداء کوي ملکې او خاوندان د علم یعني مؤمني الانس والجن یعني هغه هم شاهدي اداء کوي په زړونو او په خوله په توحید د باري تعالی.

پوه سه: چې ملائکة او اولو العلم عطف دي پر اسم ذات شریف باندې.

سوال: شاهدي د خدای ﷻ لکه د مخه چې تېره سوه اقامت د دلائل عقلیه او انزال د کتابو دی، او شاهدي د ملکو او اولو العلم خو تصدیق د زړه او اقرار د خولې دی، نو څرنګه په یوه "شهد" کې دا ټولې معنا وي صحیح کېږي؟

خواب: په "شهد" کې عموم مجاز دی فافهم فانه دقیق.

قَآئِمًۢا بِالْقِسْطِ

خدای ﷻ ثابت دی په عدالت سره في قسمة الارزاق وتعیین الآجال والاثابة علی بعض الافعال والعقاب علی بعض آخر، او په اوامرو کې د بندګانو او

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

نواهي و کي والغرض لاظلم في شيئ افعاله.

فائده: فانما" منصوب دی چي حال دی له لفظ الله څخه چي فاعل د "شهد" دی، او له ملائکة او اولو العلم څخه حال نه دی لان القيام بالقسط في جميع الامور من الصفات الذاتية له تعالی، او دلته التباس هم نه لازمهږي کما في قولک جائني زيد وهند راکباً، ولي چي هر سړی پوهږي چي راکباً چي مذکر دی له زيد څخه نه د هند څخه ولي چي هغه خو مونث دی، ولايجوز جائني زيد وعمرو راکباً للزوم اللبس کما لايخفی.

لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿١٨﴾

خدای ﷻ چي غالب پخپله بادشاهي کي دی اذ لاشريک له ولاند ولاضد، او په هره موضوع کي حکم لري اذ لا عبث في افعاله تعالی.

پوه سه: چي تکرار ددې کلمې طيبه لپاره د تاکيد د توحيد دی وغاية الاعتناء به لانه راس العبادات کلها.

إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ ﴿١٩﴾

په تحقيق سره دين مرضی په نېز د خدای ﷻ اسلام دی.

پوه سه: چي له اسلام څخه دلته مراد توحيد دی او عمل کول دي په شريعت شريفه سره، او دا جمله تاکيد ده د دمخه جملې، نو جمله مستانفه ده، يعني اعرابي ترڅو د دمخه جملې سره نه لري، وهذا هو الاستيناف النحوي، واما الاستيناف البياني فهو مايکون جوابا لسوال مقدر يکون ماتقدم من الجمل منشاء لذالک السوال.

دروښ وايي: چي د اسلام تفسير په يوه حديث طويل کي چي روايت يې بخاري کړی دی، يعني حديث د سوال او خواب د جبرائيل ﷺ سره داسي راغلی دی "قال رسول الله ﷺ الاسلام ان تشهد ان لا اله الا الله وان محمداً رسول الله وتقيم الصلوة وتوتي الزکوة وتصوم رمضان وتحج البيت ان استطعت اليه سبيلاً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتٰبَ إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ

او اختلاف نه دی کړی هغه کسانو چې دوئ ته کتاب ورکړه سوی و یعنی الیهود والنصاری په نبوت کې د محمد ﷺ وحقیقة الاسلام.

پوه سه: چې اختلاف د اهل کتابو په نبوت کې د علیه الصلوة والسلام دا و چې بعض اهل کتابو نبي هیڅ نه باله لکه مشرکینو د اهل مکې چې نبي نه باله، او بعض اهل کتابو یې نبوت مانه لکن دا یې ویل چې دی نبي د عربو دی فقط او مورږ ته دده نبوت نه دی شامل، او دا اختلاف اهل کتابو نه کاوه مگر هغه وخت یې دا اختلاف وکړی چې دوئ ته ورکړه سو علم پر دې چې دین د اسلام حق دی او محمد ﷺ هغه نبي موعود في التوراة والانجیل دی، او پس علم اختلاف ددوئ سبب یې حسد وء یعني اختلاف ددوئ او ترک د دین اسلام او اختلاف د دوئ په سبب د شبهې او اشتباه نه و بلکه پس له علم په دې سره چې اسلام حق دی په سبب د حسد ددوئ چې قرار یې درلودی په زړونو کې ددوئ، او باعث پر حسد یې حب الریاسة والمال والملک خصوصاً العلماء منهم.

پوه سه: چې استثناء دلته استثناء مفرغ ده یعني ما اختلف الذي آه في حال من الاحوال الا حال بعد مجیئ العلم وقوله بینهم ظرف مستقر دی صفت دی لقوله بغیاً وحسداً ای مستقراً ومحکماً بینهم.

وَمَنْ يَّكْفُرْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَاِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۱۹﴾

او څوک چې کفر او انکار وکړي له آیاتو څخه د خدای ﷻ نو د خدای ﷻ حساب ژر دی یعني په ورځ د قیامت، نو به په هغه ورځ خدای ﷻ ودوئ ته جزاء د کفر ورکړي.

فَاِنْ حَآجُّوْكَ فَقُلْ اَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلّٰهِ وَمَنِ اتَّبَعَنِ ؕ

او که دوئ یعني اهل کتاب ستا سره دلائل وایي په دې کې چې ولې دین مرضي په نېز د خدای ﷻ اسلام دی او په مقابل کې به یهودیانو ویل چې دین

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مرضی د خدای ﷻ یهودیت دی او نصاری وو به ویل چې دین مرضی د خدای ﷻ نصرانیت دی، نو ته ای محمد ﷺ ودوی ته په خواب کې د محاجت د دوی داسې ورته ووایه چې ما خو منقاد او فرمانبرداره گرځولی دی خپل مخ یعنې خپل ځان لپاره د خدای ﷻ یعنې د خدای ﷻ سره زه څوک شریک نه بولم او نه زه متابعت د خواهشاتو نفسانیه و لرم بلکه په قلب او لسان او په ټوله جوارحو کې زه پرما امرني الله به روان یم.

پوه سه: چې تخصیص د "وجه" یې له دې سببه وکړی چې اکرم د اعضاء وو د انسان مخ دی، او داغه رنگه خپل ځان منقاد گرځولی دی هغه چا چې زما متابعت کوي یعنې المؤمنین.

پوه سه: چې "ومن تبعن" عطف پر ضمیر مرفوع د اسلمت دی که یې څه هم تاکید په ضمیر منفصل نه دی سوی لان المشروط في العطف على الضمير المرفوع المتصل اما التاكيد بالمنفصل او الفصل، والفصل ههنا موجود.

وَقُل لِّلَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَٰبَ وَالْأُمِّيِّـۧنَ ءَأَسْلَمْتُمْ ۚ فَإِنْ أَسْلَمُوا فَقَدِ اهْتَدَوا ۖ وَإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلَٰغُ ۗ وَاللَّهُ بَصِيرٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿٢٠﴾

پوه سه: چې دا جمله د "قل آه" عطف ده پر "قل اسلمت" باندې عطف الانشاء على الانشاء، والمعنى ته ووایه اې محمد ﷺ بعد اظهار ان الدين المرضى عندالله هو الاسلام، واهل کتابوته یعنې الیهود والنصاری او امیانو ته چې کتاب نه لري یعنې د عربو مشرکانو ته، آیا تاسې اسلام قبلوئ لکه ما چې اسلام قبول کړی دی، یعنې وروسته تر دې چې په دلائلو عقلیه وو سره او معجزاتو سره او په آیاتو د تورات او انجیل دا ثابته سوه چې دین مرضی عند الله هو دین الاسلام دی او که اسلام نه قبلوي بلکه پر خپل کفر یهودیت او نصرانیت او شرک باندې باقي پاته کېږي، نو که دوئ اسلام قبول کړی، نو په تحقیق سره دوئ هدایت پیدا کړی یعنې لکه تاسې مسلمانان چې یې لرئ.

په حدیث شریف کې راغلي دي چې دغه آیت چې علیه الصلوة والسلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یهودیانو ته ووایه، نو دوئ وویل اسلمنا، نو علیه الصلوة والسلام دوئ ته وویل چې تاسي منئ چې عیسی عبدالله ورسوله و، نو یهودیانو وویل معاذ الله یعنې عیسی خو نبي نه و بلکې د دوئ په عقیده ابن الزانیه و، بیا چې دا آیت ونصاری وو ته وویل سو هغو هم وویل اسلمنا، نو علیه الصلوة والسلام دوئ ته وویل تاسي دا منی چې عیسی عبدالله ورسوله و، دوئ ورته وویل معاذ الله چې عیسی دي عبدالله وي هغو وویل یا خدای دی یا ابن الله دی، نو خکه خدای ﷻ دا آیت نازل کړی "وان تولوا آه" او که دوئ اعراض وکړی له ایمان څخه نو پر تا خو لازم صرف تبلیغ د قرآن دی.

پوه سه: چې دا قول د خدای ﷻ "فانما علیک آه" دلیل د جزاء محذوف دی او پر خای د جزاء ولاړ دی، والتقدیر وان تولوا فلا تهتم بکفرهم وتولیهم لان علیک البلاغ وقد بلغت لااهتدائهم، او خدای ﷻ خبر دی په خپلو بندګانو سره

پوه سه: جمله د والله بصیر آه" وعد دی د جنت د مؤمنانو سره، او وعید دی د کافرانو لپاره په دوزخ سره.

إِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِآيَاتِ اللَّهِ

پوه سه: چې په له دې آیت څخه مراد یهود دي، ولې چې دوئ کافران دي په قرآن سره او هم کافران دي په انجیل سره یعنې دواړه الهي کتابونه نه منې، بلکې په خپل توارت سره هم کافران دي یعنې په هغه آیتونو باندې چې په هغو کې نعت د رسول الله ﷺ ذکر سوی وي.

وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ بِغَيْرِ حَقٍّ

او دوئ وژني انبیاء علیهم السلام په ناحقه سره.

سوال: یقتلون" خو مضارع ده او قتل د انبیاء خو په ماضي کې دده دوئ له اسلافو څخه واقع سوی و؟

خواب: مضارع دلته لپاره د استحضار د حالت ماضیه ده چې غایت شنیع و، نو سامعینو ته خدای ﷻ دا سوء صنیع د دوئ حاضره کړه لیتعجبوا منه، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بل خواب دادی چې اوس هم دوئ په قصد د قتل د علیه الصلوة والسلام وه اقتداءً بالاسلاف، ولې د علیه الصلوة والسلام سره دوئ جنګونه کول لپاره د قتل دده، او په ده یې سحر کړی و او دده په دوډۍ کې یې زهر ور اچولي وه کمامر في سورة البقرة وسيأتي ايضاً؟

سوال: دا فعل شنیع یعنې قتل د انبیاء و خو اسلافو ددوئ کړی و، نو حاضرین د عصر نبوي ته یې ولې پېغور خدای ﷻ ورکړی؟

خواب: حاضرین د عصر نبوي ﷺ په دغه قتل د اسلافو راضي وه کمافي قولهم بئو فلان قتلوا والقاتل واحدد منهم.

سوال: قتل د نبي خو دی ناحق، ولې چې پر حق وژل درې ډوله دی، یا ارتداد بعد الاسلام او یا قتل النفس بغیر حق او زناء سره د احصان، او په انبیاء کرامو کې خو یو له دغو درو سببو څخه نه وو، نو د بغیر حق د ذکر څه فائده ده؟

خواب: مراد دا دی چې د دوئ په عقیده کې هم موجب او سبب د قتل د انبیاء کرامو نه و، بلکې ددوئ خپل ریاست خوبن و، او د نبي متابعت یې نه و خوښ فلذا قتلوهم.

وَيَقْتُلُونَ الَّذِينَ يَأْمُرُونَ بِالْقِسْطِ مِنَ النَّاسِ

او دوئ به وژل هغه کسان چې دوئ به یې په عدل سره امر کول، چې مراد څندې اتباع د انبیاوو دي چې دوئ به یې له قتل مذکور څخه منع کوله او په متابعت د انبیاوو به یې امر کوله.

پوه سه: چې بغوي رحمه الله له عبیده بن جراح ﷺ څخه روایت کړی دی چې ما له علیه الصلوة والسلام څخه پوښتنه وکړه چې "اي الناس اشد عذاباً یوم القیامة؟ نو علیه الصلوة والسلام راته وویل چې اشد عذاباً هغه څوک دی چې نبي قتل کړي، او بل هغه څوک دی چې امر بالمنکر کوي او نهي عن المعروف کوي"؛ نو بیا علیه الصلوة والسلام دا آیت وواینه "ویقتلون" الی اخیره، او بیا علیه الصلوة والسلام زیاته کړه یا ابا عبیده بني اسرائیلو درو څلوېښت (۴۳) نبیان په اول کې د ورځې په یوه ساعت کې ووژل، بیا یو سل

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

او دوولس (۱۱۲) کسانو له عابدانو زاهدانو څخه د بني اسرائيلو ودوئ ته په امر بالمعروف او نهي عن المنكر وعظ شروع کړی، نو بني اسرائيلو هغه يو سل او دولس کسه په اخير کي د ورځي پوله مړه کړه "قال ﷺ فهم الذين ذكرهم الله في كتابه من قوله ويقتلون الى قوله فبشرهم آه"

فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢١﴾

نو ته اې محمد ﷺ زېری وکړه دوئ ته په عذاب درد ناکه سره، يعني اخبار ورته وکړه ودوئ ته، بشارت ويل سپکاوی دی د يهوديانو.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ۖ وَمَا لَهُم مِّن نَّاصِرِينَ ﴿٢٢﴾

او دغه کسان د يهودانو چې انبيا عليهم السلام يې ووژل او آمرين بالمعروف يې هم ووژل، لغوه سوه عملونه ددوئ په دنيا او اخرت کي، او نسته دوئ لره کومک کونکي يعني په اخرت کي چې له عذاب څخه د اخيرت يې خلاص کړي، ولي چې قتل د نبي کفر دی فضلاً عن الانبياء بتلك الكثرة كاسلاف اليهود كامر.

فائده: په دې آيت کي ذم دی د قتل د آمر بالمعروف والناهي عن المنكر، فبئس القوم الذي يقتلون الآمرين بالمعروف والناهين عن المنكر.

مسئله: لا يسقط الامر بالمعروف والنهى عن المنكر عن العلماء في وقت من الاوقات لكنه لاينفع الوعظ والزجر في آخير الزمان حين تشتدد القلوب قسوة وتكون الناس مولعة بلذات الدنيا، سعدي شيرازي مېګويد وما احسن ماقال

گرچه دانی که نشوند بگوی — هرچه ميدانی از نصيحت وپند
زود باشد که خيره سر بينی — بدو پای افتا ده اند بند
دست بردست زند که دريغ — نه شنيدم حديث دا نشمند

د اوسنۍ زمانې د ملايانو حال خصوصاً چې د يو مسجد امام وې دادی چې دوئ فضائل د اعمالو بيانوي او مقتديان که يې په يوه گناه بلکې په ډېرو گنهو مبتلا وي د هغو په زجر او منع او نهي عن المنكر کي هيڅ بحث نه کوي، ولي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې امامان بهربري که زه دغه منهیات بیان کړم او عذاب ددغو منهیاتو بیان کړم مقتدیان به مې له امامت څخه جواب راکړي، فوا ویلا علی حال هولاء الائمة مساجد حیث ترکوا النهي عن المنکر بمراعات حال المقتدیین فلعلهم جعلوا المقتدیین هم الرازقون، وقد قال رسول الله ﷺ افضل الجهاد کلمة حق عند امام جائر" متفق علیه د مثال په توګه د ملا په مقتدیانو کې مشر سړی چې ملا صاحب له ملایي څخه جوابولای سي، یا چرسي و او یا شراب خوړه و او یا د کافرانو طرفداره وي وغیر ذالک، نو ملا صاحب که څه خوله له دغو کارو څخه ووهي لکن تفصیلي بیان او زجر د دغو کارو نسي بیانولای.

دروېش وایي: چې د ننې زمانې خلګ دونده متکبرین دي که یو چاته ملا یا بل څوک ووایي چې اتق الله هغه سړی ورته وایي چې مانو څه کړي دي چې ته وایي له خدایه وېرېږه او سره له دې دغه سړی د کبائرو ګنهو چوال وي، بخلاف اخواننا الاقدمین من المؤمنین رح، د تاریخ په پاڼو کې لیدل کېږي چې هارون الرشید د عسکرو سره روان و چې یو یهودي په لاره کې ورته ولاړ و او هارون ته یې وویل اتق الله نو هارون او ټوله لښکر یې له آسانو څخه پیاده سول لپاره د تعظیم د خدای ﷻ د نامه، او داغه رنګه په تاریخچه کې د عمر بن العزیز رحمه الله چې عدالت یې په اسلامي تاریخو کې درج دی، او بعض علماء ووایي چې عمر بن عبدالعزیز پنځم د خلفای راشیدونو دی، یوه ورځ یو عارض په مخ کې ورته ولاړ و او دی پر آس سپور و، او هغه سړي ورته وویل یا امیر المؤمنین اتق الله عمر رحمه الله له آس څخه را وغورځېدی او مخ یې پر مخکه کیښښو او د عارض عرض ته یې غوږ ونیوی، وهکذا روی عن امیر المؤمنین عمر بن الخطاب رضي الله عنه، له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې ګڼ شمېر محدثینو یې روایت کړی دی چې یوه ورځ علیه الصلوة والسلام د یهودیانو مدرسې ته ورغلی او یو جماعت د یهودو هورې موجود وو، نو علیه الصلوة والسلام ردوئ ته دعوت د دین اسلام ورکړی، نو نعیم بن عمرو او حارث بن زید یهودیان چې په مدرسه کې موجود وه و علیه الصلوة والسلام ته یې وویل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علی ای دین انت یا محمد؟ قال علی ملة ابراهیم ودینه، هغو دوو ورته وویل چي ابراهیم خو یهودي و، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي ورسې تورات راوړې هغه زموږ او ستاسي تر منځ محکم دی، نو له رواړو څخه د تورات دوئ منع وکړه، ولي چي تورات دوئ رسوا کول په دعوی کې د یهودیت پر ابراهیم علیه السلام نو دا آیت خدای ﷻ نازل کړی.

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يُدْعَوْنَ اِلٰى كِتٰبِ اللّٰهِ

آیا ته نه گورې اې محمد ﷺ

پوه سه: چي د استفهام لپاره د تقریر دی او رویت علمي دی ویحتمل البصري آه ایضاً چي ودوئ ته ورکړه سوې ده یوه برخه.

پوه سه: چي تنوین د نصیباً لپاره د تحقیر دی ای نصیباً حقیراً وهو العلم بظاهر الفاظ التوراة بدون العمل بمقتضاه، ولي که دوئ عمل په مقتضی د تورات کولای خو پر علیه الصلوة والسلام به یې ایمان راوړی وای، او دوئ بلل کېږي وکتاب ته د خدای ﷻ یعني التورات کمامر في شان نزول الآیة، او له ابن عباس ؓ په شان نزول ددې آیت ابي صالح داسي روایت کړی دی چي یو یهودي د خیبر له بنځي سره زناء کړې وه او دواړه محصن هم وه او په تورات کي حکم د دغسي زناء رجم و، نو چونکه دا دواړه زانیان له اشرافو څخه د یهودیانو وه، نو ملایانو د یهودیانو رجم د دوئ مکروه وباله او غالباً څه ناڅه رشوت به یې هم خندي اخستی و، نو فیصله یې پر دې وکړه چي ددې حکم دي دا نوی نبي یعني و علیه الصلوة والسلام ته وسپارل سي، شاید دده په دین کي څه سپک والی وي، نو علیه الصلوة والسلام ته چي دوئ مرافعه وکړه علیه الصلوة والسلام موافق د قرآن کریم حکم د رجم پر وکړی، نو علیه الصلوة والسلام ته نعمان بن اوفی ومجری بن عمرو وویل چي تا ډېره دلاوري وکړه پر دې کسانو خو رجم نسته، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي زموږ او ستاسي تر منځ به تورات محکم کړو، نو هغو ورته وویل چي دا خو د انصاف خبره تا وکړه، لکن دا رته ووایه چي په تورات ته چا خبر کړې چي حکم د تورات په ورته

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

کسانو کې رجم دی، علیه الصلوة والسلام ورته وویل یو ستر گی سړی چې په فدک کې اوسیږي زه یې په دغه حکم د تورات خبر کړی یم، چې نوم یې ابن صوریا دی، نو هغه ابن صوریا یې له فدک څخه را وغوښتی او هغه هم مدینې ته راغلی، او جبرائیل علیه السلام د ابن صوریا بیان و علیه الصلوة والسلام ته کړې و، نو علیه الصلوة والسلام وابن صوریا ته وویل انت ابن صوریا قال نعم قال انت اعلم الیهود، هغه ورته وویل هو، نو علیه الصلوة والسلام په ښوونه د جبرائیل علیه السلام هغه حصه د تورات را وغوښتله چې په هغه حصه کې حکم د رجم و، نو ابن صوریا ته یې ووېل چې دغه ځای د تورات ووایه، نو ابن صوریا چې آیت الرجم ته را ورسېدی پر آیت الرجم یې ورغوی کښېښود، او وروسته تورې یې د تورات ووېل، نو عبدالله بن سلام چې یو ستر عالم د یهودیانو و او په ابتداء د قدوم د علیه الصلوة والسلام مدینې منورې ته یې ایمان راوړی، و کمامرت قصة ایمانه، علیه الصلوة والسلام ته یې ووېل چې ابن صوریا تر آیة الرجم ځان تېر کړی، نو عبدالله رضی الله عنه ورته ولاړ سو د ابن صوریا لاس یې له آیت ځخه پورته کړی، بیا عبدالله بن سلام رضی الله عنه پر علیه الصلوة والسلام او حاضرانو یهودیانو آیة الرجم د تورات ووایه، هغه داسې حکم و چې محصن او محصنه چې زنا وکړي وقامت علیه البینة رجما، او که ښځه حامله وه تر هغو دې حد نه پر جاري کوي چې وضع حمل کوي، فامر رسول الله ﷺ فرجما، فغضب الیهود من ذالک الحکم، او بیا ولاړل فانزل الله تعالی هذه الآیة.

لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ وَهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٢٣﴾

او دوئ لپاره د کتاب الله تورات را وبلل سول، چې دا کتاب چې حکم وکړي یا رسول الله ﷺ چې حکم وکړي په منځ کې ددوئ په قرآن کریم سره چې دا حکم موافق د تورات سره د دوئ و، وروسته اعراض وکړی یوې ډلې ددوئ له حکم ځخه د تورات او د علیه الصلوة والسلام، او د یهودیانو دا اعراض له حق ځخه عادت دی.

پوه سه: چې کلمه د "ثم" لپاره د استبعاد د "تولی" د دوئ ده مع علمهم بانه

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

الحق من ربهم. او جمله د وهم معرضون حال ده له فريق څخه.

سوال: حال له نكره څخه څو نه دی روا؟

ځواب: فريق كه نكره ده څو مخصص په صفت ده يعني منهم، نو حال ځكه روا دی كما تقرر في كتب النحو.

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا لَن تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّا أَيَّامًا مَّعْدُودَاتٍ ۖ وَغَرَّهُمْ فِي دِينِهِم مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿٢٤﴾

او دغه تولي او اعراض د يهوديانو سره د علم بالتورات په سبب دی، يعني دوئ عذاب په آخرت كي د خپلو خانو لپاره ډير آسانه كړی و كه هر څو معصيت وكړي او يا انبياء كرام مړه كړي، او كفر په محمد ﷺ سره وكړي كه څه هم منعوت في التوارت و، او يا له آيت الرجم څخه انكار وكړي الى غير ذالک من المعاصي. هغه آسانه كول يې دا وه چې مونږ اور د دوزخ نه مسه كوي يعني دوزخ ته مو خداى ﷻ نه وروڼي مگر په حساب د څو ورځو، چې هغه څلوېښت (۴۰) ورځي دي چې زمونږ اسلافو د گلگي عبادت كړی و، او بعضو په ويل چې توله عمر د دنيا اووه زره (۷۰۰۰) كاله دی، پر هر زر كاله باندې مونږ خداى ﷻ يوه ورځ دوزخ ته اچوي وبس، يعني كه ښه كارونه كوو او اصلاً گناه نه وكړو هم دغه ايام معدودات خداى ﷻ عذاب راكوي، او كه هرڅو بد كارونه وكړو هم دغه عذاب دی وبس. او يا به دوئ ويله چې زمونږ نيكه گان څو انبياء دي حتماً زمونږ شفاعت كوي، او يا به يې ويله چې خداى ﷻ د يعقوب ﷺ سره وعده كړې ده چې ستا اولاد زه نه په عذابوم. نو خداى ﷻ ددوئ په رد كي وايي چې تهر ايستلي او غولولي وه په دين كي هغه شي چې دوئ به پر خداى ﷻ درواغ ويله.

فَكَيْفَ إِذَا جَمَعْنَاهُمْ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيهِ ۖ وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٢٥﴾

نو به څرنگه وي حال ددغو يهوديانو، او څه به كوي دغه يهوديان چې مونږ

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

دوئ سره راغونډ کړو لپاره د جزاء د ورځي یعني یوم القیامة چې په هغې ورځي کې هیڅ شک نسته، او پوره به ورکړه سي وهر سړي ته جزاء د ماکسبت ان خیراً فخر وان شراً فشر، وفي الحدیث قال رسول الله ﷺ لیس علی اهل لا اله الا الله وحشة عند الموت ولافي قبورهم ولا في منشرهم کاني باهل لا اله الا الله الا ینفضون التراب عن رؤسهم وهم یقولون الحمدلله الذي اذهب عنا الحزن.

ژباړه: علیه الصلوة والسلام وویل نسته پر اهل د لا اله الا الله.

پوه سه: چې مراد له لا اله الا الله ځخه مؤمنان دي چې له شرک او بدعت ځخه خلاص وي، نسته وحشت یعني وار خطایي نه په وخت کې د مرګ او نه په قبر کې او نه په ورځ د حشر له قبرو ځخه، علیه الصلوة والسلام زیاته کړه لکه زه چې دوئ ته ګورم چې خاوري د قبرو له سرو ځخه ځنډي او دا وایي الحمدلله الذي اذهب عنا الحزن حمد دی خدای ﷻ لره ي له مورډ ځخه یې غم لیرې کړی.

فائده: پر مسلمان لازم ده چې د خدای ﷻ حمد و وایي پر دې نعمت چې زه یې مؤمن ګرځولی یم او له امت شریفه محمدیه ځخه یې هم ګرځولی یم، نو ځکه بعض علماء وایي له علاماتو ځخه د سوء العاقبة داده چې سړی شکر د ایمان او اسلام نه وایي.

فائده: امام همام ابو حامد محمد الغزالي رحمه الله په منهاج العابدین کې وایي چې د توبې مقدمې درې دي یعني چې دغه درې خویه په سړي کې هغه تائب حقیقةً دی، الذي ورد في شانه في الحدیث النبوي ﷺ التائب من الذنب کمن لا ذنب له.

(۱) اول په زړه کې ور ګرځول دي غایت قبح د ګناه (۲) دوهم ور پیادول غایة عذاب د خدای ﷻ او سخت غضب پر عاصیانو (۳) خپل ضعف ته نظر کول دي او فکر پکښې وهل یعني چې د دوبې د لمر طاقت نه لرم، او د پولیسو د شلاخې طاقت نه لرم، او د مېړې د په غښوولو طاقت نه لرم، نو به زه څرنګه طاقت ولرم د ګرمۍ د اور د جنهم، او څرنګه به طاقت ولرم د زبانیه دوزخ د

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

شلاخو، او څرنګه به طاقت ولرم د نهښ د مارانو د دوزخ چې لکه غاړې د اوښانو دي، نعوذ بالله من سخطته وعذابه.

فائده: في شان نزل الآية الآتية، ابن عباس او انس بن مالک ﷺ وايي چې څه وخت چې عليه الصلوة والسلام فتح د مکې مکرمې وکړه، نو له امت سره يې وعده د فتح فارس او روم وکړه، يعنې چې دوه مشر قوتونه به هم زما د امت په لاس فتح کېږي، وکان ذالک بوحي من الله ﷻ، نو منافقان او نور يهوديانو به له پسخنده ويل هيهات هيهات دېره لېرې ده دېره لېرې ده چې دده امت به فارس او روم فتح کوي، ولې هغه دېر غټ قوتونه دي داسې نه دي لکه اهل مکه چې بې وسه او بې قدرته قوم و او ده فتح کړی، او دا به يې هم ويله الم يکف محمداً المکة والمدينة حتى چې اوس يې طمع د فتح فارس او روم ته هم خواهش وسو فنزلت الآية "قل اللهم" الآية، او بيضاوي رحمه الله داسې شان نزول ذکر کړی دی چې عليه الصلوة والسلام چې په غزاء کې د احزاب د خندق د کيندلو امر وکړی، او هرو لسو کسانو ته يې د څلوېښت (۴۰) ګزه خندق د کيندلو امر وکړی، نو اصحابو کرامو په خندق کې کار کاوه چې ناګاه د خندق په منځ کې يوه دېره غټه ګاره پيدا سوه چې ماتول د هغې ګاري د کار کونکو تر طاقت تېره سوه، نو دوی ﷺ سلمان فارسي ﷺ و عليه الصلوة والسلام ته چې ده مبارک په يوه بله حصه کې د خندق کار کاوه ور واستاوه چې موضوع د ګاري و عليه الصلوة والسلام ته بيان کړي، نو عليه الصلوة والسلام ورته ويل چې زه درځم ان شاء الله تعالى، نو عليه الصلوة والسلام چې راغلی او مارتول يې را واخستی "يعنې هغه آله چې خلګو به دېري په ماتولې" او هغه ګاره چې يې په ووهله نو يوه توټه يې خندي جلا کړه، او د ګاري له منځ څخه يوه تېزه رڼا را ووتله چې منځ يې د دوو شپلو د مدينې منورې روښانه کړی، او داسې رڼا يې وکړه لکه چې په تاريکه خونه کې څراغ ولګوې، نو عليه الصلوة والسلام الله اکبر ووايه او مسلمانانو هم ووايه، نو عليه الصلوة والسلام وويل چې ماته په دې رڼا کې ويرېښېدې بنګلې د حيرت لکه د سپو غاښونه، او بيا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې دوهم وار ووهله هغسي رښا يې وکړه عليه الصلوة والسلام وويل چې په دې برېښنا کې ماته وبرېښېدلې قصور د الحمر من الارض الروم، او بيا يې دريم وار ګاره ووهله بيا يې هم هغسې رښا وکړه، عليه الصلوة والسلام وويل ماته وبرېښېدل قصور د صنعاء، او عليه الصلوة والسلام زياته کړه چې ماته جبرائيل عليه السلام خبر راکړی چې دغه ټوله ښاروونه او ځايونه به يو وخت په قبضه کې د اسلام راځي نو خوشحاله اوسئ، نو منافقانو به ويل چې عليه الصلوة والسلام د خپلې ښځې له کبله پر ځان خندق راګرځوي او سره ددې چې پر ده يو څو محدودي ډلې د کافرانو را جمع سوي دي، او دی وخلګو ته تمنا او باطلې وعدې د فتح فارس او روم ورکوي، فنزلت هذه الآية.

دروښ وايي: چې دوهم شان نزول هم بيضاوي راوړی دی او هم روح البيان او هم مظهري، او نور ډېر ګڼ شمېر مفسرانو رحمهم الله هم راوړی دی، لکن مظهري رحمه الله اول شان نزول په روايت د بغوي رحمه الله چې دده د تفسير لوی ماخذ دی ترجيح ورکړې ده، ولې چې مظهري د هر آيت په تفسير کې يو وار بغوي ذکر کوي له سر څخه دده د تفسير بيا تر پايه پورې راوړی دی.

دروښ وايي: چې غزوه د خندق څو تر فتح د مکې مخکې وه فکيف يصح الجمع بين الواقعتين، بع ني غزوة الخندق وفتح مكه في شان نزول الآية الواحدة اللهم الا ان يقال بتكرار نزول الآية الواحدة في الواقعتين، كما قالوا في وجه تسمية سورة الفاتحة بالسبع المثاني على مذهب البعض.

قُلِ اللّٰهُمَّ مٰلِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَآءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَآءُ ۖ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَآءُ ۖ بِيَدِكَ الْخَيْرُ ۖ اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٢٦﴾

ژباړه ووايه اې محمد ﷺ چې يا الله ته مالک يې د ملک د اسمانو او مځکو او د مافيهما او ما عليهما، ته اې خدايه ورکوې بادشاهي د يو مملکت يو چاته چې ستا ورته اراده سي که مسلمان وي او که کافر وي، او ته اخلې بادشاهي له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغه چا څخه اراده د نزع الملک ورته وسي. او ته عزت ورکوې هغه چاته چې ستا خوښه وي، او ته ذلیل کوې هغه څوک چې ستا د ذلت ورته اراده سي، په لاس او تصرف کې ستا دی هر خیر. او په تحقیق ته پر هر شي قادر یې.

تفصیل: اللهم ددې کلمې اصل په قول د بیضاوي او د روح البیان او د روح المعاني او د مظهري بلکې په اتفاق د اکثرو اهل التفسیر و اهل العربیة "یا الله" و، نو حرف نداء یې حذف کړه، او په عوض کې یې میم راوړی، او میم یې مشدد کړی لکونه عوضاً من حرفی التعریف، نو چونکه میم مشدد عوض دی د یا، نو جمع د دواړو جائز نه ده، یعني یا اللهم، لامتناع الجمع بین العوض والمعوض عنه وهذا التعویض من خواص هذا الاسم الجلیل، یعني داسي نه ده روا چې په عوض کې د یا رحمن رحمانم څوک ووایي، وهکذا اسمائه تعالی الآخر، لکه دخول د یاء النداء علیه مع حرف التعریف یعني یا الله، لانه قد تقرر عند النحاة بالاجماع، انه اذا نودي المعرف باللام قیل یا ایها الرجل او یا ایهذا الرجل لامتناع الجمع بین اداتي حرفي التعریف لان یاء النداء ایضاً للتعریف، بناءً علی هذا لایجوز ان یقال یا الرحمن مثلاً، او داغه رنګه خاصه د اسم جلیل ده په قطع د همزه ویل نحو یا الله او په نورو اسماؤ کې همزه په وصل کې حذف کېږي مثلاً یا الرحمن په قطع د همزه نه ویل کېږي بلکې همزه یې په وصل کې حذف کېږي، او داغه رنګه تاء القسم خاصه ده ددغه اسم جلیل نحو تالله، او تا الرحمن نه ویل کېږي، او ټولو مذکوره مفسرانو رحمهم الله او نورو هم دا احتمال په قیل راوړی دی چې اصل د اللهم یا الله امنا بخیر یعني اقصدنا بخیر مخفف بحذف حرف النداء ومتعلقات الفعل سوی المیم المشددة في امنا وحذف منه الهمزة ایضاً فبقی اللهم، او هغه ملایان چې لفظ د امنا په مد د همزه وایي یعني آمنا او په تخفیف د میم، بظنهم انه ماخوذ من الایمان فهو غلط صریح اذ لا معنا له ههنا کما لایخفی.

او هغه سوال چې پر دې تقدیر خفاجي رحمه الله کړی دی، په شرح کې د بیضاوي هغه دا دی چې په امنا بخیر وروسته به دعاء څرنګه مربوطه سي نحو اللهم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اغفرلي؟

ځواب: اغفرلي بیان دی د امنا بخیر. ولي چي مغفرت د ګناه بخښنه قصد د خدای ﷻ ګناه کار ته په خیر سره.

سوال: په هغه حدیث صحیح کي چي روایت یې بخاري او مسلم کړی دی چي علیه الصلوة والسلام ورعل، زکوان او عفیه قبیلو ته وکړی چي هغو اصحاب د علیه الصلوة والسلام په بیر معونة کي په شهادت رسولي وه. نو علیه الصلوة والسلام داسي بنرا ورته وکړه اللهم العن رعل وزکوان وعفیة آه څرنګه به په امنا بخیر پوري مربوط سي؟

ځواب: لعن د اعداء الله هم بیان د قصد د خدای ﷻ دی ومسلمانانو ته د هغې زمانې په خیر سره، ولي چي لعنت الهي پر دغو قبیلو سبب د ذلت د دغو قبیلو کېدای سي په دنیا کي.

"ملک الملک" بعض مفسرین ؒ وایي چي صفت دی د منادی مذکوري په اللهم کي، او بعض وایي ندا، بعد النداء د حذف منه ایضاً حرف النداء تقدیره یا مالک الملک.

پوه سه: چي ملک مصدر دی د الملک، او مراد دلته معنا د مفعول ده واللام للاستغراق ای مالک جمیع المخلوقات من العلویات والسفلیات والملائکة والجن والانس لانه تعالی یتصرف فیها حسب مشیئته تعالی لا راد لحکمه تعالی ولایجوز ان یتصرف احد في ملکه تعلی الا باذنه تعالی "تعطي" آه یعنې ته ورکوې سلطنت د یو مملکت هر چا ته چي ستا خوښه او ستا ورته اراده سي، او ته بیرته اخلي مملکت له هغه چا څخه اراده او مشیت د استرداد الملک ورته وسي لکه مثلاً فرعون او نمرود وغیرهما ته یې مملکت ورکړی و او بیرته یې جبراً خندي واخستی او دوئ یې د هلاکت وکنده ته په بد حالت وغورځول، کما هو المذکور في القرآن في قصصهم او دا قانون الهي روان دی په ملوک کي د دنیا الی یوم القیامة، او ته اې خدایه عزت ورکوې وهغه چاته چي ستا خوښه وي په دنیا کي فقط، او یا په آخرت

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

کي فقط او يا په دواړو دارينو کي او دغه رنګه ذلت ورکوي وهغه چانه چې ستا خوښه وي، عزت د دنيا چې په نصرت سره دی پر دښمنانو او په عقبی کي په ثواب او جنت سره دی، او ذلت د دنيا په شکست سره او په ترک د نصرت دی، او ذلت د آخرت په عذاب او دوزخ سره دی "بيدک الخير" ای بقدرتک الخير کله فاللام للاستغراق.

سوال: خير او شر خو تولـه له طرفه د خدای ﷻ دي نو شر ولي نه سو ذکر؟

ځواب: بعض علماء وايي چې شر هم ورسره مراد دی لکن اکتفی في العبادة بذکر الخير فهو من قبيل قوله تعالى وسرابيل تقيکم الحر ای الحر والبرد، او ښه تر تولو دا ځواب دی سياق په دې آيت په خير کي دی، يعني چې خدای پاک وعده وکړه د نبي عليه الصلوة والسلام سره يعني د امت سره دده فتح د فارس او روم کما مر في شان نزول الآية، او بعض علماء وايي چې شر يې نه کړی ذکر مراعاتاً للادب في خطابه تعالى، وما قال بعض المفسرين کالبيضاوي وذکره المظهر برح ايضاً ان المقضي بالذات هو الخير والشر هو المقضي بالعرض فلاحاجة الى ذکر ما بالعرض بعد ذکر ما بالذات انتهى

دروېش وايي: چې دا ځواب پر مذاق د حکماؤ دی چې دوئ د شر له ارادې ځخه بالذات منکر دي فلايناسب ذکره في تفسير القرآن العزيز کما لايخفى "انک على کل شيئ آه" او ته پر هر شي قادر يې ولا يقدر احد غيرک على شيئ اصلاً، يعني قدرت د خلق او ايجاد وقصاری حال العبادة القدرة الکاسبة دی، قال الله تعالى والله خلقکم وما تعملون.

دروېش وايي: چې بيضاوي رحمه الله پر خپل مخني ځواب پښېمانه دی، ولي چې ددې جملې په تفسير کي داسې ويلي دي نبه بهذه الجملة على ان الشر ايضاً بيده يعني بالذات، والله اعلم.

فائده: بعض اهل تجربه د علماء کرامو وايي چې که ځوک په ذلت في الناس او يا فقر او مسکنت مبتلا وي، او د عزت او غنی خواهان وي نو دغه آيت دي خپل ورد وګرځوي، يعني د ماخستن تر لمانځه وروسته دي دري واره هميشه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وایي، یعني له قل اللهم څخه بیا تر انک علی کل شیئ قدیر پورې، او دا آیت په دفع کي د دښمنانو او په سر کوبي کي د هغو دپر موثر دی ان شاء الله. لکن خبر دار چي په ناجائزه ځای کي او د ناجائزه غرض لپاره یې استعمال نه کړئ.

تُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ

ته داخلوي شپه په ورځ کي، یعني د شپې ساعات په ورځ کي داخل کړې، نو ورځي وړده سي او شپه لنډه سي، حتی چي په اول سرطان کي د معظم د معموري مخکي ورځ پنځلس ساعاته وګرځي او شپه نهه ساعاته وګرځي.

وَتُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ

او ته داخلوي ورځ په شپه کي یعني ساعات د ورځي کموي شپه په اوږدوي حتی چي شپه د اول جدي نهه ساعته وګرځي او شپه یې پنځلس ساعته وي په معظم کي د معموري مخکي.

وَتُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ

او ته اې خدایه راباسې ژوندي له مړي څخه، یعني له جماد شي څخه لکه حیوان له نطفې څخه، او مرغه له هګۍ څخه.

پوه سه: چي مراد له حي او میت څخه یا معنا مجازي ده، لکه عالم له جاهل څخه او مؤمن له کافر څخه، او نباتات له وچي مخکي څخه.

وَتُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ

او ته راباسې مړي یعني جماد شیان له ژوندي شي څخه، لکه نطفه له حیوان څخه او هګۍ له چرګي څخه او جاهل له عالم څخه، او کافر له مسلمان څخه او تخمونه د نباتاتو له مخکي څخه.

وَتَرْزُقُ مَنْ تَشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٢٧﴾

او ته رزق ورکوې هغه چاته چي خوښه دي سي بې حسابه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې دا پنځه جملې ددې لپاره راوړه سوې دي په دې سره دلیل وابې پر دې چې خدای ﷻ قادر دی چې قدرت او سلطنت دي له عجمو څخه واخلي لکه فارس او روم او عربو ته دې ورکړي، نو منافقانو ته ولې عجیب معلومېږي او ولې د هیهات هیهات نعرې وهي، وجه د استدلال داده چې هغه ذات چې پر دغو امورو عظامو چې په دې پنځو جملو کې ذکر سوي دي چې عقول ورته حیران دي قادر دی چې خدای جلت قدرته دي هغه ذات پر اخذ د سلطنت له یو چا څخه اخستل او بل چاته ورکول چې تر هغه پنځو کارو آسانه دي په طریقه اولی قادر دی.

پوښتنه: اوس ولې مسلمانان د کافرانو لخوا څخه مغلوب دي؟

ځواب: د مسلمانانو بدو عملونو مسلمانان پس مانده کړه او کفار یې عذاباً پر غالبه کړه، کما قال النبي ﷺ چې زما پر امت به داسې زمانه راسي چې امیران به یې ظالمان وي، او ملایان به یې طامعان وي او پیران به یې ریا کاران وي او تجاران به یې سود خواره وي، که صریح سود نه کوي لکن بیوع رائیول او خرڅول به یې توله فاسد وي، او په فقه شریفه کې وایی چې هره بیع فاسد سود دی، او ښځې به د زینت شوقیاني وي.

دروېش وایي: چې په کوم اسلامي ملک کې دا پنځه خویه نسته سره د نورو بدو کارنو، نو خود به مسلمانان هر ځای مغلوبه او د کافرانو تر لاس به لاندې وي یا بالذات یا بالواسطه، په اوسنۍ زمانې کې کوم اسلامي مملکت دی چې ازاد مطلق دي وي د هر کافر مملکت د چنبې څخه، لهذا قال علیه الصلوة والسلام کما تکونون یولّي علیکم" څرنګه چې تاسي یاست داغه رنګه به مر والي وي، والمعنی که تاسي اهل طاعت یاست اولو الامر به ستاسي اهل رحمت وي، او که تاسي اهل معصیت یاست ولاة الامر به مو اهل عقوبت وي.

فائده: له حضرت علي کرم الله وجه څخه روایت دی چې علیه الصلوة والسلام وویل چې سورة فاتحة الکتاب او آیة الکرسي او دوه آیته د آل عمران "شهد الله انه لا اله الاهو" الی قوله "ان الدین عند الاسلام" وقل اللهم یا نر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دې قوله پورې بغیر حساب "مشفعات" یعنې شفاعت کونکي دي، او نسته د دوئ او د خدای ﷻ تر منځ حجاب، نو دې کلماتو خدای ﷻ ته وویل چې مونږ استوې محکې ته په قرآن عظیم الشان کې چې هغه په محکه کې دی درج کوي مو، او هغه چاته مو هم ور استوې چې هغه به ستا عصیان کوي، نو خدای پاک ودوئ ته وویل چې ما پخپل ذات قسم کړی دی چې ستاسې قرآنت به نه کوي احد من المسلمین وروسته تر هر لمانځه مګر نه ژه ګرځوم جنت ځای د هغه علی ما کان فیه یعنې عملونه د بدو چې په هغه کې وي، او مګر ژه اوسوم دې په خطیرة القدس کې والا نظرت الیه کل یوم سبعین مرة وقضیت له کل یوم سبعین حاجة ادناها المغفرة والا اعذته من کل عدو و حاسد ونصرته علیه.

پوه سه: چې راوي ددې حدیث بغوي دی په قول د مظهري ؒ او روح البیان او تفسیر کبیر یې هم روایت کړی دی.

دروښ وایي: چې حاصل د کلام دادی چې قاري د فاتحة الکتاب چې خواصې او عدد یې دروښ په شرح کې د قدوري چې په پښتو ژبه ده په اکمله وجه ذکر کړي دي، او داغه رنګه د آیة الکرسي خواصې په تفسیر کې او د قدوري په شرح کې بیان کړي دي، او د دوو آیتو د آل عمران چې ذکر سوه سره د آیة الکرسي او فاتحة الکتاب تاسو په دې حدیث شریف کې واورېدل، نو دا ټوله ویل تر څلورو پنځو دقیقو بالا وخت نه غواړي، نو که یې سړی د همېشه لپاره تر هر لمانځه وروسته خپل ورد لازم وګرځوي. نو دا ټوله ویل تر څلورو پنځو دقیقو بالا وخت نه غواړي، نو که یې سړئ د همېشه لپاره تر هر لمانځه وروسته خپل ورد لازم وګرځوي نو په ارزې او که نه.

پوه سه: چې په اخبارو کې داسې راغلي دي چې بعض د انصارو ؓ د بعض یهودیانو سره په جاهلیت کې معاهده درلوده، او وروسته تر اسلام هغو انصارو د هغو یهودیانو سره ناسته ولاړه کول او یهودیان په دې کوشش کې وه چې دغه خپل حلیف انصار له اسلامه څخه ویهودیت ته راغب کړي. او

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

همېشه به يې داسي خبري ضمناً ورته کولې چې د اسلام ضد به وې، نورو قريبانو د انصارو به هغو انصارو ته چې د يهوديانو حليفان وه وويل چې تاسو د دغو يهودو سره شناخت او قرابت حلفي قطع کړئ، او هغو حليفانود خپلو قريبانو په خوله نه کول، نو دا آيت نازل سو.

لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُونَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ

نه دي ګرځوي مؤمنان کافران خپل اولياء او دوستان، که په سبب د قرابت نسبي وي او که په سبب د جاهليت د وخت د اشنايي او حلف وي، او که په سبب د همسايه توب وي الى غير ذالک من اسباب الولايت والمحبة، يعنې د مسلمانانو محبت او بغض د چا سره بايد لپاره د خداى ﷻ وي چې د دوست سره د خداى ﷻ چې نور مسلمانان دي شناخت او دوستي کوي، او د دښمنانو سره د خداى ﷻ چې ټول کافران دي بغض او عداوت ولري، وهذا معنى قوله عليه الصلوة والسلام الحب في الله والبغض في الله من الايمان.

پوه سه: چې "من دون المؤمنين" په اعتبار د متعلق محذوف حال دى له مؤمنون څخه اى متجاوزين من المؤمنين الى الكافرين في الصداقة والولاية والمحبة.

فائده: د دوو کسانو چې سره عداوت وي دريم سړى چې د دواړو دښمنانو د دوستي دعوه کوي دا اجتماع المتنافين ده چې عقلاً محاله ده، نو څرنګه چې هر نوع کافر د خداى ﷻ دښمن دى، نو مسلمان چې د خداى ﷻ دوست خان بولي څرنګه د دواړو د محبت دعوه کولاى سي، نو د کفارو سره محبت کول قبح ذاتي لري چې د خداى ﷻ له دښمنه سره يې محبت دى او بله قبح عارضي لري چې د نورو مسلمانانو سره يې محبت قطع کوي.

درويش وايي: چې په تجربه ثابته ده چې څوک چې خانونه د امريکايانو مثلاً دوستان بولي او د هغو سره محبت او نشت وبرخاست لري، او د هغو د ښوونې پر لار روان وي، نو ددغو مسلمانانو د هغو مسلمانانو سره چې د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

امریکایي قوانینو ضد وي بد څنډي کښې او بغض قلبي ورسره لري، وهکذا المحبة النوع الآخر من الکافرین کالیهود والنصاری والمشرکین والروسیین.

پوه سه: چي بغوي وایي چي مقاتل وایي چي دا آیت په شان کښي د حاطب بن ابي بلتعه ﷺ نازل سوی دی چي هغه وکفارو ته د مکې یو خط استولی و چي په هغه خط کي بعض احوال د علیه الصلوة والسلام او اراده د جنګ د علیه الصلوة والسلام یې ودوئ ته کشف کړې وه، نو هغه خط چي د یوې ښځي په لاس یې ورکړی و، او هغه خط خدای ﷻ و علیه الصلوة والسلام ته کشف کړی، او هغه خط علیه الصلوة والسلام په استولو سره د علي، او مقداد وغیرهما ﷺ د هغې ښځي څخه ونیوی او حاطب یې را وغوښتی او ورته وه یې ویل چي ما هذا یا حاطب او هغه څپل عذر ورته بیان کړی، او علیه الصلوة والسلام هغه عذر ومنی چي تفصیل به یې په یو مناسب ځای کي ددې تفسیر راسي ان شاء الله تعالی.

او کلبي رحمه الله له ابي صالح رحمه الله څخه روایت کړی دی چي دا آیت په شان کي د منافقینو نازل سوی دی یعني عبدالله بن ابي واصحابه وه چي هغو به تولي او محبت له مشرکینو سره د مکې کاوه او د یهودیانو سره د مدینې به یې کاوه، او احوال د علیه الصلوة والسلام او د اصحابو ﷺ به یې ودوئ ته رسول، او ددوئ دا امید و چي په دې ذریعه به مور پر علیه الصلوة والسلام او پر مسلمانانو غالب سو نو خدای ﷻ مسلمانان له ورته کارنامو څخه د منافقینو نهي کړه.

دروښ وایي: چي دا آیت د شان نزول د سیاق سره د آیت وهر مناسب دی والله اعلم بالصواب.

فائده: پوه سه چي محبت کول او بغض کول تر منځ د خلګو لپاره د خدای ﷻ د اسلام د دین یو ګټور عمل دی، له ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی ده وویل چي علیه الصلوة والسلام وویل "المرء مع من احب" یعني سړی به د آخرت په ورځ د هغه چا ملګری وي چي ده په دنیا کي د هغه سره محبت کاوه، رواه البخاري ومسلم، او له ابي موسی اشعري ﷺ څخه روایت دی چي علیه الصلوة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والسلام وویل مثال د صالح اندیوال او د بد اندیوال لکه له یو چا څخه چې مشک ور سره وي، او یا د پښې بنې وهي، نو حامل المسک به یا تاته یو څه مفت درکړي او یا به یې ته په بیع خندي رانسي، او که نور نه وي په یوه ګړي ناسته سره د حامل المسک به تاته خوشبویي د مشکو ورسېږي. او نافخ الکیر یعنې پښې چې بنې وهي ـ به ستا کالي در سوخي او یا به یې د دوکان بد بویي ستا تر سره مو سي، بخاري مسلم، او له ابو ذر څخه روایت دی چې علیه الصلوة والسلام وویل "احب الاعمال الحب في الله والبغض في الله" رواه احمد، وابو داؤد، او نور هم ګڼ شمېر احادیث په دې باب کې موجود دي.

وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللّٰهِ فِيْ شَيْءٍ

او که څوک دغه کار وکړي یعنې اعداء د خدای ﷻ دوستان خپل وګرځوي، نو نه دي دغه من یفعل په هیڅ شي د دوستۍ د خدای ﷻ.

پوه سه: چې "من الله" حال دی له "شیئ" څخه قدم علیه لتنکر ذی الحال کما هو القانون النحوي او "في شیئ" خبر د "لیس" دی او تنوین د شیئ لپاره د تحقیر دی، یعنې لیس هو کائنا في شیئ حقیر من ولایة الله یعنې کما ان ولایة الکفار لایجتمع ولایة المؤمنین کذا لایجتمع ولایة الله تعالی ایضاً کذا قال المظهري رحمه الله

اِلَّآ اَنْ تَتَّقُوْا مِنْهُمْ تُقٰىةً ؕ وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهٗ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ۝

مګر نه هغه موالات قولي او ظاهري ورسره کوه د کافرانو سره، یعنې یو خو کسه مسلمانان په ملک کې د کفارو اوسېږي او که دوئ معادات ظاهري وکفارو ته ښکاره کړي، نو د هغو له شر څخه بېرېږي، نو دوئ ته روا دی چې په ځای کې د معادات ظاهري دي موالات ظاهري ورسره کوي وقلوبهم مملوة بالمعادات معهم، او تاسي خدای ﷻ بېروي له خپل غضب او عذاب څخه.

پوه سه: چې په راوړلو کې د نفس وعید عظیم دی دغو کسانو لره چې موالات له کفارو سره کوي، بېله عذر له خوف، ولي هغه عذاب چې قادر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

متعال وخاښ ته منسوب کړي معلومه ده چې هغه به سخت عذاب وي، او خدای ﷻ ته ده ستاسي رجوع یعنې په ورځ کې د قیامت.

پوه سه: چې ملا عصام الدین رحمه الله په حاشیه کې د بیضاوي وایي الا ان تتقوا آه استثناء مفرغ ده او منصوب علی الظرفیة ده، او دا استثناء په دواړو مخنیو جملو پورې مربوط ده معناً او په یوې پورې مربوط ده لفظاً او په هغه بله جمله کې مقدره ده کما هو شان التنازع المذکور في النحو ودفع ذالک التنازع، والمعنی لایجوز موالات الکفار في شیئ من الاوقات الا وقت ان تتقوا منهم، ونقل مفصل بیان عصام الدین المظهري رحمه الله.

فائده: "تقاة" مفعول مطلق دی د تتقوا من غیر لفظه.

مسئله: د کفارو له بېرې د مسلمان ناحقه وینه تویول نه دی روا، او د کافرانو د بېرې له سببه څوک حرام مال د چا نسي خوړلای او کافرانو ته د مسلمانانو جاسوسي نه ده روا.

قُلْ إِنْ تُخْفُوا مَا فِي صُدُورِكُمْ أَوْ تُبْدُوهُ يَعْلَمْهُ اللَّهُ وَيَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۗ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٩﴾

او ته ووایه یا محمد ﷺ خلګو ته چې دلته په قرینه د سیاق مراد خندي مسلمانان دي که تاسي پټ کړئ هغه څه چې ستاسو په زړونو کې دي من محبة الکفار قلباً وغیرها من المعاصي، او یا یې ښکاره کړئ یا په قول او یا په فعل سره خدای ﷻ په دواړو خبر دی، او خدای ﷻ خبر دی په هغو شیانو چې په آسمانو کې دي کالملائکة والکواکب البیت المعمور وبیت العزة وغیرها من لا یعلم تفاصیلها الا هو.

فائده: واو په "ویعلم" کې استینافي دی او دا جمله مستانفه ده، او عطف یې پر جزاء د شرط نه دی صحیح لعدم الربط والسببیة اللازمة بین الشرط والجزاء اذ یکون التقدیر هکذا قل ان تخفوه آه ویعلم ما في السموات آه.

پوه سه: چې تخصیص د سموات اوارض یې له دې سببه وکړی چې ظاهري

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

نظر د عوامو پر اسمانو او مخکو منحصر دی، ورنه خدای ﷻ په هر موجود خبر دی من اجزاء کرة الماء ومافیها من الحیطان والجواهرات واللولو، وما في الجو بین السماء والارض الی غیر ذالک لان الله خالق کل شیئ وان کان ذرة وخلق شیئ بالاختیا والارادة یستلزم العلم، وهذه الجملة یعني قل ان تخفوه الآیة کانهما بیان السبب للجملة السابقة ای ویحذرکم الله الآیة، والحاصل ان العبد ینبغي ان لا یتجاسر علی من له العلم الشامل للظاهر والخفي والقدرة الباهرة علی کل ذرة من ذرات العالم بان یعصیه ویتجاوز حدوده. په حدیث شریف کي راغلي دي علیه الصلوة والسلام ویلي دي چي څلور شیه له کبیره ګنهو څخه دي یو د وړیو کالي اغوستل دي یعني خیره او بې کاره کالي لپاره د طلب د دنیا، یعني چي یا د خلګو د بزرګ ګمان راباندي راسي او یا د فقر مسکین، نوبه روپۍ راکوي لکه په میاشت کي د روزې چي یې بعض سوال او فقر عادته ملایان یا عوام کوي، او بل دا چي سړی دعوه د محبت د صالحانو کوي او د هغو پر لار نه ځي، او بل دا چي د اغنیاؤ ذم کوي او پهسې خندي غواړي.

دروېش وایي: چي ما د بعضو ملایانو څخه اورېدلي دي چي وایي د فلاني غنمي یوه ګوله دوډۍ او یو درهم حلال نه دی او بیا هم شپه او ورځ یې پر سترخوان ناست وي او دراهم خندي غواړي، او بل دا چي سړی وایي چي کسب هیڅ شی نه دی او خوراک د اهل کسب له مال څخه کوي، سعدي رحمه الله

گر آنها که میگفتمي کردمي نیکو سیرت وپارسا بوده مي

فائده: دروېش وایي چي صحبت او محبت دېر تاثیر لري کما قیل

عن المرء لاتسئل وانظر قرینه فکل قرین بالمقارن یقتدی

قال علي رضي الله عنه فلا تصاحب اخا الجهل وایاک وایاه فکم من جاهل اردي

حلیماً حین اخاه قاس المرء بالمرء اذا ما هو شاه

وللقلب علی القلب لیل حین یلقاه

مسئله: که یو سړی په سفر د حج روان و او یا غزاء ته یو فاسق ورسره ملګری

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سو، نو د فاسق په سبب خو به غزاء او حج نه پریږدي، لکن په زړه کي به يې له هغه فاسقه او د هغه له عمله بد وږخي، لکن جنګ وجدال دي هم نه ورسره کوي، ولي چې نه بايد وسفر ته د طاعت نقصان پښې نه سي، او شايد ددغه صابر د صبر په برکت به هغه فاسق توبه وکاږي.

حکايت: په تاريخ کي راغلي دي چې دوه ډېر بزرګواره کسان چې يو د حاتم اصم په نامه يادېدی او بل شقيق بلخي نومېدی، په سفر د حج يا د عمري روان وه، چې يو سپين ږيری فاسق ورسره ملګری سو چې په دې سفر کي به يې غزلي هم ويلې رباب به يې هم واهه، او په عين حال کي شيخ فاسق د شقيق او د حاتم نومان هم اورېدلي وه لکن پېژندل يې نه، خو دې شيخ فاسق د شقيق او حاتم حال ډېر ور دريخ کړی لکن حاتم له ادبه ږغ نه کاوه چې ګوندې شقيق به دا فاسق منع کړي، خو شقيق سره ددې چې په زړه کي ډېر له شيخ فاسق څخه تنګ و لکن په خوله يې نه منع کاوه لئلا ينجر الی النزاع في هذا السفر المبارک، نو څه وخت چې شيخ فاسق له دوئ څخه په لار کي جلا کېدی، نو شيخ فاسق و حاتم او شقيق ته وويل چې تاسي دوه له شريعت څخه ډېر لېرې ملايان ياست، ولي چې ما ګرده لار وتاسي ته رباب واهه او غزلي مي ويلې تاسي ماته نصيحت ونه کړی او زه مو له دې بد فعل څخه منع نه کړم، نو حاتم ورته وويل چې موږ په مراعات د سفر د انديوالۍ که څه هم ستا له رباب او غزلو څخه ډېر تنګ وو ږغ مو نه درته کاوه، او ورته وه يې ويله چې زه حاتم يم او دا بل ملګری مي شقيق بلخي دی، نو شيخ فاسق رباب مات کړی او توبه يې وکښل، او بيرته ددوئ سره ملګری سو او ددوئ خدمت به يې کاوه، نو شقيق وحاتم ته وويل چې ودي لېدل نتيجه د صبر چې موږ وکړی

بيت

نه آنکه بر در دعوی نشيند از خلقي — که گر خلاف کنندش بجنګ برخيزد
وګر زکوه فرو غلطد آسيا سنګی — نه عارفست که از سنګی برخيزد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ مُّحْضَرًا ۚ وَمَا عَمِلَتْ مِنْ سُوٓءٍ ۚ تَوَدُّ لَوْ اَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهٗٓ اَمَدًا بَعِيْدًا ۗ

پوه سه: چې لفظ د "یوم" منصوب دی او ظرف مقدم د "تودّ" دی او لفظ د "ما" دواړه خایه موصوله شرطیه نه دی، ولې چې توله قاریان "تودّ" په رفع سر وایي، نو که ما شرطیه نو که ما شرطیه وای نو باید چې قاریانو په جزم ویلی وای، ولې چې په قرار د قانون نحوي رفع او جزم دواړه روا دي چې شرط ماضي لکه دلته.

پوه سه: چې موصول سره د صلې مفعول د "تجد" دی، ولې تجد دلته په معنا د تصیب دی چې یو مفعول غواړي.

ژباړه: هغه ورځ یعنې چې ورځ د قیامت ده چې پیدا کړي هر نفس له نفوسو مکلفه وو څخه هغه شی چې ده عمل کړی د خیر له کارو څخه یعنې فرائض واجبات الی غیر ذالک حاضر کړه سوي په امر د خدای ﷻ یعنې په عمل نامو کي، او هغه کارونه چې ده عمل کړی وي د بدو کارو یعنې که کبیره ګنهونه وي او که صغیره وي، یعنې دا بد کارونه به هم حاضر کړه سي د عمل نامو په ذریعه لکن د کارو سره یې احضار نه کړی ذکر. له دې سببه چې مقصود احضار الخیر دی، او احضار الشر بناءً پر حکمت الهي دی، نو به دغه "کل نفس" خوښ لري داچې کاشکي په منځ کي د نفس او په منځ کي ددې ورځې له خوف او ببري او یا د نفس او عمل سوء تر منځ امد وای یعنې مسافت وای کبري کما بین المشرق والمغرب مثلاً.

فائده: مراد له "کل نفس" څخه هغه کسان دي چې نبه او بد عملونه یې دواړه کړي وي، یعنې مؤمن خو وي، او هر چې هغه کسان دي چې عمل سوء هر ګز نه لري او توله اعمال یې صالح وي کالانبیاء علیهیم السلام، او یا ماسوی له ایمانه بل عمل صالح اصلاً نه لري ددغو کسانو بالمقایسة علی حال اولئک خلطوا عملاً صالحاً وآخر سیئاً معلومېږي، اما الاول فلانهم لا یودون ان بینها

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وبيئه امداً بعيداً، واما الفريق الثاني فلانهم يؤدون لو ان آه بطريق الاولى.

تنبيه: هغه کسان چې په عمل نامو کې يې خير او شر دواړه وي، دا يې خوښه وي چې خدای ﷻ مې په خپل رحمت عامه سره ټوله سيئات محوه کړي او را وه يې بخښي، او يوازې عمل نامه د حسناتو په لاس راکړي او يا که هغسې نه وي نو حساب به په پټه را سره وکړي، او اهل محشر ته مې رسوا نه کړي.

پوه سه: چې بخاري او مسلم له ابن عمر ﷺ څخه روايت کړی دی، قال قال رسول الله ﷺ يدني المؤمن" خدای ﷻ نژدې کوي يعني په ورځ کې د قيامت مؤمن يعني بعض مؤمنان فيضع عليه كنفه ويسره" او خدای ﷻ پر هغه کښېږدي خپل بغل يعني حجاب النور او پټ يې کړي له خلګو څخه، او خدای ﷻ ورته وايي چې په ياد دي ده هغه فلانی ګناه يعني چې تا کړې ده په دنيا کې "اتعرف ذنب كذا" به هر وار ورته ووايي نعم يا رب حتى چې بنده به په ټولو ګنهو اقرار وکړي، او دی به پخپل زړه کې وايي چې هلاک سوې، يعني اوس به نو خدای ﷻ راته ووايه چې ولاړ سه ودوزخ ته، لکن خدای ﷻ به ورته ووايي سترتها عليك في الدنيا وانا اغفرها لك اليوم فيعطى كتاب حسناته، خدای ﷻ به ورته وايي چې ما ستا دغه ګنهونه در پټ کړي دي يعني له خلګو څخه او نن زه ستا دغه ټوله ګنهونه دربخښم يعني په دې ورځ د قيامت دي هم نه رسوا کوم، نو عمل نامه فقط د نېکو په لاس ورکړي الى اخير الحديث، اللهم اجعل عبدک الذليل العاصي بانواع المعاصي من جملة هؤلاء المؤمنين برحمتک يا ارحم الراحمين وبحرمة الشهر المبارک رمضان الذي وصلت فيه الى تحرير هذا المقام.

وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهٗ ؕ وَاللّٰهُ رَءُوْفٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۳۰﴾

او تاسي يېروي خدای ﷻ له خپله څانه څخه، او خدای ﷻ مهربان دی پر بندګانو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: دا آیت خو د مخه هم تېر سو عنقریب، نو بیا ذکر کول به یې تکرار نه وي؟

ځواب: په دمخه آیت کې بېرول د مسلمانانو له دوستۍ او محبت ځخه د کافرانو کما مر تفصیله او په دې آیت کې بېرول دي د مسلمانانو له ترک ځخه د فرانضو او واجباتو او له کولو ځخه د محرماتو او معاصي وو فلا تکرار، روح البیان وایي ای یقول الله احذورا من سختي وهو تکریر لما سبق لئلا یغطون عنه آه.

دروښ وایي: چې تاسیس کما في التوجیه السابق خیر دی تر تکریر کما تقرر عندهم خصوصاً في الموضع القریب کما ههنا.

پوه سه: چې مراد له عباداتو ځخه مؤمنین دي لان الخطاب معهم من سباق الکلام

پوه سه: بعض محدثینو له حسن بصري رحمه الله ځخه روایت کړی دی چې بعضي خلګو په زمانه کې د نبي ﷺ وته ویله والله انا لنحب ربنا فانزل الله تعالی "قل انکنتم تحبون الله فاتبعوني" الآیة، او ابن اسحاق صاحب المنازي او نور کن شمېر محدثین وایي چې دا آیت په وفد کې د نجران نازل سوی دی، چې دوئ به ویل انما نعبد عیسی حباً لله، او محي السنة بغوي رحمه الله وایي چې دا آیت په یهودو او نصاری وو کې نازل سوی دی، حیث قالوا نحن ابناء الله واحبائه، او له عباس رضي الله عنه ځخه روایت دی چې علیه الصلوة والسلام په مکه مکرمه کې و قریشو ته ودرېدی او هغو خپل بتان درولي وه او په غاړو یې د شتر مرغ هګۍ ور ځړولې وې، او په غوږو کې یې غوږ والي ور ځړولي وه او سجدې یې ورته کولې، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل یا معشر قریش والله لقد خالفتم ملة ابیکم ابراهیم واسماعیل، فقال قریش انما نعبدهم حباً لله لیقربونا الی الله زلفی فقال الله تعالی:

قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي

ته وقریشو ته ووایي چې که تاسي محبت د خدای ﷻ لرئ نو زما متابعت

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

وکړئ یعني په توحید کې د خدای ﷻ او په ترک کې د عبادت د بتانو.

پوه سه: چې د حب لفظ په ضمه د حا او کسره د حا وکذا الحباب بالضم والکسر. وکذا المحبة تقوله مصادر دي من احبه یحبه فهو محبوب علی غیر قیاس لان احب من باب الافعال والمحبوب من المجرد والقیاس محَب بفتح الحاء للمفعول لکنه قلیل في الاستعمال. په هر حال محبت تعلق دی د زړه د محب په محبوب پورې او الفت دی د محبوب سره په داسې ډول چې محب منع کړي له التفات څخه وغیر ته د محبوب، او که دا حالت داسې حال ته ورسېدی چې دوام یې پیدا کړی بیا یې نو عشق بولي، قال اهل العشق العشق نار في القلوب یتحرق ماسوی المحبوب فیجعل غیر المحبوب نسیاً منسیاً.

دروېش وایي: چې دا محبت او عشق ګاهي مجازي وي لکه عشق د مجنون له لېلي سره او عشق د فرهاد له شریني سره الی غیر ذالک، او ګاهي حقیقي وي لکه محبت د اولیاء الله الکرام رح د خدای ﷻ سره، او دا محبت او عشق ګاهي داسې وي چې سړی اولاً سلوک په لار د عباداتو او اربعیناتو شروع کړي په اخیر کې جذبه او عشق الهي پیدا سي دا لار څه اوږده ده لکن تر پایه پورې د شریعت مطهره سره سمون لري، او ګاهي جذبه او عشق تر سلوک دمخه پیدا سي او اصل عریان اول نصیب د سالک وګرځي او ورسته بیا سلوک پیدا کېږي، او دا لار که څه هم و اصول الی الله ته لنډه ده لکن ګاهي په دې لار کې خلاف الشریعة الغراء قول یا فعل پیدا کېږي کما قال المنصور انا الحق، او بل ددغې لارې سړی په خطاب کې وخدای ﷻ ته وایي، خود زدي بانګ انا الحق بر سردار آمدي، وغیر ذالک من ترهاتهم.

دروېش وایي: چې دا ټوله خو بیان د محبت د بنده و له خدای ﷻ سره، او محبت د خدای ﷻ له بنده سره چونکه خدای ﷻ لره قلب نسته، او داسې هم نه دی چې خدای ﷻ محبت د یوه بنده د بل بنده له محبت څخه منع کړي لانه تعالی لایشغله شان عن شان یعني لکه بندګان چې دیوه چا عشق او محبت د بل د عشق او محبت څخه منع کاوه، نو د خدای ﷻ د محبت معنا داده چې

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

خدای ﷻ بنده وخپل خان ته جذب کړي او غیر ته یې پرې نه ږدي، نو محبت الهي د بنده سره دمخه دی تر محبت د بنده د خدای ﷻ سره لکه په دې آیت کې چې دی "یحبهم ویحبونه" چې خدای ﷻ خپل محبت دمخه ذکر کړی تر محبت د بندګانو.

فائده پر حب د بنده له خدای ﷻ سره دا فائده مرتبه ږي چې بنده به اطاعت د خدای ﷻ کوي په اداء کې د اوامرو الیه وو او په ترک د معاصیو او د حب الله د بنده سره نتیجه داده چې خدای ﷻ به توفیق د عباداتو ورکوي او حسن ثواب به ورکوي او عفوه د سیئاتو به ورته کوي.

پوه سه: چې کلمه د "فاء" په "فاتبعوني" کې لپاره د سببیت ده یعنې زما متابعت سبب د محبت د خدای ﷻ ګرځي، ولې چې محبت د خدای ﷻ خو په کولو کې د مرضیاتو الهیه وو دی او مرضیات الهیه خو په عقل سره نه معلومیږي بلکه په وساطت د تعلیم الهي و علیه الصلوة والسلام نه. نو ځکه متابعت د علیه الصلوة والسلام مشروط دی په محبت الهي کې، نو چونکه په انتفاء د شرط مشروط نیستي کیږي، نو که متابعت د علیه الصلوة والسلام نه وي نو مدعي د محبت د خدای ﷻ کذاب دی، هذا کلمة ماخوذ من البیضاوي والمظهري والبغوي والخفاجي واحیاء الغزالي وزاد علیه العاصي رحمهم الله.

پوښتنه: په "فاتبعوني" کې کلمه د "یا" ولې باقي ده؟

ځواب: په اصل کې خو یا پکښې موجوده وه.

سوال: په "فاتقون" او "اطیعون" کې خو هم په اصل کې یا وه، نو یې ولې ساقطه کړه؟

ځواب: هغه دوه لفظه خو په اخیر کې د آیت وه نو په سبب د د وقف یې یا پرېښوله

یُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣١﴾

پوه سه: یحببکم" مجزوم دی جواب د امر دی یعنې "فاتبعوني" والمعنی که تاسي زما متابعت وکړئ، نو خدای ﷻ به ستاسي سره محبت وکړي او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بخښه به وکړي تاسي ته له ګناهو ستاسي، او خدای ﷻ بخښنده د ګناهو د بندګانو دی او مهربانه دی.

دروبش وایي: والله در البيضاوي رحمه الله حيث فسر هذه الآية بما يناسب اذهان المبتدئين والمتوسطين والمنتهيين، حيث قال اى يرض عنكم ويكشف الحجب اى حجب الشكوك والشبهات عن قلوبكم بالتجاوز عما فرط منكم اى النقصان الواقع منكم في طاعت الله واتباع رسوله ﷺ فيقربكم من جنابه عزه ويبوئكم في جوار قدسه اى دار المقربين، ثم دفع البيضاوي التوهم الوارد ههنا بان المحبة هي ميل النفس والقلب الى شيئ ولا يتصور ذالک في شانه تعالى بقوله "وعبر عن ذالک بالمحبة على طريق الاستعارة والمقابلة اى المشاكلة انتهى كلامه. واما امام المظهري رحمه الله فاورد هه سوال الدور ثم دفعه بجواب لاينا سبان حال المبتدئين بل المتوسطين فلهذا اعرضنا عن ذالک السوال والجواب من شاء فليطالها في تفسيره.

قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ ۖ فَإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ ﴿٣٢﴾

ته ووایه وخلګو ته چې تاسي اطاعت کوئ د خدای ﷻ ای فيما يامركم به وينهاكم عنه، او اطاعت کوئ د رسول يعني د عليه الصلوة والسلام، ولي چې اطاعت د رسول په دې حيث چې دی رسول د خدای ﷻ دی دا عين اطاعت د خدای ﷻ دی لاغيره، قال الله تعالى "وما ينطق عن الهوى ان هو الا وحي يوحى الآية" نو دا آيت شامل دی اطاعت لره د رسول الله ﷺ في الوحي الغير المتلو اعني الآحاديث النبوية.

پوه سه چې د خدای ﷻ د محبت او اطاعت او د عليه الصلوة والسلام سره د محبت او د اطاعت تر منځ د تلازم هغه حديث نبوي چې بخاري يې له جابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه روايت کړی دی تائيد کوي چې په يوه برخه کې د هغه حديث داسي راغلي دي كل امتي يدخلون الجنة الا من ابى" تولو امتيان زما به جنت ته دا" لهږي مګر نه هغه امتيان چې له دخول څخه د جنت منع وکړي، اصحاب کرامو ورته وويل "ومن ابى" څوک به منع له دخول څخه د جنت يا

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

رسول الله قال "من اطاعني دخل الجنة ومن عصاني فقد ابى" څوک چې زما اطاعت وکړي هغه به جنت ته داخلېږي او هغه څوک چې زما څخه عصیان وکړي هغه د دخول د جنت څخه منع کوي "ومحمد فرق بين الناس" او محمد فرق دی په منځ کې د خلګو یعني اطاعت دده او عصیان فرق په منځ کې د خلګو یعني الداخلين في الجنة والمانعين منه.

دروېش وايي: چې وجه د تلازم داده چې دا معلومه خبره ده چې جنت ته ورځي مګر هغه څوک چې د خدای ﷻ سره محبت لري او د خدای ﷻ اطاعت کوي، نو دې حدیث مبارک دا وښوول چې ددې دوو محبتو تر منځ تلازم دی وکذا بين العصيانين فافهم، او که څوک اعراض او روی ګردانې وکړي نو په تحقیق د خدای نه دي خوښ کافران، یعني اعراض کونکي کافران دي او د خدای کافران نه دي خوښ وهو کناية عن البغض معهم، په روح البیان کې وایي چې دا آیت پر شرف د علیه الصلوة والسلام صراحةً دلالت کوي ولې چې خدای محبت خپل محبت د حبیب خپل وباله او جوت یې کړی اطاعت خپل په اطاعت پورې د حبیب خپل.

تفریع: هغه څوک چې دعوه د محبت د خدای ﷻ کوي او له سنت څخه د علیه الصلوة والسلام مخالف وي هغه کذاب دی.

دروېش وايي: وهذا كثير في بعض مشائخ الزمان الحاضر فتفكر، والى هذا اشار المجنون العامري:

امر على الديار ديار ليلى ... اقبل ذا الجدار وذا الجدار

وما حب الديار شغفن قلبي ... ولكن حب من سكن الديار

قال القاشاني رحمه الله محبت النبي ﷺ انما تكون بمتابعته وسلوك سبيله قولاً وعملاً وخلقاً وحالاً وسيرةً وعقيدةً ولاتمشي دعوى المحبته الا بهذا فانه قطب المحبة ومظهرها الى آخير ماقال.

دروېش وايي: چې مثل د داسي محب الرسول ﷺ في الزمان الحاضر يعني سنه ۱۴۲۶هجري قمري کې نادر دی، فهو كالمسك الاذفر والكبريت الاحمر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وتوفيق الوصول اليه من الله الاكبر، اللهم ارزقني حبك وحب حبيبك وحب من يحبك وحب عمل يقربني اليك آمين آمين آمين.

روايت كړى دى بخاري رحمه الله له عبدالله بن هشام رضي الله عنه څخه چې هغه وويل چې زه د عليه الصلوة والسلام ملګرى وم او عليه الصلوة والسلام عمر رضي الله عنه تر لاس نيولى و، نو عمر ورته وويل يا رسول الله ﷺ انت احب الي من كل شيئ الا نفسي، نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل والذي نفسي بيده لا يؤمن احدكم اى ايماناً كاملاً حتى اكون احب اليه من نفسه، نو عمر رضي الله عنه ووىل فانه الآن والله انت احب الي من نفسي، نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل الآن يا عمر صار ايمانك كاملاً.

حكايت: بادشاه عادل فاتح الهند محمود الغازي الغزنوي رحمه الله يوه ورځ د شيخ رباني د ابو الحسن الخرقاني رحمه الله ملاقات ته ورغلى او يو ګړى ورسره كښېنستى، بيا محمود له ده څخه پوښتنه وكړه چې ستا څه رايه ده په باره كې د بايزيد بسطامي قدس سره، ابو الحسن خرقاني محمود ته وويل چې بايزيد رحمه الله داسي شخصيت و چې دى چا ليدلى واى د دوزخ اور ورته حرام و، محمود ورته وويل چې دا څرنګه مدح د بايزيد تا وكړه، ابو جهل خو عليه الصلوة والسلام ليدلى و او د دوزخ اور نه سو ورته حرام، نو ابو الحسن خرقاني رحمه الله ورته وويل چې ابو جهل رسول الله ﷺ نه دى ليدلى بلكې د محمد بن الله يتيم د ابو طالب يې ليدلى و حتى كه ابو جهل رسول الله ﷺ ليدلى واى دى به هم له شقاوت او دوزخه خلاص واى.

دروبش وايي: چې د شيخ مطلب دا و كه ابو جهل په حيثيت د انه رسول الله ليدلى واى نو خو ايمان به يې پر راوړى واى، نو د بدبختى څخه د كفر به خلاص سوى واى او د عليه الصلوة والسلام د لوړو اصحابو څخه به واى، لكه ابو بكر و عمر وغيرهما رضي الله عنهم نو به خود د دوزخ اور ورته حرام واى، لكن ابو جهل عليه الصلوة والسلام ته په سترګو د يتيم د ابو طالب كتله، نو د شيخ خرقاني رحمه الله په مدح كې د بايزيد بسطامي رحمه الله همدغه مراد و، يعنې كه چا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بایزید ته په سترګو د سلطان العارفین کتلي وای، نو دده متابعت به یې په اقوالو او افعالو او احوالو کې کړی وای نو د اهل سعادت څخه به ګرځېدلی وای، لکن ټولو خلګو بایزید ته په دغه سترګه نه کتل.

دروښ وایي: چې مصداق د ماقلنا في باب ابو جهل قوله تعالى "وتراهم ينظرون اليک يعني بعين الراس وهم لا يبصرون" او سره د هغه تا نه وینې يعني په سترګو د زړونو والا اتبعوک وامنوبک.

دروښ وایي: چې د جابر بن عبدالله ﷺ څخه روایت دی چې اصحاب الحدیث تقریباً ټولو دا حدیث راوړی دی چې یو وخت علیه الصلوة والسلام بیده و چې دوې ملکي ورته راغلې یوه یې وسر ته کښېنستل او بله یې وپښو ته، یوې و هغې بلې ته وویل چې ددې سړي یو مثال باید وویل سي، نو مسئول عنه ملکي ورته وویل چې دی خو بیده دی نو مثال یې څه فائده لري یعني دی خو یې په سبب د خوب نه اوري، هغې بلې ملکي ورته وویل چې سترګې بیدې دي لکن زړه وینې دی او ادراک او فهم د مثال خو په زړه پورې اړه لري، نو ملکي ووېل چې مثال دده داسي دی لکه یو سړی چې ښه بهترین سرای جوړ کړي او ښه فوق العادة مهماني پکښې جوړه کړي او مالک الدار یو منادی او اعلان کونکی واستوي چې خلګو ته عمومي دعوت د مهمانۍ ورکړي، نو یوې ملکې وهغې بلې ته وویل چې ددې خبرې تفصیل ته ودې سړي ته وکړه چې دی په پوه سي، هغې بلې ملکې ورته وویل چې سرای خو جنت دی یعني بانيّ او خالق یې رب جل وعلا دی، او داعي ومهمانۍ ته د خدای ﷻ محمد ﷺ دی، نو که چا د داعي چې محمد ﷺ دی دعوت قبول کړی نو سرای ته به ورسي یعني الجنة او د مهمان سرای څخه به خوراک وکړی یعني نعیم الجنة ورضی عنه صاحب الدار یعني خدای ﷻ، او که چا د داعي یعني چې محمد ﷺ دی دعوت قبول نه کړی نو به دار ته داخل نه سي یعني الجنة او نه به د مهمان خانې چې جنت دی میلمستیا وخوړې وسخط علیه صاحب الدار، او کما قال رسول الله ﷺ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَىٰ آدَمَ وَنُوحًا وَآلَ إِبْرَاهِيمَ وَآلَ عِمْرَانَ عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿٣٣﴾

او په تحقیق سره خدای ﷻ خوښ کړی دی د خان لپاره او د خپل محبت لپاره او د رسالت لپاره آدم ابو البشر ﷺ چې امر یې د سجدې وده ته پر ملائکه وو وکړی، او په جنتو کې یې ده او حوا ﷺ ته ځای د اوسېدو ورکړی، او ټوله انبیاء کرام یې دده له نسله څخه پیدا کړه الی غیر ذالک من الکرامات او نوح ﷺ.

پوه سه چې د نوح ﷺ رسالت هغه وخت منځ ته راغلی چې په اولاد کې د آدم ﷺ کفر او شرک پیدا سو او لس کاله ټوله خلګ پر دیني حق د آدم ﷺ وه، او نوح ﷺ نهه نیم سوه (۹۵۰) کاله وقوم ته تبلیغ د توحید وکړی او د شرک په مقابل کې یې سخته مبارزه وکړه، او د کافرانو له خوا ډېر ازار او کړاونه یې ولیدل آخیر الامر چې خدای ﷻ د قوم له خوا څخه بالا تر هغو کسانو چې پر ده یې ایمان راوړی وو نا امیده کړی بقوله تعالی "لن یؤمن قومک الا من قد امن" نو نوح ﷺ خواست د استیصال د ټوله نړۍ د کفارو وکړی بقوله "رب لاتذر علی الارض من الکافرین دیاراً" فهلکهم الله کلهم بالطوفان فلذا لقب نوح بالآدم الثاني، لان الناس کلهم من اولاده الی یوم القیامة لان من نجا من الطوفان في سفینة نوح ﷺ وهم (۸۰) رجال ونساء کانوا من نسله بالذات او بالواسطة، او د "آل ابراهیم" څخه مراد اسماعیل، اسحاق او یعقوب او ټوله انبیاء علیهم السلام د بني اسرائیلو او سید المرسلین ﷺ داخل دی في آل ابراهیم لانه ﷺ من ولد اسماعیل ﷺ واصطفاء نفس ابراهیم مفهوم من اصطفاء ولده بالطریق الاولی، او له عمران ﷺ څخه په قول د مقاتل، عمران بن یصهر بن قاهت بن لاوي بن یعقوب مراد دی چې دا عمران پلار و د موسی او هارون علیهما السلام.

او بعض مفسرین ؒ وایي چې مراد څنډي عمران بن ماثان من اولاد سلیمان بن داؤد چې دا عمران والد دی د مریم مور د عیسی ﷺ، او په منځ کې ددغو دوو عمران نامو بعض وایي یو زر او اتیا کاله فاصله وه، او بعض وایي یو زر او اته سوه کاله فاصله وه، او ښه مذهب دادی چې له عمران څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مراد دلته د مریم﵂ پلار دی، نو "آل" عمران عیسی﵇ دی.

پوښتنه: تخصیص ددغو کسانو په آیت سره ولي وکړه سو؟

ځواب: له دې سببه چې ټوله انبیاء او یا اکثره ددغو مذکوره کسانوله نسل څخه وه، مظهري قوله تعالی "علی العالمین"

پوه سه: چې دمخه آیت شامل دی لنبیناﷺ او دغه رنګه و ابراهیم، موسی وعیسی وسائر الانبیاء من بني اسرائیل وغیرهم علیهم السلام کمامر وهو التفسیر الراجح عند اکثر المفسرین، نو د هغو اصطفاء پر ټوله عالمیانو ظاهره ده، او دا آیت دلیل دی پر افضلیت د خواص البشر چې انبیاء علیهم السلام پر خواصو د ملائکه وو لکه جبرائیل ومیکائیل واسرافیل وغیرهم، ولي چې په ټوله عالمینو کې خو ملکي هم داخلي دي، وان اخرج عن الآیة السابقة بعض الانبیاء کما في القول المرجوح نو مراد له عالمینو څخه عالمیان د خپل زمانې دي والله اعلم بالصواب، او صاحب د روح البیان وایي چې مراد له "اصطفاء" د هر واحد له انبیاء څخه شامل په آیت سابقه کې وه پر عالمیانو د خپلې زمانې.

دروښ وایي: چې دا تفسیر ډېر صحیح دی.

سوال: تفضیل د علیه الصلوة والسلام خو یوازې مخصوص د خپلې زمانې په عالمیانو سره نه دی بل هو افضل جمیع العالمین علی الاطلاق؟

ځواب: په تفسیر کې د روح البیان خو نفي د تفضیل د علیه السلام پر ټولو عالمیانو علی الاطلاق نه دی سوی بلکې تفضیل د انبیاؤ پر عالمیانو د خپلې زمانې دی وذالک لاینافي کون بعض الانبیاء کسیدنا محمدﷺ افضل علی الاطلاق من جمیع نسل آدم﵇ والملائکة فافهم.

ذُرِّيَّةًۢ بَعْضُهَا مِنۢ بَعْضٍ ۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٣٤﴾

دا مذکورین اولاد دي بعض د بعض، او خدایﷻ سمیع اوربدونکی د اقوالو د بندګانو او خبر په احوالو د بندګانو دی.

پوه سه: چې "ذریة" حال دی یا بدل دی د "آلین" څخه په آل ابراهیم او آل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عمران کې او یا د آلِ نوح څخه یعنې دا اولاد یو دي په اصل کې مګر یو له بله سره جدا سوي دي.

فائده: الذرية لولد يطلق على الواحد والجمع والمذكر والمؤنث، و وزنه فعلية د زر بتشديد الراء والياء للنسبة والذر في الاصل صغار النمل جداً ووجه تسمية الاولاد بالذرية لانهم اخرجوا من صلب آدم كالذر حتى اخذ الله منهم ميثاق الست بربكم قالوا بلىٰ، او يا وزن يې فعولة د مشتق د زرء څخه دی بيا يې همزه په يا بدله کړه او بيا يې واو د فعولة هم په يا بدل کړی حسب القانون الصرفي او يا يې په يا کې مدغمه کړهز

پوه سه: چې سميع عليم يې ددې لپاره ووايه چې خدای ﷻ چې په اقوالو او اعمالو د انسانانو خبر دی، نو هغه څوک مصطفی کوي چې مستقيم القول والعمل وي.

إِذْ قَالَتِ امْرَأَتُ عِمْرَانَ

په ياد کړه هغه وخت چې وويل مايښې د عمران بن ماثان چې حنة بنت فاقوذا يې نوم و، او د مريم مور او د عيسىٰ عليه السلام انا کېږي.

پوه سه: چې د ماثان زامن رئيسان وه د بني اسرائيلو او علماء يې هم دوئ وه او مملکت هم ددوئ و، راوي وايي چې حنه مذکوره وچه وه و د ډېر سن هم وه، يو وخت دا د يوې درختي وسايې ته ناسته وه چې وه يې ليدل چې يو مرغه په درخته کې وخپل چيچې ته په خوله کې طعام ورکاوه، نو ددې په زړه کې هم شوق پيدا سو چې کاشکې ماهم يو ولد درلودای، او ددې اسې کورنۍ ښځه چې پر خدای ﷻ يې د ډېر اعتبار درلودی نو خدای ﷻ ته يې خواست وکړی چې ماته زوی راکړې، نو مريم يې په حمل کې سول. كذا اخرج ابن جرير عن ابن اسحاق.

پوښتنه: د عمران بن يصهر چې د موسى او د هارون پلار دی يوه لور يې وه چې تر موسى او هراون مشره وه او د هغې نوم هم مريم و، نو مور په څه دليل وايو چې په آيت کې مذکور عمران عمران بن ماثان دی چې د هغه مايښه حنه و چې د مريم مور وه يعنې حنه بن فاقوذا چې د عيسىٰ عليه السلام انا کېږي، ولې دا بل عمران چې پلار د مريمې دی چې د موسى او هارون خور وه نه دی مراد؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: دلیل یې دادی چې د مذکوره في القرآن مریمي کفالت زکریاء علیه السلام پر غاړه اخستی دی کما سیجئ في الآیات الآتیة، او زکریاء بن اذن او عمران بن ماتان د یوې زمانې وه، نو دا معلومه سوه چې په دې آیت کې له عمران څخه مراد عمران بن ماتان دی، چې د مریم ام عیسی نیکه سي. او تاریخ وایي چې زکریاء علیه السلام د ایشاع لور چې د مریم ام عیسی خور وه په نکاح کړې وه، نو عیسی بن مریم او یحیی بن زکریاء سره د خاله زامن سوه.

تمهید: پوه سه چې په دین کې د دوئ داسي نذر مشروع و په نرو اولادو کې چې دوئ نر ولد لپاره د خدمت د بیت المقدس نذر کاوه، کما اخرجه ابن جریر عن قتادة نو چې چا به دغه نذر وکړی نو هغه هلک به یې وکنیسا ته یعني معبد ته د نصاری وو وروستی او د بیت المقدس خدمت به یې کاوه، او چارو کښې به یې کوله چې ددې کارو به قابل سو او مور او پلار به یې تر بلوغه کار نه په درلودی، نو چې بالغ به سو بیا نو دده اختیار و که هوړی به بیت المقدس کې د خدمت لپاره پاته کېدای او که پر بله خوا تلای، او په هغه زمانه کې داسي نبي نه و چې دده یو زوی محرر او ازاد د بیت المقدس لپاره نه و بلکې د هغه وخت د علماؤ یو یو زوی به هم محرر په بیت المقدس کې موجود و، نو څه وخت چې د عمران ماینې خدای ﷻ خواست د ولد وکړی او خدای ﷻ د حنه دغه خواست قبول کړی او دې احساس د حمل وکړی او ددې دغه حمل خو په واقع کې مریمه وه یعني ام عیسی، نو دې دغسي خواست خدای ﷻ ته وکړی او دا حمل یې نذر کړی د بیت المقدس د خدمت لپاره کما هو المعتاد في الزمان المذکور کمامر، او دې وویل.

رَبِّ إِنِّي نَذَرْتُ لَكَ مَا فِي بَطْنِي مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ مِنِّي ۖ إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٣٥﴾

ای زما خدایه ما نذر کړی هغه شی چې زما په نس کې دی یعني ما في رحمي، نو ته دا نذر زما څخه قبوله کړې په تحقیق سره ته اوریدونکی زما د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قول او خبر يې زما په نيت سره، نو ددې مېړه چې په نذر خبر سو نو پر دې يې منت وکړی چې دا دي څرنګه نذر وکړی ته څه خبره يې که ستا په نس کې ښځينه عيال و نو هغه د نذر وړ نه دی کمامر ان النذر المذکور کان يختص بالذکور، نو دوئ دواړه په دې غم کې و چې دا څرنګه نذر سو، خير خو په وخت د حمل کې عمران وفات سو او حنه حامله وه په مريمې سره.

پوښتنه: حنه خو هم د نذر په قانون خبره وه، نو دې ولې دا نذر مجهول کاوه؟

ځواب: ددې تقدير او خيال خو دا و چې زما حمل به نر وي او دې په نذر کې ضمناً سوال د نر عيالي له خدای ﷻ څخه کاوه.

فائده: نذر هغه شي ته وايي چې انسان يې پر خپل ځان لازم وګرځوي.

سوال: دې ولې تعبير د ولد څخه په ما سره وکړی ما خود غير ذوی العقول لپاره استعمالېږي؟

ځواب: اولاً کلمه د من که څه په ذوی العقول پورې خاصه ده لکن کلمه د ما عامه ده کما في شرح الکافيه لعبدالرحمن الجامي رحمه الله، وثانياً قال صاحب روح البيان عبر عن الولد بما لابهام امره وقصوره عن درجة العقلاء وقت الوضع و بعده.

فائده: لفظ د محرراً منصوب دی حال دی له "مافي بطني" څخه والمعنى معتقاً لخدمة بيت المقدس لا اشغله بشيئ من الدنيا خالصتاً مفرغاً لعبادة الله ﷻ

فَلَمَّا وَضَعَتْهَا قَالَتْ رَبِّ إِنِّي وَضَعْتُهَا أُنْثَىٰ

هغه وخت چې دې حمل کښېښو يعنې لنګه سوه او لور يې راوړه، نو دې وويل چې خدايه ما خو لور راوړه، او دا قول ددې له جهته د غم و پر عکس د اميد ددې، ولې چې دې خو نر فرض کړی و او يا لپاره د عذر وه خدای ته چې دا انثى خو وړه نه ده د خدمت د بيت المقدس، ولې چې ښځه په سبب ددې چې دا لوسي عورت ده او غالباً ښځه تر نر ضعيف البنية وي او حيض او نفاس ور پيدا کېږي، نو له مسجد څخه وخروج ته مجبوره کېږي، ولا تستطيع

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

خدمة بيت المقدس طول عمرها.

وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ

او خدای ﷻ خبر دی په ما وضعت.

پوه سه چې ابن عامر، ابو بکر او یعقوب رح لفظ د وضعت پر صیغه د متکلم وایي یعني بضم التاء، نو پر دې تقدیر دا عبارت د امرئة العمران مقوله ده. غرض ددې دا و چې خپل ځان ته یې تسلي ورکوله په دې معنا چې خدای ﷻ خو خبر دی په ما وضعت سره نو شاید د خدای په دې کې یو حکمت مستور وي، او دا ښځینه اولاد به خیر وي په نېزه د خدای ﷻ تر نارینه اولاد، او ځینو قاریانو یې په صیغه د غیبت وایي یعني په سکون د تا، نو پر دې تقدیر دا جمله مستانفه ده او د کلام څخه د خدای ﷻ ده لپاره د تعظیم د موضوع ددې او لپاره د ناخبرتیا ددې په حکمت الهي کې ددې د موضوع انثی.

وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالْاُنْثٰى

او نه دی نر لکه ښځه یعني په خدمت کې د بیت المقدس لما قلنا آنفا مظهري رح وایي چې دا جمله احتمال لري چې قول د امرئة العمران دې وي لپاره د اظهار د عذر وخدای ﷻ ته نو پر دې تقدیر کلمه د لام تعریف لپاره د جنس ده، او دا هم احتمال لري چې دا دې کلام د خدای ﷻ وي فالمعنى وليس الذكر الذي طلبته وترجوه كالانثى التي وهبت لها يعني الانثى الموضوعة افضل من الذكر المطلوب، نو پر دې تقدیر لام د لفظ د الذکر والانثی لپاره د عهد دی، فافهم هداك الله لمعاني كلام الله ﷻ.

وَاِنِّيْ سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ

او ما پر دې نوم اینښی دی د مریمي.

پوه سه: چې دا جمله عطف ده پر مقوله د مور د مریمي او د منځ جمله معترضه ده

فائده: د مریم معنا ددوئ به ژبه کې د عابدې ده، د مریمي مور ددې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لپاره دا خبره وکړه چې خدای ﷻ دې نوم او مسمی سره برابر کړي.

پوښتنه: مور یې ولې نسبت د نوم اینبوولو وخاندې ته وکړی، او سره ددې چې قانون دادی چې نومان د عیال پلار اوږدي؟

ځواب: دمخه تېره سوه چې مریم چې د مور په حمل کې وه پلار عمران یې وفات سو، نو ګویا مور یې طلب د مهربانۍ له خدای ﷻ څخه وکړی پر مریم باندې لانها یتیمة.

وَإِنِّيٓ أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ ﴿٣٦﴾

او زه پناه غواړم له تا څخه ای خدایه ددې لپاره او ددې د اولاد لپاره له سرکښه شیطان څخه چې مردود دی له درباره څخه د خدای ﷻ.

پوه سه: په حدیث شریف کې راغلي دي چې رسول اکرم ﷺ چې خپله لور بي بي فاطمه ؓ وعلي ؓ ته په نکاح ورکړه، نو علیه الصلوة والسلام دعاء ورته وکړه "اني اعیذها بک وذریتها من الشیطان الرجیم"

پوه سه: چې په حدیث کې چې روایت یې ابو هریره ؓ کړی دی داسې راغلي دي چې ما د علیه الصلوة والسلام څخه واورېدل چې مولود نه دی زېږېدلی مګر شیطان یې په کوته ووهي نو هغه طفل بغاري وکړي له سببه د مسي د شیطان الا مریم وابنها یعني عیسی ؑ، متفق علیه.

دروښ وایي: چې مظهري ؒ وروسته تر دې داسې لیکلي دي ببرکة هذه الاستعاذة آه.

دروښ وایي: چې دا استعاذه خو مور د مریمې وروسته تر زېږېدلو د مریمې وکړه نو مریمه څرنګه د مس الشیطان څخه خلاصه سوه په سبب د دعاء د مور سره، ولې ولادت مریم خو مقدم دی تر دې استعاذې د مور البته په عیسی ؑ کې دا اثر د استعاذه د مور د مریمې صحیح دی، ولې چې مور یې ذریتها ذکر کړی و، فالاولی في معنی الحدیث داده چې مریم په وخت کې د ولادت چې شیطان له مسي خلاصه سوې وه په دې سبب چې یو خو دا نذیره مقبوله د بیت المقدس وه او بل په وخت کې د ولادت دا یتیمه وه چې مستحق

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

د رحمت الهي وه، نو خدای ﷻ دا له مسي څخه خلاصه کړه، او عیسی علیه السلام پیدا په اثر د دعاء د مور مریمي د من الشیطان څخه خدای ﷻ وساتی.

فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُوْلٍ حَسَنٍ

نو قبوله کړه مریمه خدای د مریمي په قبول حسن سره.

پوه سه: چي تقبل دلته په معنی د مجرد دی، روح البیان وایي د قبول حسن په ترجمه کي وایي ای بوجه حسن یقبل به النذائر وهو قبول تلک الانثی مع انوثتها وصغرها مع ان المعتاد في تلک الشریعة ان لایجوز التحریر الا في حق غلام یقدر علی خدمة المسجد وهو عاقل.

دروښ وایي: چي دا تفسیر احسن التفاسیر دی لهذه الآیة الکریمة، بیضاوي وایي چي حنه چي مریم وزیږوله، نو په یوه تکړه کي یې وپېچل او را وایې خستل ومسجد ته د بیت المقدس، او دا یې کښېښول و علماؤ ته د مسجد او ورته وه یې ویل دونکم تلک النذیرة، یعني درواخلئ دا منذوره.

پوه سه: چي احبار د بیت المقدس په دغه وخت کي زامن د هارون وه، او تولي د بیت المقدس د دوئ په لاس کي وه، نو د احبارو د بیت المقدس په تربیت کي د مریم عظیم اختلاف پیدا سو. یعني هر حبر غوښتل چي د مریمي تربیه دي ودته ورکړل سي ولي چي مریمه د لوی امام چي عمران و لور وه، لکن زکریا علیه السلام چي په دغو متولیانو کي موجود و دعوه یې وکړه چي زه حقدار یم د تربیې د مریمي، ولي د مریمي خاله چي اشیاع یې نوم و او د یحیی بن زکریا مور وه زما په نکاح کي ده والخالة کالام في الشفقة، لکن نورو احبارو دا دلیل د زکریا نه ومانه بلکې وه یې ویل چي قرعه اندازي پر کوو، نو دغه احبار اوه ویشت (۲۷) کسه وه دوئ وویل چي مورږ به یو جاري ولې ته ورځو یعني نهر الاردن او هغه قلمان چي دوئ به تورات په نوشته کاوه دا یې وویل چي دا به دا جاري اوبو ته اچوو نو د هرچا قلم چي پر جاري اوبو ودریدی یعني اوبو تل نه کړی او نه یې یوړی هغه سړی د مریمي د تربیې کفیل دی، نو

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

قلمان چې يې اوبو ته وړواچول د نورو ټولو احبارو قلمان ټوله په اوبو کې ډوب سوه د زکریا علیه السلام قلم د اوبو پر سر ودرېدی، او بعض علماء لکه سعدي وغیره وایي چې قلمان د نورو احبارو ولې ډوب نه کړل بلکې د ابو پر سر د اوبو د جریان سره ولاړه او قلم د زکریا د اوبو پر سر لوړ روان و، نو زکریا علیه السلام تربیه د مریمې وګټل ولهذا قال الله تعالی

وَّاَنْۢبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا ۙ

پوه سه: چې "نباتاً" مفعول مطلق دی له غیر ځځه د فعل ناصب، ولې چې انبت باب د افعال دی او نباتاً مصدر د مجرد دی، قال النحاة والتقدیر انبتها فنبتت نباتاً حسناً.

فائده: الانبات ہ استعارة لازدیاد عظام المولود وقامته واعضائه، تفاسیر په یوه خوله وایي چې مریم به په یوه ورځ کې دونده لوېدله لکه نور کوچنیان چې به په کال کې دومره لوېدله.

وَّكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا ۭ

پوه سه: چې بعض قراء "کفلها" په تشدید د فاء، وایي یعني ماضي د باب د تفعیل او فاعل یې خدای ﷻ دی لانه تعالی جری ذکره فیما سبق من الایات فلا حاجة الی ماقال المظهري رحمه الله في ان الفاعل هو الله لتقرره في الاذهان، او بعض قراء یې تخفیف د فاء وایي یعني من المجرد.

پوه سه: چې بیضاوي وایي او دده په متابعت مظهري هم وایي چې حمزه او کسائي او عاصم رحمهم الله فاء مشدده وایي، زکریاء په کسره وایي، نو فاعل خدای ﷻ بولي او زکریاء مفعول بولي، والمعنی جعل الله زکریاء کافلاً لها وضامناً لمصالحها، او نور قاریان "کفل" په تخفیف د فاء وایي او "زکریاء" په رفع وایي او په مد یعني فاعل یې بولي، والمعنی ضمانت یې وکړی زکریاء د مریمې د تربیې او مصالحو.

پوه سه: چې محمد بن اسحاق وایي چې اول زکریاء علیه السلام مریمه وخپلې خاله ته وسپارله چې د زکریاء علیه السلام ماینه وه نو هغې یې ساتنه او تربیه کوله حتی چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مریمه پیغله سوه د ښځو خای ته ورسېدله، نو زکریا علیه السلام دې ته په مسجد کې د بیت المقدس یوه بالاخانه جوړه کړه چې د محراب په نامه یادېدله او سړی به په خینو کې ورخنې. او دروازه یې لوړه ورکړې وه لکه باب الکعبة المبارکة، او دې محراب ته غیر له زکریا علیه السلام بل څوک ښکله اجازې دده نه سو ورتلای یعنې دروازه به یې د دباندې د خوا پسې قلفوله، او دوډی، اوبه او د سر غوړلو تېل به زکریا علیه السلام ومحراب ته وروړله.

پوه سه: چې محراب هغه اشرف المجالس ته وایي، او ځای ته د جنګ هم وایي ځکه محراب ته د مسجد محراب وایي لانه محل ومحاربة الشیطان، او لوړې خونې ته هم محراب وایي، قال المبرد لایکون المحراب الا ان یرتقی الیه بدرج، یعنې په ځینه سره، په صحیح حدیثو کې راغلي دي چې زکریا علیه السلام چې به مریمې ته ورغلی او دروازه به یې هم قلف وه بیا به هم ومریمې ته د دوبي میوه په ژمي کې تر وتازه پرته وه او د ژمې میوه به یې له خزانه ودې ته په دوبي کې پرته وه، وقد بین الله تعالی ذالک.

كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا ۚ قَالَ يٰمَرْيَمُ أَنّٰى لَكِ هٰذَا ۖ قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۚ إِنَّ اللّٰهَ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٣٧﴾

نو هر وخت چې به زکریاء داخل سو پر مریمې په محراب کې، نو ده به ولیدلې په نېز د مریمې رزق یعنې د ژمي او دوبي میوې، نو مریمې ته به یې وویل اې مریمې دا میوې تاته د کومې خوا راځي، دا استفهام د زکریا علیه السلام له مریمې ځخه لپاره د تعجب او استبعاد و چې دروازه به د دباندې له خوا قلف وه نو دا میوې تاته له کومې خوا راځي، مریمې به ورته ووېل چې دا میوې د خدای ﷻ له خوا راځي یعنې له جنت ځخه په واسطه د ملکې له حسن بصري رحمه الله ځخه روایت دی چې مریم چې وزو کېدله د مور شیدې یې نه دې رودلې، بلکې له هغه کوچنیوالي ځخه غذاء د جنت ورته را روانه وه.

فائده: کلما دخل علیها آه، پر ماقبل عطف نه کړئ، ولې دا جمله د ماقبل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تاکید ده یعني فتقبلها بقبول آه، نو په منځ کي ددې دوو جملو کمال اتصال دی فلایصح العطف کما تقرر في علم المعاني.

فائده: کلما" ظرف زمان متضمن معنی لره د شرط دی، او منصوب دی په جواب دده یعني وجد عندها آه.

او مریمې ورته زیاته کړه دا خبره یې هم تر جواب د زکریاء وروسته وکړه چې په تحقیق سره خدای ﷻ رزق ورکوي هغه چاته چې خوښه یې سي یعنې ارادې سي بې حسابه.

پوه سه: چې لفظ د "بغیر حساب" کنایةً عن الکثرة، او دا هم احتمال سته چې ان الله یرزق آه دي له کلام څخه د خدای ﷻ وي.

فائده: دا قصه دلیل ده ددې چې کرامت د اولیاؤ حق دی، ولې چې مریم خو نبي نه وه او خارق العادة یې پر لاس ښکاره سوه.

فائده: له جابر بن عبدالله ﷺ څخه روایت دی چې فاطمه ﷺ و علیه الصلوة والسلام ته په یوه تکره کي دوې پتیرې او یو څه غوښې ور واستولې، نو علیه السلام سر بسته هغه سترخوان او دوډۍ د فاطمې ﷺ کړه راوړه، نو یې فاطمې ﷺ ته وویل هلمې یابنې، نو فاطمې سترخوان ورته خلاص کړی، نو په سترخوان کي که څه هم فاطمې ﷺ دوې پتېرې او یو څه غوښې ایښې وې لکن چې دې سترخوان خلاص کړی د دوډۍ او د غوښو ډک و، نو علیه الصلوة والسلام خپلې لور فاطمې ﷺ ته وویل اني لک هذا فاطمة ورته وویل هو من عندالله "ان الله یرزق من یشاء بغیر حساب" نو ددې دغه جواب چې موافق د کتاب الله سره و په دې الفاظو علیه السلام شکر اداء کړی. الحمدلله الذي جعلک شبیهة سیدة نساء بني اسرائیل یعني مریم، وروسته علیه الصلوة والسلام علي والحسن والحسین ﷺ او نور اهل البیت لعل الله المراد بهم الازواج المطهرات رضي الله تعالی عنهن لان اهل بیت فاطمه ﷺ هي وعلي والحسن والحسین ﷺ نو ټولو ښه خانونه په ماړه کړه باقي مانده یې د همسایه ګانو کړه واستول.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

هُنَالِكَ

يعني په هغه ځای کي او يا په هغه وخت کي، يعني زکريا عليه السلام کرامت د مريمي وليدی او فراخي د رحمت الهي، او په عين حال کي ده زوی نه درلودی چي وارث دده د علم او نبوت وگرځي او د اکا زامن که يې درلوده لکن دی ببرېدی چي هغه به د دين او د علم پالنه او روزنه ونه کړي، نو په محراب ننوتی او دروازه يې بنده کړه.

دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهُ قَالَ رَبِّ هَبْ لِي مِنْ لَدُنْكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً إِنَّكَ سَمِيعُ الدُّعَاءِ ﴿٣٨﴾

دعاء او غوښتنه يې وکړی زکريا، له خدای ﷻ څخه خپل، او وه يې ويل ای زما ربه ماته هبه کړې يعني په صرف بخښنه سره، وانما قال ذالک لان الاسباب العادية لاتساعد مطلق الولادة منه لما سيأتي ان زوجته كانت عاقراً وكان هو شيخاً كبيراً فهذه الولادة انما تكون على خرق العادة كرزق مريم.

پوه سه: چي خارق د خدای ﷻ يعني له عادت څخه د خدای ﷻ خلاف يو شی چي خدای پاک پيدا کړي، نو که هغه کار مقرون په دعوه د نبوت سره و او موافق د خواست سره د مدعي النبوة و هغه ته معجزه وايي چي مثالونه يې بېخي ډېر دي کشق القمر لنبينا ﷺ وعصا موسى عليه السلام واحياء الموتى لعيسى عليه السلام وغيرها من المعجزات الانبياء عليهم السلام، او که دعوه د نبوت ورسره وه لکن له خواست څخه د مدعي النبوة مخالفه وه هغه ته اهانت وايي کما روی چي مسلمة الكذاب ته يو سړی چي په يوه سترګه ړوند و راغلی او ورته وه يې ويل چي که ته رشتيا نبي يې خدای ته خواست وکړه چي زما دا ړنده سترګه بناء سي، مسلمه چي خواست وکړی د هغه سړي هغه روغه سترګه هم ړنده سوه، او که مقرون په دعوه د نبوت سره نه و لکن د يو فاسق بې دينه پر لاس بنکاره سو هغه ته سحر وايي، او که د شريعت سره موافق د چا پر لاس يا په دعاء يا بې دعاء هغه ته کرامت الولي وايي.

فائده: معتزله کرامت د ولي نه مني، دوی وايي چي د کرامت او معجزه يا

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

د سحر تر منځ اشتباه راځي.

دروېش وايي: چې مونږ يې فرق بيان کړی، او د معجزې د نبي او د سحر د ساحر دا فرق دی چې د معجزې مقابله څوک نه سي کولای. او د سحر د ساحر مقابله کېدای سي او مغلوبه ګرځول کېږي. کسحرة فرعون مع موسى عليه السلام حيث جعلوا عصيهم واحبلهم في مرئ الناس كانها حية تسعى لكن اذا القى موسى عصاه فصار حيةوتلقف ما صنعوا، فلهذا وقعت السحرة سجداً وقالوا آمنا الآية.

دروېش وايي: چې د مريم رزق راتله له جنت څخه ددې کرامت و بيله غوښتنې ددې فكان المعتزلة انكروا القرآن يعني من هذه الآية.

دروېش وايي: چې په ټولو کتابو کې د اهل السنة والجماعة دا عقيده مذکوره ده وکرامات الاولياء حق. او قرآن کريم يې هم شاهد دی کمامر في قصة مريم والآحاديث النبوية التي يبلغ آحادها حد الشهرة ايضاً شاهدة بكرامات الاولياء، واقوال الصحابة واحوالهم واقوال التابعين واحوالهم وهلم جرا ايضاً شاهدة بكرامات الاولياء، که دروېش وغواړي چې ټوله کرامات د اولياؤ وځېړي او تفصيلي بيان يې وکړي شايد پوره جلد کتاب خندې جوړ سي. د سهل بن عبدالله رحمه الله څخه روايت دی چې لوی د کراماتو د مسلمانانو دادي چې خپل مذمومه اخلاق په محموده اخلاقو بدل کړي. روايت سوی دی چې بايزيد بسطامي رحمه الله ته چا وويل چې فلانی ولي الله پر اوبو باندې لکه پر مخکه روان وي نو دا کرامت ګڼل کېږي، بايزيد رحمه الله ورته وويل که دا کرامت وي نو ماهی په دې باب کې اعجب دی تر فلان، بيا هغه سړي ورته وويل چې فلانی ولي الله په هواء کې رفتار کوي نو دا هم کرامت دی؟ بايزيد رحمه الله ورته وويل چې ټوله مرغان په دې رفتار کې د هواء اعجب دي تر فلان، بيا هغه سړي ورته وويل حی فلانی ولي الله مکې ته په يوه ورځ کې ولاړ سي له ديار بعيده وو څخه او سپرته په هغه ورځ کې خپل وطن ته راسي، نو دا کرامت ښولې او که څرنګه؟ بايزيد رحمه الله ورته وويل چې ابليس عليه اللعنة په دې باب کې

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

اعجب دی تر فلاني، چي هغه ټولي محکي طی کوي په یوه لحظه کی مع الله ملعون في جناب الله ﷻ، نو هغه سړي ورته وویل چي ستا په عقیده کرامت د ولي الله څه دی، بایزید رحمه الله ورته وویل چي ټوله هغه غرائب چي په جوکان کي د اتباع د شریعت غراء او د قال الله او قال الرسول وي هغه کرامات الاولیاء دي، لکن حقیقةً کرامت د مؤمن ترک دی د شهواتو نفسانیه دو او متابعت دی د شریعت غراء محمدیه اللهم ارزقنا اتباع الشریعة الاحمدیه آمین ثم آمین ثم آمین.

حکایت: له ابو عثمان واسطي رحمه الله څخه روایت دی، دی وایي چي زه او ماینه مي چي حامله هم وه په کښتی کي په سفر وو چي کښتی طوفاني سوه او ماته سوه او سوري او اموال د هغو ټوله په ابو کي د دریاب ډوب سوه او زه او ماینه مي پر یوه لویه تخته د کشتی د دریاب پر مخ څو ورځي پاته سوو او ماینه مي په دغه حال کي لنگه سوه او زوی یې راوړی، باره یې بغاري کړې چي له تندي مړه سوم ولي چي د دریاب اوبه خو ترخي وې، نو ما انفاقي لوړ وکتل چي یو سړی په هواء کي ناست دی او په لاس کي یې خنځیر د سرو زرو او په خنځیر پوري کوزه د سرو یاقوتو خړپړي، ماته یې نعره وکړه چي درواخلې دا کوزه او اوبه و څښې، ماچي کوزه څندي را واخستل او اوبه مي وڅښلي دا اوبه تر مشکو خوشبویه وې او تر عسلو غوږې وې، نو ما ورته وویل چي ته څوک یې یرحمک الله؟ ده راته وویل انا عبد لمولاک، ما ورته وویل بم وصلت الی هذه الرتبة ده راته وویل ترکت هوایي لمرضات مولای فاحبسني في الهوا ثم غاب فلم اره، خیر دا خو کرامت و، هغه ابو عثمان وایي چي وروسته خدای ﷻ له یو بلي خوا څخه کښتی پیدا کړه چي خلګ پکښي سپاره وه موږ چي یې په دي حالت زار کي ولیدلو نو کښتی یې زموږ تخته ته را وسته او موږ یې هم ور سره واخستلو، او دا به بیا د ابو عثمان کرامت و، په تاریخ کي راغلي دي چي سفیان ثوري رحمه الله چي د امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله معاصر و د شیبان راعي رحمه الله د حج په سفر کي روان و او په لار کي یو

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

درنده زمری یا پرانگ وغیره پر پښې سو، نو سفیان ثوري وشیبان راعي رح ته وویل چې هغه درنده ته نه وینې چې په لاره کې ولاړ دی، شیبان رحمه الله ورته وویل چې مه ښېرېږه، نو شیبان رحمه الله ورغلی او درنده یې تر غوږو ټینګ کړی او غوږونه یې وروپېچل، درنده سر کښته نیولی و او لکی یې ښوروله، نو سفیان رحمه الله ورته وویل چې شیبانه دا دې څه د شهرت کار وکړی، شیبان رحمه الله ورته وویل چې که د شهرت في الناس څخه نه ښېرېدلای ما به خپل د سفر بار ددغه درنده په شا ورکړی وای او د سفر ملګری کړی به مې وای تر څو چې مکې ته رسېدلای، سعدي شېرازي رحمه الله وایي

تو هم گردن از حکم داور مپیچ — که گردن نه پیچد زحکم تو هیچ
محالست چو دوست دارد ترا — که در دست دشمن گذارد ترا

تبصره: پوه سه چې سفیان ثوري رحمه الله دېر لوړ عالم و چې په زمانه کې یې د امام اعظم رحمه الله ځان داغسې مجتهد باله لکه امام اعظم، لکن شیبان راعي که څه هم دونده لوړ عالم نه و لکه سفیان ثوري لکن د خدای ﷻ د رضا او د دوستۍ لاره یې خپله کړې وه، نو ځکه سفیان رحمه الله چې برجسته عالم د علم ظاهر و له درنده څخه ښېرېدی، او شیبان راعي چې زړه یې د محبت د خدای ﷻ لپ ریز و د درنده ښېره لا څه که یې تر غوږو یې ونیوی خواجه عبدالله انصاري هروي رحمه الله چه زیبا ودل پذیر ابیات درفشان از خزانه دل پر جواهر خود به نشر عام سپرده ومیگوید.

ای طالبی که دعوه عشق خدا کنی — بغیر او نظر بمحبت چرا کنی
از جستجوی خلق تو بیگانه شو اگر — خواهی که دل بحضرت او آشنا کنی
حقا که شور وغلغله در آسمان فتد — آندم که تو زبیم خدا یک ندا کنی
ملک دو عالم از تو شود گرزوری عجز — خود را فدای خاطر یک بینوا کنی
انصاریاچو روز شوی روشن از شبی — و د را معجز بر در سبحان گدا کنی

دورېش بینوا مې ګوید که ګفتارهای شائسته دوستان خدا جل شانه همه وهمه برحق است لکن در رسیدن بمنازل شان موانع بسیار اند که بآن موانع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خداوند متعال درین آیت هدایت نموده "زین للناس حب الشهوات من النساء الی اخیر الآیة.

درویش میگوید سخنان از بس شرین که از دل فراگنده بر قلم او زبان می در آیند ، فراگندگي دل قائل شان در آن خبرهای شیرین تاثیر نموده دلهای مستمعان را پراگنده مي گردانند، وچون سخنان شیرین از دل پر درد و محبت وعشق الهي سرزد مي شوند وبر قلم وزبان در آیند ، کنه آن سخنان دلهاء مستمعان را بعشق ووجد مي درآورند ، چون سخنان خواجه عبدالله انصاری رحمه الله

این سخن پایان ندارد بازرو بر سر تفسیر قرآن بازرو

فائده: د "زریة" معنا ولد دی که مذکر وي که موئث وي او که مفرد وي او که جمع وي ټولو ته وایي، او "طیبة" صفت دی د "ذریة" او د طیب معنا صالح معصوم او پاک له ګنهو څخه، او د "سمیع الدعاء" معنا مجیب الدعاء او انک سمیع الدعاء علت دی د دعاء کولو د زکریاء علیه السلام.

پوه سه: چي تانیث د "طیبة" په اعتبار د لفظ د "ذریة" دی.

فَنَادَتْهُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَهُوَ قَآئِمٌ يُّصَلِّيْ فِي الْمِحْرَابِ

نو نعره وکړه ملکو وزکریاء ته په داسي حال کي چي دی ولاړ و لمونځ یې کاوه په محراب کي.

پوه سه: چي منادی جبرائیل علیه السلام و په قول د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه

سوال: نو صیغه د جمع ولي راوړه سوه؟

ځواب: فضل بن سلمه رحمه الله وایي چي قائل د یو قول چي رئیس وي اخبار په جمع له هغه څخه روا دی، ولي اصحاب دده ورسره وي، او جبرائیل خو رئیس الملائکة او لږ واړه به جبرائیل پر یو خوا استول سوی وي یوازي چي نوري ملکي به نه وي ورسره.

درویش وایي: چي په جنګو کي د مسلمانانو بېشکه د جبرائیل علیه السلام سره به نوري ملکي ورسره وي، او یا د انزال د عذاب پر کافرانو به هم نوري ملکي

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

ورسره وي، لکن په انزال کي د وحي چي نوري ملکي به ورسره وي دا په حديث کي نه دي ثابت سوي، او داغه رنګه په نداء کي وزکرياء عليه السلام ته هم د نورو ملکو ورسره والی نصاً معلوم نه دی.

دروېش وايي: چي دې توجيه ته ضرورت نسته ېلکي لپاره د تعظيم له مفرد څخه اخبار په جماعت سره روا دی، او بعض مفسرانو رحمهم الله وايي چي معنا د نادته الملائکة داده چي د جنس د ملکو يو چا ورناري کړې چي هغه به نو جبرائيل عليه السلام و غالباً وهذا توجيه ضعيف.

دروېش وايي: چي منادی و يوازي جبرائيل عليه السلام ويدل عليه ما ذکر عبدالرحمن بن ابي حماد انه کان يقرء فناداه جبرئيل، قال البرسوي في روح المعاني او يکون هذا من قبيل اسناد فعل البعض الى الکل يعني کما في بني فلان قتلوا مع ان القاتل منهم واحد قوله وهو قائم آه جملة حالية له مفعول څخه د نادته يعني زکرياء عليه السلام، وقوله يصلی حال دی له ضمير مستکن څخه په قائم کي او يا بل حال دی له مفول څخه د نادته، يعني زکرياء په ليږد هغو نحاتو چي تعدد د احوالو ېېله عطف روا بولي، روح المعاني.

پوه سه: چي مراد له "صلوة" څخه دغه متعارف لمونځ دی، وعليه اکثر المفسرينرحمهم الله، او بعض مفسران وايي چي مراد له "صلوة" څخه دعاء ده.

فائده: مراد له محراب څخه نفس مسجد دی، او يا غرفه د مريم ده. او يا متعارف محراب المسجد دی.

پوه سه: چي لمونځ کول په محاريب مشهوره وو د مسجادو يعني دننه په محراب کي يوازي امام لره بعض ائمه مکروه بولي، والی ذالک ذهب علي کرم الله وجهه، بلکي د امام المسجد پښې وغيره په تر محراب دباندې وي، وقد ذکر في کتب الفقه ايضاً.

فائده: حمزه او کسائيرحمهما الله داسي قرائت ددي آيت وايي "فناداه" علی التذکير لان الفاعل وهو الملائکة اسم ظاهر دی، او مونث غير حقيقي دی، او نور قاريان يې نادته په تانيث وايي لتانيث لفظ الملائکة، روی عن ابراهيم

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

قال كان عبدالله﷫ په تذكير يې وويل ملائكة يعني فعل به يې مذكر وراته مسند كړى رداً على المشركين ان الملائكة بنات الله تعالى اذ على هذا لا يجوز تذكير الفعل المسند اليهم فافهم

أَنَّ اللَّهَ

پوه سه: چې حمزه او ابن عامر﷭ دا لفظ په كسره د همزه وايي على اضمار القول، والتقدير فنادته الملائكة فقالت ان الله. او باقي قاريان يې په زور د همزه وايي بتقدير الباء اى بان الله.

يُبَشِّرُكَ

زُېرى درکوي

پوه سه: چې دا لفظ حمزه﷫ يبشرك وايي بفتح الياء وسكون الياء وضم الشين بالتخفيف من باب بشر يبشر المجرد في جميع القرآن تقريباً وهي لغة تهامة. او نور قاريان يې بضم الياء وفتح الباء وتشديد الشين وايي من باب التفعيل ومعنى القرائتين واحد.

بِيَحْيٰى

قال ابن عباس﷭ د يحى نوم يې په دې پر كښېښوى چې په ده سره زوند سو رحم د مور يعنې عقر يې زائل سو. او قتاده﷫ وايي وسمى بيحى لانه تعالى احيا قلبه بالايمان والطاعة حتى چې يحى﵇ نه معصيت كړى دى او نه يې قصد و معصيت ته كړى دى.

دروښ وايي: والاول اوجه ومناسب للسياق.

مُصَدِّقًا بِكَلِمَةٍ مِّنَ اللَّهِ

په داسې حال كې چې دى به تصديق كونكى وي په كلمة الله سره يعنې عيسى﵇ وجه التسمية به لان الله تعالى قال له كن من غير اب فكان يعنې اراد ذالك فكان كما اراده الله تعالى فسمى بكلمة وقيل سمى عيسى بكلمة الله لان الناس يهتدى به كما يهتدون بكلام الله.

فائده: مصدقاً حال مقدره دى، ولې په وخت كې د بشارت خو دى مصدق نه وو بلكه تقدير د مصدق والى يې له جانبه څخه د خداىﷻ سوى و.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: یحیی اول سړی و چې ایمان یې پر عیسی علیه السلام راوړی دی او دده تصدیق یې کړی دی، او یحیی شپږ میاشتې تر عیسی علیه السلام مشر و، وقد روی في حدیث المعراج الطویل الذي رواه البخاري ومسلم ان یحیی وعیسی کانا ابنی خالة، یعنې د هر یوه مور د هغه بل خاله وه یعنې منډي ددوئ سره خوندي وې.

فائده: وقد قتل یحیی علیه السلام قبل رفع عیسی السماء.

وَسَيِّدًا

یعنې یحیی سردار د قوم و او فوق تر ټولو و په علم، عبادت او تقوی کې او په خصالو کې د خیر، او مجاهد وایي چې د سید معنی الکریم علی الله، وقیل الحلیم الذي لا یغضبه شئ، وقیل غیر ذالک.

درویش وایي: چې اوله معنا د سید جامع د ټولو معاني اخر ده کما لایخفی فهو الحسن في معاني السید.

سوال: یحیی علیه السلام چې مصدق د عیسی علیه السلام سو، نو ددې معنا داده چې یحیی امتي د عیسی علیه السلام و که څرنګه؟

ځواب: یحیی علیه السلام خپله هم نبي و او مصدق د عیسی علیه السلام هم و ولدفع التوهم لمذکور قال الله تعالی "وسیداً" لان السیادة الشرعیة هي النبوة وان کان یطلق لفظ السید مجازاً علی السید الدنیوي کمولی الغلام. وهذا کما ان نبینا ﷺ مصدق لموسی وعیسی وسائر الانبیاء مع انه صلعم لیس من امتهم.

پوښتنه: سید په امور شرعیه وو کې هم غیر د نبي کیدای سي کما ورد في الحدیث المتفق علیه في غزوة بني قریضة من الیهود انه لما جاء سعد رضی الله عنه راکباً علی الحمار قال علیه السلام للحاضرین قوموا الی سیدکم؟

ځواب: په حدیث کې خو سید مضاف دی و لفظ ته د "کم" او کلام په سید مطلق کې د.

وَّحَصُوْرًا

عطف دی پر ماقبل باندې

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

پوه سه: چې معنا د حصور کما هو المروي عن ابن عباس رضي الله عنه في احدى الروايات هو الذي لا ياتي النساء مع القدرة على الجماع، او په بل روايت کې د ابن عباس رضي الله عنه راغلي دي چې معنى د "حصور" عنين ده الذي لا ذكر له يباشر به الجماع ولا ينزل، روح المعاني وايي چې حفاظ د احاديثو نبويه وو د عليه الصلوة والسلام داسې روايت کړی دی ان ما معه ای مع يحى من ذكره كالانملة" لکه د گوتې سر. او په بعض روایاتو کې لکه پوه شګه او په بل روايت کې کالنوات، قال صاحب روح المعاني والاصح المعنى الاول، لان العنة عيب لايجوز على الانبياء، او بله خبره داده چې "حصوراً" خدای جل جلاله د يحى عليه السلام مدح په خای کې راوړی کسائر صفاته المذكورة ههنا. او عنت که عيب هم نه وي نو صفت خو هم نه دی، وما رواه الحفاظ عنه على التقدير صحته وارد على طريق التمثيل يعنى يحى عليه السلام چې وطي او جماع ته ميل نه درلودی په سبب د شغل تام په امور دينيه وو سره، نو دده ذكر في عدم الانتفاع به كالشئ الفلاني مما قد مر آنفاً. خکه بعض مجتهدين وايي چې نکاح نه کول لپاره د فراغ ونوافلو ته د عباداتو افضل دی تر نکاح استدلالاً بحال يحى عليه السلام. نو که دی عنين وايی نو استدلال ددغو مجتهدينو په حال سره ددې څرنګه صحيح کېدی، لعدم قدرته على الجماع. او صاحب د روح المعاني وايي چې د "حصور" معنا دا هم کېدای سي چې دی حصور وای مبالغ في الحصر لنفسه عن الشهوات مع القدرة عليها، ويدل عليه ما ورد في حديث ولعن الله تعالى والملائكة رجلاً تحصر بعد يحى ابن زكريا، رواه صاحب روح المعاني.

دروښ وايي: چې ددې حديث څخه خو صراحةً دا معلومه سوه چې حصر د يحى عليه السلام اختياري و والا لم يستحق اللعنة من حصر نفسه كحصر يحى لعدم الاختيار حين ارادة العنين من الحصور، والله اعلم بالصواب.

وَنَبِيًّا مِّنَ الصَّالِحِينَ ﴿٣٩﴾

او يحى عليه السلام به نبي وي ناشياً من اصلاب الصالحين. او يامراد له

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

صالحینو څخه انبیاء معصومین دي.

او یا معنا د آیت داده چې یحیی علیه السلام به داخل وي په حساب کې د هغو کسانو چې هغو نه صغیره ګناه کړې وي او نه کبیره، نو پر دې تقدیر کلمه د من لپاره د تبعیض ده. وقیل معناه علی الاول انه ذو نسب عظیم، وعلی الثاني انه معصوم وعلی التقدیرین فلا یلغو ذکره بعد قوله نبیاً کما یتوهم کذا علامة بغداد رحمه الله.

قَالَ

او زکریاء علیه السلام په مناجات کې د خدای علیه السلام سره داسې وویل مع قطع نظر عن بشارة جبرائیل علیه السلام.

رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَامٌ

پوه سه: چې دا قول د زکریاء علیه السلام له سببه د شک په بشارت کې د جبرائیل نه دی بلکه په سبب د طبع بشري دی لپاره د استبعاد عن مقتضی العادة المستمرة، الالهیه وتعجباً عن تولد الغلام عن مثل زکریاء وزوجته کما سیأتي منشاء والتعجب في الآیة، کل ذالک علی مقتضی الطبع

سوال: زکریاء علیه السلام خو نبي و او صاحب د عقل کامل و، نو ده څرنګه و قدرت ته د خدای علیه السلام تعجب کاوه في اعطاء الغلام؟

ځواب: ګاهي طبعي حالات پر عقلي حالاتو غالب سي او سړی و تعجب ته ور کش کړي خصوصاً چې منشاء د تعجب موجوده هم وي، نو د زکریاء علیه السلام سبب د استفهام دا و چې پر څه کیفیت به ماته غلام خدای علیه السلام راکړي آیا زه به ځوان سم او د ماینې عقر به مي هم زائل سي یعني هغه به هم ځوان سي، او یا به ماته غلام له بلې نکاح څخه غلام راکوي، او یا به وماته او عقیم ماینې ته پر دغه حال موجوده خدای په خپل قدرت عامه سره غلام راکړي، نو بناء علی هذا انی په معنا د کیفیت د مسئول عنه چې غلام دی هم کېدای سي یعني چې زما له موجوده ماینې څخه به خدای علیه السلام ماته غلام راکړي او په معنا د "من این" هم کېدای سي یعني چې د بلې نکاح څخه به ماته خدای علیه السلام غلام راکوي، وهذا هو الجواب الصحیح، او هغه جواب چې مظهري له سدي رحمه الله څخه نقل کړی دی چې

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

زکریاؑ چې نداء د ملکو واورېده شیطان ورته راغلی او ده ته یې دا وسوسه په زړه کې ور واچول چې دا نداء د خدای له خوا نه ده بلکې د شیطان له خوا ده ولې که د خدای له خوا وایی نو تاته یې وحي نه کولې، نو لپاره د دغسې ددغې وسوسې زکریاؑ دا خواست وکړی انې یکون لي غلام آه.

دروېش وایي: چې دا جواب علامه بغداد په روح المعاني کې په سختې سره رد کړی دی، او قاضي بیضاوي هم رد کړی دی، دوی وایي لایجوز ان یشتبه علی النبي کلام الملائکة بکلام الشیطان عند الوحي علی الانبیاء علیهم السلام، اذ لوجوزنا ذالک لارتفع الوثوق عن کل الشرائع بانه یحتمل انیکون من القاء الشیطان لا من الله تعالی ولا شک في بطلانه، واجاب عنه بعض المفسرینؒ چې په امورو کې د دین چې معجزات ورسره وي نبي ته احتمال د القاء الشیطان خو نه پیدا کېږي بلکې نبي اعتماد لري چې دا وحي دي د خدایؑ له خوا بواسطة الملک ولادخل للشیطان فیه او هر چه نداء ده په مصالح کې د دنیا التي منها اعطاء الغلام فربما لم یتاکد بالمعجزة فلا جرم بقی احتمال انیکون هذا النداء من جانب الشیطان، ولهذا رجع زکریاؑ الی الله تعالی في السؤال لیزیل هذا الخاطر والاحتمال، الوسي بغدادي په مجمل لفظ سره دا جواب رد کړی ان الاعتراض ذکر یعني نر دی او قوي دی والجواب المذکور شخه ده یعني ضعیف دی، آه.

دروېش وایي: چې تفصیل د قول د بغدادي دادی چې معجزه خو لپاره د اثبات د نبوت د نبي ده په مقابل کې د کافرانو نه د دفع خواطرو له زړه څخه د نبي، ولې که داسې وای نو باید د هر امر دیني د وحي سره معجزه د صدق د وحي لازمه وای ولم یقل به احد فافهم.

دروېش وایي: چې لپاره د توجیه د سوال د ذکریاؑ نورې متعددې وجوهې علماء ذکر کړې دي، او آلوسي تولې راوړې دي او تولې یې ضعیف ګڼلې دي ان شئت التفصیل فراجع الیٰ روح المعاني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَّقَدْ بَلَغَنِيَ الْكِبَرُ

پوه سه: چې بعض مفسران رح دا عبارت مقلوب بولي اى قد بلغت الكبر يعني فاعل او مفعول يې سره اړولي دي يعني زه سپين ږيرى سوى يم. او روح البيان او روح المعاني پر ظاهر د عبارت ترجمه کړې ده يعني كبر السن وماته رسېدلى دى، گويا كبر السن طالب دى او زه يې مطلوب يم والمآل واحد. او دده عمر په دغه وخت کې په قول د کلبي رحمه الله دو نيوي (۹۲) کاله و. او ضحاک رحمه الله وايي يو سل او شل (۱۲۰) کاله و او ماينه يې د اته نيوي (۹۸) کالو وه.

وَامْرَاَتِيْ عَاقِرٌ

او زما ماينه وچه ده.

پوه سه: چې په عاقر کې مذکر او مونث سره برابر دى يعني وچ نر او يا وچه ښځه چې عيال يې نه کېږي.

فائده: دروېش وايي چې منشاء او سبب د تعجب د زكرياء عليه السلام هم دغه دوه علته وه چې يو په زكرياء عليه السلام کې و يعني كبر السن في الغاية الذي هو سبب عدم الولادة في العادة، او علت يې په ماينه کې و چې وچه وه چې دا هم سبب د عدم الولادة دى په عادت کې.

قَالَ كَذٰلِكَ اللّٰهُ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ۝

خداى پاک ورته وويل يعني په ذريعه د جبرائيل عليه السلام چې همدغسې کار کوي خداى ﷻ چې اراده يې ورته وسي: يعني چې كبير السن في الغاية او عاقري ښځي ته عيال ورکړي لان هذا الفعل انموذج من افعاله المقدورة وعجائب قدرته المرئية والمعلومة بالبداهة او بالنظر والاستدلال.

الاعراب: كذالک خبر د محذوفي مبتداء دى اى الامر كذالک يعني يولدلک مع كونک شيخاً وامرتتک عاقر، او يا كذالک خبر دى او لفظ الله مبتداء دى والتقدير الله كذالک يفعل آه، نو پر دې تقدير يفعل مايشاء بيان دى د كذالک.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

قَالَ رَبِّ اجْعَلْ لِّيْٓ اٰيَةً

نو زکریاء وویل چي خدایه زما ماته یوه علامه ددې راوښیه چي زه په دې پوه سم چي زما ښځي نو اوس حمل واخستی.

پوه سه: چي مطلب د زکریاء علیه السلام په ښولو کي د علامې یو خو زیادت سرور او خوشحالي خپل وه، او بل دا چي مبالغه او زیادت په طاعت کي به وکړم شکراً لک علی اجابة المسؤل وهو الغلام.

سوال: د زکریاء علیه السلام څه تلوار و خو یو خو میاشتي وروسته په حمل د ښځي سړی پخپله پوهیږي؟

ځواب: چونکه له ډیري زماني څخه زکریاء علیه السلام په ارمان د غلام و، نو په طلب کي د علامې غرض دده دفع د انتظار وه چي مبشر به کله د مور په حمل کي پیدا سي. جامي رحمه الله وایي

چه خوش باشد که بعد از انتظاری بامید رسد امید واری

او بل دا چي له ابتداء څخه د حمل د خدای ﷻ په شکر لاس پوري کړي تاچي په تام مدة الحمل کي دی شاکر وه اوسي. او هغه خبره چي سدي کړې ده چي زکریاء علیه السلام چي سوال د آیت وکړی ددې لپاره چي ده ته دا معلومه سي چي هغه بشارت اولی د خدای ﷻ له خوا و د شیطان له خوا نه و هغه غلطه خبره ده کمامر سابقاً.

پوه سه: جعل" که په معنا د "تصییر" سي" یعني چي دوه مفعوله غواړي، نو مفعول اول یې آیت دی او مفعول ثاني یې لفظ د "لي" دی په اعتبار د متعلق، او تقدیم د مفعول ثاني پر مفعول اول بلا اختلاف بین النحات رواه دی، او که "جعل" په معنا د خلق سي یعني چي یو مفعول غواړي نو آیة یې مفعول دی، اولی په محل کي نصب حال دی ای آیة کائنة لي.

قَالَ اٰيَتُكَ اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ اِلَّا رَمْزًا

خدای پاک ورته وویل چي علامه د حمل د ښځي ستا به دا وي چي ته به

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

خبري نه سې کولای د خلګو سره یعني ذکر او تسبیح په ویلای سې صرف له خبرو څخه د خلګو به ممنوع یې مګر نه خبري د خلګو سره به دې په اشاره د لاس وي یا د سر مثلاً.

پوه سه: چې له تکلم څخه که مراد معنی متارفه وي نو استثناء د "الا رمزاً" استثناء منقطع ده، او که مراد له تکلم څخه پر طریقه د عموم مجاز مطلق مایدل علی ما في الضمیر وي نو استثناء بیا متصل ده فافهم او دا عدم تکلم به جاري وي دري ورځي، او عطاء رحمه الله وایي چې مراد دري ورځي روژه ده، ولي چې ددوئ په شریعت کي روژه د صمت یعني د خبرو نه کولو مشروع بلکې افضل کار و، او زموږ په شریعت کي روژه د صمت منسوخه ده بلکې مکروه ده کما تقرر في کتب الاحادیث النبویة.

پوه سه: چې دا عدم تکلم مع الناس د آفت له سببه نه و وهو الانسب بکونه آیت، او د سورت مریم له آیتو سره هم برابره ده کما سیناتي ان شاء الله تعالی، او ابن جریر و ابن حاتم د جبیر بن معتمر رحمه الله څخه داسې روایت کړی دی چې زکریا علیه السلام به د خلګو سره د خبرو اراده وکړه ژبه به یې پخوله کې ویرسېدله نو خبري به یې نه سوای کولای، نو آیت په دې کې دا و چې په وخت کې د ذکر او تسبیح به یې ژبې ته آفت نه پیښېدی قال العلامة البغدادي رحمه الله وعلی التقدیرین عدم التکلم مع الناس اضطراري اما بغیر آفت في لسانه کما هو الانسب بمنصب النبوة او بسبب عروض الآفت في لسانه کما في روایة ابن جریر علی مامر.

فائده: په سورت مریم کې داسې راغلي دي "ثلث لیال" نو ځکه بعض مفسران وایي چې په دې آیت کې مضاف محذوف دی ای لیالي ثلثة ایام لیوافق مافي سورة مریم، والحق ان المراد عدد ستة من الایام واللیالي مجموعاً الا انه اکتفی في بعض الآیات کما ههنا بالایام وفي سورة مریم باللیالي وجعل کل واحد منهما قرینة علی الآخر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاذْكُرْ رَّبَّكَ كَثِيرًا وَّسَبِّحْ بِالْعَشِيِّ وَالْإِبْكَارِ ﴿٤١﴾

او ذکر کوه د خدای ستا دهر

که کثیراً مفعول مطلق وي نو معنا يې ذکراً کثیراً ده. او که ظرف وي نو معنا يې زماناً کثیراً ده. يعني هغه وخت چې مذکوره علامه تانه ښکاره سي "او تسبیح وايي په وخت کي د عشي" چې له وخته څخه د زوال الشمس شروع سره د بعض شپې پورې، او ابکار د صبح صادق څخه بیا تر څانښته پورې. دا ترجمه د مظهري وه، او آلوسي رحمه الله وايي چې عشي له زوال څخه بیا تر غروب پورې د لمر دغه وخت ته وايي، او روح البیان هم بعینه دا ترجمه کړې ده لکن

دروښ وايي: چې ما ټوله تفاسیر چې زما سره موجود وه من البیضاوي وروح البیان وتفسیر القرطبي وتفسیر الامام الرازي والتفسیر الخازن وتفسیر الجمل وغیرها مطالعه کړه او ټولو له ذکر څخه او له تسبیح څخه معنی متعارف مراد کړې ده یعنې الله الله. یا لا اله الا الله او سبحان الله مثلاً. خو یو امام مظهري دی چې تسبیح یې معنی مجازي کړې ده یعنې "صل" او د عشي هغه دمخه معنی چې ما ذکر کړې ده، نو ده ویلي دي یعنې صلوة الظهر والعصر والمغرب والعشاء، او د ابکار ترجمه یې په صلوة الفجر کړې ده.

دروښ وايي: چې دا پنځه لمونځونه په اوقات مخصوصه وو سره خاصه د امت محمدي ﷺ ده، کمایدل علیه حدیث المعراج وامامة جبرائیل له علیه الصلوة والسلام في یومین کما في البخاري ومسلم والسنن الاربعة. البته ده پنځه لمونځونه متفرق په نورو امتو کي خو وه په بعضو کي یو او په بعضو کي دوه لکن مجتمعاً په بل امت کي هیڅ څوک نه دی ورته تللی، او نه په کرم روایت کي د احادیثو مبارکه وو راغلي دي او نه هیڅ صحابي رضي الله عنه یا تابعي رحمه الله دي پنځو لمونځو په نورو امتو کي پخلی کړی دی.

دروښ وايي: چې والله اعلم چې ولي مظهري رحمه الله تفسیر د ذکر او تسبیح په دین کي د زکریاء علیه السلام په دغو پنځو لمونځو سره کړی دی ولعل لکلامه وجه لاء علمه فان المظهري بحر زاخر والفقیر بالنسبت الیه کالحباب والی الله المرجع والمآب.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې نهايت توجيه د کلام د مظهري رحمه الله داده چې دغه پنځه لمونځونه چې پر امم سابقه فرضيت متفرق و کمامر آنفاً لکن په وروستنيو امتو کې يې اوقات معلوم وه که څه هم د لمونځو فرضيت نه و، نو مراد دده دادی چې خدای ﷻ زکريا عليه السلام امر کړی چې ته په شکرانه کې زهری د غلام او بيا د هغه په استقرار په رحم کې د مور نوافل لمونځونه په دغو اوقاتو مخصوصه وو کې کوه لان لتلک الاوقات فضيلة على سائر الاوقات كمالايخفى فتفكر وتشكروا الله الملهم.

پوه سه: چې زکريا عليه السلام مامور بالذکر والتسبيح و په دغو درو ورځو کې د بنديز، او يا په ټولو ورځو کې د حمل تاچې برکات ددې ورځو د حمل وغلام ته سرايت وکړي

فائده: امام رازي رحمه الله وايي په تفسير کې ددې آيت واذکر ربک کثيراً چې په دې کې دوه قوله دي، يو دادی چې خدای ﷻ دی مبتلاء کړی په حبس اللسان سره په امورو کې د دنيا الا رمزاً، او په ذکر او تسبيح کې يې ژبه ډېره بنه چلبدله وهذا من المعجزات الباهرات له عليه السلام كما لايخفى، او دوهم قول دادی چې مراد له ذکر څخه ذکر قلبي دی، ولي هغه کسان چې غرق په درياب کې د معرفت د خدای ﷻ وي د هغو د اول الامر څخه په عادت دا و چې همېشه والی به يې پر ذکر الهي په ژبه سره کاوه مدة مديدة لکن مع حضور القلب لا بذکر من قيل في شانه. بيت

برزبانت يا صمد پيدا ودردل ياصنم ای بباطن کافر ظاهر مسلمانی چه سود

چې زړه به يې له نوره څخه د ذکر د خدای ﷻ ډک سو په ژبه به ساکت سو وبقی الذکر في القلب، ولهذا قالوا من عرف الله كل لسانه، وقيل آن کس که خبر شد خبرش بازنيامد، نو د زکريا عليه السلام چونکه د ذکر لساني وار يې تېر سو کمافي قوله "دعاء زکريا ربه قال رب هب لي من لدنک آه" نو په ذکر قلبي او استحضار باطني خدای ﷻ امر کړی، شاه نقشبند رحمه الله چه خوش ميفرمايد

لب به بند وگوش بند وچشم بند گرند يدی سر حق برما بخند

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

فائده: روح البیان وایي چي ذکر پر څو مرتبې دی او ذکر لساني نسبتاً وذکر قلبي ته تنزل دی، په یوه روایت کي راغلي دي چي عیسی علیه السلام چي د ذکر قلبي په دریاب کي غرق و او اعلی مراتبو ته د ذکر رسېدلی و شیطان ډیر بر وکړی یا عیسی اذکر الله او عیسی علیه السلام ته څو معلومه سوه چي دا ډیر څو د شیطان دی، نو تعجب یې ودې ته وکړی چي شیطان څرنګه امر په ذکر سره وکړی او سره ددې چي خلقت د شیطان څو پر منع دی له ذکر څخه، وروسته تر تامل عیسی علیه السلام ته دا ظاهره سوه غرض اغوا وه دده چي د اعلی مرتبې څخه د ذکر قلبي تنزل ورکړي وذکر لساني ته وذالک کان تنزلاً بالنسبة الی مقامه الذي کان فیه من الاستغراق في الذکر القلبي، او امام قشیري رحمه الله وایي چي ذکر لساني بالقلب الحاضر بنده رسوي وهمېشه توب ته د ذکر قلبي فاذا کان العبد ذاکراً بلسانه وقلبه فهو الکامل في السلوک، انتهی، او سهل بن عبدالله رحمه الله وایي چي ما من یوم الا والجلیل سبحانه ینادی عبدي ما انصفتني اذکرک وتنساني وادعوک الي وتذهب الی غیري واذهب عنک البلایا وانت معتکف علی الخطایا یا ابن آدم ماتقول غداً اذا جئتني انتهی کلامه الشریف، او حسین رحمه الله وایي چي حلاوت او خوند خدای ﷻ په درې شیانو کي نغښتی دی، په لمانځه کي، په ذکر کي او په قرائت کي د قرآن عظیم الشان، نو که چا په دغو درو شیانو کي خوند او حلاوت ومندی نو هغه کامل انسان دی والا فاعلموا ان الباب مغلق.

وَاِذْ قَالَتِ

پوه سه: چي دا جمله معطوفه پر هغه جمله اذ قالت امرئة عمران آه.

الْمَلٰٓئِكَةُ

یعني جبرئیل شفاهاً

یٰمَرْیَمُ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰىكِ

چي ته خدای ﷻ مختاره کړې یې لپاره د خان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي ددې په تفسیر کي د مفسرینو عظیم اختلاف دی یعني چي ښځه نبي کېدای سي او که نه؟ نو فقیر به د خو تفاسیرو عبارتونه رانقل کړي په نفي او اثبات کي، تفسیر مظهري ای اختارک لنفسه بالتجلیات الذاتیة التي عبرها الصوفیة بکمالات النبوة وهي بالاصالة للانبیاء علیهم السلام وبالتبعیة للصدیقین وکانت مریم صدیقة. قال الله تعالی في شان عیسی وامه صدیقة

درویش وایي: چي مظهري په دا سي عبارتو کي بېله حوالي تابع د مکتوبات شریف دی. لکن ددې عبارت حاصل دادی چي مریم نبي نه وه ویدل علی عدم نبوتها حدیث علي ﷺ قال سمعت النبي ﷺ خیر نسائها ای الامم السابقة مریم بنت عمران وخیر نسائها خدیجة ای نساء هذه الامة متفق علیه، نو خدیجة ﷺ زوجة النبي ﷺ خو اتفاقاً نبي نه وه، نو مریم هم نبي نه و نعم هما صدیقتان، وعن انس ﷺ ان النبي ﷺ قال حسبک من نساء العالمین مریم بنت عمران وخدیجة بنت خویلد وفاطمة بنت محمد ﷺ وآسیة امرئة فرعون رواه الترمذي، نو فاطمه ﷺ خو بالاتفاق نبي نه وه او داغه رنګه خدیجه بنت خویلد ﷺ هم نبي نه و اجماعاً. نو مریم بنت عمران او آسیه امرئة فرعون هم نبیاني نه وي، وفضل عائشة ﷺ علی النساء کفضل الثرید علی سائر الطعام متفق علیه، نو عائشه ﷺ خو نبي نه وه او علیه السلام تر ټولو نساء بالا وبلل نو که مریم بنت عمران او اسیه امرئة فرعون نبي وایی یلزم تفضیل غیر النبي علی النبي ولم یقل به احد، روح البیان، وکلام جبرئیل مع مریم لم یکن وحیاً الیها لتکون نبیاً فان الله یقول وما ارسلنا من قبلک الا رجالاً نوحي الیهم ولانبوة في النساء اجماعاً فکلام جبرئیل معها شفاها کان کرامة لها، وکرامات الاولیاء حق کمامر تفصیله من الفقیر، او یا کلام شفاهي د جبرئیل مع مریم کان ارهاساً-ای مقدمة لنبوة عیسی، د ارهاس معنا لاندي تاداى دی د دېواله، او په اصطلاح کي ما یتقدم علی دعوی النبوة مایشبه المعجزة کاطلال الغمام لرسول الله ﷺ یعني في سفر الحر قبل دعوی نبوته وتکلم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الحجر والمدر معه بالتسليم عليه قبل دعوى النبوة كما ثبت في الأحاديث الصحيحة، وقصة الفيل كما هو المشهور وسيناتي تفضيلها في موضعه ان شاء الله تعالى وغير ذالک کل ذالک کانت ارهاسات لنبوته علیه السلام، او یا معنا د اصطفک داده تقبلک من امک بقبول حسن ولم یتقبل غیرک انثی في خدمت بیت المقدس ورباک في حجر زکریا ورزقک رزق الجنة واکرمک بالکرامات السنیة.

دروبش وایي: وجمیع ذالک لا یدل علی نبوتها انتهی مع زیادة، بیضاوي کلموها ای الملائکة شفاهاً کرامةً لها، ومن انکر الکرامة کالمعتزلة زعم ان الکلام المذکور کانت معجزة زکریاء او ارهاساً لنبوة عیسی فان الاجماع علی انه تعالی لم یستنبئ المرئة نبیاً لقوله تعالی وما ارسلنا من قبلک الا رجالاً. وقیل کان کلام الملائکة الهاماً لاشفاهاً واول الاصطفاء لمریم تقبلها من امها ولم یقبل قبلها انثی یعني لخدمة بیت المقدس، والثاني تفریغها للعبادة، والثالث اغنائها برزق الجنة من الکسب، والرابع تطهیرها عما یستقذر من النساء، والخامس هدایتها وارسال الملائکة الیها، والسادس الولد من غیر اب وتبریتها عما قذفتها به الیهود من الزنی بانطاق الطفل، والسابع جعلها وابنها آیة للعالمین.

دروبش وایي: چي دا دی بیضاوي چي له نبوت څخه د بنخو صراحةً منکر دی نعم ولایت بعضهُن کماذکرت في القرآن والآحادیث النبویة لاینکر ههنا الا جاهل کافر.

او په بخاري او مسلم کي د عائشة رضي الله عنها څخه روایت دی چي علیه الصلوة والسلام وفاطمي رضي الله عنها ته وویل ته نه یې راضي په دې چي سرداره د بنخو د اهل جنت یې او یا د نساء المؤمنین، او دروبش وایي چي فاطمه رضي الله عنها خو نبي نه وه نو که مریم او یا آسیه وغیرهما نبیاني وای نو په جنت سره تفضیل د فاطمي رضي الله عنها څرنګه پر هغو روا دی، او له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل افضل النساء اهل الجنة خدیجة بنت خویلد رضي الله عنها او فاطمة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بنت محمد، رواه ابو داؤد والنسائي والحاكم، وعن حذيفة ﷺ ان النبي ﷺ چې يوې ملكې په آسمان كې له خداى ﷻ څخه اجازه وغوښتل چې ماته سلام ووايي او ماته زېرى وكړي چې فاطمه ﷺ سيد د نساء د اهل الجنة ده.

دروېش وايي: چې ددغو احاديثو په رڼا كې دا معلومه شوه چې فاطمه ﷺ افضله ده تر مريم ﷺ لان النساء اهل الجنة لفظ عام لايقبل التخصيص بزمان دون زمان بخلاف قوله تعالى في حق مريم "اصطفك على نساء العالمين" ولې چې په دې آيت كې احتمال ددې ستە چې مراد دې نساء د زمانې د مريمې وي، په هر صورت فاطمه ﷺ خو نبي نه ده بالاتفاق نو مريمه وغيرها به څرنګه نبي سي.

فائده: دروېش وايي چې بيضاوي او روح البيان او مظهري چې دعوى د اجماع الامة كړې ده پر دې چې نبي ښځه نه سي كېداى يعنې د خداى ﷻ تقدير داسې نه دى راغلى چې ښځه دې نبي كړي، او په فقه شريفه او اصول الفقه كې وايي چې اجماع لره سند ضروري دى يا حديث يا اشارة النص وغير ذالك، نو دغه احاديث مباركه چې دلته د صحيح كتابو په روايت تاسې راوړېده دا سند دى د اجماع پر عدم استنباء الله النساء.

دروېش وايي: چې اوس نو غوږ ونسې وكلام ته د علامه بغدادي في روح المعاني حيث قال في ج ۳ ص ۱۵۴ واستدل بهذه الآية يعني واذ قالت الملائكة الآية من ذهب الى نبوة مريم لان تكلم الملائكة مع احد يقتضى النبوة، او امام لقاني رحمه الله وايي چې تكلم د ملكو مستلزم نبوت لره نه دى، ولې ددې چا سره خبرې كړې دي چې هغه اجماعاً نبي نه و لكه په يو حديث طويل كې چې راغلي دي چې يو سړى روان و لپاره د زيارت او ملاقات د خپل ورور چې ورور يې في سبيل الله و، نو په لاره كې ملكه وژنه ولاړه وه او هغه سړي ته يې خبر وركړى چې خداى ﷻ د تا سره محبت لرې لكه ته چې يې ددغه ورور سره لرې في سبيل الله ولم يكن ذالك الرجل نبياً اتفاقاً.

علامه بغداد وايي چې بعض علماء پر عدم نبوت د ښځو په اجماع سره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دلیل وایي کمامر في کلام البیضاوي و روح البیان، نو دی وایي چي حکایت د اجماع وپره نادره خبره ده، ولي د څو بنځو په نبوت کي خلاف شته لکه حواء، آسیه، وام موسی، وساره وهاجره، ومریم، نو سره د وجود د اختلاف د علماوو څرنګه اجماع منعقده کیدای سي.

دروښي وایي: چي دمخه مونږ هغه احادیث مبارکه ذکر کړه چي سند د اجماع کیدای سوای بلکي هغه احادیث مبارکه هر یو دلیل د عدم نبوت کیدای سي، کمامر من هذا العاصي مراراً في بیان تلک الاحادیث، نو مونږ ویلای سو چي دا اختلافات حادث بعد الاجماع دي، نو اجماع ته تاوان نه لري. اوبیا بغدادي رحمه الله زیاته کړې ده خصوصاً في مریم فان القول بنبوتها شهیر بل مال الشیخ تقي الدین السبکي في الجلیات الی ترجیح القول بنبوتها او ابن السید وایي چي ذکر ددي في سورة الانبیاء قرینة قویة لنبوتها آه.

دروښي وایي: چي روح البیان او نورو مفسرینو دا قول د خدای ﷻ وما ارسلنا قبلک الا رجالا آه دلیل ګرځولی دی پر نفي د نبوت په بنځو کي، آلوسي بغدادي رحمه الله دا استدلال رد کړی وقال لایصح الاستدلال المذکور لان المذکور فیها الارسال وهو اخص من الاستنباء ولا یلزم من نفي الاخص نفي الاعم.

دروښي وایي: چي دده خیال دادی چي له رسالت څخه مراد هغه معنا اخص ده یعني چي رسول هغه څوک دی چي صاحب د شریعت متجدد وي، او نبي عام دی که نوی شریعت لري او که نه کانبیاء بني اسرائیل بعد موسی کانوا علی شریعت موسی فهم انبیاء ولیسوا برسل، چي رسولان په دي معنا صرف درې سوه دیارلس (۳۱۳) نو مذکوره بنځي دي انبیاء وي او رسولانې دي نه وي.

دروښي وایي: چي دا توجیه د آلوسي رحمه الله له انصاف څخه لهري خبره ده، ولي توله مفسرین تقریباً د آیت مذکوره ترجمه د رسول په معنا مرادف سره د نبي کوي، وقد جاء الرسول بالمعنی المرادف للنبي ایضاً باتفاق اهل اللغة والتفسیر والله اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

دروېش وايي: ويرد ما قال الآلوسي رحمه الله ما في الصحيحين من حديث مسور بن مخرمة من قوله عليه السلام "فاطمة بضعة مني" يعني يوه توټه زما ده الى اخير الحديث، وعند احمد والترمذي والحاكم عن ابن الزبير رضي الله عنه نحوه وهذا الحديث يدل على فضل فاطمة رضي الله عنها على جميع الرجال والنساء، كما قال مالك رحمه الله لا نعدل ببضعة رسول الله ﷺ احداً، لكن جمهور اهل السنة والجماعة خص من هذا الحديث من علم فضلهم قطعاً من الانبياء وبعض الصديقين كالصديق الاكبر رضي الله عنه وبقي من سواهم في العموم هذا ماقال المظهري.

دروېش وايي: چې هر څوک د اظهار د خپلې عقيدې حق بجانب دی، نو د دروېش هم دا عقيده ده چې نبوت محصور په رجال کې دی او صديقيت عام دی، او د فاطمة الزهراء رضي الله عنها په باب کې هم د دروېش ورته عقيده ده، د مظهري رحمه الله او د روح البيان وغيره ومن الله التوفيق.

وَطَهَّرَكِ وَاصْطَفَىٰكِ عَلَىٰ نِسَاءِ الْعَالَمِينَ ﴿٤٢﴾

او ته يې پاکه کړې يې له ګنهو څخه يا په عصمت او يا په مغفرت، او يا يې پاکه کړې يې له مس څخه د شيطان عند الولادة كمامر من حديث ابی هريرة رضي الله عنه برواية البخاري ومسلم وغيرهما، او يا يې پاکه کړې يې له مس څخه د رجالو يعني بالوطي، وماقيل من الحيض فليس بشيئ، او تاته يې فضل درکړی دی پر ښځو د عالمينو يعني عالمي زمانها.

دروېش وايي: چې موږ تخصيص د عالمينو د زمانې ددې وکړی تاچه ددې آيت او مامر من الآحاديث النبوية المروية بطريق متعددة صحيحة تر منځ تعارض را نه سي، ولي چې هغه تخصيص نه قبلوي فتامل فيمامر

دروېش وايي: چې صاحب د روح البيان نساء العالمين پر حقيقت عموم پرې اينبی دی، لکن د اصطفاء معنا يې دا کړې ده چې تاته عيسى بېله پلاره درکړی دی ولم يكن ذالك لاحد من نساء العالمين وجعلكما آية للعالمين، وهذا توجيه وجيه يدل على قدرته تعالى الباهرة واصطفاء لحظرة مريم بتلك النعمة بالقدرة العظيمة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يٰمَرْيَمُ اقْنُتِيْ لِرَبِّكِ وَاسْجُدِيْ وَارْكَعِيْ مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ﴿۴۳﴾

اې مریمې طول القیام کوه په لمانځه کې لپاره د شکر د نعم ظاهره وو او باطنه وو د خدای ﷻ پر تاباندې او سجده کوه او رکوع کوه، ذکر کل مراد ځندې جزء دی، یعنې لمونځ کوه په جماعت د نورو لمونځ کونکو سره

پوښتنه: سجده یې ولې مقدمه کړه تر رکوع مع ان الترتیب الخارجي عکس ذالک؟

ځواب: ددې لپاره چې سجده افضل د ارکانو د لمانځه ده واقصی غایة الخضوع ولا یقتفی الترتیب الذکري کون الترتیب الخارجي کذالک فیکون العطف للترقي من الافضل الی الفاضل، او یا ددې لپاره چې د رکوع ذکر له راکعینو سره یو ځای سي. او هغه چې بعض مفسرانو ویلي دي چې په لمونځ کې د شریعت د زکریا علیه السلام سجده تر رکوع له مخه وه د هغه جواب کوم ثبوت نسته.

فائده: په رکوع او سجده سره چې له لمانځه ځخه تعبیر کوي حکمت یې دادی چې مصلی چې در کوع او سجدې مراعات نه کوي یعنې د شریعت سره برابر یې نه کوي هغه گویا لمونځ نه دی کړی، ولهذا قال علیه السلام لشخص لم یراع الرکوع والسجود والقومة من الرکوع والجلسة بین السجدتین صل فانک لم تصل رواه البخاري ومسلم في حدیث طویل، او بعض مفسرین وایي چې مراد له قنوت ځخه دوام پر طاعت کول دي کما في قوله تعالی امن هو قانت انا والليل ساجداً وقائماً، ای مداوم في ساعات اللیل حال کونه ساجداً وقائماً. او له سجود ځخه لمونځ مراد دی کما في قوله تعالی وادبار السجود یعني وروسته تر لمانځه، او له رکوع ځخه خشوع مراد ده.

ذٰلِكَ

ای ما ذکر من القصص وهو مبتدأ.

مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَيْبِ

ای من اخبار الغائب عنک هو خبر المبتدأ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نُوحِيهِ إِلَيْكَ

مونږ يې وحي کوو تاته، خبر بعد الخبر دی او يا حال دی.

وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يُلْقُونَ أَقْلَامَهُمْ

او ته نه وې اې محمد ﷺ په نېز د دوئ هغه وخت چې احبارو د بيت المقدس خپل قلمان اچول يعنې وه ولې ته لپاره د قرعه اندازۍ د مريمې پر تربيت کولو، کمامر تفصيله.

پوه سه: چې په دې آيت کې دليل دی پر دې چې آنحضرت ﷺ نبي بر حق دی او صاحب د وحي دی له طرفه څخه د خدای ﷻ رداً علی منکري نبوته ﷺ وان مايقوله افتراء علی الله من عند نفسه وکونه اساطير الولين وتوجيه الاستدلال، چې اسباب د علم درې دي، العقل، و السماع، والحس، او دا بدهي خبره ده چې قصې د تېرو امتو خو په عقل سره نه معلومېږي، او چونکه عليه السلام دوئ يعنې منکرينو ته هم معلوم و چې "اميا" و نو دا قصې له اوربدو څخه په کتابو کې د تاريخ هم معلوم الانتفاء عندهم وه فبقی احتمال الحس يعنې چې عليه السلام دي داقصې په سترګو ليدلي وي، او هيڅ عقل دا نه سي ويلای چې عليه الصلوة والسلام له چشم ديد څخه بيان کوي، نو دا معلومه سوه چې بيان د قصص د امم ماضيه وو چې عليه الصلوة والسلام يې مطابق د تواريخو سره د هغو قصو کوي دا معجزه ده د عليه الصلوة و السلام، او هم دا بيان القصص دليل قطعي د نبوت دده دی او دا قصص وحي الهي دي.

أَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ

چې څوک به کفالت د تربيت د مريم کوي، او يا معنی دا چې څوک به ځان ته ضموي مريم

پوه سه: چې دا جمله استفهاميه ده متعلقة بمحذوف دل عليه ماقبله ای يلقون اقلامهم يقولون ايهم يكفل مريم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يَخْتَصِمُونَ ﴿٤٤﴾

او ته وې اې محمد ﷺ په حضور کې د احبارو د بیت المقدس چې ډډوې یه کفالت کې د مریم اختلاف و. یعنې بلکې په وحي الهي ئاته معلومه شوه فانک نبي بالحق لوکان الیهود والنصاری یعقلون ویترکون التعنت والعناد الناشي من علمائهم خوفاً علی الریاسة

تذنیب: پوه شه چې صاحب د روح البیان په تفسیر کې د آل عمران ص ۳۳ کې داسې وایي چې اهل کمال په رجال کې بهخې دېر دي، او نهایت ته د کمال غیر له دغو څلورو نښځو چې په حدیث کې د انس ﷺ راغلي دي نه دي رسېدلي، مریم بنت عمران خدیجة بنت خویلد، فاطمة بنت محمد ﷺ او آسیة امرئة فرعون.

پوه شه: چې دی وایي معنا د کمال پای ته رسېدل دي په فضائلو او افعالو کې د بر او د تقوی، وحسن الخصال والکمال في شئ مایکون حصوله للکامل اولی من غیره والنبوة لیست اولی للنساء لان مبناها ای النبوة علی الظهور والدعوت للناس ای علی رؤس الاشهاد والمقابلة مع الکافرین جهرة او حال د نښځو خو مبني پر ستر دی فلا تکون النبوة في حقهن کمالاً بل الکمال في حقهن الصدیقیة، وهي قریب من النبوة والصدیقین من صدق في جمیع اقواله وافعاله واحواله فمن النساء کاملات عارفات واصلات الی مقام الرجال فهن رجال في المعنی، د بعض اولیاء الله څخه چا پوښتنه وکړه چې ابدال اولیاء څو کسه دي هغه ورته وویل اربعون نفساً سائل ورته وویل چې نفس خو عام دی نر او نښځي ته، ولي دي اربعون رجلاً ونه ویل؟ ولي الله ورته وویل چې په ابدالو کې نښځي هم سته ویناسب هذا، دا حکایت دی چې ام محمد والدة الشیخ ابي عبدالله بن الحنیف رحمهما الله تعالی، دا وېره عایده نښځه وه او ددې زوی ابو عبدالله به اخیري شپې د روژې به یې تمامه شپه بیداري کوله په عبادت کې لپاره د طلب د لیلة القدر، او عادت دده دا و چې لمونځ به یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کاوه پر بام باندي په امید ددې چې ګوندي انوار د لیلة القدر به پر بام شه ښکاره سي، او مور به یې متوجه وخدای ﷻ ته وه په عبادت سره په خونه کي، نو په شپه د لیلة القدر دې انوار ولیدل په خونه کي، نو زوی ته یې ورنغري کړې یا محمد چې هغه شی چې تا طلب کاوه پر بام باندي هغه دادی چې په خونه کي ښکاره سو نو ژر راسه، نو شیخ په دې تلوار له بامه څخه را کښته سو فرئ انوار لیلة القدر في بیت الام، نو شیخ د مور پر پښو پراوتی او پښې یې ور مچ کړې، نو شیخ وویل چې په قدر د مور دلته خبر سوم چې انوار د لیلة القدر مې ددې په خونه کي ولیدل، نو باید سړی فکر وکړي چې خرنګه مور له صدیقاتو څخه وه هدایت یې وخپل زوی ته وکړی، او خرنګه دا بالا سوه پر خپل زوی په فضل او شرف کي سره د کثرت د زوی په ریاضت کي او په عبادت سره چې زوی یې په شیخیت سره منل سوی شخصیت و، په اخیر کي روح البیان وایي فظهر ان من النساء من هي افضل من الرجال وذالک بالوصول الی جناب القدس ولیس ذالک الا بحسن الاستعداد والهدایة الخاصة ولیس ذالک دلیل بنوة هذه المرئة بلا خلاف اسعدنا الله واياكم بهذه السعادة نعوذ بالله من نساء زماننا حیث لایری فیهن من هي من اهل التقوی فضلاً عن مقام الصدیقیة.

دروېش وایي: چې د صاحب د روح البیان وفات خو په سنه ۱۱۳۷ هـ کي سوی دی، نو که ده د سنه ۱۴۲۶ د زماني د شا وخوا ښځو حالات لیدلای نو به یې څه ویلای، چې هغه ښځي مصداق دهغه حدیث نبوي دي چې علیه السلام وایي دوه صنفه د دوزخیانو دی چې ما نه دی لیدلی یعني في عصره ﷺ لطهارة ذالک العصر یوه برخه یې ده نرو بیان کړې ده، او بل ده د ښځو په برخه کي داسي ویلي دي "کاسیات" یعني کالي خو یې ظاهراً اغوستي وي "عاریات" وي په معنا کي له لباس څخه د تقوی او بعض اهل حدیث وایي چې داسي نازک کالي یې اغوستي وي چې بدنونه یې تر معلومېږي.

دروېش وایي: چې یو داسي قمیصان په ښځو کي اوس رواج دی ټر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پېغلانو او تر مړو والا وو پورې پلکې تر اکثره سپین سرانو پورې چې دا قمیصان د سینه لخ په نامه شهرت لري یعنې تر تیو پورې یې سینه بالکل لخه وي چې د محرم نظر هم نه وي ورته روا "ممیلات" یعنې مېل ورکونکی ای ونرو ته وخپلو خانو ته د سترګو په اشاراتو او د نورو اوځاعو په دعوت چې کاسبان د زناء په هغو اشاراتو پوهېږي "مائلات" او ددوئ مېل وېښتانه ترسو ته وي "رؤسهن کاسنمة البخت" او سرونه ددوئ یعنې وېښتان د سرو یې داسې جوړ کړي وي لکه بوکان د هایه اوښانو "المائلة" چې دا بوکان پر یوه طرف مائل وي " لایدخلن الجنة ولا یجدن ریحها وان ریحها لیوجد من مسیرة کذا وکذا" دوئ نه سي ورتلای جنت ته او نه د جنت بوی دوئ ته رسېږي. اوبه تحقیق چې بوی د جنت د لېرې لېرې مسافت څخه معلومېږي یعنې پر سړي ولاړېږي انتهی.

إِذْ قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ يٰمَرْيَمُ

پوه سه: چې دا جمله بدل ده د هغه جملې اذ قالت الملائکة یا مریم نو تر هغه وروسته جملې تهولي معترضې جملې وي لپاره د احسان پر علیه الصلوة والسلام، په سبب د وحي پر ده او لپاره د تنبیه پر جهل د کفارو او عناد د دوئ.

پوه سه: چې مراد له ملائکه وو څخه جبرئیل علیه السلام دی او جمع یې تعظیما ده کما مر.

إِنَّ اللّٰهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ ۖ اسْمُهُ الْمَسِيحُ

په تحقیق سره خدای ﷻ تاته زېری کوي یعنې خوشحاله کوي دي په یوه کلمه سره

پوه سه: چې مراد له کلمې څخه په اتفاق د مفسرینو عیسی علیه السلام دی، او اطلاق د کلمې پر عیسی قسم د اطلاق د سبب پر مسبب دی، ولې چې سبب د وجود دده کلمه د کن ده علی ماجرت به العادة الالهیة کما قال الله تعالی "انما امره اذا اراد شیئا ان یقول کن فیکون.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: خدای ﷻ خو ټوله شیان په کلمه د "کن" پیدا کوي کما دلت علیه الآیة المذکورة، نو تخصیص د اطلاق د کلمه په عیسی پورې څه وجه لري؟

ځواب: چونکه حدوث او وجود د عیسی علیه السلام پر وجه متعارفه نه و چې د پلار له نطفې څخه دي له موره پیدا سي، نو اسناد د حدوث دده وکلمې ته د کن اولی او اکمل دی تر اسناد د نورو شیانو چې پر وجه متعارفه پیدا کېږي په کلمه د "کن" نو هم په دغه سبب عیسی عین کلمه وبیله.

پوښه: چې د اسمه ضمیر راجع دی وکلمه ته په اعتبار د معنا چې مراد ځندي عیسی علیه السلام دی، او لفظ د "منه" صفت د کلمه دی ای کلمة کائنة منه او ضمیر د منه راجع والله ته دی، او اسمه مبتداء ده او المسیح یې خبر دی، او ټوله جمله صفت اخری د کلمه ده.

فائده: مسیح لقب دی له القابو څخه د فخر لکه صدیق د ابوبکر رضي الله عنه لپاره او فاروق د عمر رضي الله عنه لپاره، او دا لفظ له عبرانې څخه وعربي ته رانقل سوی دی په تغیر سره، ولي اصل یې شیخاً و چې په عربي یې معنا مبارکه ده لکن صاحب قاموس فیروز آبادي وایي چې مسیح د خدای ﷻ په مخلوق کې مبارک ته هم وایي او ملعون ته هم وایي فهو من الاضداد ای یطلق علی الضدین والمسیح عیسی علیه السلام سمی به لبرکته والدجال لشومه وملعونیة انتهی او بعض اهل تفسیر وایي چې عیسی علیه السلام یې په دې سبب مسیح وبالله چې دی پاک سوی و له نجاساتو څخه د منې او رحم، او داغه رنګه دی پاک سوی دی له ګناهو څخه او ابن عباس رضي الله عنه وایي چې مسیح یې په دې وبالله قبل الولادة چې ده به وروسته تر نبوت هر مریض مسح کړی خدای پاک به جوړاوه کماسیناتي فهو في المعنی بشارة اخری لمریمه، او بعض وایي چې مسیح یې په دې بولي چې ده پر یوه خای قرار نه درلودی نن دلته صبا هلته، وفي القاموس المسیح الکثیر السیاحة، او څوک وایي چې د مسیح الدجال څخه ټوله خصال محموده زائل کړه سوي من الایمان والعلیم والعقل والحلم وسائر الخصال الحمیدة، او له مسیح عیسی څخه زائل کړه سوي وه ټوله خصال زمیمه بالکلیة من الجهل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والحرص والبخل وغير ذالک وهذا معنى ماقيل على وجه المعمى ان المسيح الدجال لعنه الله ممدوح اليمنى، والمسيح عيسى عليه السلام ممسوح اليسرى فتامل، او صاحب قاموس وايي چې ماذکر کړې دې د اشتقاق د لفظ مسيح لپاره پنځوس توله زما په شرح کې د مشارق الانوار.

عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ

پوه سه: چې عيسى معرب دى د اليشوع چې معنى بې سيد دى.

فائده: عيسى خبر بعد الخبر دى د اسمه، او يا خبر د محذوف مبتداء دى اى هو عيسى، او يا بدل دى له مسيح څخه.

پوه سه: چې مسيح اسم لقب دى د عيسى او عيسى يې اسم محض دى، او ابن مريم يې کنيت دى له ابن الزبير او ابن عباس وغيرهما، وايي چې په ابن مريم دده پوره تميز کېدى کما هو الشرط في الكنية يعني هر زوى ته د زبير يا د عباس د کنيت په توګه ابن الزبير او ابن عباس نه ويل کېږي بلکې فقط عبدالله بن الزبير او عبدالله بن عباس ته ويل کېږي لشهرتهما وتميزهما بهذين الاسمين دون سائر ابنائهما.

پوښتنه: نومان د عيسى دې ذکر سوه، نو ولې اولاً اسمائه نه وويل سو؟

ځواب: لفظ د اسم اسم جنس دى او اضافت يې ضمير ته استغراقيه دى فيشمل الكل ويصح حمل الاسماء الثلثة عليه اجتماعاً وانفراداً، او دا هم روا دى چې ابن مريم دي د اعراب په اعتبار له اسم څخه قطع وي بلکې خبر د محذوف مبتداء دي وي اى هو ابن مريم.

پوښتنه: ملکو خو خطاب د مريم سره کاوه نو يې ولې ابن مريم ذکر کړى يعني داسې يې نه وويل اينک؟

ځواب: په اضافت کې ودې ته تنبيه ده پر دې چې دا زوى ددې په پلار نه لري ولې اولاد چې پلار لري نو نسبت يې پلار ته په عرف کې کېږي يعني ابن فلان يا بنت فلان او مور ته يې نسبت نه کېږي بخلاف الاضافة الى الضمير فانه تجوز الاضافة الى ضمير الام على تقدير وجود الاب ايضاً فتذكر فانه سانح عزيز.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: اسم د عیسی خو یوازې عیسی و او مسیح خو یې لقب و او ابن مریم خو یا کنیت او یا صفت فکیف یصح حمل قوله المسیح عیسی بن مریم علی قوله اسمه؟

ځواب: د اسم یا معنا نحوي مراد ده ای مادل علی معنی نفسه غیر مقترن باحد الازمنة الثلثة، والثلثة اسم بهذا المعنی ولیس المراد به مقابل اللقب والکنیة کمامر او یا مراد له اسم څخه معنی لغوي ده ای العلامة علی المسمی فالمعنی العلامة الدالة علی المسمی والمراد من الکلمة هي هذا الثلاثة فتدبر۔

وَجِيهًا فِي الدُّنْيَا

یعنې شریف به وي ځاونډ د جاه او قدر به وي په دنیا کې په نبوت سره او په اطاعت د خلګو ده لره.

پوه سه: چې وجیهاً حال له کلمه څخه دی، او د تذکیر وجه یې هغه ده چې مورِ د مخه ذکر کړه چې معنی د کلمه مذکر ده یعنې عیسی.

سوال: حال له نکرې څخه خو نه دی روا الا اذا قدم علی ذی الحال کما تقرر في النحو؟

ځواب: حال خو له نکره محضه څخه نه دی روا دلته خو کلمه موصوفه ده په منه سره کمامر من قبل.

سوال: په نحو کې وایي چې زمانه د حال او عامل به سره یو وي او دلته خو عامل د ذی الحال یبشرک دی، او زمانه د وجیهاً خو بعد النبوة ده وبینهما سنون؟

ځواب: داسې حال ته مقدره وایي یعنې په تقدیر کې د خدای ﷻ وجاه ته دعیسی په زمانه کې د بشارت سوی و وامثلتها کثیر

وَالْآخِرَةِ وَمِنَ الْمُقَرَّبِينَ ۝

او په اخیرت کې به ذا جاه وي بالشفاعة للامة او په سبب د لوړو درجو په جنت کې او د خدای ﷻ له مقربو بندګانو څخه به وي بالقرب الدائمي مع الله ﷻ.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

پوه سه چې ومن المقربين په تقدير د متعلق عطف دی پر وجيها يعنې وكائناً من المقربين

وَيُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ

ای كائناً في المهد ای رضيعا نو في المهد حال دی له ضمير څخه د فاعل د يكلم

پوه سه چې د آيت معنا دا نه ده چې عيسى چې په زانګو کې وې نو به خبرې کوې بلکې معنا يې داده چې په حال د غايت صغر چې حال د رضاع دی دی به د خلګو سره خبرې کوې

وَكَهْلًا

يعنې په وخت کې د کهولت

پوه سه: چې کهل هغه چاته وايي چې تر دېرش کاله تېر سوی وي تر څلوېښت او سپين ږيرې توب ته نژدې سوی وي

پوښتنه: خبرې د کهولت په وخت کې خو عادي خبرې دي نو د عطف د کهلاً پر في المهد باندې څه فائده به وي؟

ځواب: مقصود په عطف کې دادی چې خبرې د عيسى په وخت کې د رضاع او د کهولة به پر نهج واحد وي، يعنې په وخت کې د رضاع به کلام الانبياء والحكماء او د خبرو دده به فرق نه وي كما سائر الاطفال بلكې يې تفاوت خبرې به کوي كما سيأتي في القرآن من كلامه وقت الرضاع كيف كان كلامه في ذالك الوقت ككلام الانبياء عليهم السلام وقت النبوة وهذا من المعجزات الباهرة لعيسى عليه السلام قبل النبوة. مجاهد وايي چې مريمې ويله چې عيسى چې په حمل کې و او زه ودې به سره يوازې سولو ده به مانه خبرې کولې مابه ده ته و چې زه به په يو کار اخته سوم او يا به بل چا خبرې را سره کولې عيسى به زما په نس کې تسبيح ويله او مابه هم اورېدلې

فائده: په دې کې اشاره ودې ته ده عيسى قبل تر سن الكهولة نه مړي وان سنه لايتجاوز سن الكهولة وسن الكهولة ياتي عليه بعد نزوله من السماء فانه رفع الى السماء قبل سن الكهولة. روح البيان وايي چې په يوه روايت کې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راغلي دي چې د عیسی علیه السلام عمر چې د ډېرش (۳۰) کاله و دی نبي کړه سو وښي اسرائیلو ته، او په رسالت کې یې د ډېرش میاشتې ټېرې کړې بیا اسمانو ته پورته کړه سو، او په بعض روایاتو کې راغلي دي چې عیسی علیه السلام پر د ډېرش کاله نبي سو، او دري کاله او څو میاشتې د نبوت دوره پر مخکه ټېره کړه او بیا اسمانو ته پورته کړه سو چې درو د ډېرش (۳۳) کاله او څو میاشتې و. نو که سې د کهولت د ډېرش کالـه څخه شروع کېږي تر څلوېښتو کالو پورې، نو عیسی به اول دوره کې کهولت پر مخکه د خلګو سره خبرې کړې دي. او پر قول د هغه چا چې وایي سن د کهولت د څلوېښتو کالو شروع کېږي، نو عیسی پر مخکه د کهل په سن کې خبرې نه دي کړې، بلکې آسمانو ته خوان پورته کړه سوی دی او د کهولت خبرې به پس له نزولـه د اسمانو څخه د خلګو سره وکړي فانه حینئذ یکلم الناس ویدعوهم الی الله تعالی ویقتل الدجال انتهی مع زیادة وتوضیح

فائده: کهل په منځ کې د شباب او شیخ دی.

پوه سه: چې روح المعاني د اهل لغت په نقل عمر د انسان چې نر وي داسې څېرلی دی، ابن آدم چې په رحم کې د مور وي جنین یې بولي، او چې له مورې پیدا سو بیا یې ولید بولي، او تر هغو چې تی روي رضیع یې بولي، او چې له تي څخه پرې سو د هر څو میاشتو چې وي نو یې فطیم بولي، او وروسته چې پر کونه څکېږي او ګاهي په یو شي پوري ولاړ سي نو یې دارج بولي، او چې پنځه لوېشتي سي په لوېشتو د لوی سړي نو یې خماسي بولي، او بیا چې بعض غابنونه یې راشنه سوه نو یې ثغریه بولي، او چې لس کاله ته نژدې سي او یا یو څه تر بالا سي نو یې مترعرع بولي، او ناشي یې هم بولي، او بیا چې بلوغ ته نژدې او یا بلوغ ته ورسېږي بیا یافع او یا مراهق بولي، او چې بالغ سي او قوي سي نو یې خرور بولي، او مشترک نوم یې په دغو احوالو کې غلام دی، نو بیا چې یې برېتونه راسي او پر بارخوګانو یې لږ لږ وېښتان پیدا سوه نو باقل وجه یې بولي، او بیا چې یې ډېره سره ګلوه سوه بیا یې فتی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او شارخ بولي، او بيا چې غايت ته د ځوانۍ ورسېږي نو بې مجتمع بولي، او بيا په منځ کې د ډېرش او څلوېښت يې شاب بولي. او بيا چې تر څلوېښت واوړي نو يې کهل بولي. تر شپېتو کلو پورې، او وروسته چې سپين ويښان يې په ږيره او سر کې پيدا سوه نو يې اشمط بولي. وروسته بيا شاخ بولي او وروسته يې کبر بولي او وروسته يې هرم بولي او وروسته يې دلف بولي، او وروسته يې اخرف بولي الى وقت الموت.

دروېش وايي: چې دغه ترتيب د انسانو د نر و چې بيان سو په اعتبار د اغلب ترانو لکن تغير د وختو ددغو نومانو په اعتبار د قوت د بدن او ضعف د بدن پورې ه اړه لري مثلا يو سړی کېدای سي پر کم سن بلوغ ته ورسېږي په اعتبار د قوت دبنيه، او بل سړی په سبب د ضعف البنية ډېر وخت وروسته وبلوغ ته ورسېږي، او داغه په سبب د صحت د بدن او په سبب د امراضو فرق يکښي راځي کما هو المشاهد في الرجال نو په دې سره سوال نه وارد ېږي چې کوم مطلق خو بيخي ږيره او برېتونه يې نه راځي، او داغه رنګه يو سړی خرف نه ورسېږي په اعتبار د بعض عوارضو او بل سړی په سبب د قوت المزاج وصحة البنية د خرف په وخت کې هم خرف ته ورسېږي، تجربه شاهده ده چې علماء کرام که څه ډېر کلان سنه هم وګرځي لکن د خرف دوره نه پر راځي او عقل او دماغ يې سالم وي خبرې يې پر خای وي او په هر شي يې سر خلاصېږي. لکن هم العلماء الذين يعملون بما علمون ويتقون الله ولا يعصون ويذكرون الله ذكرا كثيراً الى غير ذالک من الاعمال الصالحات بلکې د تعجب خبره خو داده چې بعض علماء صالحين د بل سړي د خرف په وخت کې په وخت کې تصانيف کوي، وذالک فضل الله يوتيه من يشاء والله ذوا الفضل العظيم، روح المعاني وايي چې تکليم د عيسى عليه السلام په زمانه کې د کهولة وروسته تر نزول دده دی له اسمانو څخه او دی وايي چې عيسى عليه السلام چې اسمان ته پورته کړه سوی دی عمر يې دروډېرش کاله و، او دی به په اخير الزمان کې ومخکې ته راځي او په مخکه کې به ژوندی وي څلورويشت کاله کما رواه ابن جرير بسند صحيح من عن كعب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الاخبار نو عمر دده به په وخت کي د موت اوه څلوېښت کاله وي وهو منتهى سن الكهولة، وقيل غير ذالک والله عنده علم الغيب.

پوښتنه: عيسى عليه السلام چي اسمانو ته پورته کړه سو تر دي اوسه پوري خو په زرو کلونه تېر سوي دي نو په دغو کلو کي دی په کوم سن کي دی؟

ځواب: کلونه د عيسى عليه السلام په اسمان تر هره وخته چي وي د شباب زوند دی څه وخت چي مخکي ته نازلېږي د کهولت سن يې شروع کېږي، الى ان يموت في اخير سنوات الكهولة.

گرانو د تفسير د دروېش مطالعه کونکو! دروېش هرچه ميگويد ديده ميگويد فلا اعتراض للحاسد وغيره لان على الناقل تصحيح النقل لا تصحيح المنقول كما هو الدائر على الالسنة.

وَّمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۴۲﴾

پوه سه: چي دا عبارت يا معطوف دی او على يكلم الناس والتقدير كائناً من الصالحين، يعني لار نه لري وده ته نقصان العقل او فساد في الدين وذالک شان الانبياء كلهم صلى الله تعالى على نبينا وعليهم اجمعين.

دروېش وايي: چي ددي مقام و تحرير ته زه د کوچني اختر په شپه قريب الصبح سنه ۱۴۲۶ هـ ورسېدم اللهم اغفرلي ولوالدي ببركة هذا الوقت الشريف، تر دي اوسه د صحت عمر باقي دی ددي بعد کامل خواهان يم. وما ذالک على الله بعزيز.

قَالَتْ رَبِّ اَنّٰى يَكُوْنُ لِىْ وَلَدٌ وَّلَمْ يَمْسَسْنِىْ بَشَرٌ

مريمې وويل ای ربه زما څرنګه زما څخه ولد زېږي او حال دادی چي زه نه يم مسه کړې هيڅ نر.

پوه سه: چي دا کنايه له جماع څخه ده.

پوه سه: چي قالت آه جمله مستانفه د جواب د سوال ده چي مريم ته چي خدای عليه السلام وويل ان الله يبشرک آه نو دي په جواب کي څه وويل.

فائده: استفهام ددي لپاره د تعجب دی او يا استبعاد نظر وعادت ته چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولد خو بېله مسه عادت نه دی، او یا استفهام ددې لپاره دی چې زما ولد به متزوج د لارې وي او که څرنګه.

فائده: اني دلته په معنا د کیف دی او په معنی د من این هم کېدای سي که لحاظ د تزوج ور سره وکړه سي فتامل.

قَالَ كَذٰلِكِ اللّٰهُ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ؕ اِذَا قَضٰۤى اَمْرًا فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ ۝

یعنې خدای ﷻ ورته وویل په ذریعه د جبرائیل ؑ یعنې لکه چې خدای ﷻ قادر دی پر خلق د اشیاؤ چې ولد دی بالتدریج وباسباب عادیة ومواد لکه دلته نطفه داغه رنګه خدای ﷻ قادر دی چې خلق د اشیاؤ دې دفعةً بېله اسبابو عادیه وکړي، او پیدا کوي خدای ﷻ هغه شیان چې دده ورته اراده سي، او چې خدای ﷻ اراده وکړي و پیدا کولو ته د یو شي، نو هغه شي ته ووایي چې موجود سه او هغه شی موجود سي، نو "کان" تامه دی، نو خدای ﷻ دغسې خلق عجیب هم کولای سي چې ولادت د ولد دی بېله پلاره.

پوه سه: چې د قضاء معنا اراده الهیه ده چې قطعي وي په وجود پورې د شي مربوط سي.

پوه سه: چې اکثره مفسرین ؒ پر دې دي چې جمله د "فانما یقول له کن فیکون" یو تمثیل دی د تاثیر د قدرت الهي په خپل مراد کې نو دا یې مثال وګرځاوه د امر د یو فرمان برداره سړي للمطیع في حصول المامور من غیر امتناع وتوقف و افتقار الی مزاولة عمل فالممثل الشیئ المکون بسرعة من غیر عمل وآلة والممثل به امر الآمر المطاع في المامور به للمطیع علی الفور.

او روح المعاني والا وایي چې "کن فیکون" حقیقةً هم کېدای سي لکن د کن فیکون څخه کلام لفظي نه دی مراد بلکه تعلق د کلام نفسي دی بالشئ الحادث علی اي کیفیةٍ کان الخلق والله اعلم بالصواب.

دروېش وایي: چې روح المعاني ولي وایي چې کلام لفظي نه دی مراد لان الخطاب اللفظي الی المعدوم لا یعقل لعدم الفهم في المعدوم وهذا هو الباعث

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

علی حمل جمهور المفسرین قوله تعالی کن فیکون، علی التمثیل کما مر عنقریب، واما تعلق الکلام النفسي الذي هو قائم بذاته تعالی وصفة من صفاته جل شانه فیجوز التعلق بالمعدوم کالعلم والقدرة والارادة، وهذا تحقیق انیق فاحفظه هداک الی فهم دقائق القرآن المجید.

وَيُعَلِّمُهُ الْكِتٰبَ

خدای ﷻ وده ته یعنې عیسی علیه السلام ته ور وښووی کتاب

یوه سه: چې بعض مفسرین رحمهم الله وایي چې مراد له کتاب څخه خط او کتابت دی، او عیسی احسن الناس و خطاً وکتابةً في زمانه، او بعض مفسرینرح وایي چې مراد له کتابت څخه هوله کتب منزله دي من الله تعالی علی رسله یعنې یعلم عیسی علوم الکتب السماویة، او تخصیص د تورات او انجیل چې عنقریب راځي ددې سببه دی چې عیسی باید اهتمام په دغو دوو کتابو سره وکړي یعنې په فروع کې د دین. واما اصول الدین یعنې الاعتقادیات فمتحدة في جمیع الکتب السماویة کالتوحید وصفات الله المجید والایمان بیوم القیامة والجنة والنار وامثالهما.

فائده: نافع، عاصم او یعقوب رحمهم الله "یعلمه" په یا د غیبت وایي او عطف یې بولې پر "یخلق" او یا "یبشرک" او باقي قاریان یې په نون د متکلم وایي عطف یې بولي پر هغو دوو جملو، لکن پر طریقه د التفات له غیبت څخه چې د معطوف علیه چې په ضمیر کې و و تکلم ته لپاره د خوشحاله کېدو د زړه د مریم وازاحة خوف اللوم علیها من الناس کما سیئاتي لما علمت مریم انها تلد الغلام من غیر اب

وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ ۝

او خدای ﷻ به وده ته وروښيي حکمت یعنې الفقه في الدین او تورات وانجیل.

فائده: راویان د ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت کوي چې مریم رضي الله عنها پخپله غرفه کې وه او پرده یې خړولې وه چې یو سړی چې سپین کالي یې اغوستي وه په غرفه ور

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ننوتی وهو جبرئیل تمثل لها بشراً سویاً، مریم چې دا سړی ولیدی ورته وه یې ویل اعوذ بالرحمن منک ان کنت تقیاً، قال انې رسول ربک لاهب لک غلاماً ذکیاً ثم نفخ في جیب درعها فوصلت النفخة الی الرحم فحملت بعیسی.

فائده: وهب بن منبه وایي چې څه وخت چې پر مریم باندې علامات د حمل ښکاره سو، نو ددې یو قریب و چې یوسف نجار یې باله چون پر دې یې علامات د حمل ولیدل گاهې به یې دا خیال سو چې راسه مریم متهمه کړه په زنا سره. او بیا چې به یې ددې صلاح او عبادت ته وکتل پر اتهمام باندې یې هم دلاوري نه سوه کولای، نو اوله خبره چې ده مریمې ته وکړه دا وه چې زما په زړه کې یو شی راگرځېدلی دی او زما اراده وه چې پټ په زړه کې یې وساتم او تاته نه ووایم لکن پر پټولو مې زړه صبر نه کوي زه چې وایم سینه به مې وچوي، نو د زړه سره مې دا فیصله وکړه چې ستا سره خبرې وکړم گوندې د خبرو له لارې زما دغه قلبي مشکل حل سي، نو مریم ﷺ ورته وویل چې د زړه بې درېغه خبرې راسره وکړه. نو یوسف ورته وویل چې راته ووایه چې کوم نبات بېله تخمه شین کېږي، مریم ورته وویل نعم، اول چې خدای ﷻ هر نبات پیدا کاوه نو تخم یې څه شی و، وروسته له هغه نبات څخه خدای ﷻ د نورو هم نوع نباتاتو تخمونه پیدا کړه، بیا یوسف ورته وویل چې راته ووایه چې درخته د هرې نوع چې وې بېله نهاله او یا بېله لښتې پیدا کېدای سي، مریم ورته وویل نعم! د هر نوع اوله درخته د کوم نهال یا لښتې څخه پیدا سوه، وروسته نورې درختې د هرې نوع د هغې له نهاله یا لښتې څخه پیدا کېږي، یوسف ورته وویل ته راته ووایه چې ولد بېله اب یعنې پلاره پیدا کېدای سي؟ مریم ورته وویل نعم! ته نه یې خبر چې آدم ﷺ بېله پلاره او موره پیدا سو، او حواء هم بېله نره او ښځې پیدا سوه، یوسف وایي چې وروسته تر دغه سوال او جواب ماته یقین سو چې دغه حمل چې ددې په رحم کې دی دا یو شی دی چې خدای ﷻ مریم ته عزت په هغه سره ورکوي یعنې چې عیسی ﷺ و.

دروېش وایي: چې یهودیان لعنهم الله تعالی یوسف هغه سړی بولي چې مریم زناء ورسره کړې ده، او یهودیان لعنهم الله عیسی ﷺ ابن الزانیة بولي معاذ الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي دا وسر ګذشت د ام عیسی علیها السلام او دده د مور مریم رضی الله عنها.

درویش وایي: چي د تعجب خبره داده چي د نړۍ نصاری یعقوبیه، نسطوریه، ملکانیه وعیسی علیه السلام ته دري قسمه عقیده لري بعض وایي چي عیسی ابن الله دی، او بعض وایي چي آله مع الله. او بعض وایي چي عیسی ثالث ثلثه دی لکه چي د وړاندي په مناظره کي د نصاری وو د نجران د علیه السلام سره چي تفصیل یې په دې تفسیر کي ذکر سو. وان کذبوا في ذالک بل هو عبدالله ورسوله. او یهودیان د دنیا و دغه ستر نبي ته دغسي بد نسبت کوي لکه مور چي یې آنفاً ذکر وکړی. او بیا هم نصاری د ټولي دنیا د یهودیانو د حکومت دونده طرفداره دي چي د هر نوع کومک د اسرائیلو د حکومت سره کوي.

پوښتنه: ددې څخه داسي بربنبي چي د نصاری وو د خپل نبي په اهانت هیڅ فکر نه ځرابیږي لکه چي دوئ د خپل نبي عیسی په نبوت سره نه وي قائله ددې سبب څه دی؟

ځواب: چونکه یهودیان د اسلامي حکومت په وخت کي پر بیت المقدس چي دوهمه قبله د اسلام ده مسلمانان پر قابض وه او په عین حال کي یهودیانو او نصاری وو په بیت المقدس کي خانونه شریک بلل، نو د اسلامي حکومت په دوران کي بعض یهودیانو په بیت المقدس کي د ذلت ژوند تر اسلامي بیرغ لاندي تیراوه، او دپر یهودیان امریکا او غربي ممالکو ته پناه ګزین سوه، نو نصاری وو چي فکر وکړی چي د بیت المقدس پر شاوخوا دپر ځښتلي حکومتونه د مسلمانانو پراته دي لکه فلسطین، اردن، مصر، سعودي عرب، شام، عراق نو د موقع سره په استفاده یهودیان د بیت المقدس یې وهڅوله چي تاسي د خپل اسرائیلي حکومت مستقله پروپاګنده پر لاره واچوئ او دنیا والو ته نعري کړئ مور خپل مستقل حکومت لکه پخوا چي و بیرته غواړو. او د اسلام تر بیرغ لاندي مور بالا ژوند نه سو تیرولای، او امریکایانو او غربي ممالکو وعده ورسره وکړه چي مور مالي او د صلاح جدي کومک درسره کوو، خو دا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پالیسي یهودیانو د بیت المقدس خپله کړه او امریکایانو او انګریزیانو د دوی په ممالکو کي مهاجر یهود باعثه کړه چي ولاړ سي بیت المقدس ته چي هوري ستاسي اسرائیلي حکومت په حال کي د جوړېدلو دی. خو خیر د اطرافو او اکنافو څخه په کډو یهودیانو لاس پوري کړی او په بیت المقدس کي یې د اسرائیلي حکومت مستقل اعلان وکړی، او له مسلمانانو څخه یي بغاوت شروع کړی، اولین تر ټولو امریکایانو د اسرائیلو حکومت په رسمیت وپېژندی او خپل سفیر یي ور واستاوه وهکذا نورو غربي ممالکو د نصاری وو اسرائیلي حکومت په رسمیت قبول کړی، سمدلاسه د امریکا له خوا د صلاح کارو انونه او د مالي مرستو ډکي طیارې ورته را روانې وې او امریکا چي خپل دوستان په عربي ممالکو کي درلوده لکه شرق اردن او د مصر یي هم وهڅول چي د اسرائیلو حکومت دي په رسمیت وپېژني، او دا دولتونه په دې نه پوهېدل چي آخیر الامر به دغه اسرائیلي حکومت د ټوله عربي ممالکو لپاره سر درد وګرځي او هم هغه وسوه، وروسته امریکایانو او انګریزیانو اسرائیلي حکمت وهڅوی چي پر بر ضعیف حکومت چي د فلسطین و حمله یي وکړه او اسرائیلي حکومت هم هغسي وکړه او په لږه موده کي یې فلسطین قبضه کړی، او فلسطینیانو یوې خوا او بلي خوا ته د هجرت کډې بار کړې او بعض هوري په فلسطین کي پاته سوه، او دېر فلسطینیان وهمسایه ملک لبنان ته ولاړه او پر ضد د اسرائیلي حکومت او د قبله ثاني د اسلامي دین د خلاصون لپاره یې جد جهد شروع او د جهاد اعلان یي وکړی، امریکایان او نصاری وېرېدل چي همسایه اسلامي ملکونه د فلسطین د مسلمانانو مرسته ونه کړي، نو اسرائیلو ته یي وویل چي پر مصر چونکه یو طاقتور حکومت دی حمله پر وکړئ صرف بعض صحراوي د مصر تر قبضي لاندي راولئ بیا به مونږ صلح در وکړو او مصر به د جنګ څخه متقاعد کړو، اسرائیلو هم هغسي وکړه او د بري صحراوي او نا آباده ځمکي یې د مصر ونیولې، مصریانو چي رسمي جنګ نه د اسرائیلو څانونه آماده کړه امریکایانو د ثالث بالخیر په بهانه څانونه منځ ته واچول او یهودیانو ته یي وویل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې د مصر ټولې مقبوضه مځکې ور ایله کړې او مصر ته یې وویل چې ستا غرض خو خپلې مقبوضه مځکې دي هغه به موږ له اسرائیلو څخه در ازادي کړو ته هم خپل فوجونه تر شا کړه او جنګ مه کوه، خیر خو مصر دا صلحه ومنله او اسرائیلو هم مقبوضه مځکې د مصر پرېښولې او خپل فوجونه یې خندې را وه ایستله، بیا امریکایانو یهودیان وهڅول چې د جولان لوړ غرونه چې د شام ملکیت وه او کوم فوج وغیره نه وو پکښې حمله پر وکړې او دا غرونه له شام څخه ونسې چې په آینده کې به دا لوړ غرونه لوی سنګر وي، د شام لپاره خو اسرائیلي حکومت هغسې وکړه او د جولان لوړ غرونه یې په اسانۍ سره قبضه کړه تر اوسه هم ددوئ په قبضه کې دي.

دروېش وایي: چې په اوسنۍ زمانه کې اسرائیلي حکومت په ټوله نړۍ کې یو طاقتور حکومت او د ایټم بم د پېښ رفته صلاح لوی مرکز دی.

غرض دا دی: چې امریکایانو بالخصوص او نصاری وو بالعموم اسرائیلي حکومت د عربي ممالکو لپاره بالخصوص او د نړۍ ممالکو اسلامیه وو لپاره بالعموم خپل لپاره یو مضبوط سنګر جوړ کړی، نو دروېش وایي چې دا ټوله تمهید و لپاره د جواب د هغه سوال چې ددې سبب څه دی، نو حاصل د جواب دادی چې نصاری وو د اسلام او قرآن پر ضد د فعالیت لپاره د خپل نبي یعني عیسی علیه السلام سپکاوی چې یهودیان یې کوي چې تاسي واورېدی پس پشت واچاوه او د یهودیانو سره یې د محبت لاس اوږد کړی او بیعت د دوستۍ یې ورسره وکړی.

دروېش وایي: چې دا وه تاریخ چه د پالیسۍ د نصاری وو اللهم انج المسلمین في جمیع الارض من مکائد الیهود والنصاری والمشرکین، په اخیر کې دروېش وایي

کارونه وېر کاریگر نسته خدایه څه وکړمه زه
ملایان وېر عامل یې نست خدایه څه وکړمه زه
تېز رفتاره خادمانه د قرآن وېر دي خدایه څه وکړمه زه
د سست رفتاری ددې خدمت علاج به څه وي خدایه څه وکړمه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَرَسُولًا إِلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ

او عیسی علیه السلام به رسول وي له جانبه خځه د خدای ﷻ وبني اسرائیلو ته

پوه سه: چې رسولاً منصوب دی په فعل محذوف سره چې هغه عطف دی پر "یعلمه" آه باندې، او تنوین د رسولاً لپاره د تعظیم دی، والتقدیر ونجعله رسولاً عظیم قدر الی بني اسرائیل.

أَنِّي قَدۡ جِئۡتُكُم بِـَٔايَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ

زه رسول یم په دې سره یعنې په دې معجزه سره له جانبه خځه د ریکم یعنې د خدای ستاسې.

پوه سه: چې د "انې" سره حرف جر محذوف دی ای باني، او حرف جر یې متعلق په رسولاً پورې دی ای رسولاً باني آه، او تنوین د آیة لپاره د تعظیم دی ای بآیة عظیمة چې دستې پسې را روان دی، او یا انې معطوف دی پر احوالو سابقه باندې بتضمنه معنی النطق ای ناطقاً باني کذا في روح البیان.

سوال: عیسی علیه السلام ولې آیة مفرد ووایه او سره ددې چې دا خو آیات متعدده وه؟

ځواب: دا ټوله آیات په سبب د دلالت پر صدق دده لکه آیت واحده وه.

أَنِّيٓ أَخۡلُقُ لَكُم مِّنَ ٱلطِّينِ كَهَيۡـَٔةِ ٱلطَّيۡرِ فَأَنفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيۡرَۢا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۖ

پوه سه: چې نافع "انې" په کسره د همزه وایي، نو جمله مستانفه یې ښولې، او نور قاریان یې په فتح د همزه وایي، نو منصوب دی بدل دی د "انې" سابق خځه، او یا مرفوع دی په تقدیر د مبتداء ای هي انې.

ترجمه: هغه آیت دادی چې زه تاسې ته صورت د ښوه مرغه له خټو خځه درته جوړوم او بیا پر ښوه کوم، نو هغه د خټو مرغه به بیا والوځي په اذن او اراده د خدای ﷻ

پوه سه: چې عیسی علیه السلام داسې وویل "باذن الله" اشاره یې ودې ته وکړه چې ددغه خټو د مرغه حیوة د خدای ﷻ کار دی زما له خوا نه دی لان الله هو الذي خلق الموت والحیوة فهو یخلق الحیوة في ذالک الجسم المصور من الطین، وانما الاحیاء من المعجزات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې عیسی علیه السلام چې دعوه د نبوت وکړه، نو بني اسرائیلو ورته وویل چې مور ته له خټو څخه شوپرک جوړ کړه او بیا پر پوه کړه چې طیران وکړي او مور یې هم په سترګو وویني، نو عیسی علیه السلام همدغسې وکړه، وهب بن منبه رحمه الله وایي چې شوپرک په هواء سو تر هغو چې خلګو ورته کتل په طیران کې او له سترګو د خلګو چې غائب سو سقط میتاً لاجل التمییز بین خلق الله وفعل الخلق.

پوه سه: چې دوئ ولي طلب د خفاش وکړی باعث دا و چې خفاش اعجب د مرغانو دی او اتم د مرغانو دی خلقاً واعضاءً، اول دا چې توله مرغان چې الوځي په بنکو او وزرو الوځي او شوپرک پر صرف غوښو پرواز کوي، او دوهم دا چې توله مرغان د هګیو په ذریعه پیدا کېږي او شوپرک لکه بنځي د حیواناتو د رحم په ذریعه لنګېږي، او دریم دا چې شوپرک غولانځه لري او خپل بچي ته تی ورکوي او په شیدو د تي یې لویوي، او شوپرک د خدای جل شانه په قدرت خارق للعادت شی دی نه د ورځې په رڼا کې شی وینې او نه د شپې په تاریکه کې شی وینې بلکه په شبانه روز کې دوه ساعته دی په سترګو شی وینې بعد غروب الشمس د شفق ابیض تر لوړدو پورې، او وروسته تر سپیدو بیا چې بنه رڼا کېږي، او څلورم دا چې خاندي لکه انسان چې خاندي، او پنځم دا چې غاښونه لري او په غاښو شی خوري، شپږم دا چې حیض ورځې لکه د انسانانو بنځو ته چې ورځي.

فائده: چونکه عیسی علیه السلام په نفخ د جبرئیل علیه السلام په رحم کې د مور پیدا سو، نو خدای جل جلاله نفخ د عیسی علیه السلام سبب د حیوة د شوپرک وګرځول وهذا معجزة باهرة له.

وَأُبْرِئُ الْأَكْمَهَ

او زه جوړوم مور زاده روند یعنې په قدرت د خدای ﷻ کما سیناتي.

دروښ وایي: چې دغه تفسیر د اکمه دهر په زړه پورې دی، ولي چې د مور زاده رانده جوړېده د تولو اطباؤ له طاقت څخه وتلی شی دی الی یوم القیامة وهو قول ابن عباس رضي الله عنه، او حسن بصري او سدي رحمهما الله وایي چې اکمه مطلق رانده ته وایي که څه هم عارضي وي، او عکرمه رحمه الله وایي اکمه اعمش ته وایي یعنې ضعیف

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

البصر چې تر سترګو يې اوښکې دهرې بهېږي.

دروېښ وايي: چې ددې جوړېده د طاقت بشري څخه خارج نه دی. او مجاهد رحمه الله وايي چې اکمه هغه سړي ته وايي چې د ورځې وينې او د شپې نه وينې ولايخفى ان تداوي هذا الشخص ليس بخارج عن طوق الاطباء وان كان على سبيل الندرة.

وَالْأَبْرَصَ

او پيس هم په قدرت د خداى ﷻ جوړولای سم، او جوړوالی د پيس هم له قدرت څخه د طبيبانو قديماً وحديثاً خارج دی.

پوه سه: چې عيسى عليه السلام ودغو دوو مريضانو بلکې شلانو ته وغيرهم ته په دغه دعاء دم کاوه اللهم انت اله من في السماء واله من في الارض لا اله فيها غيرک وانت جبار من في السموات وجبار من الارض لاجبار فيها غيرک وانت ملک من في السماء وملک من الارض لاملک فيها غيرک قدرتک في الارض كقدرتک في السماء، سلطانک في الارض كسلطانک في السماء اسئلک باسمک الكريم ووجهک المنير وملک القديم ان تشفى هذا المريض انک على كل شئ قدير.

قال وهب رحمه الله هذا الدعاء مجرب للفزع والجنون وامثال ذالک يقرء على المريض ويكتب ويسقى مائة يبرء ان شاء الله تعالى.

پوه سه: چې عادت الهي په دې سره جاري دی چې په يو زمانه کې چې يو کار و اوج ته د ترقي رسېدلی وي ونبي ته د هغې زمانې خداى ﷻ معجزه د جنس في الظاهر د هغه کار ورکوي او په هغه معجزه سره يې پر دوی غالبه کړخوي مثلاً په زمانه کې د موسى عليه السلام د سحر او جادو عروج و، يعنې چې ساحرانو به يو شی په نظر کې د خلګو خلاف د خپل حقيقت وروستی مثلاً لګړه يا رسی به يې د خلګو په نظر کې مار عظيم ورښکاره کړی، نو موسى عليه السلام ته خداى ﷻ د لګړې مار کېده چې په ظاهره کې له جنس څخه د ساحرانو د کار وه معجزه ورکړه او په هغه لګړه يې دی غالب وګرځاوه پر اويا زره ساحرانو د فرعون او هغو ټولو ايمان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راوړی والقصة قد مرت بالتفصیل، او په زمانه کې د عیسی علیه السلام د اکثرې او طبابت و اوج ته د عروج رسېدلې وه، نو خدای ﷻ وعیسی علیه السلام ابراء الاکمه وشفاء الابرص و احیاء الموتی معجزه ورکړه چې له قسم څخه د طبابت وه چې اطباء ټوله عاجزه ورته پاته سوه، حتی چې وهب بن منبه رحمه الله وایي چې په بعضې ورځو کې به عیسی علیه السلام ته پنځوس زره مریضان د مختلفو مریضیو جمع کېدل او ټولو ته به دعاء د عیسی علیه السلام شفاء ورکول حتی چې لږ زمانه نبوت د عیسی علیه السلام خپل عروج ته ورسېدی، حتی چې جالینوس چې د هغې زمانې تر ټولو لوی حاذق طبیب و د عیسی علیه السلام دغه کارنامې یو سړی ورته ذکر کړې جالینوس ورته وویل چې دا مذکوره کارنامې له محیط څخه د طبابت وتلې کارونه دي، نو عیسی علیه السلام که دغه کارونه کولای سوای نو لکه چې وای نبي دي.

دروېش وایي: چې عیسی علیه السلام به هر مریض ته دعاء کوله په شرط د ایمان راوړلو به یې ورته کوله او هم دا سبب دی چې د عیسی علیه السلام زمانه د مکث په مخکه کې که څه هم ډېره محدوده زمانه وه کمامر لکن بیا هم امت یې په دغه محدوده زمانه کې ښځې ډېر سو لمامر آنفاً چې په یوه ورځ کې به پنځوس زره مریضان هم ګاهې ګاهې ورته جمع کېدل.

دروېش وایي: چې په عربو کې فخر او کامیابي د دوئ په فصاحت او بلاغت او په ژباړې والي وه حتی چې یو شاعر چې یوه قصیده یعنې غزل به جوړه کړه نو پر دېوال د کعبې شریفې به یې وځړول لپاره د مقابلې د نورو شاعرانو، حتی چې په جاهلیت کې اول سړی چې د کعبې پر دېوال یې خپل غزل وځړول د فخر لپاره امرء القیس الکندي او دی له ابناء الملوک څخه و، وروسته تر امرء القیس الکندي یو جګ خولی شاعر چې د طر العبد البکري په نامه یادېدی خپله قصیده وځړول، وروسته تر هغه زهیر بن ابی سلمي خپل قصیده وځړول، وروسته تر هغه بیا لبید بن ربیعة خپل قصیده وځړول وروسته تر هغه بیا عمر بن کلثوم خپله قصده وځړول، وروسته تر هغه بیا عنترة بن شداد خپله قصیده وځړول، وروسته تر هغه بیا حارث بن حلزه خپله قصیده وځړول.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي دا اوه قصیدې ټولو بلغاؤ د عربو په اتفاق منلي دي یعني په زمانه کي د جاهلیت چي دا اوس هم دغه اوه قصیدې د کتابت په شکل کي چي معلقات سبع یې بولي موجودي دي او د علم ادب عربي ماهران یې وطالبانو ته په درس وایي لکن له جهته څخه د غایت اشکال د لغاتو ددې قصیدو د هر ملا وهغو ته لار د درس نسته.

درویش وایي: چي دا و احوال د عربو د جاهلیت چي فخر یې په فصاحت او بلاغت او ژباړې یو پر بل کاوه، نو څرنګه چي آنحضرت ﷺ نبي سو او د قرآن نزول شروع سو، او کفارو د مکې به ویل د قرآن مجید په باب کي چي دا یعني قرآن قول د شاعر دی، او علیه السلام یې شاعر بالله، نو خدای ﷻ په رد کي ددوئ دا قول په قرآن مجید کي علان وکړی "وان کنتم في ریب مما نزلنا علی عبدنا فاتوا بسورة الی اخیر الآیة" او په بل ځای کي یې بیا داسي ورته وویل "قل لئن اجتمعت الجن والانس علی ان یاتون بمثل هذا القرآن لا یاتون بمثله الخ او وروسته یې یو لنډ سورت د قرآن مبارک وخړول سو، نو فصحاؤ د عدنان او بلغاؤ د قحطان د ایتان د مثل له هغه څخه عاجزه پاته سوه لکن دا یې هم نه ویل چي عز زمونږ په سبب ددې دی چي دا کلام الهي دی او محمد ﷺ برحق دی د خپل کبر او ضدیت له کبله، بلکي سبب د عجز یې دا بیان کړی انهم سحروا تسحیراً یعني په مونږ سحر وکړه سو یعني علیه الصلوة والسلام یې په سحر سره مهتم کړی قاتلهم الله انی یوفکون.

درویش وایي: چي ددې قصې پوره بیان او بعض سوالونه او جوابونه د سورت بقرې په اوائلو کي ددې تفسیر مطالعه کړئ هداکم الله.

وَأُحْيِ الْمَوْتَىٰ بِإِذْنِ اللَّهِ

او زه ژوندي کوم مړي په اراده د خدای ﷻ.

پوښتنه: چي دمخه هم د عیسی علیه السلام په خبرو کي د بني اسرائیلو سره باذن الله عبارت عیسی علیه السلام ووایه نو بیا تکرار ته د هغه عبارت څه ضرورت و؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څواب: دا عبارت چې یې مکرر کړی لپاره د دفع د دعوی د الوهیت وخاتن ته، ولې چې احیاء الموتی له جنسه د افعالو د عبادو نه ده بلکې خاصه مختصه د خدای ﷻ ده، بخلاف ابرء الاکمه والابرص فانهما من جنس افعال العباد وکانتا ههنا معجزة، قال البغوي ؒ بروایة ابن عباس ؓ چې عیسی ؑ څلور نفره ژوندي کړي دي یو عازر، بل ابن العجوز، بل ابنة العاشر او بل سام بن نوح ؑ، د عازر د ژوندي کولو موضوع داسې و چې عازر د عیسی ؑ په زړه پورې دوست و، نو دی چې مریض سو او مرض یې سخت سو، نو د عازر خور و عیسی ؑ ته سړی را واستوی چې ستا دوست عازر په حال کې د ژکندن دی، او د عیسی ؑ او د عازر تر منځ د درو ورځو سفر مسافت و، نو عیسی ؑ او دده ملګري په دوهره چتکی سره خانونه را ورسول لکن دوئ چې راتله او رارسېدله عازر دري ورځې دمخه مړ سوی و، او خور یې عازر دفن کړی و، نو عیسی ؑ یې خور ته وویل چې درځه ما یې قبر ته وروله، نو خور یې د عیسی ؑ او ملګري دده سره روانه سوه نو دوئ یې قبر ته د عازر وروستل نو عیسی ؑ وخدای ﷻ ته خواست د ژوندي کولو د عازر وکړی، نو عازر له قبره را ووتی او چربې د بدن څندي څخېدله، او عیسی ؑ خدای ﷻ ته دعاء د صحت او د بقاء دده وکړه نو عازر هم جوړ سو او هم ژوندی و حتی عیال یې هم وسوه.

تنبیه: د عازر مرګ تر اجل موعود مطلق دمخه و نو ځکه په دعاء د عیسی ؑ ژوندی سو معجزةً له.

او د سپین سري د زوی د ژوندي کېدلو قصه داسې وه، چې د عجوز زوی خلګو مړ پر جنازه اخستی و او مور یې پسې ژړل، نو د عیسی ؑ یې پر مور زړه وسو او ویې پر وکړی چې قم باذن الله نو دا مړی پر جنازه را کښېنستی او ږا کښته سو له جنازې څخه مور یې کالي ورته راوړل هغه واغوستل او هغه جنازه مړي پخپله پر اوږو ورسره واخستل مخ د کور پر خوا، نو کور ته ورغلی او ژوندی پاته سو حتی چې عیال یې هم وسو.

او د ابنت العاشر قصه داسې وه چې پلار ددغې پېغلې له خلګو څخه مالیه

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

تولوله یعنې په اجازه د عیسی علیه السلام، نو دا بشت العاشر چې یوه ورځ دمخه مړه وه او پلار یې ډېر په خفه و، نو عیسی علیه السلام خدای جل جلاله ته خواست وکړی او هغه ژوندی سوه وبقیت حتی ولدلها ولد.

او هر چه ژوند و د سام بن نوح علیه السلام ژوند یې په داسې حال کې منځ ته راغلی چې یهودیانو عیسی علیه السلام ته وویل چې ته فقط تازه مړي ژوندي کوې، ته که نبی یې نو قدیم مړي ژوندي کړه یعنې سام بن نوح علیه السلام، نو عیسی علیه السلام ورته وویل ماته قبر را وښایاست نو قبر ته ورغلی او په اسم اعظم سره یې خدای جل جلاله ته خواست د احیاء د هغه وکړی، نو هغه له قبر څخه را ووتی او نیم سر یې سپین و او په هغه زمانه کې وېښتیان نه سپینېدل دده سر چې سپین و له بېرې د قیامت، نو عیسی علیه السلام ته یې وویل قد قامت القیامة؟ قال لا ولکن دعوتک باسم الله الاعظم ثم قال عیسی علیه السلام مُت یعنې مړ سه سام ورته وویل بشرط ان یعیذني الله من سکرات الموت فدعاء الله ففعل فمات، راویان وایي چې له وخت څخه د موت د سام تر دغه وخته پورې د ژوند دده تر څلور زره کاله بالاتې سوي وه او سام وحاضرینو ته دا وښا تر مرګ دمخه وکړه، صدقوه یعنې عیسی فانه نبي بالحق فآمن به بعضهم وقال الآخرون هذا سحر مبین.

وَأُنَبِّئُكُم بِمَا تَأْكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِي بُيُوتِكُمْ

او زه تاسې خبروم په هغه طعام چې تاسې یې خورئ او په هغه شي چې ذخیره کوئ یې تاسې په کورو کې خپل.

پوه سه: چې دا علم بالغیب نه دی بلکې دا علم په اعلام یا الهام د خدای جل جلاله دی، نو عیسی علیه السلام به بعضې خلګو ته وویل چې ما بنام دي فلانی طعام وخوړی او نن بیا فلانی شی خوري، او فلانی طعام دي د ما بنام آتیه لپاره ذخیره کړی دی، او سدي رحمه الله وایي چې عیسی علیه السلام به په مدرسه کې ومتعلمانو هلکانو ته ویل چې ستاسې پلرو برایي فلانی کار وکړی چې هلکان به نه وه په خبر، او بل هلک ته به یې ویل چې کور ته ولاړ سه چې ستا په کور کې فلانی شی وخوړل سو او تاته یې فلانی خوراک ایښی دی، او دا هلکانو به ورته ویل چې تاته چا دا خبرونه در کړه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو عیسی علیه السلام به ورته وویل چې هغه چا دا خبر راکړی چې زه یې رسول بالحق را استولی یم، په دې هلکانو کې په بعضو ایمان پر نبوت دده راوړی، باره یهودیانو خپل هلکان له مدرسې څخه منع کړه او داسې یې ورته وویل چې تاسې ددغه سحر گر سره هیڅ ملاقات مه کوئ، نو یهودیان خپل هلکان په یو سرای کې سره جمع کړي وه، نو عیسی علیه السلام په طلب د هغو هلکانو هغه سرای ته ورغلی چې هلکان پکښې جمع کړل سوي وه یعنې په ښوونه د جبرئیل علیه السلام نو خلگو ته یې وویل چې ستاسې هلکان چېرې دي؟ هغو ورته وویل چې هلک دلته نشته. عیسی علیه السلام ورته وویل چې په دې بند سرای کې څوک دي هغو ورته وویل چې په دې بند سرای کې سرکوزان دي، نو عیسی علیه السلام ورته وویل کذالک یکونون، خلگو چې دروازه ور خلاصه کړه ټوله سرکوزان وه، نو دا خبره په بني اسرائیلو کې مشهوره سوه، نو بني اسرائیلو یې قصد د مرگ وکړی، مور مریم رضی الله عنها وښېرېدل چې بني اسرائیل مې زوی عیسی علیه السلام را وژني، نو یو خر یې درلودی پر هغه سره سپاره سوه او مصر ته وتښتېدله، دا و د مظهري رحمه الله او سدي رحمه الله بیان، او قتاده رحمه الله وایي چې دا آیت یعنې "وانبئکم الآیة" په هغه مانده یعنې دسترخوان کې نازل سوی دی چې له اسمان څخه پر نصاری وو یعنې پر اتباعو د عیسی علیه السلام هر چېرې چې به وه نازل دی لکه من او سلوی د موسی علیه السلام پر یهودیانو نازلېدله هغه وخت دوئ په تیه کې وه کمامر في هذا التفسیر، او اتباع د عیسی علیه السلام خدای عزوجل په دې امر کړي وه چې په دې مائده کې په خیانت نه کوئ یعنې یو د بل حق په نه خوري او د بلې ورځې لپاره به ذخیر هم نه کوئ، نو دوئ هم خیانت شروع کړی او هم یې ذخیره جمع کول، او عیسی علیه السلام به دوئ ته د هرې ورځې خیانت وربښووی چې ښ مو دمره خیانت په مائده کې وکړی او دومره ذخیره اندوزي مو وکړه، او دوئ یې په سختی سره له دې کاره منع کوله خو ددوئ سره خپل هغه د لوړې ورځ ورسره وه او دا کار یې نه پرېښوی نو خدای عزوجل دوئ سرکوزان وګرځول.

پوه سه: چې ټوله اتباع د عیسی علیه السلام دغسې نه وه بلکې بعض کسانو دا کار کاوه. نو هغه ډله سرکوزان سوله وبس.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٤٩﴾

په تحقیق سره په دغو خارقه د عادت الهیه دلیل دی یعنی پر صدق د عیسی علیه السلام په دعوه کي د نبوت تاسي لره که چېرې تاسي اراده او خواهش لرئ د ایمان یعنې پر انبیاء علیهم السلام د خدای ﷻ عموماً او پر عیسی علیه السلام خصوصاً نو ایمان راوړئ پر عیسی

سوال: امور خارقة للعادة خو په تېرو آیتو کي د پر ذکر سوه او ذالک خو اشاره ویوه شي ته وي؟

ځواب: امور خارقه ووته اشاره په تاویل د ما ذکر ده او ما ذکر خو مفرد دی ومثل هذا کثیر في القرآن والسنة العرب والکتب العربیة، او په دغه جواب سره هغه سوال هم دفعه سوه چي مذکوره في الآیات السابقة خو د پر دلائل وه پر صدق د عیسی علیه السلام نو ولي لآیة مفرد راوړی ووجه الدفع ظاهر.

وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ

او زه تصدیق کونکی یم د هغه کتاب چي زما تر مخه نازل سوی دی یعنې تورات او د انبیاء علیهم السلام دا شان دی چي د ټولو کتب سماویه تصدیق کوي او یو د بل سره انبیاء علیهم السلام په عقیده د تصدیق ګوري

فائده: مصدقًا" بعض مفسرین عطف بولي پر رسولاً چي دمخه تېر سو، او بعض مفسران وایي چي مصدقاً مفعول به د فعل محذوف دی چي قد جئتکم دلالت پر وکړی یعنې وجئتکم مصدقاً.

وَلِأُحِلَّ لَكُم بَعْضَ الَّذِي حُرِّمَ عَلَيْكُمْ

پوه سه: چي حرف جر متعلق دی په قد جئتکم پوري یعنې زه راغلی یم د خدای ﷻ په حکم چي تاسي یعنې بني اسرائیلو ته حلال وګرځوم بعض هغه شیان چي په تورات کي پر تاسي حرام ګرځول سوي وه، لکه د بعضي حیواناتو غوښې او وازګي د ټولو حیواناتو یعنې حرمت به یې منسوخ سي او په حل به بدل سي

پوښتنه: دمخه وویل سوه چي زه مصدقاً د تورات یم نو بیا څرنګه بعض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

احکام د تورات له منخه ځخه وړي؟

ځواب: نسخ خو منافي د تصدیق نه دی لکه د قرآن بعض حکمونه په نورو حکمو سره نسخ کړي، او سره ددې قرآن یصدق بعضه بعضاً.

وَجِئْتُكُمْ بِآيَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ۖ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿٥٠﴾

پوه سه: چې دا آیت تکریر د سابق دی للتاکید، او یا مراد له آیت څخه آیات الانجیل دی فهو تاسیس والله اعلم بمراده، نو خدای ﷻ ځخه وبیرېږئ یعني له عذاب ځخه د خدای په ورځ د قیامت، او زما اطاعت وکړئ په دین کې د انجیل چې پر ما نازل سوی دی.

إِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ ۗ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٥١﴾

او دغه یعني بېره د خدای ﷻ او اطاعت زما لاره ده سمه چې ودې لاري ته شاهدي د استقامت موجوده ده.

پوه سه: چې اصحاب السنن الاربعة یعني سنن ابي داوٗد، سنن نسائي، سنن ابن ماجه او سنن ترمذي، او علاوه پر هغو احمد او بخاري په تاریخ کې روایت کړی دی چې یوه ورځ یو سړي له علیه السلام ځخه پوښتنه وکړه په دې الفاظو سره "مرني في الاسلام لا اسئل احداً بعدک" ماته امر وکړه په اسلام په داسي شي چې زه بیا سوال ونه کړم له هیڅ چا ځخه وروسته تر تا، نو علیه الصلوة والسلام په جواب کې داسي یو جامع عبارت د ټولو اوامرو او د منهیاتو ورته ووایه "قل آمنت بالله ثم استقم" ووایه چې ما ایمان راوړی دی پر خدای ﷻ او بیا پر هغه ایمان کلک ودریږه.

پوه سه: چې صراط مستقیم چې موږ یې په هر لمانځه کې متعدد واروسته خدای ﷻ ته ځوانست کوو په سورت فاتحه کې، هغه دغه لار بولي چې سړی یې له عذابه په ورځ د قیامت وجنت دار الابرار ته ورسوي، او دا هغه لار ده چې پر هغه ټوله انبیاء کرام علیهم السلام متفق دي.

فائده: ان الله ربي وربکم" اشاره ده وتصحیح ته د قوت نظریه یعني المعتقدات، او فاعبدوه اشاره ده وه استکمال ته د جنبه عملیه لان العبادة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شامل للاوامر والمنهيات كلها يعني اداء الاوامر والاجتناب عن المنهيات. وروسته خدای ﷻ تاکید ددې لارې وکړی بقوله هذا صراط مستقيم، قال رسول الله ﷺ لايكون احدكم كالعبد السوء ان خاف عمل ولا كالاجير السوء ان لم يعط لم يعمل" ددې معنا داده چې عبد اديب د خدای ﷻ هغه څوک دی چې على الدوام پر دوازه د طاعت الهي ولاړ وي من حيث انه مولاه ولا ينظر الى شئ سواه لا الى الجنة ولا الى النار.

دروېش وايي: چې دا تجرد شان د عالي همة بندګانو د خدای ﷻ دی اللهم اجعلنا منهم، مولانا جلال الدين الرومي وايي

سالها بايد كه اندر افتاب　　لعل يابد رنګ ورخشان وتاب

فَلَمَّآ اَحَسَّ عِيْسٰى مِنْهُمُ الْكُفْرَ قَالَ مَنْ اَنْصَارِيْٓ اِلَى اللّٰهِ

او هغه وخت چې د عيسى علم راغلى، علم يقيني لا شبهة فيه لكه د محسوساتو علم چې پر ضرورياتو او بدهياتو دی له يهوديانو څخه پر كفر ددوئ نو يې وويل چې څوک دی زما كومک كونكی په تبليغ كې د دين مبين عيسوي

پوه سه: چې لما ظرف زمان دی متضمن معنا لره د شرط دی. او جواب يې من انصاري الى الله، او كلمه د "فا" لپاره د اظهار له تحقق څخه د جميع ماقاله الملائكة وخروجه من القوة الى الفعل كانه قيل فحملته امه فكان كيت وكيت وقال ذيت وذيت،

فائده: د الى الله په معنا او تعلق كې اختلاف دی، روح البيان او روح المعاني وايي چې الى متعلق دی په محذوف پورې چې هغه حال دی له ياء څخه د متكلم، والتقدير من انصاري متوجهاً الى الله وملتجئاً اليه.

پوه سه: چې عيسى ﷺ دا خبره هلته وكړه چې اصرار د يهوديانو يې پر كفر وليدی او په دې پوه سو چې د يهوديانو ليدل زما د معجزاتو نه زيانوي مګر اصرار پر كفر، او په عين حال كې يهوديان زما د قتل بند وبست كوي، او مظهري په معنا او تعلق كې د الى الله اخيري توجيه د روح البيان كړې ده، نور يې بيا نور توجيهات قياسه كړي دي، ګاهي وايي چې الى په معنى د مع ده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قیاساً علی قوله تعالی ولا تاکلوا اموالهم ای الیتامی الی اموالکم ای مع اموالکم، نو معنا د آیت داده من انصاري مع الله، او ګاهي وایي چې الی په معنا د في ده. والمعنی من انصاري في الله ای في سبیل الله. او ګاهي وایي الی په معنا د لام چاره ده، والمعنی من انصاري لله یعني لپاره د خدای ﷻ او په اخیر کې یې ددې توجیهات ویلي دي چې نو الی پر دې توجیهاتو ظرف لغو دی.

درویش وایي: چې پر توجیه د روح البیان کلمه د "الی" ظرف مستقر ده، زه وایم چې دومره فراخي او مجازات په تفسیر کې د قرآن عزیز لائق نه دي والله اعلم بمراده في کلامه المجید.

قَالَ الْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنْصَارُ اللَّهِ ۖ آمَنَّا بِاللَّهِ ۖ وَاشْهَدْ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ﴿٥٢﴾

وویل په جواب کې د عیسی ﷺ حواریینو چې مونږ کومکیان یو د خدای ﷻ یعني انصار دینه ونبیه مونږ ایمان راوړی دی یعني پر خدای ﷻ او پر رسول د خدای ﷺ چې عیسی ﷺ دی او ته شاهد اوسه په دې سره چې مسلمانان یو، یعني په ورځ د قیامت چې رسولان شاهدي اداء کوي د خپلو امتیانو لپاره په ایمان او اسلام سره ولعلهم علموا هذه الشهادة من عیسی ﷺ، حواري هغه سړي ته وایي چې مخلص تام وي مشتق دی له حور څخه وهو البیاض الخالص.

فائده: په قاموس کې وایي چې د حواري یوه معنا مطلق کومکي ده، او بله معنا یې ناصر الانبیاء ده، او دوبي ته چې د خلګو کالي په مزدوري له خیرو څخه ورپاکوي هم وایي، او حمیم یعني دوست مخلص ته هم وایي.

یوه سه: چې اصحاب د عیسی ﷺ د څه سببه د حواریینو په نامه نامزد سوه؟ بعض مفسران وایي لخلوص نیتهم في الدین یعني له نفاق او ریاء څخه خالي وه، او څوک وایي چې دوئ ناصران د عیسی ﷺ وه په ترویج کې د دین دده، او حسن بصري او سفیان ثوري وایي چې دوئ ملوک وه چې کومک څندي وغوښتی عیسی ﷺ پر یهودو باندي، او دوي عادةً سپین کالي اغوستل، او ابن جریر له ارطات څخه روایت کړی دی چې دوئ دوبیان وه چې د خلګو کالي به بې ورپاکوله کمامر، او ضحاک وایي چې سموا به لصفاء قلوبهم من الذنوب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او عبدالله بن المبارک رحمه الله وایي چي په دې یې حوارین بلل چي اثار او انوار د عبادت به ددوئ په مخانو کي برښېدل، او کلبي اوعکرمه وایي چي دوی دولس (۱۲) کسه وه چي په اعلی درجه کي مخلصین د عیسی وه، او روح بن قاسم وایي چي ما له قتاده رحمه الله څخه سوال وکړی د حوارینو د معنا فقال هم الذین یصلحون للخلافة، للخلافة، او بعض وایي چي د حواریینو معنا وزراء ده، او مجاهد او سدي وایي چي دوئ د ماهیانو ښکار کونکي وه. د مظهري د عبارت پښتو ژباړه.

دروېش وایي: چي روح البیان دېر په زړه پوري تفسیر د حواریین کړی دی، حیث قال یقال فلان حواري برگزیده من است، او دی وایي چي دولس کسه وه چي بعض یې ملوک وه او بعض یې صیادی السمک وه، او بعض یې دوبیان وه، او بعض یې رنگرېزان وه، لکن دی په اخیر کي وایي چي دوئ چي حواریین مسمی سوه په دې سبب چي دوئ انصار د عیسی علیه السلام وه او مخلصان یې وه او صادق المحبة وه، د روح البیان مطلب دادی چي په قرآن مبارک کي تسمیه د دوئ په حواریینو سره د بعض مذکوره معاني لغویه په سبب نه ده لعدم المدح في تلک المعاني بلکي په معنا مذکوره سره یې په قرآن کي حواریون وبلل لکونه اسم مدح لهم.

دروېش وایي: چي ددې تائید هغه حدیث نبوي کوې چي علیه الصلوة والسلام د یوه کار مهم لپاره دري واره خلگو ته دعوت ورکړی نو قبول د دعوت هره یلا زبیر رضی الله عنه وکړی، نو علیه الصلوة والسلام وویل لکل نبي حواریاً وحواري الزبیر" بخاري مسلم.

رَبَّنَآ اٰمَنَّا بِمَآ اَنْزَلْتَ وَاتَّبَعْنَا الرَّسُوْلَ فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۵۳﴾

ای زمونږ خدایه ایمان مونږ راوړی دی په هغه کتابو تولو سره چي تا نازل کړی دي عموماً وخصوصاً بالانجیل، او مونږ متابعت کوو د رسول چي عیسی دی، یعني په تولو ما امرنا به ونهانا عنه، نو تفریعاً علی ما سبق دوئ دا دعا وکړه نو مونږ نوشته کړې په جمله د شاهدانو یعني په وحدانیت سره ستا او پر نبوت د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

انبياء عليهم السلام او ابن عباس ﷺ وايي چي مراد له شاهدين څخه محمد ﷺ امت دده دي لانهم يشهدون للرسل بالبلاغ يعني هغه ورځ چي امتيان د انبياء عليهم السلام منكره سي له تبليغ څخه ددوئ كماجاء في الحديث الطويل للبخاري ومسلم وغيرهما، او عطاء رحمه الله وايي چي له شاهدين څخه تولـه انبياء مراد دي لان كل نبي شاهد لامته انكروا او لم ينكروا

پوه سه: چي مع الشاهدين حال دی له مفعول څخه د "فاكتبنا" ای كاتبين بالشاهدة مع الشاهدين، او چونكه خدای پاك په بل خای كي د قرآن ويلي دي "كلا ان كتاب الابرار لفي عليين" او عليون په اسمانو كي د يو كتاب نوم دی په هغه كي له انبياؤ څخه علاوه د تولـو ابرارو نومان ثبت دي او هغه كتاب د ملائكه وو مقربينو سره دی نو چي د سړي نوم په هغه مبارك كي نوشته وي، نو نوم د هغه سړي په ملاء الاعلى كي مشهور او مشهود وي.

وَمَكَرُوا وَمَكَرَ اللّٰهُ ۖ وَاللّٰهُ خَيْرُ الْمَاكِرِيْنَ ﴿٥٤﴾

او دغو يهوديانو چي عيسى عليه السلام له دوئ څخه احساس د كفر وكړی چم يې وكړی وقتل ته د عيسى او خدای پاك ودوئ ته مكروه كړی او خدای خير او قوي د ماكرينو دی

دروښ وايي: چي دا صرف لفظي ترجمه د آيت ده، بيان د مراد به وروسته موږ ذكر كړو.

پوه سه: چي مكر او خديعة چم ته وايي، او مكر خو وبندګانو ته هم حرام دی، نو نسبت يې وخدای ﷻ څرنګه وسو؟ ددې سوال په جواب كي بعض مفسرين وايي چي معنا د مكرالله جازاهم الله على مكرهم يعني جزاء ته مكر يې مكروه ووايه فهو من قبيل قوله تعالى وجزاء سيئة سيئة قاله الزجاج رحمه الله، او بعض مفسران رح وايي چي له جهته څخه د ازدواج د مكروا يې لفظ د مكر منسوب كړی وخدای ﷻ ته كما في قوله تعالى صبغة الله ومن احسن من الله صبغة"

دروښ وايي: چي د مكر د يهوديانو مختلفي قصي مفسرين بيانوي، مظهري وايي چي كلبي رحمه الله د ابو صالح هغه له ابن عباس ﷺ څخه له لنډه توګه داسي وايي چي عيسى عليه السلام يوه ورځ روان و چي يو جماعت د يهوديانو په مخه ورغلی، نو چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دغه جماعت د یهودو دی ولیدی داسي یې وویل جاء الساحر بن الساحرة، نو ده او مور دواړو ته یې دغه بنکنځل وکړه، نو عیسی علیه السلام پر دوی لعنت ووایه او بېرا یې ورته وکړه نو دغه ټوله سرکوزان سوه، نو یهوداء چې د ټولو یهودیانو رئیس و وېرېدی چې بیا بېرا ونه کړي چې نور یهود به هم سرکوزان سي، نو یې اتفاق پر دې وکړی چې عیسی علیه السلام به حتماً وژنو، نو په دې پر تلوار وعیسی علیه السلام ته را روان سوه چې قتل یې کړي نو جبرائیل راغلی او عیسی یې په پوه خونه خندي دننه کړی چې هغې خونې روښن دان درلودی، نو د یهودیانو دا خیال سو چې عیسی پخپله په دې خونه ننوتی، نو یهوداء رئیس الیهود یو سړی چې نوم یې طیطیانوس و امر کړی چې په خونه پسې ور ننوزه او عیسی قتل کړه، او جبرائیل علیه السلام عیسی تر هغه دریچه د بام خندي پورته کړی آسمان ته، او سبهه د عیسی علیه السلام یې پر هغه سړي واچول یعنې د هغه سړي صورت د عیسی وګرځېدی، نو هغه سړی چې را ووتی ددوی په نظر عیسی ورغلی باره یې مړ کړی.

دروېش وایي: چې تر دې خایه پوري د مظهري رحمه الله بیان و، او روح البیان تر دې خایه ورسره موافق و تقریباً، وروسته یې دا زیاته کړې ده چې عیسی علیه السلام چې جبرائیل واسمانو ته پورته کړی، نو هوري خدای جل جلاله لکه د ملائکو وزر ورکړه او د نور په لباس یې ملبوسه کړی او له ده څخه یې د خوراک او څښاک شهوت قطع کړی لکه له ملکو څخه وطار مع الملائکة حول العرش، روح البیان وایي فکان انسیاً ملکیاً سماویاً وارضیاً، وروسته هغه سړی چې یهوداء ور واستوی چې ورسه عیسی قتل کړه او خدای جل جلاله د عیسی علیه السلام صورت او شبهه ورکړې وه نو هغه سړی چې را ووتی چې دی ووایي چې عیسی په خونه کې نه و، نو هغه سړی یې په سبب د شبهه د عیسی قتل او په دار یې کړی چې وروسته یې هغه مصلوب وکتی له مخه څخه ټیولې تر نامه پورې بدن د عیسی و، او تر نامه لاندې بدن یې ددوی د استول سوې سړې و، نو حیران سوه او بل په دې حیران سوه چې که دا مصلوب عیسی وې نو هغه زموږ سړی څه سو او که دا هغه زموږ سړی وې نو عیسی څه سو، ولهذا قال الله تعالی وما قتلوه وماصلبوه ولکن شبه لهم، دوی مصلوب په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دار کړی د عیسی مور مریم او یوه بله بنځه ورسره وه چې هغه د مخه لهونی وه او په دعاء د عیسی علیه السلام له جنونه جوړه سوې وه راغلې نو دواړو ژړل د مریمې او د هغې بنځې په سبب د شبهه د عیسی پر مصلوب باندې دا خیال و چې عیسی په دار خړپړې نو یې خکه ژړل، نو خدای پاک عیسی علیه السلام ته ووېل چې ېیرته ورسه او مور او هغه بله بنځه چې ژاړي خبرې یې کړه، نو عیسی علیه السلام چې راغلی نو مور او هغه بلې بنځې ته یې ووېل علی من تبکیان؟ پر چا ژاړئ، مور او هغه بلې بنځې ورته ووېل چې پر تا ژاړو عیسی علیه السلام ورته ووېل چې زه یې نه یم په دار کړی زه خدای جل جلاله اسمانو ته پورته کړم، دا یوه اشتباه وه د یهودیانو چې خپل سړی یې په دار کړی، وروسته تر اوو ورځو خدای پاک وعیسی علیه السلام ته امر ورکړی چې ته مجدلانیه چې د یو ځای نوم دی او په دې ځای کې یو غر دی پر هغه ورکښته سه، ولې مجدلانیه پر تا دومره ژړلې دي چې هیڅ چا په تا پسې دومره نه دي ژړلې، او بیا یې حواریین سره جمع کړل نو په اطرافو کې د مخکې یې سره متفرق کړل چې خلګ وخدای جل جلاله ته راوبولي، نو خدای جل جلاله پر مجدلانیه پر هغه غره عیسی علیه السلام راکښته کړی نو چې دی پر راکښته سو، نو غر خالص نور وګرځېدی، نو حواریین یوه سوه چې عیسی علیه السلام ېیرته راکښته سو، نو ټوله حواریین ورته راجمع سوه، نو عیسی علیه السلام هر یو له حواریینو پر یو طرف د دعوت الی الله لپاره مقرر کړه او عیسی علیه السلام ېیرته اسمانو ته ولاړی، چې سهار سو هر حواري د هغو خلګو ژبه چې دی پر مقرر و زده به وه په قدرت د خدای جل جلاله فذالک المذکور کله معنی قوله تعالی ومکروا ومکرالله والله خیر الماکرین.

دروېش وایي: چې تر دې ځایه پوري د روح البیان بیان پای ته ورسېدی والله اعلم بالصواب، پر بنده تصحیح د نقل لازمه ده او په صحت د منقول خدای جل جلاله علم لري

دروېش وایي: چې حوالې د هر تفسیر زه کوم د حاسدانو خوله له ځانه کاږم لکن کاشکې دوئ خوله د حسد پټه نیولې وای لکن دوئ خو وایي چې عبیدالله خو صرف ناقل دی، زه ورته وایم چې نعم لکن ته دومره مهرباني وکړه عربي عبارتونه دونه فصیح ژباړې ته په پښتو په وطني ژبه را واړوه ومن الله التوفیق.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي روح المعاني یو ډېر لوی تفسیر کړی دی، او دی وایي چي عیسی علیه السلام په یوه ورځ کي حواریین سره راجمع کړه، او دوی ته یې وصیت وکړی، او بیا ده دوی ته وویل چي یو له تاسي څخه به کافر سی دمخه د چرګ تر اذان او ما به پر یهودو خرڅ کړي په یو څو درهمه، یعني یهودو ته به می وربښیي، نو حواریین ووتل او سره متفرق سوه، او حیران په دې کي وه چي کوم یو حواري به وي چي دا کار وکړي او یهودیان په طلب کي د عیسی علیه السلام وه، نو یو له حوایینو څخه چي نوم یې نه دی ذکر سوی یهودیانو ته ورغلی چي ماته څو روپۍ راکوئ چي زه عیسی در وښیم؟ هغو ورته وویل دېرش (۳۰) درهمه درکوو، نو هغه روپۍ له یهودیانو څخه واخستلې او هغه خوني ته ورغلی او ده وویل چي عیسی خو په دغه خونه کي پټ سو چي اوس سته و که وتلی دی، نو هغه حواري چي په خونه ور ننوتی خدای ﷻ شبهه د عیسی علیه السلام پر هغه واچول، او جبرائیل علیه السلام راغلی او عیسی علیه السلام یې د بام له خوا څخه آسمان ته پورته کړی، هغه سړی چي را ووتی چي دوی ته ووایي چي عیسی په خونه کي نه و، یهودیانو په سبب د شبهه د عیسی هغه ټینګ کړی چي په دار کاوه یې هغه ناري کړې چي زه خو هغه سړی یم چي دلالت د عیسی علیه السلام وتاسي ته وکړم، نو خلګو یعني یهودیانو دده خبرې ونه منلې او قتل یې کړی.

درویش وایي: چي وروسته روح المعاني د روح البیان خبرې راوړې دي، چي عیسی علیه السلام بهرته راکښته کړه سو او باقي حواریین یې سره جمع کړه او یوې خوا او بلي خو ته یې د دعوت لپاره مقرر کړه، الخ. او بیا روح المعاني یو بل روایت داسي راوړی دی چي څه وخت چي یهودیانو اراده د قتل د عیسی علیه السلام وکړی، نو دی او حواریین په یوه خونه کي سره جمع سوه، نو ابلیس وجماعت ته د یهودو ووېل چي عیسی او حواریین یې په دغه خونه کي دي، نو څلور زره یهود سره جمع سوله او هغه خونه یې تر محاصري لاندي ونیوله، نو عیسی علیه السلام وحواریین ته ووېل چي کوم یو به ستاسي څخه تیار سي چي زما شبهه پر ولوبړي، او یهود یې زما په ګمان قتل کړي، او ژه آسمان ته ولاړ سم او هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سړی به زما سره په جنت کې ملګری وی، نو یوه حواري دا خبره قبوله کړه، نو عیسی علیه السلام د وړیو قمیص په واغوستی او لکړه یې په لاس کې ورکړه، لکه د عیسی علیه السلام چې به هم داغسې لباس او لکړه وه. او نوره شبیهه صورې د عیسی علیه السلام پر وه او له دروازې څخه د خونې پر بهر دو را ووتی یهودو ناري کړې چې هغه دی عیسی را ووتی، نو هغه ده د قتل په موضوع اخته سوه، نو یو وار یې قتل کړی او بیا یې په دار وخړاوه. خبر ورروسته پاته نصاری درې ډلې سوه یوې ډلې وویل چې عیسی خو خدای و او له موږ څخه اسمانو ته والاړی، او بلې ډلې وویل چې عیسی خو ابن الله و خدای خپل زوی له موږ څخه اسمانو ته پوتلی، او بلې ډلې وویل چې عیسی عبدالله او رسول د خدای و ماشاء الله زمور سره و، نو بیا خدای عزوجل اسمانو ته پورته کړی وهذا الفریق کانوا علی الحق في دین عیسی، وروسته هغه دوو کافرو ډلو پر مسلمانه ډله باندې برید وکړی نو هغه مسلمانه ډله یې تقریباً ټوله په شهادت ورسول، نو دین اسلام د عیسی علیه السلام مخ پر زوال و، او د یهودیانو هغه ناري جاري وې چې عیسی نبي نه و بلکې ساحر و تر هغو پروې چې خدای عزوجل محمد صلی الله علیه وسلم مبعوث کړی او قرآن منزل پر ده شاهدي ورکړه یعنې پر نبوت د عیسی او د مریمې پاک دامنې یې بیان کړه لکه چې په دمخه آیتو کې مفصل ذکر تیر سو، او بیان د عیسی علیه السلام به هم راسې په وروسته آیتو کې

دروېش وایي: چې له ابن اسحق رحمه الله څخه روایت دی چې یهودیانو وروسته تر رفع د عیسی حواریینو ته ډېر عذابونه ورکول او په ډېر تکلیف یې اخته کړي وه تبلغ ذالک ملک الروم او د یهودیانو ملک د هغه تر حکم لاندې و، او د ملک الروم نوم داوٗد بن نوز و، نو ملک الروم ته تفصیلي احوال د تعذیب د حواریینو یو سړی داسې بیان کړه چې یو سړی د بني اسرائیلو چې سته تر امر هم لاندې و او نوم د هغه سړي عیسی و دعوی د نبوت یې وکړه او بني اسرائیلو ته یې معجزةً احیاء الموتی او ابراء الاکمه والابرص وربنکاره کړه وفعل کذا وکذا، نو هغه رسول چې بني اسرائیلو یې اراده د قتل درلوده واسمانو ته خدای

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

پاک پورته کړی او د هغه نمائیندګان د دعوت الی الله چې په نامه د حواریون یادیږي هم دا اوس د بني اسرائیلو له خوا څخه تر سختو عذابو لاندې دي، ملک الروم وویل چې که زه دمخه خبر وای مابه بني اسرائیل د دغه مدعي النبوة له قتل څخه جدا منع کړی وای بیاملک الروم وملک الیهود ته امر وکړی چې دغه حواریون دلته را واستوه، نو ملک الیهود مجبور سو حواریون پې روم ته واستول، نو ملک الروم د عیسی علیه السلام په باب کې تفصیلي حالات وپوښتله نو حواریانو هم په ډره ډره د عیسی علیه السلام احوال ورته بیان کړه، نو ملک الروم ایمان راوړی پر عیسی علیه السلام، او د حواریونو سره یې بیعت د اسلام وکړی، وروسته ملک الروم پر بني اسرائیلو حمله وکړه فقتل منهم خلقاً کثیراً ومن ثم ظهر اصل النصرانیة في الروم، وروسته تر نام برده ملک الروم یعنې چې دی مړ سو د رومیانو بل بادشاه په نامه د طیطوس د بادشاهي پر تخت کښېنستی او ده بني اسرائیلو سره یې غزاء شروع کړه، او پر بیت المقدس یې حمله وکړه چې د رفع د عیسی علیه السلام او ددغې حملې تر منځ څلوېښت کاله تېر سوي وه، نو وېر یهودیان یې په قتل ورسول او بنځې او کوچنیان یې په سبي ونیول او په بیت المقدس کې یې یوه ډېره پر بله پرته نه پرېښول، نو بني النضیر او بني قریضه چې د یهودیانو دوه قوم وه مخ پر لوري د حجاز فراره سول، وهذا تمام القصة التي نقلها صاحب روح المعاني في الجزء الثالث ص ۱۷۸.

إِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَىٰ إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ

پوه سه: چې "اذ" ظرف دی د ومکر الله فالمعنی چې دغه مکر الله په هغه معنا چې ذکر سوه هغه وخت وه چې خدای پاک وویل وعیسی ته چې تازه قبض کوم له دنیا څخه یعنې پېښه مرګه او زه تا پورته کوم وخان ته یعنې وخای ته د عزت زما او وخای ته د ملګو زما، او روح البیان عامل د "اذ" مقدر بولي یعنې اذکر وقت قوله تعالی، او هغه معنا د متوفیک داسې کړې ده، چې زه پایه د تکمیل د اجل رسوم یعنې بېله دې چې کافران تا مړ کړي او زه تا خپلوم تر اجل مکتوب پورې یعنې بیا به لکه نور انسان د غسي مري عند انتهاء اجلک لا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قتلا بايدي الكفار، لكه چې يهودانو مرام د قتل ستا پر مخ بيايي، او زه پورته کوم اوس تا ومحل ته د کرامت.

سوال: دا پورته کول وخای ته د کرامت نو ولې رفع وخدای ﷻ ته وبلل سول؟

خواب: دايه رفع وخدای ﷻ ته تعظيماً وبلل، لكه په دې قول د ابراهيم ؑ چې د عراق ترک او شام ته يې سفر شروع کړی نو داسې وويل، انې ذاهب الى ربي تعظيما لذالک السفر، او دغه رنګه حاجيان زوار الله بولي يعني زيارت کونکي د خدای ﷻ تعظيماً لزيارة بيت الحرام، او يا معتکفانو ته جيران الله وايي يعني همسايه ګان د خدای ﷻ تعظيماً للاعتکاف.

دروېش وايي: چې د مذکوره آيت بېخې ډېرې ترجمې کړل سوي دي، او تر ټولو صحيح ترجمه هغه ده چې امام قرطبي ؒ په خپل تفسير کې کړې ده چې عيسى ؑ خدی پاک اسمانو ته پورته کړی ببله خويه لكه په بعض روايتو ضعيف السند کې چې د انس ؓ څخه مروي دي او په يو وار وفات سره وهذا هي الرواية الصحيحة عن ابن عباس ؓ واختاره المحقق الطبري، او بعض مفسرين ؒ چې آيت محمول پر خپل ظاهري دی يعني له وفات څخه مرګ مراد دی، ولې چې ابن جرير له ابن وهب څخه روايت کړی دی چې عيسى بن مريم خدای ﷻ دې ساعته په ورځ کې مړ کړی او بيا يې ژوندی کړی او اسمانونه يې پورته کړی، او حاکم ابو عبدالله بيا داسې روايت کړی چې عيسى ؑ اوه ساعته خدای مړی کړی بيا يې اسمانو ته پورته کړی او دغه رنګه دی وايي چې د مريم چې عيسى ؑ په نس کېدی دا د ديارلسو (۱۳) کالو وه، او عيسى چې اسمانو ته پورته کېدی عمر يې درو ديش (۳۳) کاله و، او مور مريم يې دروسته تر رفع دده شپږ (۶) کاله ژوندی وه، ابن اسحاق صاحب المغازي وايي چې روايات د موت د عيسى قبل الرفع مروي دي له نصارى وو څخه، او څوک چې نسبت و ابن عباس ؓ ته کوي هغه روايت ضيعف دي، قاله الآلوسي ؒ

دروېش وايي: چې علامه بغداد خاتمة المحققين مرجع اهل العراق ومفتيهم ابى الفضل شهاب الدين السيد محمود الآلوسي البغدادي المتوفي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سنه ۱۲۷۰ هـ ق او نن صبا سنه ۱۴۲۶ هـ ق ده، ددې آیت په متعلق اته (۸) معناوي ذکر کړې دي چې بعض له هغو معنا وو مظهري په نقل له بغوي څخه هم ذکر کړې دي. لکن په اخیر کې علامه بغدادي وايي ولا يخلو اكثر الاوجه عن بعد انتهى، او بيا علامه بغداد د نصارى قولونه او خرافات په بارې کې د عیسی علیه السلام په دوه مخه کې راوړي دي او ټوله يې رد کړې.

دروېش وايي: چې که زما د تفسیر میدان تنګ نه وای نو ما به د هغو ټولو په پښتو وطني ژبه ترجمه کړې وای بیت

تاطبع شریفت نه پذیرد ملامتی این به که اینجا بدعا مختصر کنیم

فائده: عیسی علیه السلام په اخیر د زمانې له اسمانو څخه راکښته کېږي، ابو هریره رضي الله عنه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه داسې روایت کړی دی ژباړه پښتو "زما دې په هغه خدای قسم وي چې زما روح د هغه په قدرت کې دی چې هر آئینه قریب دی چې ابن مریم به په تاسې کې راکښته کېږي، حاکم به وي، عادل به وي، او صلیب د نصارى وو به ماتوي یعنې چې نصارى يې اوس عبادت او تعظیم کوي. او سرکوزان به وژني یعنې چې نصارى يې هم دا اوس غوښې خوري او جزیه به نه قبلوي یعنې دده حکم یا اسلام دی او یا قتل

پوه سه چې د جزیې حکم چې اوس په اسلام کې سته دده په راکښته کېدو سره پای ته رسېږي فلا یلزم نسخ لبعض احکام الاسلام من جانب عیسی، او علیه الصلوة والسلام وایي چې مالونه به داسې حتی چې هیڅ څوک به مال له چا څخه نه قبلوي یعنې نه په زکواة کې او نه په صدقه کې

دروېش وايي: چې یا په سبب ددې چې مخکه به خپلې خزانې راښکاره کړي نو هر سړی به په هغو خزانو مالداره وي، نو د بل زکواة او صدقه څه کوي او یا په سبب د تیفن د قرب القیامة، علیه السلام وویل چې یوه سجده به خیر وي تر دنیا ومافیها، ثم قال ابو هریره رضي الله عنه اقرئوا ان شئتم وان من اهل الکتاب الا لیؤمنن به قبل موته، یعنې دا قول د قرآن تصدیق دی د قول د علیه السلام چې تاسې واورېدی، وفي روایت اخری کیف انتم اذا نزل ابن مریم فیکم وامامکم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

منكم يعني المهدي عليه السلام الى ههنا الحديث" متفق عليه للبخاري ومسلم. وفي رواية لمسلم وليتركن القلاص فلا يسعى عليها او يري به بمول سي حامله اوبماتي څوک به سعي نه پر کوي يعني مع انها اعز اموال العرب. ولبذهبن الشحناء والتباغض والتحاسد" او ولار به سي يعني د خلګو له زړونو څخه بغض او بښکاره، او يو له بله سره حسد کول. ولي دا افعال بوله مينې پر حب د دنيا وه او په وخت کي د نزول د عيسى عليه السلام خلګو نه قيام القيامة نصب العين سي، نو د زړونو څخه به حب د دنيا ووزي ومايتفرع على حب الدنيا من التباغض وغيره، وليدعون الى المال فلا يقبله لمامر في الحديث المتفق عليه وفي رواية اخرى ويهلك في زمانه اى عيسى الملل كلها الا الاسلام ويهلك الدجال، او هلاک به کړه سي دجال کذاب يعني د عيسى پر لاس، نو څلويښت کاله به عيسى عليه السلام ژوندی وي او بيا به په اجل موعود سره مړ سي، او د جنازې لمونځ به مسلمانان ورکړي هذه رواية البغوي رحمه الله، او ابن جوزي رحمه الله په کتاب الوفاء کي له عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه داسي روايت کړی دی ينزل عيسى بن مريم فيتزوج وولد له ويمكث (۴۵) سنين ثم يموت فيدفن معي في قبري.

درويش وايي: چي په هغه حجره کي د عائشي رضي الله عنها چي د عليه الصلوة والسلام قبر انور پکښې دی او د ابوبکر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه قبرونه هم پکښې موجود دي، نژدې وقبر ته د عليه الصلوة والسلام د يوه قبر خای سته په هغه خای کي به عيسى عليه السلام دفن کېږي او هم دغه ده معنى د حديث بنوي "فيدفن معي في قبري" او دا معنا نه ده چي قبر نبوي به لخېږي او عيسى عليه السلام به پکښې دفن کېږي كما هو ظاهر الحديث والله اعلم بمراده عليه السلام، وانما قلت ذالک لان بنش قبر النبي صلى الله عليه وسلم خلاف الادب كما لايخفى، قال عليه السلام فاقوم انا وعيسى من قبر واحد بين ابوبكر وعمر، وعن جابر رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لاتزال طائفة من امتي يقاتلون على الحق ظاهرين الى يوم القيامة، اى قرب يوم القيامة فينزل عيسى بن مريم فيقول اميرهم، امير المؤمنين وهو المهدي عليه السلام تعال صل لنا فقال لا ان بعضكم عن بعض امراء تكرمة الله هذه الامة رواه مسلم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې پوره شرح ددې حدیث په شرح کې د امام نووي علی المسلم او په کشف الملهم علی المسلم وغیرهما کې دې مطالعه کړل سي

پوښتنه: اصل مقر او ځای د عیسی علیه السلام په اسمانو کې په کوم اسمان کې دی

ځواب: په حدیث متفق علیه کې د معراج راغلي دي چې د عیسی علیه السلام اصل مقر په دوهم اسمان کې دی که څه هم عیسی علیه السلام د ملکو سره په اسمانو کې هر ځای ته تر عرش پورې تلاسی سي کمامر من قبل.

وَمُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَجَاعِلُ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْكَ فَوْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ

او زه تا پاکوم له هغو کسانو څخه چې کافران دي ای من سوء جوارهم في الارض، او زه گرځوم هغه کسان چې ستا متابعت کوي یعني هغه کسان چې تا عبدالله ورسوله بولي فوق پر هغو کسانو چې کفر کوي او ستا متابعت نه کوي من الیهود والمشرکین وغیرهم او فوقیت ددوئ به پر کافرانو جاري وي تر ورځې پورې د قیامت، په دلائلو سره او په توره سره والمعنی في غالب الاحوال

پوه سه: چې متابعین د عیسی علیه السلام حواریون دي، او هغه کسان له بني اسرائیلو څخه د عیسی علیه السلام وه، نه هغه کسان چې عیسی یې خدای باله او یا یې ابن الله باله او یا یې ثالث ثلثه باله لانهم من جملة الذین کفروا دي، او بله دله چې متبعین د عیسی علیه السلام دي مسلمانان د امت محمدیه ﷺ دي، یعني بعد لبعث النبي ﷺ، ولې چې ددې امت مسلمانانو تصدیق د عیسی علیه السلام د نبوت وکړی او متابعت دده یې وکړی په توحید کې او په حقیقت کې د ټولو انبیاء علیهم السلام او په ټولو عقائدو دینیه وو کې، لکه ورځ د قیامت او حساب وکتاب، والجنة والنار وغیرهما من العقائد المشترکة بین الانبیاء علیهم السلام، البتة په بعض فروع دینیه وو کې بې فرق وي.

فائده: بعض جاهل نصاری د اوسنی زمانې یعني وروسته تر مبعث د نبي ﷺ په دې آیت سره دلیل وایي، او وایي چې زمونږ موفقیت ستاسي په کتاب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سره ثابت دی، نو مونږ پر تاسي هم فوق یو؟

جواب: هوا قرآن مبارک خو ستاسي موقفیت پر الذین کفروا باندي ثابت کړی دی، او وروسته تر مبعث د نبي ﷺ چي تاسي ایمان پر نبوت دده رانه وړی نو تاسي هم له جملې څخه د الذین کفروا یاست، یو خو ستاسي دین منسوخ سو په قرآن سره نو تابعان د دین منسوخ خو کافران دي، او بل ستاسي او د یهودانو نو څه فرق دی په کفر کي، او بل دادی چي په وصیت د عیسی ﷺ سره او په انجیل شریف سره هم کافران یاست ولي چي ستاسي په کتاب انجیل کي دا آیت سته چي عربي ترجمه یې داده کما جاء في القرآن الکریم "ومبشراً برسول یاتي من بعدي اسمه احمد ط" او بعض مفسرین رح وایي چي مراد له الذین کفروا څخه یوازي یهودیان دي یعني تاسي نصاری که پر حق یاست او که پر باطل پر یهودانو به فوق یاست تر ورځي د قیامت، وهي کذالک الی الیوم حیث لم یسمع الی الآن مع مرور الوف سنین غلبة الیهود علی النصاری، وذهب ملک الیهود ودولتهم فلم یبق لهم ملک ودولة.

پوښتنه: اوس بني اسرائیل په بیت المقدس او اطرافو کي نوی قوي حکومت او دولت لري؟

ځواب: دا دولت او حکومت ددوئ حقیقةً د امریکا د نصاری وو او د برطانیې د نصاری وو دی دوئ یهودیان صرف آله کار د نصاریٰ وو دي کما لایخفی، نو پر دې تفسیر اتباع په معنا ادعا او محبت دی نه په معنی د اتباع في الدین فتامل

دروښ وایي: چي صاحب د روح المعاني او قرطبي دواړه تفسیرونه ددې آیت راوړي دي، یعني یا غلبه پر تولو کافرانو او یا غلبه خاص پر یهودیانو باندي، دا و بیان تفصیلي ددې آیت ۽

ثُمَّ إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ

پوښته: چي مراد په ضمیر سره د مخاطب عیسی ﷺ ومن تبعه ومن کفر به دی تغلیباً للمخاطبین علی الغائبین قاله المظهري رح.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

فَاحْكُمْ بَيْنَكُمْ فِيمَا كُنْتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٥٥﴾

او زه حکم او فیصله کوم په موضوع کې چې ستاسې په هغه کې اختلاف کاوه یعني من امور الدین، او ددې حکم او فیصله خدای ﷻ په دې آیتو کې وکړه

فَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا فَأُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَمَا لَهُمْ مِنْ نَاصِرِينَ ﴿٥٦﴾

نو هغه کسان چې کفر یې کړی وي زه به عذاب ورکړم دوی ته عذاب سخت په دنیا او په آخرت کې او نه به دوی لره هیڅ څوک د کومک کونکو څخه وي.

وَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَيُوَفِّيهِمْ أُجُورَهُمْ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ ﴿٥٧﴾

او هرچه هغه کسان دي چې ایمان یې راوړی او عمل د صالحاتو یې کړی وي نو پوره به ورکړي خدای ﷻ ودوی ته مزدوري یعني ثوابونه په جنت کې د قرآن کریم

فائده: په "یوفیهم" التفات دی له تکلم څخه وغیبت ته

دروښ وایي: چې اهل تاریخ وایي چې عیسی علیه السلام وروسته تر غلبې د اسکند پر سرزمین د بابل پنځه شپیته (۶۵) کلنه زوکړی دی، او رفع ددې له بیت المقدس څخه د شب قدر په شپه د روژې د میاشتې چې عمر ددې دوه دیرش (۳۳) کاله و انجام پذیر سوی ده، او مور یې وروسته تر رفع ددې شپږ (۶) کاله ژوندی وه.

ذَٰلِكَ نَتْلُوهُ عَلَيْكَ مِنَ الْآيَاتِ وَالذِّكْرِ الْحَكِيمِ ﴿٥٨﴾

او دغه یعني قصه د عیسی علیه السلام او ددې د مور مریم او قصه د حواریینو وسائر مامر سابقاً موږ یې تلاوت کوو پر تاباندې، یعني په واسطه د جبرائیل له آیاتو څخه د قرآن کریم او ذکر محکم چې هم قرآن دی چې له حکمت څخه ورسره دی. او الکتب ممنوع دی له باطل څخه او له منسوخ کېدو څخه الی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

القيامة لأن النبي ﷺ اخير الانبياء والقرآن الكريم اخير المنزلة من عند الله العزيز الناسخ لجميع الكتب

پوه سه چې ذالک په تاويل د مذکور مبتداء ده او "تتلوه" يې خبر دی، او من الآيات" حال دی له ضمير منصوب څخه په "تتلوه" کې ای حال کونه کائنا من الآيات، او بعض مفسرين رح وايي چې مراد له آياتو هغه معجزات دي چې پر صدق د نبي کريم ﷺ دلالت کوي في دعوى النبوة.

دروېش وايي چې پخپله دغه قصې چې مطابق د تاريخ او د کتب سره د يهودو او نصارى وو دي معجزه د عليه السلام ده لانه نبي امي.

إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ

ای شانه الغريب من الخلق بغير الاب.

عِندَ اللَّهِ كَمَثَلِ آدَمَ

لکه حال غريب د آدم عليه السلام ثم بين وجه الشبه بين عيسى وآدم بقوله

خَلَقَهُ مِن تُرَابٍ

ای صورة من تراب. چې د تولې مخکې له مخه څخه عزرائيل په حکم د خدای ﷻ تولي کړې وې او بيا يې دغه خاورې په اوبو خشتې کړې وې، او بيا له خټو څخه ملکو په بنوونه د خدای ﷻ صورت انساني جوړ کړی و. يعني مشتمل پر تولو اعضاؤ انسانيه وو باندې والضمير في خلقه راجع الى آدم.

ثُمَّ قَالَ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴿٥٩﴾

بيا خدای ﷻ وهغه قالب بشري ته وويل چې وګرځه ژوندی انسان نو هغه ژوندی بشر وګرځېدی.

دروېش وايي: چې تفصيل د کن فيکون دمخه تېر سو.

پوښتنه: د آدم عليه السلام موجوديت خو تر نزول د قرآن کريم په زړو کلونه دمخه و نو د يکون په صيغه د مضارع به څرنګه معنا وي؟

جواب: مفسرين رح او نحات وداسې تعبير ته حکايت د حالت ماضيه وايي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعني یو امر غریب که څه هم ماضي وي حاضر یې فرض وي لیتعجب منه الناس، ومثل هذا کثیر في القرآن الکریم ولسان العرب کما لایخفی

پوه سه: چې تشبیه د حال د عیسی علیه السلام په حال پوري د آدم علیه السلام تشبیه د غریب او ناد ر په حال پوري د هغه چې هغه تر حال د عیسی ډیر غریب و یعنې حال د آدم علیه السلام ، ولې چې د عیسی علیه السلام په حال کې خو صرف غرابت دا و چې بیله اب پیدا سو، نور خو مور یې درلوده او حمل د مور هم موجود و او رضاع او فطام هم موجود و، او د آدم علیه السلام په حال کې خونه اب و او نه ام، او نه حمل و او نه رضاع الی غیر ذالک فیکون هذا التشبیه تشبیه للخارق للعادة وهو خلق عیسی من غیر اب بالاخرق للعادة وهو خلق آدم نو د یهودانو شبه چې عیسی څرنګه بیله اب پیدا سو په بنه توګه دفع سي.

دروښ وایي: که څه هم دا قصه د مخه تېره سوې ده لکن اعاده یې له فائدې څخه خالي نه ده کما سنبین الفائدة في الاعادة په صحیح روایت کې راغلي دي چې وفد د نجران چې نصاری وه د بحث لپاره مدینې منورې ته راغلي وه او تعداد یې څورلس کسه وه له اشرافو څخه د نصاری وو وه چې په دې څورلس کسه کې یو یې امیر و چې نوم یې اهیب و او بل یې وزیر صاحب الرای ددوئ چې نوم یې عبدالمسیح و، او بل نوم یې اسقف و یعني مجتهد د دین عیسی چې رومیانو یې لوی تعظیم کاوه او بادشاه د روم دده پر نامه ډیر کنانس یعني عبادت خانې د نصاری وو جوړې کړې وې او ډیر اموال او نقود به یې سالانه ده ته ورکوله چې نوم یې ابو حارثه بن علقمه و، نو مسجد نبوي ته په داسي حال کې داخل سوه چې علیه الصلوة والسلام د مازدیګر لمونځ کړی و، او ددوئ د لمانځه هم وخت و، نو چونکه نصاری چې هر ځای وي د مشرق وخواته لمونځ کوي یعني مخالف له قبلې څخه د مسجد نبوي ﷺ نو اصحاب کرامو رضی الله عنهم وغوښتل چې دوئ منع کړي له لمانځه څخه د مشرق وخواته، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل دعوهم یعني پرېږدئ چې مشرق ته لمونځ وکړي

پوښتنه: ولې علیه السلام ودوئ ته اجازه ورکړه چې وخلاف ته د مسجد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نبوي د قبلي دوئ لمونځونه وکړي؟

ځواب: ددي لپاره يې اجازه ورکړه چې لار د مناظري او د دوئ د الزام په مناظره کي په مخاصمه في امر القبلة بدل نه سي.

پوه سه: چې دمخه تر راتلو ددوئ خداى پاک اول آيتونه د آل عمران د سورت لپاره د مناظري د دوئ نازل کړي وه، او دروښ چې وويل چې دا قصه آه هغه په اول کي د آل عمران تېره سوي ده. نو وروسته تر لمانځه ابو حارثه او يو بل د هغو درو کسانو څخه عليه الصلوة والسلام ته پېښ سوه فقال لهما رسول الله ﷺ اسلما، دوئ ورته وويل اسلمنا قبلك. عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې دروغ وایاست. تاسي د اسلام څخه منع کوي دري شيان، يو عبادت دي د صليب او بل خوراک دی د سرکوزي د غوښو، او بل دا چې عيسى عليه السلام د خداى ﷻ زوی دی، دوئ ورته وويل چې ته زمور نبي عيسى ته بد وايي، نبي کريم ﷺ ورته وويل ما څه بد ستاسي صاحب عيسى ته ويلي دي. دوئ وويل چې تا وايه چې عيسى عبد دی، عليه السلام ورته وويل هو ازه وايم چې عيسى عبدالله ورسوله وكلمة القاها الى العذراء البتول مريم، دوئ ته درد ورغلی او عليه الصلوة والسلام ته يې وويل هل رئيت انساناً من غير اب. او چې ته دا منې چې عيسى عليه السلام لره خو پلار نه و په انسانانو کي وجب ان يكون هو الله او ابن الله. نو عليه السلام ورته وويل چې آدم عليه السلام لره خو نه پلار و او نه مور لکه چې دا تاسي هم منئ چې آدم خلق من تراب. او دا نه ده لازمه چې آدم دي د خداى ﷻ زوی وي لکه تاسي چې يې هم منئ چې آدم ابن الله نه دی فكذا حال عيسى عليه السلام والله جلت قدرته خوارق للعادة وحال آدم اخرق للعادة من حال عيسى.

په دي آيت کي اشاره او دلالت صريحه دی چې قياس حجت شرعي دی لان الله سبحانه تعالى قاس حكم عيسى من غير اب على خلق آدم من تراب، ففي هذه الآية رد على الفرق المعلومة الحال المنكرين للقياس كاهل ظواهر الحديث، والوهابية والسلفية وغيرهم

فائده سنيه: څونده وپر دی جهل د نصاری و لعنهم الله حيث قالوا الرسول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الله ﷻ وقت المناظرة هل رئيت انساناً قط من غير اب، او دوئ په خپلو خانو کي فکر نه وهي چي دوئ ته څوک ووايي چي هل روٰا انساناً يلد شاة، او هل روٰا شاةٌ تلد انساناً، سره ددې چي جنس د انسان او شات څو سره يو دی وهو الحيوان والاختلاف في النوع، نو دوئ څرنګه حکم کوي چي عيسی چي هم جسم دی او هم حادث مخلوق دی چي هم دودی خوري او هم بيدبري او هم مري يو وخت په خاورو کي ښخيږي چي عيسی زوی د خدای ﷻ دی چي هم احد دی او هم قديم لذاته دی الذي ليس کمثله شئ لم يلد ولم يولد ولم يکن له کفواً احد، هذا ماقاله المظهري وغيره من المفسرين رحمهم الله تعالى.

اَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ فَلَا تَكُنْ مِّنَ الْمُمْتَرِيْنَ ﴿۶۰﴾

پوه سه: چي الحق يا خبر د محذوف مبتداء دی ای هو الحق، او يا فاعل د فعل محذوف دی ای جائک الحق، ويجوز انيکون مبتداء و من ربک خبره "من ربک" معناه الحق المذکور من جانب ربک، او پر اول دوه تقديره من ربک متعلق دی په جاء المذکور پورې او يا حال دی له ضمير څخه د في الحق، هذا ماقاله المظهري، نو ته مه ګرځه اې مخاطبه منکر له شک کونکو څخه په باره کي د عيسی ﷺ لکه يهوديانو چي شک کاوه حتی چي پر مور د عيسی ﷺ يې بهتان د زناء وايه، او نصاری وو بيا په دروغو سره ابن الله بالله يعني يهوديانو تفريط کاوه په عيسی ﷺ کي او نصاری وو افراط کاوه، او د اسلام دين متوسط بين الافراط والتفريط دی يعني هو عبدالله ورسوله بالحق.

او صاحب د روح البيان وايي چي خطاب د لاتکن وعليه السلام ته دی.

سوال: عليه الصلوة والسلام خو معصوم دی له شک څخه فيماقاله تعالى، نو د نهي فائده به څه وي؟

ځواب: مقصود د نهي څخه دا دی دم على يقينک وعلى ما انت عليه من الاطمنان الى ماقاله الحق ﷻ قال امام ابو منصور الماتريدي العصمة لاتزيل المحنة ولا ترفع النهي، انتهى، والعلامة الغبدادي رحمه الله ايضاً جعل الخطاب

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

الی النبي ﷺ والله اعلم بمراده في کتابه.

فَمَنْ حَآجَّكَ فِيهِ

نو پسله الزامه د نصاری وو کمامړ که څوک ستا سره صرف مجادله کوي یعني ناحقه بحث درسره کوي نو مراد له "محاجة" څخه مجادله صرفه ده، او کلمه د من شرطي ده او جواب یې "فقل" دی.

مِنْ بَعْدِ مَا جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ

دروسته تر دې چې تاته علم یقیني در کړه سو چې عیسی علیه السلام عبدالله ورسوله دی، ددې قید فائده داده چې مسلمان ته په کار دی چې د چا سره مباهله نه وکړي، مګر نه پسله کمال د یقین پر خپله رای باندي. نو علیه الصلوة والسلام که څان پر حق یقیناً نه بللای او نصاری پر باطل نو د مباهلې غوښتنه یې له نصاری وو څخه نه کوله.

فَقُلْ تَعَالَوْا

ته ووایه ای محمد ﷺ یعني نصاری وو ته د نجران.

پوه سه: چې معنا لغوي د "تعالوا" بلنه د سړي ده ولوړ ځای ته لانه مشتق من العلو، بیا توسع پکښې وسوه مراد څنډي مجرد طلب د راتګ دی که څه هم مکان مرتفع نه وي، لکن دلته طلب د مجيء بالاقدام هم نه دی لان اهل نجران کانوا حاضرین عند النبي ﷺ بلکې مراد څنډي اقبال بالرای والعزیمة دی یعني په ټینګ قصد راسئ، او تعالوا په اصل کي د تفاعل له باب دی.

نَدْعُ أَبْنَآءَنَا وَأَبْنَآءَكُمْ وَنِسَآءَنَا وَنِسَآءَكُمْ وَأَنفُسَنَا وَأَنفُسَكُمْ

پوه سه: چې ندع مجزوم دی په حذف د واو جواب د تعالوا، والمعنی مورږ او تاسي به را وبولو، مورږ خپل زامن او تاسي خپل زامن، او مورږ خپلي ښځي او تاسي خپلي ښځي، او مورږ خپل ځانونه او تاسي خپل ځانونه.

پوه سه: چې رابلل د خپل ځان عبارت د له حضور څخه دی، یعني مورږ به هم حاضر یو او تاسي به هم حاضر یاست، والحاصل چې د هري ډلې سره به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغه دپر ګران وده ته من الابناء والنساء ملګري وي، ددې لپاره چې عذاب د مباهلې چې پر کاذب نازلېږي تولو ته به شامل سي.

پوښتنه: د څه حکمت لپاره يې ابناء او نساء تر انفس دمخه کړه؟

خواب: ددې سببه چې سړی خان له خطره سره مخامخ کوي لپاره د زامنو او ښځو، نو ګويا مقصود بالذات ابناء او نساء دي او انفس تبع د هغوی ده. او چې جواب دادی چې اصل خو داده چې داعي او مدعو به سره غير وي نو دلته د داعي چې عليه الصلوة والسلام دی او نصاری د نجران دي له ابناء او نساء څخه تغاير بالذات لري، او داعي د خپل نفس سره خو تغاير اعتباري لري فقدم الحقيقي على الاعتباري، روح المعاني مظهري، روح البيان، بيضاوي

ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَلْ لَّعْنَتَ اللّٰهِ عَلَى الْكٰذِبِيْنَ ﴿٦١﴾

او بيا به خدای ﷻ خواست او عجز وکړو چې خدايه ستا لعنت او عذاب نازل کړې پر هغه چاچې کاذب وي په موږ دوو ډول کې يعني عليه السلام ومن معه والنصاری ومن معهم.

پوه سه: چې فنجعل عطف تفسيري د نبتهل، او عطف بالفاء يې وکړی ولې چې نزول د لعنت او عذاب سمدستي په ابتهال پسې راځي تراخي نه لري

دروېش وايي: چې مسلم او ترمذي روايت کړی دی له سعد بن ابي وقاص ﷺ چې څه وخت چې آيت د مباهلې نازل سو، نو عليه الصلوة والسلام علي او فاطمه، حسن او حسين ﷺ راوغوښتل فقال اللهم هؤلاء اهل بيتي، او په بل روايت کې راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام ودوی ته وويل چې زه دعاء کوم تاسي امين واياست.

دروېش وايي: چې اصحاب الآحاديث الصحيحة او ارباب التفاسير المعتبرة قصه د مباهلې ددې آيت داسې بيان کړې ده، چې څه وخت چې آيت د مباهلې نازل سو او عليه الصلوة والسلام نصاری د نجران را وغوښتله، او دا آيت يې ورته ووايه او ورته وه يې ويل چې راځي چې مباهله وکړو، دوی ورته وويل چې موږ به مشوره سره وکړو صبا بيا حال درته وايو، نو ددوی متران يو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خای په خلوت کي سره کښېنستل. او عاقب ته صاحب رای د دوئ د وئ ورته وویل چي ستا څه رایه ده یا عبدالمسیح؟ هغه ورته وویل والله لقد عرفتم یا معشر النصاری ان محمداً مرسل، او وه یې ویل مالا عن قوم نبیاً قط فعاش کبیرهم ونبت صغیرهم فان فعلتم ذالک لتهلکن، نو که تاسي غواړئ چي مونږ پر دین عیسوي هر رنګه چي مونږ عیسی بولو پاته سو، نو ددغه سړي سره یعني د علیه الصلوة والسلام سره د صلح او جزیې لاره غوره کړئ او خپلو کورو ته بیغمه ولاړ سئ، نو صبا چي نصاری د نجران راغله او علیه الصلوة والسلام حضرت حسین ﷺ په غېږ کي را اخستی و او حسن ﷺ تر لاس نیولی و، او فاطمه ﷺ په علیه الصلوة والسلام پسي وه او علي ﷺ د فاطمي ﷺ تر شا روان و وهو یقول اذا دعوت الله فامنوا، نو اسقف د نصاری وو یعني ابو حارثه پټ وخپلو ملګرو ته پخپله ژبه داسي وویل چي زه وینم داسي مخان که چېرې که چېرې خدای ﷻ ته خواست وکړي چي دا غر له منخه یوسي خدای ﷻ به یې خواست ومني فلاتبتهلوا تهلکوا ولا تبقی علی وجه الارض نصراني الی یوم القیامة، نو باره وفد د نجران ورته وویل یا اباالقاسم زمونږ رایه او اتفاق پر دې سو چي مونږ ستا سره تلاعن او ابتهال نه کوو او تا پرېږدو پر خپل دین او مونږ به پر خپل دین ثابت یو، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل که مباهله نه کوئ نو ایمان راوړئ لکم ما للمسلمین وعلیکم ماعلیهم. دوئ له اسلام څخه منع وکړه، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل که اسلام نه قبلوئ نو زه ستاسي سره جنګ کوم دوئ ورته وویل چي مونږ د عربو د جنګ طاقت نه لرو، لکن ستا سره صلح کوو پر دې باندي چي ته به زمونږ سره غزاء نه کوې او نه به مونږ ېږوې او مونږ به پر خپل دین پرېږدې، او مونږ ته تا دوه زره جوته کالي درکوو، زر جوته په د صفري په میاشتي کي او زر جوته د رجب په میاشتي کي، نو علیه الصلوة والسلام صلح ورسره وکړه پر دغه دوه زره جوته کالو باندي، نو بیا علیه السلام ورته وویل چي زما دي په هغه خدای ﷻ قسم وي چي زما روح د هغه په قدرت کي دی چي عذاب دهر نیژدي سوی و واهل نجران ته او که دوئ مباهله

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

او تلاعن کړی وایي دوئ به مسخه سوي وای سرکوزان او بیزوګیان او دې شبلي د مدینې په پر دوئ اور اخستی وایی، او خدای ﷻ به بېخ کندن کړی وایی د ټوله نجران او اهل نجران حتی مرغان د نجران پر درختو باندې، او علیه الصلوة والسلام زیاته کړه چې کال به نه وایی تېر سوی پر نصاری وو باندې حتی چې ټوله به هلاک سوي وایی، هذا ما رواه ابو نعیم في الدلائل بطریق عدیدة عن ابن عباس ﷺ.

فائده: دروېش وایي چې روافض قبحهم الله په دغه آیت سره دلیل وایي پر نفي د خلافت د ابو بکر او عمر او عثمان ﷺ او دوئ وایي چې خلیفه اول بعد رسول الله ﷺ امام علي ﷺ دی، او دوئ ظالمان وایي چې مراد له ابنائنا څخه الحسن او الحسین ﷺ دي، او مراد له نساء څخه فاطمة الزهراء ﷺ ده او د انفسنا څخه علي ﷺ دی، نو دوئ وایي چې خدای ﷻ په دې آیت کې علي ﷺ خود محمد ﷺ وبولی، او دوئ ظالمان وایي چې علي ﷺ برابر دی د علیه الصلوة والسلام سره په فضائلو کې او دوئ وایي چې علیه الصلوة والسلام اولی بالتصرف في الناس من انفسهم، قال الله تعالی النبي اولی بالمؤمنین من انفسهم نو دوئ وایي علي ﷺ چې خدای ﷻ نفس محمد ﷺ په دغه آیت کې وبالله ددوئ په زعم فاسده سره، نو علي ﷺ هم اولی الناس من انفسهم فهو الخلیفة الاول وبالحق بعد رسول الله ﷺ.

دروېش وایي: چې ددوئ فاسد دلیل چې په ونیا یې وېښتیان د مسلمانو پر بدن جګ درېږي، والجواب من جانب اهل السنة والجماعة اول دادی چې په آیت کې خو نفس په صیغه د جمع راغلی دی، نو څرنګه یوازي علي ﷺ څنګه مراد کېدای سي، بلکې مراد له انفس څخه د علیه السلام او د من تبعه فیشمل الخلفاء الاربعة وغیرهم ﷺ، او دا دوئ څرنګه وایي چې نفس د علیه الصلوة والسلام او د علي ﷺ سره یو شی دی بل پشهد ببطلان نفس الشخصین الثقلان، او بل جواب دادی چې مراد په آیت کې له ابناء څخه الحسنین بشمول ابیهما علي ﷺ ولي چې په عرف کې د عربو او د عجمو زوم د سړي زوی د هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بلل كبري، وهذه الارادة بطريق عموم المجاز، وهو الواقع في العربية شائعاً لم ينكره احد من المعاندين المشركين، او بل جواب دادی چې مراد له انفسنا څخه دي من يتصل به عليه الصلوة والسلام نسباً ودیناً فح لا يلزم المساوات بين النبي ﷺ وعلي كرم الله وجهه اصلاً. او بل جواب دادی چې مساوات د علي ؓ د نبي ﷺ په تولو صفاتو کې خو باطل دي زمونږ او د دوئ په اتفاق سره لان من صفاته عليه الصلوة والسلام النبوة والكلام مع الله في ليلة المعراج، وكونه خاتم النبيين وسيد المرسلين الى غير ذالک منْ صفاته ﷺ، او روافض دا صفات په علي ؓ کې نه وايي، او که مراد مساوات وي په بعض صفاتو کې مثلاً في كونها من بني هاشم والتراحم على اليتامى والمساكين وغير ذالک فهو لايفيد نفاذ حكم علي ؓ على الناس كنفاذ حكم النبي ﷺ على الناس حتى يكون علي ؓ هو الخليفة الاول مسلطاً على الناس كالنبي ﷺ كما هو مرام الروافض خذلهم الله.

بوه سه: چې علامه بغداد ؒ په روح المعاني کې وايي چې اطلاق د ابن پر ابن البنت چې حسنين ؓ دي هم مجاز دی في العرف العام كاطلاق الابن على الختن فهما على حد سواء في المجازية فلاحاجة الى عموم المجاز كما قلنا سابقاً. البته په دې آيت کې دليل واضح دی پر فضليت د آل الرسول ﷺ ولايشک فيها مؤمن.

سوال: طبرسي او نور له علماؤ څخه د روافضو وايي چې مراد له انفسنا څخه نفس شريفه د عليه الصلوة والسلام نه دی صحيح ولي ندع په صيغه د متكلم راغلی دی والشخص لايدع نفسه، نو دا معلومه سوه چې مراد له انفسنا څخه علي ؓ دی، مفتي عراق ددې په جواب کې وايي چې دا يو خلاف اللغة العربية خبره ده، ولي چې قديماً وحديثاً دا شائع او ذائع خبره ده دعته نفسه الى كذا ودعوت نفسي الى فعل كذا، وطوعت له نفسه وشاورت نفسي الى غير ذالک من الاستعمالات الواقعة في عبارات البلغاء فيكون حاصل ندعوا نفسنا نحضر انفسنا الى المباهلة واى محذور في ذالک ثم قال سلمنا فالمراد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بانفسنا هو علي رضي الله عنه لكن لانسلم ان المراد من النفس ذات الشخص اى علي رضي الله عنه اذ قد جاء لفظ النفس بمعنى القريب والشريك في الدين والملة فارادة علي رضي الله عنه من هذا لسبب يعني چونكه علي رضي الله عنه لره اتصال و د نبي عليه الصلوة والسلام سره په نسب كي او په مصاهرت كي او اتحاد دين او ملت كي، نو خكه خداى ﷻ د علي رضي الله عنه تعبير په نفس النبي ﷺ سره وكړى ولايلزم من ذالك مساوات علي رضي الله عنه لرسول الله ﷺ في نفاذ امر علي على جميع الامة بعد النبي ﷺ كنفاذ امر النبي ﷺ على جميع امة وهذا معنى الخلافة بعد النبي ﷺ فانهدم منار استدلال الروافض بهذه الآية.

دروښ وايي: چې سيد محمود آلوسي المتوفي سنه ۱۲۷۰ هـ كي و، روافضو ته يو دېر په زړه پوري جواب داسي وركړى دى چې د انفسنا كه علي رضي الله عنه مراد سي آيا داسي مراد دى چې علي به مدت حيات امير المؤمنين وي كه دا مراد وي، نو بايد امير المؤمنين علي رضي الله عنه په زمانه كي د حيوة د رسول الله ﷺ هم امير المؤمنين وي، نو دا غلطه خبره ده او تاسي هم نه ياست په قائله. او كه مراد دا وي چې حضرت علي رضي الله عنه به په يو وخت كي امير المؤمنين وي فمرحبا بالوفاق ولي اهل السنة والجماعة هم وايي چې علي رضي الله عنه به يو وخت امير المؤمنين وي يعني وخت خلافة بعد الخلفاء الثلثة رضي الله عنهم.

دروښ وايي: چې په دې جواب سره قد سقط جدران بيت الروافض على سقوفهم.

تنبيه: پر بطلان د مذهب د روافضو په عقائدو او په تفاسيرو معتبره وو كي ببخي د هر جوابونه او دلائل سته وفي ماذكرنا كفاية لمن رزق فهما.

إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ الْقَصَصُ الْحَقُّ

په تحقيق سره دغه قصې د عيسى او مريم حق قصې دي مطابق لما في التواريخ، تواريخ النصارى.

پوه سه: چې "هو" يا ضمير فصل په منځ كي د اسم ان او د خبر د هغه چې القصص دى لپاره د تاكيد د اسناد بعد التاكيد بان، او يا هو مبتداء ده او

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

قصص يې خبر دی او جمله خبر د ان ده. والمقصود ان قصة مريم وعيسى على هذا الطريق الذي بينه القرآن الكريم هو الحق المطابق للواقع دون مافي بعض تواريخ النصارى من الخرافات كما سمعت من خرافاتهم في هذا التفسير.

فائده: په منع کې د وفد نجران له مباهله څخه دليل قوي دی پر نبوت د عليه الصلوة والسلام ولي که د وفد نجران په عقيده که عليه الصلوة والسلام نبي نه وايی نو دوئ ولي امتناع کوله له مباهله څخه چې يو اسان کار و، او دروند بار د جزئې پر غاړه اخستی نو ددوئ ايمان و چې ضرر د مباهله وموږ ته بلکې وتولو نصارى وو ته راجع کېږي کما اقروا بذالک فيما بينهم كمامر تفصيله عنقريب لکن د دنيا جاه او جلال او متاع ومال مانع د ايمان ددوئ وګرځي فاشتروا بالايمان ثمناً قليلاً

وَمَا مِنْ إِلٰهٍ إِلَّا اللّٰهُ ۚ وَإِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٦٢﴾

پوه سه: چې "من" لپاره د استغراق د نفي دی رداً على النصارى في قولهم تثليث الآلهة والمعنى، او هيڅ نسته معبود بالحق مګر الله ﷻ او په تحقيق خداى غالب دی هرڅه چې اراده يې سي مانع يې څوک نه سي کېداى، او په تولو مصنوعاتو او افعالو کې حکمت لري.

فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللّٰهَ عَلِيمٌ بِالْمُفْسِدِينَ ﴿٦٣﴾

او که دوئ اعراض وکړي له دلائلو څخه د توحيد د خداى ﷻ نو په تحقيق خداى خبر دی په مفسدينو کسانو يعنې په ورځ د قيامت به مجازات ورکړي.

پوه سه: چې اصل د کلام دا و فان تولوا فان الله يعذبهم، لكن يعذبهم يې حذف کړی او عليم بالمفسدين يې د هغه په خای کې راوړی اقامةً للعلة مقام المعلول وجه العلية والمعلولية داده چې خداى پاک علم لري په افساد دوئ په اطرافو کې د عالم په اشاعت د کفر او معاصي وو او نور خلګ د ايمان راوړو څخه منع کول، او پخپله هم په کفران د منعم حقيقي او په عصيان د هغه خداى او په مخالفت د رسول الله خداى اخته دي، دا تولې سبب دی بلکې اسباب دي د عذاب ورګولو د خداى ﷻ ودوئ ته مظهري ودروېش.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: في المباهلة دروېش وايي چي مباهلې لره د انبياء عليهم السلام يو لوی تاثير سته چي سبب د تاثير يې صاحب د روح المعاني او صاحب د روح البيان په تفصيل بيان کړی دی چي عربي الفاظ يې د مطالعه کونکو سره ددې تفسير مناسب نه دی او هغه عربي عبارت يې په پښتو ژباړه کي نه سي پياده کېدُای من اراد ذالک فليرجع الى التفسيرين المذكورين.

دوروېش وايي: چي دعاء بالخير او بنرا لره د اولياء الله هم په حکم د خدای ﷻ لوی تاثير سته. په روايت کي راغليدي چي شاعر بسطامي چي لوی ازاري شاعر و يوه ورځ يې شيخ کمال الدين الخجندي رحمه الله چي يو لوی ولي له اولياوْ څخه د خدای ﷻ و په مجلس کي يې د شعراء وليدی نو ازاري شاعر وويل، از کجايي از کجايي ای لوند. فقال الشيخ في جوابه از خجندم از خجندم ازخجند، لکن شيخ مذکور دده له بې ادبي څخه ډېر متاثر سو، او شيخ دا محمول پر حال د سکر دده کړه، نو شيخ وويل چي غالبه داده چي خوان سکران دی، بسطامي شاعر واورېدل، وقال بالبداهة

سيه چشميت مردم کش خراب غمزه اويم
از ان درعين هشياری سخن مستانه ميگويم

وروسته بسطامي شاعر په هجو د شيخ خوله پوري کړه او وه يې ويل

ای ملحد خجندی ريش بزرگ داری
کزغايت بزرگی د ريش ميتوان گفت

نو شيخ چي دا شعر د بسطامي واورېدی ډېر متالم سو، نو بنرا يې ورته وکړه فمات في ذالک المجلس.

وصيت: هوښيار سړي لره پکار دی و صلحاوْ ته د امت محمدي دي ازار نه رسوي، ولي نتيجه د ازار وده ته راجع کېږي، قال الله تعالى "ولا يحيق المكر السيي الا باهله" بيت

نای کند ناله بدين قول است از نفس پير بترس ای جوان

دروېش وايي: چي محقق برسوي المتوفي "۱۱۳۷هـ" د جلد دوهم ص ۴۶ کي وايي عقوق الاستاذين لاتوبه له قاله المشائخ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې ما په شرح پښتو کې د کنز الدقائق په باب کې د حقوق الاستاذين يو فصل په عنوان د فصل فهم ايښی دی، په حواله د تفاسير کثيره او په نقل له کتابو څخه د فقهاؤ رحمهم الله او دېر مفصل بحث مې په هغه کې کړی دی او د دېرو سختو الفاظو د بعض تفاسيرو مې تاويل او نرم والی بيان کړی دی لکن تلامذة اليوم کثير منهم لايخلون عن عقوق الاستاذين بل اكثر منهم د استاذانو شديد غيبت کوي، بلکې بعض شاگردان پر استاذانو بهتان وايي فامرهم الى الله ان شاء غفرلهم وان شاء عذبهم من شاء التفصيل فليطاع شرح الكنز

قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ

ووايه اې محمد ﷺ واهل کتابو ته چې مراد خندي يهود او نصاری دواړه دي

دروښ وايي: چې امام مظهري رحمه الله يو بې ځايه شان نزول بيان کړی دی، دی وايي چې دا آيت نازل دی په يهودو کې چې دوئ ويله ابراهيم يهودي و او مونږ پر دين د ابراهيم يو، او په نصاری وو کې چې دوئ ويله ابراهيم نصراني و او مونږ پر دين د ابراهيم يو الخ.

دروښ وايي: چې دا شان نزول د هغه آيت سره دېر مناسب دی "قل يا اهل الكتاب لم تحاجون في ابراهيم الآية" او صاحب د روح المعاني وايي چې دا آيت په وفد کې د نجران نازل سوی دی، قاله السدي والحسن ومحمد بن جعفر، او له قتاده او ربيع او د ابن جريج څخه روايت دی چې دا آيت په يهودو کې د مدينې نازل سوی دی، او ابو علي الجبايي وايي چې په دواړو کې نازل دی، وعليه اتفاق اكثر المفسرين رح، قال البيضاوي رحمه الله يعم اهل الكتابين، او مظهري وايي الخطاب يعم اهل الكتابين، او روح البيان وايي اى اليهود والنصارى واليه ذهب الامام الرازي والقرطبي

دروښ وايي: ولله در صاحب روح البيان، دوئ وايي چې عليه الصلوة والسلام دېر حريص و پر ايمان د يهودو او د نصاری وو، ولې چې دا دوې لوی ډلې وې د کفارو د عصر نبوي ﷺ، نو خدای جل جلاله دی امر کړی چې د احتجاج او دلائلو له لارې څخه احتجاج عدول وکړه او داسې لاری ته چې عقل سليم والا دا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ووايي چې خبري د محمد ﷺ مبني پر انصاف دي او پر ترک د جدال دي لامیل فيه الى جانب، او له تعصب څخه خالي خبري دي او دا يو داسي خبري دي چې پر اصل مرکز ولاړي دي او دا خبري نسبت يې موږ او مسلمانانو ته برابر دی کمرکز الكرة والدائرة. انتهى ببعض الزيادة والتوضيح.

تَعَالَوْا إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ

راسئ ويوړ خبرې ته چې هغه کلمه برابره ده زمونږ او ستاسي تر منځ.

پوه سه: چې "سواء" مصدر دی دلته په معنا د مستوية.

سوال: کلمه خو لفظ مونث و نو سواء يې ولې مونث نه راوړی؟

ځواب: مصدر نه تثنيه کېږي او نه جمع کېږي او نه مونث کېږي كما تقرر في النحو، او مونږ تاويل په "مستوية" وکړی ليصح توصيف الكلمة به، او ممکنه ده چې سواء پر خپل معنا مصدري پاته سې او توصيف د کلمة په سواء سره دي مبالغةً وي نحو زيد عدل.

پوه سه: چې "بيننا وبينكم" ظرف د سواء دي، والمعنى التسوية انه لايختلف فيها القرآن والانجيل والتوراة.

فائده: پوه سه چې د کلمة معنا په لغت کې جمله مفيده ته وايي، نحو كلمة الله هي العليا ای لا اله الا، او قصيدې ته هم وايي، نحو كلمة لبيد ای قصيدته او په منطقو کې فعل ته وايي او په نحو کې لفظ وضع لمعنى آه وهما عرفان مشتحدثان.

دروښ وايي: چې آلوسي رحمه الله مع علو كعبه في اللغة العربية والاطلاقات العرفية فسر كلمة هـ بالكلام ونسبه الى الزجاج. ثم قال واطلاقها على ذالك في كلامهم من باب المجاز المرسل وقيل انه من باب الاستعارة آه ولعل لكلام وجه لست اجعله فتامل في ذالك.

أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا

چې هغه کلمه داده چې مونږ به عبادت نه کوو مګر د خدای ﷻ يعنې شريک في العبادة د خدای سره نه ګرځوو هيڅ شی نه انسان او نه بت او نه ملکه او نه شيطان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي ان لا نعبد" په محل کي د رفع دی ای هو او یا بدل له کلمة څخه دی، نو محل یې د جر دی، او بعض مفسرین وایي چي منصوب په نزع د حرف جر دی ای بان لانعبد او موږ به شریک نه ګرځوو په وجوب الوجود کي هیڅ شی لکه یهود چي وایي عزیر ابن الله او یا نصاری وایي چي عیسی ابن الله دی، او یا ثالث ثلثة دی، نو خدای ﷻ چونکه واجب الوجود دی زوی یې هم باید واجب والوجود وي فهذا اشتراک منهم في الوجوب.

وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ

او نه به ګرځوي بعض د انسانانو نور بعض رب خپل یعني اطاعت به نه کوي البعض لبعض من دون اذن الله کما امرنا الله باطاعة الرسول ﷺ حیث قال اطیعوا الله واطیعوا الرسول الآیة" وقال في موضع آخر ومن یطیع الرسول فقد اطاع الله.

پوه سه: چي ترمذي له عدي بن حاتم ؓ څخه داسي یو روایت راوړی دی چي ده وعلیه الصلوة والسلام ته وویل ماکنا نعبدهم یا رسول الله ﷺ؟ نو علیه السلام ورته وویل الیس کانوا یحلون لکم ویحرمون فتاخذون بقولهم قال نعم قا هو ذاک" قال الترمذي حدیث حسن.

پوه سه: چي اطاعت د علماؤ او د اولیاؤ او یا د مسلمان امیر چي موافق د شرع شریفي سره وي هغه په اجازت د خدای ﷻ دی، نو هغه هم طاعت الله دی قال الله تعالی اطیعوا الله واطیعوا لرسول واولی الامر منکم" او که بنوونه او امر د علماؤ او یا د اولیاؤ او یا د سلطانانو خلاف الشرع و نو د هغه اطاعت کول په اتخاذ بعضنا بعضاً کي داخل دی، د امیر المؤمنین علي ؓ څخه روایت دی لاطاعة لاحد في معصیة الله وانما الطاعة في المعروف رواه الشیخان

فَإِن تَوَلَّوْا فَقُولُوا اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ﴿٦٤﴾

او که اعراض وکړي اهل کتاب یعني الیهود والنصاری ددغه کلمه حقه عادله المستقیمة المستویة المتفق علیها الکتب المنزلة والرسل المبعوثین،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو ته او مؤمنان وویاست ودوی ته ای اهل کتابو تاسي شاهدان اوسئ پر دې چي مونږ یعني علیه الصلوة والسلام او امت ایمان لرو پر ټولو کتب سماویه او پر ټولو انبیاء کرامو یعني نه تاسي، ولي یهودیان فقط تورات او موسی علیه السلام منې، او نصاری فقط عیسی علیه السلام او انجیل مني فنحن اوسع همةً وایماناً منکم.

فائده: ابن عباس رضي الله عنه له ابو سفیان بن حرب څخه داسي روایت کړی دی چي هرقل چي ملک الروم و، ابو سفیان بن حرب ته یې سړی ورواستاوه چي دی او اقریش وشام ته د تجارت لپاره تللی و او دا هغه وخت و چي رسول الله ﷺ د ابو سفیان او د کفارو سره د قریشو صلح کړې وه چي مونږ به په خپل منځ کي جنګ نه سره کوو، نو ابو سفیان وایي چي زه او زما ملګري ایلیا ته ورغلو چي هرقل په ایلیا کي و نو هرقل مونږ خپل مجلس ته وروغوښتلو چي په مجلس کي د هرقل ټوله ملکي او نظامي غټ غټ افسران حاضر وه، او بیا هرقل د علیه الصلوة والسلام هغه مکتوب چي لپاره ددعوت د هرقل و اسلام ته په لاس د دحیة بن خلیفة ورکړی و او هغه خط دحیة و والي ته د بصرې له طرفه څخه د هرقل ورکړی و او هغه والي و هرقل ته استولی و، نو ابو سفیان وایي چي مکتوب د نبي ﷺ په دې ډول و "بسم الله الرحمن الرحیم من محمد بن عبدالله، عبدالله ورسوله الی هرقل عظیم الروم سلام علی من اتبع الهدی، اما بعد فاني ادعوک بدعایة الاسلام اسلم تسلم یؤتیک الله اجرک مرتین، فان تولیت فان علیک اثم الاریسیین، ویا اهل الکتاب تعالوا الی کلمة سواء بیننا وبینکم، ان لا نعبد الا الله ولانشرک به شیئاً ولایتخذ بعضنا بعضاً اربابا من دون الله فان تولوا فقولوا اشهدوا بانا مسلمون.

دروښ وایي: چي دا حدیث په بخاري او مسلم کي ډیر طویل دی چي د بخاري تقریباً یو نیم مخ یې ښائسته کړی دی لکن د موضع د حاجت تر دې ځایه مختصر کړه سو.

فائده: مظهري رحمه الله وایي چي علیه الصلوة والسلام چي دا آیت وقد ته د نجران ووایه، او بیا یې دغه آیت په مکتوب شریف کي خپل و هرقل ته نوشته

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

کړی، او هرقل او وفد د نجران یې داسې ردونه ویل چې دا کلمه زمونږ په کتابو کې نسته. دلیل قاطع دی پر نبوت د علیه الصلوة والسلام او پر دې باندې چې دا کلمه مجمع علیها ده بین الکتب المنزلة والرسل. نو دا خبره واضح سوه چې یهودیان چې وایي عزیر ابن الله دی. او نصاری وایي عیسی ابن الله دی دا مبنې دی پر افکار فاسده وو د دوئ او پر تقلید د آباء او اجداد. وبدون الاستناد الی الکتب الالهیة. نو که په کتب کې ددوئ یو شی وایی نو دوئ به هغه وعلیه الصلوة والسلام ته پیش کړی وایی. اما دوئ صرف عقلي دلیل پیش کړی یعني قولهم هر رئیت انساناً من غیر اب.

پوه سه: چې قاضي بیضاوي رحمه الله وایي چې په دې قصه کې د عیسی علیه السلام باید سړی فکر وکړي چې خدای ﷻ په لاړ ښوونه کې د نصاری وو درجه پر درجه دلیلونه ویلي دي. اول دا چې خدای پاک احوال د عیسی علیه السلام بیان کړه چې د مریم په رحم کې و او بیا مریم لنګه سوه لکه نورې ښځې چې لنګیږي او عیسی پیدا سو او عیسی علیه السلام د غذا محتاج و د مور له شیدو څخه او وروسته تر فطام بیا غذا ته د ډوډۍ محتاجه و چې دا ټوله احوال منافي دي له الوهیت سره د عیسی، نو څرنګه یې نصاری اله بولي او یا یې ابن الله بولي. او یا یې ثالث ثلثه بولي. وروسته بیا خدای پاک هغه د دوئ وشبهې ته چې دوئ علیه الصلوة والسلام ته وویل چې رئیت انساناً یولد من غیر اب په داسې الطف وجه ور زائل کړه فقال الله تعالی ان مثل عیسی کمثل آدم الآیة. یعني عیسی که څه هم پلار نه درلودی مور خو یې درلوده. او د آدم خو نه مور وه نه پلار بلکې له خاورو څخه خدای پاک پیدا کړی چې دا موضوع نصاری هم منې. نو بیا ولې دوئ وایي چې رئیت انساناً آه.

بیا خدای ﷻ ددوئ تینګ والی پر خپل عقیده په باره کې د عیسی علیه السلام ولیدی بیا یې نو دوئ دعوت کړه ومباهله ته په دې الطف وجه د اعجاز القرآن، بیا چې خدای ﷻ ددوئ انکار له مباهله څخه او راضي کېدل ددوئ په ورکولو د جزیه کسامر کل ذالک في بیان حال نصاری النجران، او چونکه د نصاری

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

انکار في الجملة نرم سو بقبول الجزیة بیرته خدای ﷻ په ارشاد ددوئ شروع وکړه په ډیره اساني سره او په عین حال کي ودوئ ته لوی الزام هم و نو دوئ ته یې دعوت ورکړی و داسي شي ته ای التوحید چي پر هغه باندي عیسی علیه السلام او انجیل او ټوله انبیاء علیهم السلام او ټوله کتب الهیه متفق دي بقوله تعالی "تعالوا الی کلمة الآیة" وروسته تر هغه چي دې ارشاد هم فائده ونه کړه، نو مناظره او ارشاد خدای ﷻ قطع کړی او علیه الصلوة والسلام او مسلمانانو ته یې وویل "اشهد بانا مسلمون"

دروښ وایي: چي دا وه د بیضاوي د مختصر بیان ژباړه په پښتو کي، نو حاسدان باید سر په ګریبان د فکر کي ننباسي او له حسد څخه توبه وکاږي لکن هیهات.

فائده: هغه مکتوب چي علیه الصلوة والسلا و هرقل ته استولی و او وړاندي یې یوه حصه تېره سوه په یوه بله برخه کي د هغه حدیث داسي راغلي دي چي هرقل له ابو سفیان څخه په باره کي د رسول الله ﷺ ډېري پوښتنې وکړې کما في صحیح البخاري نو هرقل وویل لو کنت عنده لقبلت قدمیه، دا له دې سببه چي هرقل ته صدق د نبي ﷺ معلوم سو من سواله عن ابی سفیان وجواباته من علاماته في الکتب القدیمة ولکن خاف من ذهاب الریاسة، وروسته هرقل په جواب کي د مکتوب د علیه الصلوة والسلام داسي نوشته کړه انا نشهد انک نبي ولکنا لانستطیع الی نترک الدین القدیم الذي اصطفاه الله لعیسی ﷺ، نو آنحضرت ﷺ دده مکتوب ته تعجب وکړی او وه یې ویل لقد ثبت ملکهم الی یوم القیامة ابداً.

دروښ وایي: چي په دې قول د علیه الصلوة والسلام معجزه باهره ده، ولي چي د نصاری وو له لاسه یکلخته سلطنت نه دی وتلی بلکي په ډېره کره د محکي کي اوس هم قوي ریاستونه لري، سنه ۱۴۲۶ هجري قمري.

دروښ وایي: چي مثل د مکتوب د هرقل یو مکتوب د فارس بادشاه یعني خسرو پرویز کجکلا ته نوشته کړی و خسرو چي مکتوب د علیه الصلوة والسلام ووایه مکتوب یې توک توک کړی نو علیه الصلوة والسلام ته چي دا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حال ورسېدی داسي يې وويل اللهم مزقهم كل ممزق او دا يې زياته كړه چې قد خرق الله ملكهم ابداً.

دروېش وايي: چې قصه د زوال د ملک د کسرى او بيا عدم سلطنت د مجوسيانو فارسيانو الى يومنا هذا بل الى يوم القيامة چونکه وېره اوږده قصه ده او په يو مناسب ځای کې ددې تفسير به راسي ان شاء الله تعالى هم معجزه ظاهره د عليه الصلوة والسلام ده كما لايخفى.

پوه سه: چې يوه ورځ په مجلس کې د نوشيروان درې کسان د پوهانو سره جمع سوه، نو ددوئ بحث ودې ځای ته را ورسېدی چې سخت ترين د سختې د ژوند څه شی دی نو حكيم رومي وويل هو الشيخوخة مع الفقر، او هندي پوهاند وويل هو المرض وعلة البدن مع كثرة الغموم، او بزرجمهر چې د نوشيروان وزير و هغه وويل هو قرب الاجل وسوء العمل، وروسته هغه نورو دوو حكيمانو په قول سره د بزرجمهر فتوى وركړه ازقنا الله وايـاكم حلاوة الطاعات الى يوم الممات وايدنا الله ﷻ بالعصمة عن سوء الاعمال الى وقت مجئ هاذم اللذات آمين، والى قول هؤلاء الحكماء قد اشار العارف الجامي:

پېش کسرى زخرمند حكيمان ميرفت
سخن از سخت ترين موج درين لجه غم
آن يكى .گفت كه بيمارى و اندوه دراز
وآن ديگر گفت كه ناداری وپيرستى بهم
سو يمين گفت كه قرب اجل و سوء عمل
عاقبت رفت بترجيح سوم حكم حكم

يَاأَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تُحَآجُّوْنَ فِيْٓ اِبْرٰهِيْمَ وَمَآ اُنْزِلَتِ التَّوْرٰىةُ وَالْاِنْجِيْلُ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِهٖ ۭ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۝۶۵

پوه سه: چې ددې آيت شان نزول ابن اسحاق رحمه الله له ابن عباس رضي الله عنه څخه داسي بيان کړی دی، او مظهري دغه شان نزول دلته هم بيان کړی دی، او په دمخه آيت کې يې هم دغه شان نزول راوړی دی لکه دروېش چې دمخه هم اشاره ورته وکړه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې مناسب ځای ددې شان نزول وروسته یعنې دا اوسنی آیت دی. ابن عباس رضي الله عنه وایي چې نصاری د نجران چې مدینې منورې ته راغله د علیه الصلوة والسلام سره د بحث په باره کې د عیسی علیه السلام کمامر تفصیله. نو احبار د یهودیانو یعنې ملایان ددوئ هم مجلس ته ورغله. نو ملایانو د یهودیانو وویل چې ابراهیم یهودي و او موږ پر دین د هغه یو. او نصاری وو د نجران وویل ماکان ابراهیم الا نصرانیاً ونحن علی دینه. نو خدای پاک په رد کې د دواړو ډلو دا آیت نازل کړی، ترجمه: اې اهل کتابو خطاب دی ویهودیانو او نصاری وو دواړو ته. ولې تاسي خصومت او بحث کوئ د ابراهیم په دین کې، او نه دی نازل سوی تورات چې له نزول ځخه د تورات یهودي دین منځ ته راغلی دی، او انجیل چې د نصرانیت دین د هغه له نزول ځخه وروسته پیدا سوی دی، مګر نه وروسته تر ابراهیم علیه السلام یعنې ډېره زمانه وروسته چې د تاریخ په پانو کې وایي چې په منځ کې د ابراهیم او د موسی زرکاله تېر سوي وه، او په منځ کې د موسی او عیسی چې اخیر نبي و د اسرائیلو هم زر کاله فاصله وه، آیا تاسي دواړې ډلې عقل نه لرئ چې ابراهیم ته یا د یهودیت نسبت کوئ یا د نصرانیت.

فائده: اصل د "لم" لما و او ما استفهامیه ده او استفهام لپاره د تعجب او انکار دی او سبب د حذف د الف د ما په دخول د حرف جر سره فرق دی په منځ کې د ما موصوله او استفهامي. کذا قال البحر البغدادي رحمه الله.

پوښتنه: یهودیان دعوه د محبت د موسی علیه السلام او د تورات کوي. آیا دا دعوه ددوئ حقیقت لري او که صرف د خولې خبري دي؟

ځواب: دوئ په حقیقت کې یعنې علماء د دوئ محبت د موسی او د تورات نه لري والا لقبلوا وصیة موسی والتوراة لکه عبد الله بن سلام رضي الله عنه چې ددوئ یو ستر حق بین عالم و د موسی او د تورات وصیت یې قبول کړی او پر علیه السلام یې ایمان راوړی حیث ورد في التوراة بلفظه ینابی مقربغ الی وتسماعون الخ بلکې دوئ په حقیقت کې حب المال والجاه والجلال والریاسة کوي کما حکی الله تعالی عنهم اشتروا بآیاتي ثمناً قلیلاً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: نصاری هم دعوی د محبت د عیسی علیه السلام او د انجیل کوي آیا دا حقیقت لري؟

ځواب: لا! ولي که دوئ رشیتا محبان د عیسی او د انجیل وایی لآمنوا بمحمد ﷺ لانه تعالی حکی عن قول عیسی والانجیل ومبشراً نبي یاتي من بعدي اسمه احمد، بلکې ددوئ محبت اصلاً هم د جاه او جلال سره دی لکه مورږ چي دمخه حال د لوی اسقف د نصاری وو ابو حارثه بن علقمه بیان کړی چي خپل ورور کرز ته یې ووایه چي شاهان د روم زمورږ د هر عزت کوي الی اخیر او د نصاری د نجران د پټو مشرو څخه هم صراحةً حب الجاه والجلال معلوم سو کمامر تفصیله.

درویش وایي: چي مناسبت د حقیقت محبت دا بټونه درته ورکړي کوم چي په هامش کي د مکتوبات شریف دفتر اول ص ۱۶ کي نوشته دي

روزی اعرابی نجدی بآواز خوش ودل کش این ابیات میسر آید.

کل صبح و کل اشرا قی	تبکی عیني بدمع مشتاقي
قد لثعت حیة الهوی کبدي	فلا طبیب لها و لا راقي
الا الحبیب الذي شغفت به	فعنده رقیتي و تریا قي

چون آنحضرت ﷺ این ابیات بشنیدند محظوظ گشته وبتکرار آیات مذکوره امر فرموده.

درویش وایي: چي دا قصه که څه هم په کتابو کي د احادیثو شریفه وو نه ده راغلي لکن امام رباني مجدد الف ثاني قدس سره په خپل مکتوب کي داسي اشاره ورته کړې ده فلا طبیب لها ولاراقي، او هامش والا پوره قصه بیان کړې ده. او تولـه بیټونـه یـې راوړي دي، نـو څکـه دروبـش بنـاءً علـی حسـن الظـن بالمجدد قدس سره دا موضوع دلته درج کړه، والعلم عندالله.

تنبیه: حضرت المجدد الالف الثاني هغه مقبول شخصیت دی بین العرب والعجم او صاحب د شریعت او طریقت او حقیقت دی او عالم بالعلوم کلها من التفاسیر القرآنیة والآحادیث النبویة والفقه بل جمیع العلوم العربیة بل جمیع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المعقولات والمنقولات او صاحب الفصاحة والبلاغة دی في اللسان العربية واللغة الدرية، وكتابه المكتوبات الشريف ايضاً كتاب مقبول في جميع الدول الإسلامية لكن قل من يفهم مقاصد ذالک الكتاب وماربه، البته غير مقلدين چې په نامه د اصحابو د ظواهر الحديث يادېږي او سلفيان وغيرهم من الفرق المعلومة الحال و مجدد عليه الرحمة او وكتاب ته د مكتوبات په كږو ستركو بلا نور ورته گوري، او خفت انگيز ويناوي ددوئ تر خوله وزي وهذا لايضر بكماله وكمال كتابه لمر خو هغه روښان لمر دی نو چې خفاش نه وي نو لمر ته څه تاوان دی.

حكمت: خدای ﷻ د درواغو د انكار او دښمنۍ دروازه پر خان نه ده ترلې حتی دښمنان د خدای ﷻ قديماً وحديثاً تر هر چا ډېر دي او هم دا دروازه يې پر مقربينو بندګانو خپل چې انبياء كرام على نبينا وعليهم السلام دي هم نه ده ترلې حتی چې قرآن مبارک ددې شاهد دی. ثم الصحابة ﷺ كلاً او بعضاً تر دښمنۍ د خلګو لاندې دی، ثم التابعين رحمهم الله ثم وثم الى يومنا هذا ثم اولياء الله تعالى من اولهم الى اخيرهم تر فشار د دښمنانو د خوا قرار لري. والى الله المشتكى من صنيع هؤلاء الاعداء.

پوښتنه: د عقائدو په كتابو كې وايي چې تحقيق مذهب په باره كې د ايمان دادی چې ايمان يوازې تصديق قلبي دی، او اقرار په شرط لپاره د اجراء د احكامو د اسلام دی، او مشهوره مذهب دادی چې ايمان اقرار او تصديق دواړه دي. لكن اقرار ركن غير لازم دی ومآل المذهبين واحد في الحقيقة. نو پوښتنه داده چې د يهوديانو د ملايان خو پر نبوت د عليه الصلوة والسلام تصديق و كما حكى الله تعالى عنهم يعرفونه كما يعرفون ابنائهم، او داغه رنګه د نصارى وو د نجران خو هم پر رسالت د عليه السلام تصديق كامل و كما يظهر من قصصهم السابقة في هذا التفسير. آيا دغه د يهوديانو د ملايانو تصديق او د نصارى وو د ملايانو تصديق به ودوئ ته فائده ونه كړي په ورځ د آخرت او كه څرنګه؟

خواب: يا نه يې كوي ولې چې ايمان له "امن" څخه ماخوذ دی يعنې خدای

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

او رسول دده له تکذیب څخه بېغمه کوي یعني اختیاري شی دی، او په ملایانو کي د یهودیانو او د نصاری وو دا شی نه و، البته په دوئ کي معرفت اضطراري و، هغه معرفت د نجات لپاره کافي نه دی ولاجل هذا قال الله تعالی في حق علماء الیهود یعرفونه کما یعرفون ابنائهم والفرق دقیق فتامل فیه.

هَاأَنْتُمْ هَؤُلَاءِ حَاجَجْتُمْ فِيمَا لَكُمْ بِهِ عِلْمٌ فَلِمَ تُحَاجُّونَ فِيمَا لَيْسَ لَكُمْ بِهِ عِلْمٌ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٦٦﴾

پوه سه: چي کلمه د "ها" حرف تنبیه ده، او "انتم" مبتداء ده او "هولاء" یې خبر دی او "حاججتم" جمله مستانفه ده چي تنبیه ده پر کمال غفلت د دوئ، وترجمة الجملة الاولی تاسي دغسي بې عقلانو خلګ یاست چي ستاسي د بې عقلۍ بیان دادی چي تاسي خصومت کوئ په هغه شي کي چي تاسي پر هغه شي علم لرئ من التوارة والانجیل ومن نبوة محمد ﷺ نو تاسي ولي خصومت کوئ په هغه شي کي چي تاسي پر هغه علم نه لرئ من دین ابراهیم، ولي د دین د ابراهیم ذکر نه په تورات کي سته او نه په انجیل کي، او خدای خبر دی په هر شي خصوصاً په دین د ابراهیم او تاسي نه یاست خبر، والمفعول محذوف، او د خدای پاک معلومات په باره کي د ابراهیم او دده دین دادی.

مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا وَلَٰكِنْ كَانَ حَنِيفًا مُسْلِمًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿٦٧﴾

نه و ابراهیم یهودي المذهب او نه نصراني المذهب، لکن ابراهیم حنیفاً و یعني مائل و له مذاهبو باطله وو څخه او د عقائدو زاغه وو څخه لکه تاسي یهود چي په هغو باطلو عقائدو کي مبتلاء یاست چي عزیر ابن الله، او یا دا چي لن یدخل الجنة الا من هوداً، او یا نصاری چي مبتلاء دي چي عیسی ابن الله دی، او یا دا چي لن یدخل الجنة الا من کان نصاری، او بعض مفسرین وایي چي د حنیف معنا داده چي مائل په لمانځه کي وکعبې ته وي، او د مسلم معنا داده چي متابعت یې کاوه د هغو شیانو چي خدای به امر کړی و، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

متابعت د خواهشاتو نفسیه وو یې نه کاوه لکه تاسي یهود او نصاری چې لپاره د حب الرياسة او جمع المال والمنال کوي، او د نبي امي چې علیه الصلوة والسلام دی متابعت نه کوي او ایمان نه پر راوړي مع انکم تجدونه مکتوبا في التوارة والانجيل، او په عین حال کې تاسي مشرکان هم یاست، ولي چې عزیر ابن الله بولئ او عیسی ابن الله بولئ، نو داسي څرنګه دا دعوی کوئ چې موږ پر دین د ابراهیم یو، او نه و ابراهیم له مشرکانو څخه یعني که څخه هم مشرکان د مکې وایي چې موږ پر دین د ابراهیم یو. او بعض مفسران وایي چې وماکان من المشرکین تعریض دی پر یهودو او نصاری باندې یعني تاسي خو مشرکین یاست کمامر آنفاً سبب شرکهم بعزیر وعیسیٰ ؑ

إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِإِبْرٰهِيمَ لَلَّذِينَ اتَّبَعُوهُ وَهٰذَا النَّبِيُّ وَالَّذِينَ آمَنُوا ۗ وَاللَّهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٦٨﴾

په تحیقق سره اقرب او نژدې د خلګو و ابراهیم ته مشتق من الولي بمعنی القرب، هر آینه هغه کسان دي چې دده متابعت به یې کاوه یعني د دین دده په هغه زمانه یا وروسته تر زمانې دده بالاخلاص والاحسان، او بل دغه نبي دی یعني محمد ﷺ، او هغه کسان دي چې یې پر دغه نبي ایمان راوړی وي، ولي چې مؤمنان په اکثرو شرائع وو کې د ابراهیم سره شریکان دي کالتوحید في اصول الدین او اضحیه، او ختنه، او صلوة الی الکعبة، والحج والعمرة، او خدای ﷻ قریب او دوست دی د مؤمنانو.

فائده سنیه: وقصة عجیبة ومعجزة باهرة، بغوي ؒ وایي چې کلبي ؒ د ابي صالح ؒ او هغه د ابن عباس ؓ څخه روایت کړی دی چې حضرت جعفر بن ابي طالب سره د نورو ملګرو اصحابو ؓ د علیه الصلوة والسلام چې حبشې ته یې هجرت کړی و، او بیا علیه الصلوة والسلام ومدینې ته هجرت وکړی او واقعه د بدر پیښه سوه یعني چې اوبا سرکرده د قریشو د مکې پکښې ووژل سول، نو قریشو په دار الندوة یعني چې ددوئ د قومي مشورې سرای و سره جمع سول چې موږ باید خپل کسات د مړو د هغو مسلمانانو څخه واخلو چې په حبشه کې

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

ژوند کوي، یعني جعفر او ملګري اصحاب د نبي، نو اخیر دوئ فیصله پر دې وکړه چې یو قومي پلنډ به سره جمع کړو او په هغو روپو به هدایا را نیسو او نجاشي ته به یې ور واستوو او دا پیغام به ورواستوو چې ستا په مملکت کې چې کوم مسلمانان دي موږ ته یې په لاس راکړه، او ددې کار لپاره یې دوه سنجیده کسان مقرر کړه چې د یوه نوم عمرو بن العاص او د بل نوم عمارة بن ابي معیط و، او تحفې او هدایا یې د نجاشي لپاره په لاس ورکړې، نو دا دوه کسان په کښتۍ کې سپاره سوه مخ د حبشې پر خوا او حبشې ته ورسېدل او د نجاشي په دربار کې یې اجازه واخسته ځرنګه چې دوئ نجاشي ولیدی نو سجده یې ورته وکړه، او دوئ ورته وویل چې زموږ قوم یعنې قریش ستا خیر خواه دي، او ستا د سلامتیا محبان دي، او دوئ یعنې قوم زموږ ددې لپاره تاته راواستولو چې تا وښېره و له دغو کسانو څخه چې چې له مکې څخه ستا وملک ته راغلي دي، وي دغه کسان د دوئ په خوله قوم یعنې خپلوان د یوه کذاب سړي دي چې په موږ کې پیدا سو او دعوه د نبوت یې وکړه، او دده متابعت نه دی کړی مګر زموږ د قوم بې عقلانو، نو موږ پر دوئ محکه د مکې تنګه کړه او دوئ مو و یوې شپلې ته وشړل چې د مکې د ښار د باندي واقع ده نه څوک دوئ ته ورتلای سي او نه څوک له دوئ څخه د هغې شپلې څخه را وتلای سي او دوئ په شعب کې د لوږې او د تندې د پر پکښې مړه سوه.

دروښ وایي چې دا خبره یې درواغ په ګډ کړه، خیر چې سختي پر دې ډېره سوه نو یې خپل د اکا زوی سره د څو کسو ستا مملکت ته راواستول چې پر تا باندي ستا د نصرانیت دین فاسد کړي او یا دوئ شاهي ستا د لاسه وباسي او رعایت درته باغي کړي، نو له دې کسانو څخه ته وښېرېږه او موږ ته یې په لاس راکړه، موږ دي څندي خلاصوو او موږ یې دستي وژنو او تا ددې فتنې څخه خلاصوو، دوئ ورته وویل چې علامه ددوئ داده چې ستا سره محبت نه لري دوئ چې ستا دربار ته راسي تاته سجده نه کوي او تاته داسي سلام نه اچوي لکه نور کسان بغضاً لدینک ومنتک، نو نجاشي په جعفر او ملګرو پسې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عسکر واستول، نو جعفر چې دروازې ته د دربار د نجاشي راغلی نو نعره یې وکړه او وه یې ویل یستاذن علیک حزب الله، نو نجاشي وعسکرو ته وویل چې دغه صالح ته ووایه چې ته بیا هغه نعره وکړه جعفرﷺ بیا خپله نعره تکرار کړه، نو نجاشي وویل فلیدخلوا باذن الله وذمته نو عمرو بن العاص وخپل ملګري ته وکتل او وه یې ویل الا تسمع کیف یرطنون یعني خبرې کوي د حزب الله په نامه او نجاشي ودوئ ته څه نه وویل نو دوئ دوه ډېر غمجن سوه یعني چې نجاشي زمونږ وخبرې ته هیڅ اهمیت ورنه کړی، نو عمرو بن العاص بیا واړی پیدا کړی او نجاشي ته یې وویل چې ته نه وینې دا داسي متکبر خلګ دي تاته یې سجده ونه کړه، نو نجاشي ودوئ ته وویل مامنعکم ان تسجدوني، او تاسي وماته هغه تحیه ونه کړه چې د افاقو څخه چې ماته خلګ راسي ماته هغه تحیه کوي وغرضه السجدة، جعفرﷺ ورته وویل چې مونږ هغه چاته سجده کوو چې ته یې پیدا کړی یې او تاته یې سلطنت درکړی دی یعني اللهﷻ، جعفر ورته ژباته کړه چې مونږ دا تحیه یعني سجده هغه وخت کوله چې مونږ د بتانو عبادت کاوه. نو بیا په مونږ خدایﷻ نبي صادق راواستوی وامرنا بالتحیة التي رضیها الله چې السلام علیکم چې هغه تحیه د اهل الجنة ده، نو نجاشي پوه سو چې دا خبره خو یې حق وکړه وانه في التوراة والانجیل، بیا نجاشي ورته وویل چې کوم سړی و په تاسي کي چې دا نعره یې وکړه یستاذن علیک حزب الله، جعفرﷺ ورته وویل زه وم، نجاشي ورته وویل جي خبري نوري وکړه جعفرﷺ ورته وویل چې یو بادشاه یې له بادشاهانو څخه د مخکي او ستا په دربار کي ډېرې خبرې مناسبي نه دي او نه ظلم، جعفرﷺ ورته وویل زمونږ خبره به پر داغه خای بس کړو، ته ددغو دوو کسانو یعني په طور د هشت تاته راغلي له مکې څخه یعني عمرو بن العاص او عمارة بن ابي محیط نو یو له دوئ دي خبرې وکړې او هغه بل دي پټه خوله کښېني، نو زمونږ او ددې خبرې به ته واوره، فقال عمرو بن العاص وجعفرته چې ته خبره وکړه نو جعفرﷺ ونجاشي ته وویل چې ددې دوو کسو څخه پوښتنه وکړه چې مونږ مریان یو او که حر، نو عمرو ورته وویل احرار

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

یاست او کرام خلگ یاست، قال النجاشي نجودتم من العبودية. بیا جعفرﷺ نجاشي ته وویل چې ته له دوئ څخه پوښتنه وکړه چې مورږ ددوئ وینې ناحقه توی کړي دي چې دوئ زمورږ قصاص واخلي، عمرو ورته ووویل لا ولاقطرة. جعفرﷺ ونجاشي ته وویل چې له دوئ څخه پوښتنه وکړه چې مورږ یعني د حبشې مهاجرو د خلگو مالونه ناحقه اخستي دي فعلينا قضائه، نجاشي ورته وویل که یې قنطار در څخه اخستي وي یعني بېخي ډېر مال زه یې درکوم، عمرو بن العاص ووېل لا ولا قراطاً یعني سدس الدرهم یې زمورږ نه دی اخستی، نو نجاشي ورته وویل چې تاسي له دوئ څخه څه شی غواړئ عمرو بن العاص ورته وویل چې مورږ او دوئ پر یوه دین و چې زمورږ د اباء او اجداد دین و یعني بت پرستي، نو دوئ هغه دین پرېښوی او متابعت د بل دین یې شروع کړی، یعني التوحيد الذي بعث الله محمداًﷺ به، نو مورږ مکي والو را استه ولي یو چې ته مورږ ته دوئ په لاس راکړه، نو نجاشي جفعرﷺ ته وویل چې هغه دین چې تاسي پر هغه واست او تاسي یې متابعت کاوه هغه څرنگه دین و او رشتیا به راته وایې اوسنی دین څرنگه دین دی، نو جفعرﷺ ورته وویل چې زمورږ پخوانی دین د شیطان دین و و مورږ خدایﷻ ته شریکان په عبادت کې نیول او د ډبرو عبادت به مو کاوه او هر چه اوسنی دین دی هغه دین د اسلام دی مورږ ته له جانبه څخه د خدایﷻ پر رسول باندي یعني محمداًﷺ او مورږ ته کتاب راغلی دی لکه کتاب د ابن مریم یعني انجیل موافقاً له. یعني في اصول الدین، ثم قال له النجاشي تکلمت بامر عظیم، نو نجاشي ناقوس چې نصاری یې په وخت کې د ضرورت وهي وه یې واهه نو دده په دربار کې چې وه هر قسیس او راهب یعني هر عالم او صوفي د دین عیسوي ورته راجمع سول، نو چې توله دده حضور ته راغله نو نجاشي ودوئ ته داسي وویل چې قسم درکوم تاسي په هغه خدایﷻ چې انجیل یې پر عیسیﷺ نازل کړی دی چې تاسي ته په منځ کې د عیسیﷺ او د ورځې د قیامت بل نبي مرسل درمعلوم دی، قالوا یعني بالاتفاق اللهم نعم، او دوئ ووېل چې مورږ ته په انجیل کې عیسی زهری د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بل نبي راکړی دی یعنې چې نوم یې احمد دی، او عیسی علیه السلام دا هم ویلی دي چې من آمن فقد امن بي ومن کفر به فقد کفربي، نو نجاشي وجعفر رضي الله عنه ته وویل چې داستاسي نبي تاسي په څه شي امر کوي، او له څه شي مو منع کوي، جعفر ورته وویل چې موږ ته کتاب د خدای ﷻ وایي او موږ امر کوي په معروف سره او نهي کوي مو له منکراتو څخه ویامرنا بحسن الجوار وصلة الرحم وبر الیتامی ویامرنا بان نعبدالله وحده لاشریک له نو نجاشي ورته وویل چې ته ماته قرائت وکړه د هغو آیتو چې ستاسي نبي یې وتاسي ته قرائت کوي، نو جعفر رضي الله عنه سورة العنکبوت ورته تلاوت کړی او بیا یې سورة الروم ورته ووایه، نو د نجاشي له سترګو څخه اوښکي وبهېدلې، او ټولو حاضرینو د نجاشي په شمول جعفر رضي الله عنه ته وویل زدنا یا جفعر من هذا الحدیث الطیب فقرء علیهم سورة الکهف، فاراد عمر بن العاص چې نجاشي جفعر ته په غصه کړي نو ده وویل چې دوئ یعنې مسلمانان او ددوئ نبي وعیسی او مورته دده بشکنځل کوي. نو نجاشي جفعر رضي الله عنه ته وویل چې تاسي د عیسی او دده د مور په باره کې څه عقیده لرئ، نو جفعر رضي الله عنه دوئ ته سورة مریم ووایه نو چې ذکر د مریم او عیسی راغلی، نو نجاشي لوی آه وکړی او سترګې یې له اوښکو څخه دوندې کوچنۍ سوې لکه څوک چې خاشه له سترګو څخه دده کاږي او نجاشي ووېل ما زاد المسیح علی مایقولون، او بیا نجاشي مخ را واړوی او ورته وه یې ویل فانتم سیوم بارضي د سیوم ترجمه انتم آمنون زما په مځکه کې، بیا نجاشي ورته ووېل ابشروا ولاتخافوا فلادهورة الیوم علی حزب ابراهیم یعني لاضیاع علیکم بلکې زه مو حفاظت کوم، نو بیا عمرو بن العاص ووېل یا نجاشي من حزب ابراهیم؟ نجاشي ورته ووېل هولاء القوم وصاحبهم الذي جاؤا من عنده یعني النبي ﷺ، وروسته چې عمرو بن العاص چې هغه تحفه له خانه سره راوړې وه نجاشي ته یې پیش کړه نجاشي ور رد کړه، او ورته وه یې ویل چې دا ستاسي هدیه رشوت دی وماته زه یې نه کوم، ولي چې خدای ﷻ وماته سلطنت راکړی دی او زما څخه یې رشوت نه دی اخستی، فانصرف عمرو بن العاص او دده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ملګری خائبین مکې ته ولاړه، او جعفر﷜ وایي فانصرفنا فکنا في خیر دار واکرم جوار یعني في ارض الحبشة جفعر﷜ وایي وانزل الله تعالی في ذالک الیوم علی رسولهﷺ في خصومتي في ابراهیم، او علیه الصلوة والسلام په مدینه کي و، قول اللهﷻ ان اولی الناس بابراهیم الآیة"

دروښ وایي: چې قصه د نجاشي اوس هم ډیره پاته ده ان شاء الله تعالی په یو مناسب ځای کې ددې تفسیر به راسي. قال الله تعالی

وَدَّتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ

مفسرین وایي چې دا آیت په شان کې د معاذ بن جبل او د حذیفه بن الیمان او عماره بن یاسر﷜ نازل سوی دی چې دوئ ته بلنه ورکړه یهودیانو وخپل دین ته ومعنی الآیة تمنی او امید لري اهل کتاب یعني الیهود.

لَوْ يُضِلُّوْنَكُمْ ؕ

چې تاسې ګمراهان کړي له خپل دین څخه او تاسي رد کړي وکفر ته.

پوه سه: چې کلمه د "لو" یا په معنا د "ان" مصدري ده چې په معنا کې عمل کوي او په لفظ کې یې نه کوي، او په محل کې د نصب ده په ودت سره، او یا لو لپاره د تمنی د بیان دی د وداد د دوئ.

وَمَا يُضِلُّوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ

او دوئ نه ګمراهان کوي مګر خپل خانونه، یعني وبال د اضلال د دوئ راجع وي ودوئ ته، نو دوئ لره دوه عذابه دي یو د ضلال خپل او بل کوشش کول له اضلال کې ستاسي او مسلمانان محفوظه دي له شر څخه ددوئ یحفظ الله تعالی جل سلطانه.

وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۶۹﴾

او دوئ په دې نه پوهیږي چې په دې اضلال کې زموږ پخپل تاوان دی.

پوه سه: چې خدایﷻ دوئ داسي کړه چې حواس یې هم کار نه کوي، ولي چې دا الحاق د ضرر ودوئ ته لکه محسوس بالحس الظاهر دی ولذالک قال

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

وما يشعرون يعني داسي يې نه وويل ولا يعلمون.

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تَكۡفُرُونَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ وَأَنتُمۡ تَشۡهَدُونَ ٧٠

ای اهل کتابو، ای الیهود والنصاری ولې تاسي کفر کوئ په آیات د خدای یعني چې په تورات او انجیل کې موجود دي چې هغه آیتونه دال دي پر صدق د نبي ﷺ په دعوی کې د نبوت. خو فاعل الریاسة وحرصاً علی الاموال. او سره ددې چې تاسي شاهدي اداء کوئ یعني اقرار کوئ پخپل منځ کې په پته چې دغه نبي برحق دی او نعت ددې په تورات او انجیل کې سته. او دا هم احتمال سته چې شهادت دي په معنی د علم وي یعني انتم تعلمون صدقه بالمعجزات الباهرات.

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تَلۡبِسُونَ ٱلۡحَقَّ بِٱلۡبَٰطِلِ وَتَكۡتُمُونَ ٱلۡحَقَّ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٧١

ای اهل کتابو ولعل المراد منه الیهود خاصةً لانهم فعلوا ذالک تاسي ولې گډوئ الحق یعني هغه آیتونه د تورات چې په شان کې د نبي ﷺ نازل سوی دی په باطل سره چې تاسي یې په خپلو لاسو لیکئ تحریفاً لنعوته ﷺ او تاسي پټوئ حق چې نازل في التوراة دی او تاسي په دغه پوهېږئ یعني قصداً یې کوئ وانما قال ذالک لان الجاهل قد یعذر ولذلک ورد في الحدیث الصحیح النبوي للجاهل ویل وللعالم سبعین ویل.

وَقَالَت طَّآئِفَةٞ مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ ءَامِنُواْ بِٱلَّذِيٓ أُنزِلَ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَجۡهَ ٱلنَّهَارِ وَٱكۡفُرُوٓاْ ءَاخِرَهُۥ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ٧٢

او وویل یوې ډلې د اهل کتابو یعني الیهود په پخپل منځ کې چې ایمان راوړئ یعني اظهر والایمان باللسان لاجل الخداع پر هغه قرآن باندې چې نازل سوی دی پر هغو کسانو چې ایمان یې راوړی یعنون المسلمین په اول کې د ورځې او کافران سي په هغه قرآن سره په اخیر کې د ورځې نو شاید مومنان به هم رجوع وکړي له خپل دین څخه او یا به شک ور ولوېږي پخپل دین کې په دې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

گمان چې دا خو اهل کتاب وه او ایمان یې هم راوړی په اول د ورځې او په اخیر د ورځې بیرته کافران سوه نو لکه دغه اهل کتابو زمونږ په دین کې څه نقصان ولیدی، څکه بیرته کافران سوه، حسن بصري رحمه الله په روایت د بغوي رحمه الله وایي چې دولس کسانو د خیبر د یهودیانو ملایانو پر دې خبره اتفاق کړی و او هغه سي یې هم وکړه، او مجاهد، مقاتل او کلبي رح وایي چې څه وخت چې قبله د بیت المقدس څخه وکعبې شریفې ته واوښتله پر یهودیانو دېره سخته پریوتل، نو یې داسې اتفاق وکړی یعني کعب بن الاشرف او ملګرو دده چې راځې په اول کې د ورځې به مونږ ایمان راوړو پر قبلې د کعبې او لمونخونه به هم وکعبې ته وکړو او په اخیر د ورځې به بیرته خپل بیت المقدس ته رجوع وکړو.

وَلَا تُؤْمِنُوٓا إِلَّا لِمَن تَبِعَ دِينَكُمْ

دا جمله عطف ده پر آمنوا بالذي آه باندې.

پوه سه: چې بعض مفسیرین ددې آیت معنا داسې کوي چې تاسې ایمان مه راوړئ په موافقت د زړه مګر وهغه چاته چې ستاسې ددین متابعت کوي، او بعض مفسرین وایي چې دا جمله بیان ده د کفروا اخره، او په هر حال الا لمن استثناه مفرغ ده ای لاتصدقوا لاحد الا لمن آه.

قُلْ إِنَّ الْهُدَىٰ هُدَى اللَّهِ

او ته ووایه ای محمد ﷺ وکفارو ته چې په تحقیق هدایت د خدای ﷻ دی یهدي من یشاء الی الایمان ویثبته علیه، نو ای کافرانو حیله او مکر تاسې ته فائده نه لري او مسلمانانو ته ضرر نه رسوي، قال عز من قائل یریدون لیطفئوا نورالله بافواههم والله متم نوره الآیة.

أَن يُؤْتَىٰٓ أَحَدٌ مِّثْلَ مَآ أُوتِيتُمْ

قال صاحب روح البیان علة بتقدیر اللام لفعل محذوف ای قلتم ذالک القول دبرتم ذالک الکید لاجل ان یعطی احد یعني محمد ﷺ والمؤمنون مثل ما اعطیتم من الکتاب ای التوار والعلم لاالشئ اخر ای الدین یعني مابکم من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الحسد صار داعياً لكم الى ماقلتم وكدتم ومكرتم مامر من قولكم ومكركم، او مظهري په مختصره توګه دغه مطلب بيان کړی دی حيث قال متعلق بمحذوف يعني مكرتم ذالک المكر حسداً.

أَوْ يُحَآجُّوكُمْ عِندَ رَبِّكُمْ

پوه سه: چې دا فعل عطف دی يوتي باندې منصوب بان او ضمير مرفوع په يحاجوكم کې راجع دی واحد ته.

سوال: احد خو مفرد دی او ضمير د يحاجوكم خو جمع او ضمير د "يحاجوكم" خو جمع دی نو څرنګه به وهغه ته راجع سي؟

ځواب: هو لفظ د احد خو مفرد دی لکن په معنا کې جمع دی، لوقوعه في سياق النفي والمعنى او مكرتم لان يغلبكم احد، او مراد د عندربكم څخه دادی چې په ورځ د قيامت په حضور د رب العزت او پر تاسي به غالبه سي الن من اتاه الوحي والكتاب وهم المؤمنون لابد ان يحاج مخالفيه وهم انتم اليهود ويغلبوا عليكم په دې معنا چې تاسي خو اهل العلم او كتاب واست نو ولې مو ايمان پر محمد ﷺ نه راوړي وهو مكتوب عندكم في التوراة، فلامحالة فيغلب المؤمنين عليكم بالحجة في يوم القيامة.

قُلْ إِنَّ ٱلْفَضْلَ بِيَدِ ٱللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَآءُ ۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٧٣﴾

ته ورته ووايه ودوی ته چې فضل يعني اعطاء العلم والكتاب والهدى والنبوة په قدرت کې د خدای دی هغه چاته يې ورکوي چې اراده يې سي او خدای فراخه دی يعني فضله، او خبر دی په احوالو د عبادو او په استعداتو د خلګو، نو ځکه نبوت وخپل لوی مستعد او اهل بنده محمد ﷺ ته يې ورکړی او مؤمنانو يې په هدی او متابعت د هغه په نصيب کړه وفضل الله لايمنع عن احد بمكر الحاسد وكيده في رد ذالک الفضل منه.

دروښ وايي: چې په دې آيتو کې اشاره ودې ته ده چې حسد که څه هم په جبلت کې د انسان موجود دی لکن خاص په هغه عالم پورې دی چې علم ددې

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

لپاره زده کوي چې فخر وکړي په علم سره پر علماؤ باندې او علم يې وسيله
ګرځولې وي وجمع ته د مال وحصول ته د جاه او جلال او قبول عند ارباب
الدنيا نو داسې عالم حسد کوي پر هغه عالم چې خدای ﷻ و هغه ته علم
ورکړی وي او هغه نشر کوي په مسلمانانو کې تقريراً وتحريراً محضاً لرضائه
تعالى ولافائدة اخوته المؤمنين. او حسد د احبارو د يهودو له عليه السلام سره
ددغې قبيلې څخه و حافياً اسفى على حال عالم علماء امة محمد ﷺ ليشارک
في الحسد على غيره، من العلماء احبار اليهود اللهم احفظنا من امثال هذه
المشاركة لاحبار اليهود لتحصيل النقود.

يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِۦ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٧٤﴾

او خاصوي په رحمت سره خدای ﷻ، چې مراد دلته ځندې نبوت دی هغه
څوک چې اراده يې ورته وسي، او خدای د فضل څښتن دی، بيت

نقصان زقابل است وگرنه على الدوام
فيض سعادتش بهمه کس برابر هست

وَمِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ

او بعض له اهل کتابو څخه يعني عبدالله بن سلام رضي الله عنه وامثاله.

مَنْ إِن تَأْمَنْهُ بِقِنطَارٍ يُؤَدِّهِۦٓ إِلَيْكَ

داسې کسان دي که ته دوئ امين وګرځوې پر يو مال کثير باندې يا په طور
د امانت کما هو ظاهر لفظ القرآن والشان نزول ايضاً عليه ويقاس عليه القرض
وسائر الديون والعاريات، تاته هغه امانت اداء کوي په سبب د خپلې ديندارۍ
او ايمان او تقوى، چنانچه په حديث شريف کې د ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی
چې يو سړي وعبدالله بن سلام رضي الله عنه ته يو زر او دوه سوه اوقيې سره زر ايښي وه
په طور د امانت چې يوه وقيه څلويښت درهمه اندازه ده، نو عند المطالبة
عبدالله بن سلام رضي الله عنه هغه تولې اوقيې ورکړې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمِنْهُمْ مَّنْ إِنْ تَأْمَنْهُ بِدِينَارٍ لَّا يُؤَدِّهِ إِلَيْكَ

او بعض له اهل کتابو څخه لکه کعب بن الاشرف او نحاس بن عاذور او غیرهما من کفار الیهود سته، که ته دوی امین وګرځوې پر یوه دینار چې یو لږ شی دی، نو هغه یې وتاته نه اداء کوي عند المطالبة. بغوي رحمه الله وایي چې یو سړي له قریشو څخه نحاس بن عاذور ته یو دینار امانت اینبی و نو نحاس بن عاذور عند المطالبة ورته منکر سو.

إِلَّا مَا دُمْتَ عَلَيْهِ قَائِمًا

مګر نه که ته همېشه وده ته ولاړ وې. یعنې ډېره سختي ورسره کوې په مطالبه کې د خپل دینار او بهروې یې هم چې حکامو ته دي بیایم او جنګ درسره کوي

بوه سه: چې ابن عباس رضي الله عنه د قائماً معنا په ملحاً سره کړې ده، یعنې په ډېرې الحاح او سختۍ سره دي مطالبه د خپل دینار خندي کوله او د بېرې خبره دي هم ورته کوله چې حکماوٌ ته دي بیایم که یې را نه کړې.

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا لَيْسَ عَلَيْنَا فِي الْأُمِّيِّينَ سَبِيلٌ

دا عدم اداء او نه ورکړه د یهودیانو امانت د خلګو په دې سبب دی چې دوئ یعنې الیهود به ویل چې نسته پر مونږ باندې په خورلو د اموالو د امیین یعنې چې اهل کتاب نه وي لار د مواخذة في الآخرة، او دوئ به ویل چې مالونه د عربو مونږ ته حلال دي لانهم لیسوا علی دیننا ولاحرمة علینا في کتابنا، او دوئ روا باله ظلم پر هغه چا چې ددوئ په دین کې داخل نه وي.

وَيَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٧٥﴾

او دوئ پر خدای رحمه الله درواغ وایي چې خدای مونږ ته خوراک د اموالو د عربو روا کړی او دا ظلم نه دی، او دوئ علم لري چې خدای رحمه الله په تورات کې د هیڅ چا د اموالو خورل ظلماً نه دي راوړي، نو نسبت وخدای رحمه الله ته کول درواغ دي

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

بَلَىٰ مَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِۦ وَٱتَّقَىٰ فَإِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿٧٦﴾

پوه سه: چې "بلی" جواب دی د نفي یعني لیس علینا. نو چونکه نفي د نفي اثبات دی، نو معنا داده چې هو پر تاسي لار د مواخذة په خوړلو کې د اموالو د عربو سته که څه هم ستاسي په دین کې نوي داخل لکه مسلمانان د عربو چې اتباع النبي ﷺ دي.

پوه سه: چې قانون الهي اسلامي دادی چې په ایمان او یا په عقد ذمه مال د سړي محفوظ دی او خوراک یې حرام دی.

دروښ وایي: چې په حدیث نبوي کې چې روایت یې ابو موسی الاشعري کړی دی او بخاري او مسلم دواړو روایې دی راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام وویل چې زه امر سوی یم یعني د خدای ﷻ له خوا په دې سره چې زه به جنګ کوم د خلګو سره یعني د کافرانو سره تر هغه وخته پورې چې دوئ شهدي اداء کوي چې لا اله الا الله او په دې سره چې محمد رسول الله، ویقیموا الصلوة ویؤتوا الزکوة، نو چې دوئ داسي وکړي نو زما څخه وینې ددوئ او مالونه ددوئ محفوظ دي الا بحق الاسلام، لکه وینه د قاتل تویول قصاصاً. او یا مال اخستل په زکوة کې وغیرها. وحسابهم علی الله، او حساب یې پر خدای ﷻ دی یعني چې وفا وکړي پخپله وعده سره.

پوه سه: چې ضمیر مجرور راجع دی ومن ته نو یې معنا داده چې هغه دوئ د رب المال سره کړې وه په اداء کې د امانت. او یا راجع دی وخدای ﷻ ته نو معنا د آیت داده چې وفاء وکړي په وعده چې خدای ﷻ له دوئ څخه اخستې وه په تورات کې من الایمان بجمیع الانبیاء علیهم السلام خصوصاً بمحمد ﷺ والقرآن، واداء الامانات الی اربابها، او دوئ خان وساتي له کفر او خیانت څخه نو په تحقیق سه د خدای ﷻ خوښ دي تقوی داره خلګ.

فائده: پوه سه چې المتقین وضع د اسم ظاهر ده په ځای کې د ضمیر یعني "یحبهم" ولي چې ان الله یحب المتقین جواب دی د من شرطي یا خبر دی د من

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

موصوله، نو په جواب کي يا په خبر کي خو ضمير ومن شرطي يا موصوله ته غواړي، نو اعرابي حق به داسي وايي فان الله يحبهم او ضمير د هم به راجع و من ته واى باعتبار معناه لان الفظه مفرد، نو حكمت الهي څه دى چي اسم ظاهر يې په ځاى کي د مضمر راوړى؟

ځواب: حكمت دادى چي تقوى من الله مركز دى د ټولو امور دينه وو، او تقوى عامه ده تر وفاء بالعهد او اداء ته د ټولو واجباتو او ترک ته د ټولو واجباتو او ترک ته د ټولو منهياتو ولذالک العموم ناب التقوى مناب الضمير الراجع الى من، هذا ما اتفقت عليه كلمة المفسرين.

فائده: جمله د من اوفى آه جمله مستانفه ده او تاكيد د هغې جملې چي بلى په ځاى کي واقع و كمامر فى اول تفسير يذه الآية.

يوه سه: چي په دې آيت اشاره ده وتعظيم ته د حال د وفاء بالعهد، ولي چي ټوله طاعات قصر پر دوو شيانو دي التعظيم لامر الله والشفقة على خلق الله والوفاء بالعهد مشتمل عليها معاً ولي وفاء بالعهد مع الناس شفقت دى على خلق الله، ولما امر الله به كان الوفاء المذكور تعظيماً لامر الله ﷻ وفي الحديث الصحيح الذي رواه عبدالله بن عمر ﷺ ان النبي ﷺ قال اربع من كن فيه (خلور خويه كه په چا كي و) كان منافقاً خالصتاً (او كه په چا كي يو خوى و له دغو خلورو خيو څخه نو په سړي كي يو خوى د نفاق سته تر هغه پورې چي هغه خوى پېرېږدي) اذا اوتمن خان (چي څوک به امين وښولي خيانت كړي) واذا حدث كذب (او چي خبرې كوي درواغ وايي) واذا عاهد غدر (او چي له چا سره قرار وكړي غدر او چم كوي يعني وفابالعهد نه كوي) واذا خاصم فجر (او د چا سره چي يې خصومت او جنګ سي پوچ ښكنځل كوي) الحديث الى ههنا متفق عليه للبخاري ومسلم.

إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا

بخاري او مسلم د ابي واهل عن عبدالله ﷺ څخه داسي روايت كړى دى چي

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

علیه الصلوة السلام وویل من حلف علی یمین صبر (که چا قسم واخستی پر یو محلوف علیه چې جانب مقابل وهغه ته صبر کړی و) یقطع بها مال امرء مسلم (چې ده په هغه یمین سره قطع کوي یعنې وګتې مال د یو سړي چې مسلمان وي چونکه یمین مونث سماعي دی نو ځکه ضمیر د "بها" ورته راجع سو، لقي الله وهو علیه غضبان (هغه به ملاقي سي د خدای ﷻ سره یعنې په ورځ د قیامت او خدای ﷻ به ورته په غضب سي) نو خدای ﷻ لپاره د تصدیق د قول د رسول الله ﷺ دا آیت نازل کړی، یعني ان الذین الآیة، راوي وایي چې عبدالله بن مسعود ﷺ کنیت و، خلګو ورته ویل چې داسي او داسي، یعني د عبدالله د حدیث مضمون یې ورته بیان کړی، کمامر، نو اشعث ﷺ ویلي دي في نزلت دا آیت زما په باره کې نازل سوی دی، کانت لي بیر في ارض ابن عم لي (چې یو ځای جوړ کړی و په مخکه کې د زوی د اکا زما یعنې د اکا زوی مي منکر سو چې دا ځای ستا نه دی فأتیت رسول الله ﷺ (نو زه ورغلم وعلیه الصلوة والسلام ته یعنې موضوع د ځان او او انکار د ابن العم مي ورته بیان کړی) نو علیه الصلوة السلام وویل بینتک او یمینه (یعنې یا به ته شاهدان راولې پر دې دعوی ستا چې ځاه زما دی او که شاهدان نه وي نو ده ته به قسم ورکوې یعنې لکه چې قانون د شرعي شریفي دی لکه په بل حدیث مشهور کې چې راغلي دي البینة للمدعي والیمین علی من انکر، نو اشعث وایي چې ما رسول الله ﷺ ته وویل اذا یحلف علیها، مطلب یې دا وو چې زه خو شاهدان نه لرم نو چې قسم وده ته سي دی خو قسم اخلي یعنې په قسم ناحقه سره پوراه نه کوي، نو رسول الله ﷺ وویل من حلف علی یمین صبراً وهو فیها فاجر، یعني کاذب یقتطع بها مال امرء مسلم لقی الله تعالی یوم القیامة وهو علیه غضبان، هذ روایة البغوي بسنده عن البخاري، او صاحب د روح البیان وایي ان الذین یشترون ای یستبدلون، یعنې شراء پر خپل معنا یې حقیقي نه ده بلکې په معنا د استبدال یعنې الاخذ ده بعهدالله ای بدل ما عاهدوا الله علیه من الایمان بالرسول ﷺ والوفاء بالامانات وایمانهم او په قسمو خپلو من قولهم لنؤمنن به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ای بالرسول ولننصرنه او مونږ به کومک هم ورسره کوو، ثمنا قلیلاً چې اموال د دنیا دي ولي چې حطام الدنیا چې د یهودیانو ملایانو له خلګو څخه اخستله که څه هم د هر شیان وه لکن هغه قلیل دي نسبت وهغه ته چې ددوئ له لاسه ووتل من نعیم الجنة، اولئک، دغه کسان چې دا کارونه کوي لاخلاق لهم هیڅ برخه نسته دوئ لره په اخرت کې ولا یکلمهم الله او خدای ﷻ خبرې نه ورسره کوي وهو کنایة عن شدة غضبه علیهم.

أُولَٰئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ

دوئ لره هیڅ برخه نسته په ورځ کې د آخرت، یعنې په نعمتو کې د جنت، له ابي امامة ﷺ څخه روایت دی چې علیه الصلوة والسلام وویل که چا قطع کړی مال او حق د مسلمان په ناحقه قسم سره، نو خدای به واجب کړي دلره اور او حرام به کړي پر ده جنت، یو سړي وعلیه السلام ته وویل که څه هم لږ شی وي یا رسول الله ﷺ، نو علیه السلام ورته وویل وان کان قضیباً من اراک، که څه هم لرګی وي د اراک د درختي یعنې المسواک.

وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

او خدای ﷻ خبرې نه ورسره کوي او نه ودوئ ته ګورې، څوک یې معنا دا بولي چې داسې خبرې نه ورسره کوي چې دوئ دي په خوشحاله سې او په نظر د رحمت نه ورته ګورې لکن صحیح داده چې دوه لفظه کنایه دي له غضب څخه او او له اعراض څخه کمامر من تفسیر روح البیان.

وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ

دروښ وایي: چې ظاهره معنا یې داده چې دغه ګناه یې نه وربخښي، یعنې چې د درواغو په قسم سره د مسلمان حق وخوري او وه یې ګټي، ولي چې دا خو له حقوق څخه د بندګانو دي په دې کې خوامخوا قصاص سته، عن عائشة ﷺ روایت دی دې وویل چې رسول الله ﷺ وویله چې دواوین یعنې

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

دفترونه د عملو دري قسمه دي، يو ديوان هغه دی چي خدای ﷻ هيڅ باک نه په کوي يعني که يې چاته وربخښي، او بل ديوان داسي دی چي خدای پاک هيڅ شی د هغه نه پرېږدي يعني عفو نه ورته کوي، او بل ديوان داسي دی چي خدای پاک يې حتماً بخشنه نه کوي، نو هغه ديوان چي خدای ﷻ يې ګرسره نه بخښي هغه شرک يعني مطلق کفر دی يعني چي سړی پر هغه کفر مړ سي، او هغه ديوان چي خدای ﷻ باک نه په کوي هغه ظلم د سړي دی پر خپل ځان فيما بينه وبين ربه من صوم ترکه او صلوة ترکه، او هغه ديوان چي خدای پاک هيڅ شی نه ځندي پرېږدي فظلم العباد بعضهم بعضاً القصاص لامحالة، نو د هغه په کسات خبژي خوامخوا، رواه الحاكم واحمد.

پوه سه: چي که دا آيت په شان کي د يهودو وي کمامر من تفسير روح البيان نو سبب د عدم مغفرت يې کفر دی.

وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٧﴾

او دوی لره سخت عذاب دی په سبب د مافعلوا.

پوه سه: چي په شان نزول کي ددې آيت نور روايتونه هم سته، په روايت کي د ابن ماجه او ابو داوٗد داسي راغلي دي چي اشعث ابن قيس ووېل چي زما او د يو سړي له يهوديانو څخه مخکه سره ګډه وه يعني شريک مو و، نو هغه ماته منکر سو، يعني دايې ويل چي مخکه يوازي زما ده ته حق نه پکښي لري، نو هغه يهودي ما رسول الله ﷺ ته راوستی، نو عليه الصلوة والسلام ماته ووېل چي شاهدان لري قلت لا، نو عليه السلام ويهودي ته ووېل چي ته قسم واخله، نو ما ورته ووېل چي يهودي خو قسم اخلي يعني کافران په قسم باک نه کوي، او زما مخکه را څخه ګټي، فانزل الله هذه الآية او بخاري د عبدالله بن اوفی څخه روايت کوي چي يو سړي په بازار يو سلعه قيمت کړه او ده ووېله چي قسم په خدای دی چي دا سلعه زما څخه په اووه روپۍ خلګو ته غوښتل مانه ورکوله او درواغ يې ويله ددې لپاره چي يو بل مسلمان يې په رانيولو اخته کړي فنزلت

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

هذه الآية، او ابن جرير د عكرمه ﷺ څخه روايت كړی دی چې دا آيت په حيي بن اخطب او په كعب بن الاشرف وغيرهما كې نازل دی چې دوئ په ما انزل الله من التوارة في شان النبي ﷺ پټ كړی او بدل به يې كړی په نورو الفاظو وكتبوا بايديهم وغيره، او قسم به يې په خداى اخستى چې دغه من عندالله دي يعنې په توارت كې، ولې چې له دوئ څخه رياست او صدقاتد د نورو يهدو له منځه څخه ولاړ نه سي، ابن حجر رحمه الله چې په آيت كې دا ټوله شان نزوله صحيح دي لجواز كون اسباب النزول كلها جميعاً انتهى.

دروښ وايي: چې تعجب دی مظهري ته ولې چې دا واقعات چې مذكور سوي دي په روايانو مختلفه وو سره دا خو ټوله په وقت واحد كې نه وي بلكې په اوقات مختلفه وو كې وي، نو څرنګه امكان لري چې ټوله دي جميعاً سبب د نزول د آيت وګرځي، او كه مراد د مظهري رحمه الله تكرار د نزول د آيت وي په هره واقعه كې نو سره ددې چې دده له عبارت څخه خلاف دی ولې چې دده جميعاً لفظ ووايي لكن دونه تكرار نزول الآية الواحدة په هيڅ حديث اونه په قول د صحابي ثابت دی والله اعلم بمراده.

دروښ وايي: چې دغه آيت رسول الله ﷺ د نورو خلګو په باره كې هم استعمال كړی دی كه څه هم مسلمانان وي، چناچه عن ابي ذر ﷺ عن النبي ﷺ قال ثلاثة لايكلمهم الله ولا ينظر اليهم ولايزكيهم ولهم عذاب اليم، ابو ذر ﷺ وايي چې عليه الصلوة واسلام دري واره دغه آيت قرائت كړی.

نو ابو ذر ﷺ وويل خابوا وخسروا من هم يا رسول الله قال المسبل ازاره، چې لنګ يې پر پښو څړېږي.

دروښ وايي: چې په پرتاګه يې بجلكې پټې وي، والمنان الذي لايعطى شيئا الاصلة چې منت پر چا اچوي چې نه ورکوي سي وجاته مګر منت او احسان پر هغه اچوي، والمنفق سلعة بالحلف الكاذب، او رواج ورکونكې د خپل خرڅهدو شی ته د درواغو په قسم رواه مسلم و احمد وابو داؤد والترمذي والنسائي، او د ابو هريرة ﷺ څخه روايت دی چې عليه الصلوة والسلام وويل

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

ثلثة لايكلمهم الله يوم القيامة ولا ينظر اليهم ولايزكيهم ولهم عذاب اليم، يو هغه سړی چې په يوه دښت کې چې تر څان بالابود اوبه لري يعنې يو څاه يې کښلي وي، او ابن السبيل يعنې مسافرينو ته اوبه د چا نه ورکوي "ورجل" او بل هغه سړی دی چې پر يوه چا يې يوه سلعة يعنې يو کالي وغيره خرڅوي فحلف بعد العصر نو قسم واخلي پس د مازديگر تر لمانځه. يعني والله مثلاً چې ده دا سلعه په اوز روپو رانيولې ده، نو د مشتري وزړه ته ولوېږي نو يې خندي رانسي، او هغه سلعه په هغونده روپو نه وي رانيولې يعنې درواغ وايي "ورجل" او بل هغه سړی چې د امام المسلمين سره بيعت کوي لپاره د دنيا، نو که هغه امام المسلمين د ته دنيا ورکوي نو دی وهغه ته وفادار ه وي، او که يې روپۍ نه کړې ور بيا وفاء بالبيعت نه کوي. متفق عليه للبخاري ومسلم.

او دغه رنګه عليه الصلوة والسلام دا آيت په دغو درو کسو کې هم راوړی دی "شيخ زان" سپين ږيرې زناء کاره "عائل متکبر" او فقير کبر جن، او بل هغه سړی دی چې نوم د خدای ﷻ يې راس المال ګرځولی وي، که شی رانسي مګر نه قسم بالله سره او نه شی خرڅوي مګر په والله بالله سره، رواه الطبراني والبيهقي.

وَإِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيقًا

او په تحقيق بعض يوه ډله د چې کعب بن الاشرف دی او مالک بن الصيف دی او يحی بن الاخطب دی، او ابو ياسر دی او سفنهة بن عمر الشاعر دی.

يَلْوُۥنَ أَلْسِنَتَهُم بِالْكِتَٰبِ

پوه سه: چې لفظ د "با" لپاره د ملابست ده ومعنی يلون يصرفون فالمعنی دوئ پېچی او ګرځوي خپلې ژبې چې متلبس په قرائت د کتاب وي يعنې التوراة د اصلي منزل تورات څخه په نعت کې د عليه الصلوة والسلام و هغه تورو ته چې دوئ تحريف ورکړی وي.

لِتَحْسَبُوهُ مِنَ الْكِتَٰبِ وَمَا هُوَ مِنَ الْكِتَٰبِ

ددې لپاره چې تاتسو ګمان وکړئ اې مؤمنانو چې دغه محرف چې دوئ تغير ورکړی و له کتاب يعنې تورات څخه دي او هغه د منزل تورات نه دي

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

وَيَقُولُونَ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ وَمَا هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ

او دوئ یعني یهودیان وایي چي دغه محرف له جانبه څخه د خدای ﷻ دی او هغه محرف له جانبه څخه د خدای ﷻ نه دی بلکي محرف دی. او دا خبري دوئ صراحةً کولي.

وَيَقُولُونَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٧٨﴾

او دوئ ویله پر خدای ﷻ درواغ او دوئ پخپلو درواغو هم پوهیدله یعني عمدا یي دا کار د تحریف کتاب کاوه.

تنبیه: دا ټوله کارونه چي د یهودیانو ملایانو کوله لپاره د حفظ د ریاست خپل پر عوامو باندي. او لپاره د جمع کولو د دنیا، شیخ صفوي الدین قدس سره وایي، څوک چي قرآن مجید واسطه ګرځوي لپاره د دنیا تر ملا، مولوي، قاري مفتي پوري هغه څوک افضل دی چي دنیا په رباب او نورو آلاتو د لهو حاصلوي، د مثال په توګه که ډوډۍ دونده لوړ ځای پرته وه چي د سړي لاس نه ور رسیدی بیله دي چي یو شی تر پښو لاندي نه کړي او په خونه یا د ډوډۍ په ځای کي بل هیڅ شی نه و یو قرآن مبارک پروت و او بل طنبور، نو باید سړی طنبور تر پښو لاندي کړي نه مصحف شریف. بیت

د ین فروشی هست خسرا ن مبین
سود مند آن کس که دنیا صرف کرد ودین خرید

او کبر سرمایه ده د ټولو بد و کارو

بیت

تکبر عزازیل را خوار کرد — بزندان لعنت گرفتا ر کرد
کسی سر بزرگی نباشد بچیز — کدو سر بزرگست وبی مغز نیز
میفراز گردن بدستار وریش — که دستار پنبه وسبلت حشیش
ای مثل النسبات الیابس.

پوه سه: چي مظهري د ضحاک او هغه له ابن عباس ﷺ څخه داسي روایت کړی دی چي دا آیت په یهودو او نصاری وو کي نازل سوی دی وذالک انهم حرفوا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

التورات والانجيل والحقوا بكتاب الله ما ليس منه، انتهى.

دروښ وايي: چې تاسي هغه اوږده واقعه او خبري د جعفر بن ابي طالب رضي الله عنه چې د نجاشي شاه حبشې سره وکړې او نجاشي خپل راهبان را طلب کړه، تر اخيره پورې مطالعه کړئ چې هغه ټوله واقعه هم په روايت کې د ابن عباس رضي الله عنه کما مر في هذا التفسير عنقريب چې روايت له ابن عباس رضي الله عنه او دا روايت چې مظهري او ده منسوب کړی دی په باره کې د تحريف د نصاری وو د انجيل خو سره تناقض نه دي، ولهذا تحريف و يهوديانو ته ټوله مفسيرين منسوبوي والله اعلم.

پوه سه: چې ابن عباس رضي الله عنه وايي چې ابو رافع القرظي په وخت کې ددې چې سره جمع سوه احبار يعني ملايان د يهوديانو او نصاری د اهل نجران په مسجد نبوي کې د عليه الصلوة والسلام سره، او عليه السلام دواړو ډلو ته دعوت د دين اسلام ورکړی، ابو رافع وويل "اتريد يا محمد ان نعبدک كما تعبد النصارى عيسى" نو عليه الصلوة والسلام وويل معاذ الله يعني پناه غواړم له خدای ﷻ څخه چې زه به خلګ امر کوم په عبادت د غير الله، او نه زه ددې لپاره خدای ﷻ استولی يم او نه يې په دې سره امر کړی يم فانزل الله تعالى "ماكان لبشر الآية" او له حسن بصري رحمه الله څخه روايت دی چې يو سړی وه عليه الصلوة والسلام ته وويل" يا رسول الله نسلم عليک كما يسلم بعضنا بعضاً افلا نسجدلک قال لا" لكن احترام د خپل نبي کوئ او د اهل بيت دده حق پر خای کوئ لانه لا ينبغي لاحد ان يسجد لاحد من دون الله فانزل الله تعالى هذه الآية، او مقاتل رحمه الله داسي شان نزول بيان کړی دی چې د نجران وويل چې عيسى عليه السلام مورږ امر کړي يو چې ما رب وبولئ، فانزل الله تعالى "ماكان لبشر الآية"

دروښ وايي: چې ددې درو شان نزولو تر منځ منافات نسته بلکې عين ممکنه ده چې په يوه مجلس کې دا درې سره خبري واقع سوې وي فاجاب الله تعالى عنها بانزال هذه الآية. مَا كَانَ لِبَشَرٍ

نه ده روا و يوه بشر ته يعني لمحمد ولا لعيسى صلى الله عليهما والسلم.

پوه سه: چې بشر اسم جنس دی، لکه انسان پر نر او پر ښځې، او پر يوه او

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

جماعت يې اطلاق روا دی، او ګاهې تثنیه په قرآن مجید کې راغلې ده کما قال "انؤمن لبشرین مثلنا"

اعراب الآية "کلمه د "ما" نافیه ده او "کان" فعل ناقص دی، او اسم يې "ان يؤتيه الله آه" په تاویل د مصدر يې سبب د د ان مصدري دی، او خبر يې "لبشر" دی په حذف د متعلق ای ماکان جایزاً لبشر، او يوتيه" منصوب په ان مصدري دی او "ثم يقول" پر عطف دی، نو هغه منصوب دی، او "للناس" جار ومجرور متعلق په "يقول" پورې دی،

اَنْ يُّؤْتِيَهُ اللّٰهُ الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُوْلَ لِلنَّاسِ كُوْنُوْا عِبَادًا لِّيْ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

ومعنى الآية مع ملاحظة ماتقدم في اعراب الآية داسې ده "ماکان ايتاء الكتاب والحكم" چې معنا يې حكمت ده وبعد هذا كله القول په دې سره چې تاسې زما بندګان سئ غير له خدای ﷻ څخه يعني الشرک جائزاً لبشر" ولې په منځ کې د نبوت چې خلګو ته به دعوت ورکوي الى الايمان بالله وحده ته، او په منځ کې د دعوت وشرک ته منافات او تناقض دی كما لايخفى على ادنى العاقل.

دروښ وايي: چې ددې آيت په معنا او ربط کې دهر غور په کار دی، يو مثل دی "انجير خوردن نه کار هر مرغی است.

بوه سه: چې ددې مثل معنى داده چې يو مرغه دی چې نوم يې انجير خورک دی، دونده لوی ستونی خدای ﷻ ورکړی دی چې پوره انځر په يوه وار تېروالای س، او نور مرغان داسې نه سي کولای بلکې لږ لږ د انځر پرې کوي او تېروي يې فافهم فانه سانح عزيز.

بوه سه: چې "ولكن" عطف دی پر "يقول" باندې په تقدير د قول ای ولكن يقول،

وَلٰكِنْ كُوْنُوْا رَبّٰنِيّٖنَ

دروښ وايي: چې رباني چې ربانيين يې جمع ده منسوب دی ورب ته په زيادت د الف او نون كما روحاني ونفساني.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې د رباني په معنا کې د صحابه وو او تابعینو متقارب المعنی اختلاف ستنه (۱) فقهاء علما (۲) حکماء علما (۳) فقهاء معلمین الناس الخیر والعمل الصالح (۴) علماء حکماء نصحاً لله في خلقه (۵) الذین یعمل بعلمه (۶) العالم بالحلال والحرام والامر والنهي العارف بانباء الامة ماکان ومایکون.

سوال: علم په توله ماکان في الامة وو په توله مایکون في الامة یستلزم العلم بالغیب؟

جواب: ان المراد بماکان ومایکون مماجاء في الاحادیث النبویة بقدر وسع الطاقة البشریة.

(۷) الرباني فوق الحبر والحبر العالم (۸) الرباني الجامع بین العلم والبصارة بین الناس (۹) الرباني من یربی العلم ای ینشره ویربی المتعلمین بصغار العلوم قبل کبار (۱۰) الرباني من یربی العلم بعمله (۱۱) الرباني من قام باصلاح الشئ و اسمائه (۱۲) حاصل جمیع الاقوال المذکورة الرباني هو الکامل المکمل في العلم والعمل والاخلاص، ومراتب القرب الی الله، له محمد بن الحنیفیة رحمه الله روایت دی چې هغه ورځ چې ابن عباس رضي الله عنه وفات سو ده وویل مات رباني هذه الامة.

دروښ وایي: چې ابن عباس رضي الله عنه په ټولو معنا وو رباني و بلا ریب.

بِمَا كُنتُمْ تُعَلِّمُونَ الْكِتَابَ وَبِمَا كُنتُمْ تَدْرُسُونَ ﴿٧٩﴾

په سبب ددې رباني سه چې تعلیم ورکاوه وخلګو ته او په دې سبب چې تاسي وخلګو ته درس ورکاوه، نو عطف تفسیر دی د "تعلمون"

پوه سه: چې په تشدید د لام ویل قرائت د کوفیانو رحمهم الله دی وهو المروج في المصاحف، او نور قاریان یې په تخفیف د لام وایي من العلم "تعلمون" یعنې تاسي پر کتاب یعنې کتاب الله علم درلودی نو پر دې قرائت د "تدرسون" معنی داسي کړې ده ای تدیمون علی قرائت الکتاب وتحفظونه، نو پر دې معنا "تدرسون" پر قرائت د تشدید هم تاسیس دی فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې لفظ د با جاره متعلق دی بقوله کونوا ربانیین وهي للسببیة، وکلمة ما مصدریة، والمعنی علی ماقال المظهري کونوا ربانیین بسبب کونکم عالمین الکتاب ومعلیمه الناس دائمین علی قرائته وحفظه، ولي چې فائده د علم عمل دی په خپل علم، او اصلاح د خان ده او فائده د تعلیم اصلاح د بل ده، او اصلاح د غیر فرع د اصلاح د خان ده او په اوسنی زمانه کې ملایان اصلاح ته د غیر دپر متوجه دي، او خانونه یې هیر دي، نو شاید دوئ به مصداق ددې قول د خدای ﷻ وي "لم تقولون ما لا تفعلون" او لقوله تعالی "اتامرون الناس بالبر وتنسون انفسکم" بیت

واعظان کین جلوه در محراب ومنبر میکند چون بخلوت میروند آن دیگر میکنند

وَلَا يَأْمُرَكُمْ أَنْ تَتَّخِذُوا الْمَلَائِكَةَ وَالنَّبِيِّينَ أَرْبَابًا

او نه امر کوي الله تعالی تاسي په دې سره چې وگرځوئ ملکي او انبیاء خپل ارباب یعني معبودان.

پوه سه: چې مظهري رحمه الله ویلي دي چې بعض نوموړي قاریان "یامرکم" په رفع سره یعني په پښتن د راء وایي، نو جمله مستانفه ده والمعنی لایامرکم الله، او بعض نوموړي قاریان یې په نصب سره وایي یعني په زور د راء، او عطف یې بولي پر "ثم یقول" باندې او پر دې تقدیر لا زائد دی لپاره د تاکید د معنی د نفي في قوله "ماکان لبشر الآیة" والمعنی چې هغه څوک چې نبي وي هغه څوک نه امر کوي په عبادت د خپل خان، او یا په دې سره چې تاسي ملکي او نبیان خپل خدایان او معبودان بولئ لکه قریش او صابیون چې ویل به یې ملائکه بنات الله دي، او یا یهود وایي چې عزیر ابن الله او یا نصاری وایي عیسی ابن الله دی.

أَيَأْمُرُكُمْ بِالْكُفْرِ بَعْدَ إِذْ أَنْتُمْ مُسْلِمُونَ ﴿٨٠﴾

آیا امر کوي نبي تاسي په کفر سره پسله دې څخه چې تاسي مؤمنان یاست په خدای پاک سره.

پوه سه: چې ضمیر د فاعل په "یامرکم" کې راجع و "بشر" ته دی او استفهام

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

لپاره د تعجب او انکار دی، ولي څوک چي بل امر کوي په عبادت د ځان او یا د ملکو یا د انبیاء وو هغه کافر کېږي په دغه امر سره، او انبیاء کرام علیهم السلام خو نفوس طاهره دي له مطلق گناه قبل النبوة وبعدها، او دوئ ارواح طیبه دي فلا جمع في شخص وبشر النبوة ودعوة الخلق الی عبادة غیر الله من کانُ ذالک الغیر.

دروښ وایي: چي په شانُ نزول کي دمخه تېره سوه چي بعض مسلمانانو د علیه الصلوة والسلام څخه اجازه وغوښتل چي مونږ تاته سجده کوو فمنعهم رسول الله ﷺ ونزل "ماکان لبشر آه" نو که خطاب د "ایامرکم" ددغو مسلمانانو سره وي، نو ضمیر مرفوع په "یامرکم" راجع وبشر ته دی چي علیه الصلوة والسلام دی، نو د آیت معنی ظاهره ده، هذا ماقاله الحسن البصري رحمه الله، او که چېرې ماکان لبشر رد وي پر نصاری وو چي دوئ به ویله چي مونږ عیسی امر کړي یو چي تاسي ما رب وبولئ، او سره ددې چي نصاری د عصر عیسی ﷺ خو مسلمانان وه نو ده څرنگه په کفر سره امر کول "اذ انتم مسلمون" نو ضمیر مرفوع په "یامرکم" کي راجع وبشر ته خو دی لکن مراد څنډي عیسی ﷺ دی، او خطاب د "کم" د نصاری وو سره د عصر نبوي دی او مراد څنډي اسلاف د دوئ دي یعني مسلمانان د عصر عیسی ﷺ دي، والمعنی الرد کیف تزعمون ایها النصاری ان عیسی امر اسلافکم په دې سره چي تاسي ما رب وبولئ مع ان اسلافکم کانوا مسلمین فذالک قولکم بافواهکم وکذبکم علی رسولکم چي ده مسلمانان په کفر سره امر کوله. او که خطاب د هغو یهودیانو سره وي چي مشر یې ابو رافع و چي علیه الصلوة والسلام ته یې وویل "اتریدیا محمد ان نعبدک کما عبدت النصاری عیسی" کما مر في شان النزول ایضاً، نو دا خطاب ویهودیانو ته پر تقدیر د فرض دی، یعني پر تقدیر ددې چي تاسي مسلمانان سئ او انقیاد د امر د علیه الصلوة والسلام وکړئ نو دی به تاسي په کفر سره امر کوي بعد الاسلام، نو پر دې تقدیر ضمیر مرفوع د یامرکم وبشر ته راجع دی او مراد له بشر څخه علیه الصلوة والسلام دی فتامل هداک الله لتفهم هذه

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

التقادير الثلثة والفرق بينهما ع نه هرکه بتراشد قلندري دائد.

دروښ وايي: چې په هغه آيت کې چې خدای پاک وويل "بل کونوا ربانيين بماکنتم تعلمون الکتاب الآية" علم او دراست خدای ﷻ سبب وګرځاوه لپاره د ربانيت او د ربانيت دولس (۱۲) تفسيره تاسي واورېدل، نو دا ظاهرا سوه چې ربانيت او قرب او اتصال د خدايه سره بېله علم او دراسته نه پيدا کېږي، نو د هغه سړي پر حال افسوس دی چې په علم او درس کې يې دومره تکليف کوی وي او کړاوونه يې پر خان وړي وي او وړي يې مګر دا علم يې ذريعه د عمل نه وي ګرځولی نو مثال د دغه عالم او مدرس داسي دی لکه يو سړی چې بنائسته درخته دی شنه کې او فقط د درختي سر سبزي او شادابي ته ګوري او له مېوې څخه يې محروم وي، فالعلم والدراسة بدون العمل وكذا العمل بدون العلم لايكون كل واحد منها بانفراده سبباً للربانية، نو دا واضح سوه چې هغه عالم چې په علم عمل نه کوي نسبت د قرب يې د خدای ﷻ سره قطع دی لکه عامل جاهل، ولي چې ربانيت يوه لوړه مرتبه د قرب الی الله ده چې له عمل چې هغه مبني پر علم به وي نه سي پيدا کېدای، ورود في الحديث النبوي الصحيح قال رسول الله ﷺ "اعوذ بالله من علم لاينفع ومن قلب لايخشع"

نتيجه: فالواجب على المعلم والمتعلم ان يطلب بعلمه مرضات الله وبعمله الربانية. او داغه رنګه واجبه ده پر مشانخو چې په اصطلاح يې پيران بولي، او خلګ مريدان کوي او ومريدی ته يې جلبوي چې تربيت د اتباعو او مريدانو دی په داسي دول کوي چې ربانيون خندي جوړ سي او تر ټولو اول دی پير صاحب خان په علم او عمل سره رباني جوړ کړي لکن د اوسنی زمانې ډېر پيران خپله پيري دام ګرځولي وي د خلګو د جلبولو لپاره او د اخذ اموال الناس بانواع من الحيل، او داسي خلګو او مريدانو ته منصب د خلافت قبل الوقت ورکوي چې څه نقود وغيره پوري وينې، او ددې زمانې بعض پيرانو بعض کتابونه د حقيقي اهل الله مطالعه کوي لکه مثنوي، مکتوبات د امام رباني ﷺ او کتاب د حافظ شيرازي ﷺ او کلمات جامي او کتاب د بيدل وغير ذالک من کتب

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

الصوفية الكرام رحمهم الله او د هغو خبرې په مجالسو کې خپل مريدانو ته کوي، او بعض پيران داسې هم سته چې دې پخپله خو د اعمالو د شريعت مطهره بوی هم نه وي پکښې لکن جاهلانو مريدانو ته وايي چې د يو عالم وعظ ته به نه کښېنئ بلکې بعض دا لاهم ورته وايي چې زمونږ د طريقت ملا نه په هغه پسې لمونځ لا مه کوئ "فقد ضلوا و اضلوا" قال السعدي الشيرازي رحمه الله في ذم هؤلاء المشائخ

دمادم بشنيد چو گربه روی — طمع کرده در صيد موشان کوی
رياضت کش از بهر تام وغرور — که طبل تهی را رود بانگ دور

او حافظ شيرازي رحمه الله هم په ذم کې ددې پيرانو ډېر څه ويلي دي، وحضرت مجدد الف ثاني شيخ احمد سرهندي قدس سره درمکتوب ۲۳ ص ۵۶ که به عبدالرحيم المشتهر بخان خانان في المنبع عن اخذ الطريق اى طريق الارادة عن الشيخ الناقص صدور يافته بالفاظ عربيه بليغه چنان فرموده اند نجانا الله سبحانه عن المقال الخالي عن الحال والعلم المعرا عن الاعمال بحرمة سيد البشر المبعوث الى الاسود والاحمر عليه وعلى من الصلوات افضلها ومن التسليمات اكملها ويرحمهم الله عبداً قال آميناً بلغ رسالتكم د الاغ الصالح الصادق تبليغاً وحكى عن جنابكم بلسان الترجمان فانشدت

اهلاً بسعدى والرسول وحبذا — وجه الرسول لحب وجه المرسل

اعلم ايها الاخ القابل الظهور الكمالات اظهر الله تعالى فعلكم من القوة الا الفعل الدنيامزارعة الآخرة فويل لمن لم يزرع فيها وعطل ارض الاستعداد واضاع بذر الاعمال ومما ينبغي ان يعلم ان اضاعة الارض وتعطيها اما بان لم يزرع فيها شيئا او القى فيها بذراً خبيثاً فاسداً، وهذا القسم من الاضاعة اشد مضرةً من القسم الاول كما لايخفى وخبث البذر وفساده بان اخذ الطريق اى طريق التصوف من السالك الناقص اى المرشد الناقص بان لم يبلغ حد الارادة وهو اخذ طريق الارشاد لان الناقص صاحب هوى متبع وما يشوب بالهوى لايوثر وان اثر اعان على الهوى اى في المريد ايضاً فيحصل ظلمة على ظلمة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولان الناقص لايفرق بين الطرق الموصلة الى الله سبحانه، وبين الطرق التي لاتوصل الى الله تعالى اذهو نفسه غير واصل اليه سبحانه فكيف يعرف الطريق الواصلة وغيرها وكذا لايميز بين الاستعدادات للطلبة واذ لم يميز طرق الجذبة عن طرق السلوك فربما يكون استعداد الطالب مناسباً بطريق الجذبة غيرُ مناسب بطريق السلوك والناقص لعدم التمييز بين الطرق وبين الاستعدادات المختلفة سلكه يعني المريد على طريق السلوك ابتداءً فاضل يعني الناقص، گمراه كرد مريد خود را عن الطريق اى الطريق المناسب للمريد، كما ضل چناچه خود ناقص گمراه بود، فالشيخ الكامل المكمل اذا اراد تربية هذا الطالب وتسليكه احتاج اولاً الى ازالة ما اصاب من السالك الخاقص واصلاح مافسد بسببه ثم القى البذر الصالح المناسب لحاله واستعداده فينبت نباتاً حسناً قال الله تعالى ومثل كلمة خبيثة كشجرة خبيثة اجتثت من فوق الارض مالها من قرار، ومثل كلمة طيبة كشجرة طيبة اصلها ثابت وفرعها في السماء

دروبش وايي: چي مراد له شجره خبيثه څخه مرغوني ده چي ريښي يې پر مخكه سر ببره وي، او مراد له شجره طيبه څخه د خرما درخته ده چي ريښي يې په مخكه كي ډبري محكمه دي او بناخونه يې د اسمان پر خوا غالباً لوړ وي فصحبة الشيخ الكامل المكمل كبريت احمر نظره دواء وكلمته شفاء وبدونها خرط القتاد يعني پر كروړه لاس تهرول دي.

دروبش وايي: دا لفظ هر څاى چي راسي كنايه ده له سختي څخه د كار ثبتنا الله سبحانه واياكم على جادة الشريعة المصطفوية على صاحبها الصلوة والسلام والتحية اذ هو ملاك ومداره النجات ومنهاج السعادة، ولنعم ماقيل بالفارسية

محمد كه آبروى هر دو سرا ست كسيكه خاك درش نيست خاك بر سر او

ولنختم المقالة على صلوات سيد المرسلين وتسليماته وتحياته وبركاته، انتهى المكتوب من موضع الحاجة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې مکتوب خو اوس هم اوږد و لکن زمونږ حاجت تر دغه خايه پکښې پوره سو، دورښې بعض ترجمې او توضيح په دې مکتوب کې زياتې کړې دي لنفع السامعين لکن که زه پوره شرح ددې مکتوب شريف کوم دهيرو صفحاتو ته به ضرورت وي، ولهذا اعراضاً عن شرحه اختصاراً للتفسير القرآني

دُروښ وايي: چې ددغه مکتوب په حاشيه کې دغه بيتونه هم د کتابت ور دي.

گر زدستت میشود تخمی بکار — تا بر آری خرمنی روز شمار
ورنه کاری مفلس یوم التناد — گشته مغبون وخاسر بې مراد
تخم رای کارو آبی هم به پاش — تابری یوم الحصاد ازغله هاش
ورنه پاشی آب دانه خشک شد — وان همه رنج وتعب خود لغوه بد
آب ده از چشمه چشم ایجوان — تاشود حرث تو سبزو کامران
کار باهوشیاری وبیداری بست — هرکه غافل گشت میدان ناری است

وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّينَ

او په ياد کړه وخلګو ته هغه وخت چې خدای ﷻ عهد موکد واخستی له نبيانو څخه.

پوه سه: چې بعض مفسران وايي چې دا ميثاق خاص په انبياء عليهم الصلوة والسلام پورې دی، په دې دول چې هر نبي ته خدای ﷻ ويلي دي چې ته په پر هرهغه نبي ايمان راوړې چې تر ده وروسته راځي او کومک به ورسره کوې چې د هغه نبي زماني ته ورسېږي، او که چېرې د هغه زماني ته ونه رسېږي نو قوم به په دې امر کوې چې تاسي به تصديق کوئ او کومک به ورسره کوئ مثلاً له موسی ﷺ څخه يې تصديق کول د عيسی ﷺ اخستی و، او له عيسی څخه يې تصديق د محمد ﷺ اخستی و، واذا کان هذا حکم الانبياء عليهم السلام فاممهم مامورون بالحکم المذکور بالطريق الاولی وهذا ای اکثر المفسرين رحمهم الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي پوه سه چي هغه عبارت چي ما په ترجمه کي د آیت وویل چي د هغه نبي زمانې ته ورسېږي آه، دا د هغه عربي عبارت ترجمه ده د اخذ الله علی کل نبي ان یؤمن بمن یاتي بعده ان ادرکه آه.

درویش وایي: چي ادرک زمانه یؤمن به آه جمله شرطیه ده او د منطقو په ټولو کتابو کي وایي چي مدار د صدق د شرطیه پر صدق د مقدم او د تالي في الواقع نه دی بلکي مدار د صدق د شرطیه پر تلازم بینهما دی نحو ان کان زید حمارا فهو ناهق، نو ان ادرک زمانه یؤمن به آه، معنا ددي قول د علیه الصلوة والسلام لو کان موسی حیا لما وسعه الا اتباعي کما ورد في الحدیث الصحیح وهذا هو السر ان عیسی وان لم یدرک زمان حیوة النبي ﷺ لکن لما ینزل من السماء یؤمن برسول الله ﷺ ویتبع دینه کما ورد في الحدیث الصحیح ان عیسی ﷺ لما ینزل من السماء یقتل الخنزیر ویکسر الصلیب الی اخیر الحدیث.

پوه سه: چي مظهري رحمه الله یو احتمال په قیل سره راوړی دی چي دهر بعید دی چي معنا د آیت داده اخذ میثاق اهل الکتاب آه بیا ددي تفسیر پي داسي توجیه کړي ده ففي الکلام ای الآیة حذف مضاف تقدیره اخذ الله میثاق اولاد النبیین وهم بنو اسرائیل اهل الکتاب آه، والله تعالی اعلم بمراده في کتابه.

لَمَآ اٰتَيْتُكُمْ

پوه سه: چي قاضي بیضاوي وایي او مظهري پي هم نقل کړی دی چي حمزه رحمه الله قراءت د لام په کسره کوي، یعني لام جاره بولي او کلمه د منا مصدریه بولي والمعنی لاجل ایتائي ایاکم بعض الکتب ثم مجئ رسول مصدق له اخذ الله المیثاق لتومنن به ولتنصرنه، او یا ما موصوله ده والمعنی اخذ المیثاق للذي اتیتکموه وجائکم رسول مصدق، او نور قاریان پي ټوله په زور د لام وایي چي لام موطئه د قسم بولي، ولي چي اخذ المیثاق په معنا د استحلاف دی، او کلمه د ما شرطیه ده، او لتومنن به آه پر ځای د جواب د قسم او د جزاء د شرط دواړو ولاړ دی، والمعنی چي خدای ﷻ واخستی عهد او میثاق د انبیاء علیهم السلام څخه او قسم یي هم ورکړی که چېرې تاسي ته کتاب درکړم سو او بیا وروسته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رسول مصدق راغلی نو تاسي به ایمان پر راوړئ او کومک به هم ورسره کوئ.

مِّنْ كِتٰبٍ وَّحِكْمَةٍ ثُمَّ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ

یو بعض له کتابو څخه او له حکمت څخه یعني سنت او یا فقاهت په دین کي وروسته بیا تاسي ته داسي یعني ستاسي په زمانه کي پیدا سي یو رسول چي هغه رسول تصدیق کوي د هغه کتاب چي ستاسي و یعني در کړه سوی و دمخه تر رسول آئي.

پوه سه: چي بعض مفسرین رح وایي چي مراد له رسول څخه محمد ﷺ دی خاصةً ولي چي علیه الصلوة والسلام مبعوث دی الی کافة الانام، دا تخصیص له قول څخه د ابن عمر رض او له قول څخه د علي رض مستفاد دی.

دروښ وایي: چي شاید علي او ابن عمر رض تخصیص د ذکر د نبي ﷺ له دې سببه کړی وي چي الزام پر اهل کتابو معاندینو راسي، ولي چي خبري د خدای پاک له دوئ سره په امر کي د محمد ﷺ وي لاغیره لالزامهم بمیثاق النبیین واممهم ولیس مقصودهما نفي الحکم عماعداه لکه چي په دې قول کي د خدای ﷻ مصدقاً لما معکم اشاره ودې ته ده چي تکذیب ستاسي ای اهل کتابو د رسول الله ﷺ تکذیب دی ستاسي له خپلو کتابو څخه لانه ﷺ مصدق لما معکم فافهم.

دروښ وایي: که دا باعث د تخصیص نه وای نو په قرار ددې چي مفسران په یوه خوله وایي چي عبرت عموم لره لفظ دی خصوصیت لره مورد نه دی، نو صحیح داده چي ایمان پر ټولو انبیاؤ او دا قول د خدای ﷻ "لانفرق بین احد من رسله" پر ټولو انبیاء علیهم السلام او پر اممو ددوئ ایمان واجب دی السابقة واللاحقة، او دا قول د رب العزت هم تاکید ددغه ماقلنا کوي چي وایي شرع لکم من الدین ماوصی به نوحاً والذي اوحینا الیک وما وصینا به ابراهیم وموسی وعیسی ان اقیموا الدین ولا تتفرقوا فیه" صدق الله العظیم.

لَتُؤْمِنُنَّ بِهٖ وَلَتَنْصُرُنَّهٗ

نو تاسي به ایمان پر راوړئ پر هغه او کومک به ورسره کوئ په خان او په مال

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

سره او دا خطاب وانبیاوٗ علیهم السلام ته دی پر تقدیر د ادراک د زمانې د هغه نبي، او که تاسي ادارک د هغه ونه کړی نو خپل اتباع به امر کوئ چې هر چا ادارک د زمانې د راتلونکي نبي مصدق لما معکم وکړی پر هغه به ایمان راوړئ او کومک به ورسره کوئ.

قَالَ

ای الله ﷻ

پوه سه: چې دا جمله مستانفه ده لپاره د بیان د اخذ المیثاق کانه قیل کیف اخذالله المیثاق او یا قال ناصب دی د هغه د مخه اذ واذا اخذالله آه اوٗ که دا جمله مستانفه سي نو ناصب د "اذ" اذکر مقدر دی.

ءَاَقْرَرْتُمْ وَاَخَذْتُمْ عَلٰى ذٰلِكُمْ اِصْرِىْ ؕ

آیا ستاسي اقرار دی په ماقلنا سره او ستاسي قبول دی زما عهد او پیمان

پوه سه: چې مخاطب یوازې انبیاء دي او یا انبیا سره د امتو.

قَالُوْٓا اَقْرَرْنَا ؕ قَالَ فَاشْهَدُوْا وَاَنَا مَعَكُمْ مِّنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۸۱﴾

نو انبیاوٗ وویل چې زمونږ اقرار دی په دغه عهد او میثاق سره، نو خدای پاک ورسولانو ته وویل چې تاسي شاهدان اوسئ پر خپلو خانو او پر اتباع خپلو یعنې په ورځ د قیامت او زه هم د تاسي سره شاهد یم پر تاسي اوپر امتو ستاسي.

فَمَنْ تَوَلّٰى بَعْدَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۸۲﴾

او کٗه چا مخ واړوی او اعراض یې وکړی له متابعت څخه د رسولانو له هر رسوله چې وي، نو دغه کسان دي خارج له ایمان څخه وکفر ته چې اعلی درجه د فسق ده.

دروښ وایي: چې خدای پاک چې لفظ د "من" ذکر کړی چې هر چا ته شامل دی صریح دی چې میثاق د انبیاوٗ او له امتو څخه ددوئ تولو اخسته سوی دی لکن په عبارت ذ قرآن عظیم یعنې "واذا اخذالله میثاق النبیین" اکتفاء وکړه سوه په ذکر د متبوعینو له ذکر څخه د تابعینو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې بعض احتمالات چې په تفسیر ددې قول د خدای پاک "واذ اخذ الله میثاق النبیین آه" چې مختلفو مفسرینو ذکر کړی دی، او آلوسي رحمه الله جمع کړي دي مورډ به يې ذکر کړو تاچه سامعین په صحیح معنا لکه چې مورډ دمخه عنقریب ذکر کړه او په نورو ضعیفو تفسیرو پوه سي، یو احتمال خو هغه وچې مظهري رحمه الله راوړی و او مورډ يې وضعف ته اشاره وکړه، او بل احتمال هغه دی چې له قول څخه د ابن عمر رضي الله عنه او د علي رضي الله عنه مستفاد و چې مورډ يې ذکر هم وکړی او توجیه مو هم وکړه، او بل احتمال دادی چې اضافت د میثاق ونبیین ته اضافت دی وفاعل ته، والمعنی واذا اخذالله المیثاق الذي وثقه النبیین علی امتهم، آلوسي رحمه الله وایي چې ودې احتمال ته ابن عباس رضي الله عنه تګ کړی دی لکه ابن المنذر له سیعد بن جبیر څخه روایت کړی دی، دی وایي چې ما ابن عباس رضي الله عنه ته وویل چې شاګردان د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه آیت مذکوره داسي قرائت کوي" واذ اخذالله میثاق الذین اوتوا الکتاب لما آتیتکم آه" او مورډ خو يې داسي قرائت کوو "میثاق النبیین آه" نو ابن عباس رضي الله عنه وویل انما اخذالله میثاق النبیین علی قومهم نو له ابن عباس رضي الله عنه مطلب دا و چې ددې دوو قرائتو تر منځ تناقض نسته.

دروښ وايي: چې قول د ابن عباس رضي الله عنه هلته صحیح کېږي چې اضافت په و اذ اخذ الله میثاق النبیین اضافت سي وفاعل ته کما لایخفی علی المتامل، او مجاهد رحمه الله وایي چې قرائت د واذ اخذالله میثاق النبیین آه خطأ له کاتبانو څخه ده، او صحیح قرائت د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دی یعني واذ اخذالله میثاق الذین اوتوا الکتاب آه، نو د ابن عباس رضي الله عنه پر اشاره دا د مجاهد رحمه الله اعتراض پر روایت مشهوره هم نه وارډ ږي کما لایخفی، او بل احتمال دادی چې معنا د آیت داده چې مراد امم النبیین دي په حذف د مضاف والی هذا الاحتمال ذهب جعفر صادق رحمه الله او دا احتمال هم آلوسي راوړی دی چې مضاف محذوف اولاد دی ای اولاد النبیین او مراد څندي بني اسرائیل دي، لکثرة اولاد الانبیاء فیهم، او سیاق د کلام يې هم تقضا کوي، او د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه قرائت يې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تاکید کوي کما هو ظاهر او قرائت د عبدالله بن مسعود قرائت د ابی بن کعب رضی الله عنه هم دی، او دا احتمال یې هم راوړی دی چې واذ اخذالله میثاقاً مثل میثاق النبیین ای میثاقاً غلیظاً علی الامم وروسته یې لفظ د مثل حذف کړی دی او میثاق د امم یې عین میثاق د نبیین وګرځاوه مبالغةً مثل قول الفقهاء في مدح ابي یوسف رحمه الله، ابو یوسف ابو حنیفه ای ابو یوسف مثل ابو حنیفه رحمهما الله تعالی، او دا احتمال یې هم راوړی دی چې مراد له نبیین څخه پخپله بني اسرائیل دي.

سوال: بني اسرائیل د زماني د علیه الصلوة والسلام چې قرآن په هغه زمانه کې نازلیدی خو نبیان نه وه بلکې کافران وه؟

ځواب: آلوسي رحمه الله داسې ځواب ورکړی دی چې تهکماً یعني د پسخنده یې دوی ته نبیان ووېل، ولې چې دوی په ویل چې نحن اولی بالنبوة من محمد ﷺ ولې چې مونږ اهل د کتاب یو او نبیان هم دېر په مونږ کې تېر سوي دي. نو ددې تهکم مثال دا دی چې تا یو سړي ته امانت ایښی وي او هغه خیانت پکښې وکړي او بیا دی ووایي چې زه خو امین سړی یم. باره ته ور ښه کړې یا امین ما صنعت بامانتي، او خلیلي رحمه الله پر دې سوال کړی دی بان هذا بعید جداً اذ لا قرینة علی ان المراد هو التهکم. آلوسي رحمه الله جواب ورکړی دی چې هغه څوک چې دا توجیه او ترجمه کوي شاید ددوی قول مذکور یې قرینه حالیه ګرځولې وي، او دا احتمال یې راوړی دی چې ترجمه د آیت داده "واذ اخذالله المیثاق عن الناس لاجل النبیین

دروېش وایي: چې دا وه احتمالات چې آلوسي رحمه الله ذکر کړي وه نور ته فکر پکښې وواهه په قرب او بعد کې ددې احتمالاتو والعلم عندالله

أَفَغَيْرَ دِينِ اللَّهِ يَبْغُونَ

آیا ماسوی له دین څخه د خدای ﷻ دوی غواړي

پوه سه: چې مظهري رحمه الله وایي چې دا جمله معطوف ده پر اولئک هم الفاسقون باندې او همزه یې په منځ کې د معطوف او د معطوف علیه لپاره د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

انکار راوړی دی. یعنې دا کار باید دوئ ونه کړي. او دا توجیه علامه بغداد هم راوړې ده. او ابن هشام وایي چې دا مذهب د سیبویه او جمهورو دی وجزم به الزمخشري، او دوهمه توجیه یې دا راوړې ده چې نن صبا مشهوره ده چې فغیر دین الله عطف دی پر محذوف باندې وروسته تر همزه. والتقدیر ایفسقون فغیر دین الله یبغون او یا داسې. ایتولون فغیر دین الله یبغون.

دروښ وایي چې شاید ددې تکلف د حذف د معطوف علیه سبب په دا وي چې صدارت د همزه استفهام محفوظ پاته سي والله اعلم

نکته په دې آیت له څه سببه مفعول به چې غیر دین الله دی تر فعل عامل چې یبغون دی دمخه کړی دی؟

ځواب: لپاره د تخصیص دی او انکار له مخصص څخه والتقدیر اتخصصون غیر دین الله یا لطلب، نو معنا د انکار داده چې طلب د دین الله نه جمع کپرې د طلب سره د غیر دین الله

پوه سه: چې ابو عمر او یعقوب او حفص د عاصم رحمهم الله په روایت "یبغون" بالیاء علی الغیب وایي وهو المشهور في المصاحف نظراً الی قوله فاولئک هم الفاسقون لانه غائب او جمهور قاریان یې "تبغون" بالتاء وایي علی الخطاب نظراً الی قوله تعالی آتیتکم

پوه سه چې یغوي په شان نزول کې د آیت مذکوره وایي چې یهود او نصاری دواړې دلې وعلیه الصلوة والسلام ته راغلې او ددوئ سره اختلاف وې په دې کې چې هرې دلې ویل چې موږ پر دین د ابراهیم یو. نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې کلا الفریقین بریئ عن دین ابراهیم نو دوئ ته درد ورغلی او داسې یې ووېل لانرضی بقضائک ولاناخذ بدینک فانزل الله تعالی افغیر دین الله یبغون

وَلَهُۥٓ أَسْلَمَ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾

او حال دادی چې وخدای ﷻ ته فرمان برداره دي هغه څوک چې په اسمانو کې دي یعنې الملائکة او چې په مځکه کې دي ای الجن والانس

پوه سه: چې "طوعا" حال دی له فاعل څخه د "اسلم" مصدر دی په معنا د جمعي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی ای طائعین باختیارهم او دا ملائکه خو ټوله دي، لانهم عباد مکرمون لایعصون عن امرالله وهم بامره یفعلون، او نور مومنان دي د انسانانو او د پیریانانو. یعني هم انقادوا لامر الله باختیارهم فیما امروا به من الاوامر التکلیفیة والافعال الاختیاریة، او راضي دي په قضاء د خدای ﷻ چیرا في الاوامر التکوینیة. لکه مرګ او درد او امراض، او موت الاولاد والفقر وغیر ذالک

پوه سه: چي "کرهاً" هم مصدر دی او حال دی په معنی د کارهین، یعني په زور د تورې او یا نیزې د هغه شیانو چي دوئ مجبوره کوي واسلام ته. لکه په وخت کي د نزول د تورات چي یهودانو یې له قبول څخه انکار وکړی او جبرئیل علیه السلام په امر د خدای ﷻ یو غر پر را پورته کړی نو دوئ منلو ته د تورات حاضر سوه، او یا چي فرعون سره د قوم په درياب کي ډوب سو نو چي یو وار ایمان راپورته کړی نو یې وویل آمنت بما آمن به بنو اسرائیل، او یا چي زکندن یې سي او خپل حال ورته معلوم سي، او په اوامر تکوینه وو دوئ هم مجبور دي لکه طائعین چي مجبور وه لکن په قضاء الهي راضي نه دي لکه طائعین، وهذا هو الفرق بین الفریقین، او ټوله وخدای ﷻ ته راجع کړه کهرې یعني په ورځ د قیامت.

پوه سه: چي یعقوب او حفص یې په یاء د غیبت وایي کما هو في المصاحف المروجة نو ضمیر د جمع یې راجع دی ومن ته چي په معنا د جمع دی، او جمهور قاریان یې په تاء د خطاب وایي لکه په تبغون کي چي تفصیل تیر سو.

پوه سه: چي په الینا یرجعون کي تهدید شدید و وعید عظیم دی لمن خالف الدین الحق وهو الاسلام په دې معنا چي که تاسي په دې دنیا کي دهر مخالفت کوئ د دین اسلام سره لکن رجوع ستاسي په ورځ د قیامت خاصة وخدای ﷻ ته ده چي په هغه ورځ نفع او ضرر ټوله ظاهراً وباطناً په قدرت کي د خدای دی، نه شافع سته چي ستاسي شفاعت دي وکړي او نه کومک کونکی سته چي ستاسي سره دي کومک وکړي، او نه فدیه سته چي خانونه په خلاص کړئ فیعذبکم الله في ذالک الیوم عذاباً الیماً شدیداً خالداً نعوذ بالله من غضب الجبار جل مجده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي عاقل سړي لږه پکار ده چي همېشه د عهد د یوم المیثاق مراعات وساتي، روی سلطان ابراهیم بن الادهم قدس سره ته چا وویل چي کاشکي ته زموږ سره په مسجد یو ګړی کښېنستلای او موږ ستا خبري او نصیحت اوربدلای. ابراهیم رحمه الله ورته وویل چي زه په خلورو فکرو اخته یم که له دې څخه خلاص سوم بیا به در سره کښېنم. خلګو ورته وویل چي هغه کوم خلور فکرونه دي، ده وویل (۱) هغه وخت چي ذریۀ د آدم علیه السلام ده له ملا څخه په مثال د بېخي کوچني مېړیانو خدای ﷻ جلا کړه او یوې ډلي ته خدای ﷻ اشاره وکړه هولاء للجنة ولا ابالي. او بلي ډلي ته یې اشاره وکړه او وه یې ویل هولاء الی النار ولا ابالي. نو زه په دې فکر کي یم چي زه به په کومه ډله کي وم.

(۲) په دې زه فکر وهم چي په حدیث نبوي ﷺ کي راغلي دي چي خدای ﷻ په رحم کي د نطفي عیال پیدا کړي او روح پکښي پوه کړي. نو هغه ملکه چي موکل پر رحم ده خدای ﷻ ته ووایي سعید او شقي. نو زه نه پوهېږم چي زما په باره کي د خدای ﷻ له خوا ملکي ته څه جواب ویل سوی دی.

(۳) په دې زه فکري یم چي ملک الموت د قبض روح لپاره انسان ته راسي نو خدای ﷻ ته ووایي اقبضها مع الاسلام او مع الکفر. نو زه نه یم خبر چي زما په باره کي به ملک الموت ته څه جواب ورکړه سي.

(۴) په ورځ د قیامت چي خدای ﷻ اعلان وکړي وامتازوا ایها المجرمون فلا ادري في ای فریق اکون. نو ابراهیم رحمه الله ورته وویل ددغو خلورو فکرو له کبله زه ستاسي سره لپاره د وعظ نه سم کښېنستلای.

درویش وایي: چي رحم الله ابراهیم چي په عین حال کي د بیانولو د مانع د وعظ موعظت بلیغه وخلګو ته وکړی کما لایخفی علی العاقل.

قُلْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ

ووایه ته ای محمد ﷺ وخلګو ته چي موږ ایمان راوړی دی پر خدای ﷻ باندي.

پوه سه: چي خدای ﷻ علیه الصلوة والسلام امر کړی چي ته خپل حال وخلګو ته بنکاره کړه لکن په صیغه د متکلم مع الغیر تعظیماً تعبیر وکړی، اویا مراد

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

دادی چې ته اخبار د خان له خوا او د متابعینو له خوا وکړه. نو متکلم مع الغیر پر ظاهر محمول دی. او یا دا خطاب و هر مختار ته دی چې ته اخبار د خان له خوا او د اخوتک المؤمنین له خوا څخه وکړه.

وَمَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا

او زمونږ ایمان دی پر ما انزل علینا، نو که مراد له آمنا څخه نفس شریفه د علیه الصلوة والسلام وي. نو ما انزل علینا تاویل نه غواړي او که مراد اخبار وي د خان او د مؤمنانو له خوا څخه نو نسبت د نزول القرآن پر مؤمنانو په توسط د علیه الصلوة والسلام دی پر دوئ

پوه سه: چې صله د نزول گاهي الی راځي کما في سورة البقرة وما انزل الینا. او گاهي علی راځي کما في هذه الآیة

وَمَآ اُنْزِلَ عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ

او زمونږ ایمان دی پر هغو کتابو او صحیفو چې نازل سوي دي پر ابراهیم او اسماعیل چې مشر زوی د ابراهیم و، او پر اسحق چې بل زوی د ابراهیم و او پر یعقوب چې د اسحق زوی و، او پر انبیاء و د اولاد د یعقوب علیهم الصلوة والسلام

وَمَآ اُوْتِيَ مُوْسٰى وَعِيْسٰى

او زمونږ ایمان دی پر هغه کتاب چې ورکړه سوی و موسی ته چې تورات دی او پر هغه کتاب چې ورکړه سوی و عیسی ته چې انجیل دی.

سوال: موسی او عیسی خو په اسباط کې داخل وه نو تخصیص بالذکر یې په څه جهت وکړی؟

ځواب: نعم لکن وجه د تخصیص یې مزید فضل ددې دوو کتابو دی. او بل یې له دې سببه تخصیص وکړی چې بحث د علیه الصلوة والسلام غالباً له یهودو او نصاری وو سره و او یا ددې لپاره چې دا ښکاره کړي چې د موسی او د عیسی تر منځ هیڅ اختلاف نسته او نه یې په ایمان راوړلو کې تضاد سته کما قال الیهود والنصاری

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه چې ګاهې تعبیر په ما انزل او ګاهې په ماسوتي صرف لپاره د تفنن په عبارت کې دی، او بعض مفسران وایي چې له ما انزل څخه وحي جلي مراد دي او له ما اوتي څخه وحي خفي مراد دي کالقرآن الکریم والاحادیث النبویة ﷺ

وَالنَّبِيُّونَ مِنْ رَّبِّهِمْ ۚ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ ۖ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ ﴿١٣٦﴾

او زمورږ ایمان دی پر هغو کتابو چې ورکړه سوي دي ودوئ ته له جانبه څخه د رب ددوئ او مورږ فرق نه کوو په منځ کې د یو نبي او بل نبي یعني په تصدیق کې د بعض او په تکذیب کې د بعض لکه یهود او نصاای چې یې کوي، او مورږ خدای ته منقاد او فرمان بردار یو.

وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ ۖ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿١٣٥﴾

او څوک چې غواړي غیر له اسلام څخه دین یعني بېله توحیده او انقیاد لحکم الله او یا غیر ددین د علیه الصلوة والسلام چې ناسخ دی د تولو ادیانو هرګز له هغه څخه نه قبلېږي او هغه له تاوانیانو څخه دی په ورځ کې د قیامت، ولي طرق تهوله و خدای ﷻ ته بندي دي بېله توحید او انقیاد او یا بېله ایمان راوړلو پر محمد ﷺ او متابعت دده د دین او قرآن

فائده: دیناً مفعول به دی د یبتغ او غیر الاسلام حال دی د دنیا. ولي چې غیر الاسلام په اصل کې صفت و د دنیا چې ومخه سو باره حال سو کما هو القانون النحوي.

كَيْفَ يَهْدِي اللَّهُ قَوْمًا كَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ

پوه سه: چې بغوي ﷺ وایي چې دا آیت په هغو دوولسو کسو کې نازل سوی دی چې مرتد سوه له اسلام څخه او له مدیني څخه فراره سول او مکې ته ولاړل کفار او مشرکان سول، نو معنا د آیت مظهري داسي کړي ده څرنګه به خدای هدایت د جنت او ثواب وکړي، والاستفهام للانکار یعني لایهدیهم الی الجنة والثواب ته د هغه قوم چې دوئ کافران سوه وروسته تر ایمان ددوئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې مظهري رحمه الله چې د هدایت معنی په جنت او ثواب سره وکړه دده په خیال هدایت د خدای د په معنی مشهوره سره د انکار وړ نه دی، ولې په دغو دولسو کسانو کې حارث بن سوید ییرته مسلمان سو کما سیناتي. نو خکه د معنی د یهدی الله په هدایت الی الجنة والثواب ته وکړه ولې چې هدایت د مرتد وجنت او ثواب ته خو د انکار وړ دی نو سوال دفع سو.

دروښ وایي: چې دې معنا ته ضرورت نه و ولې چې د هدایت دوې معناوې دي، ارائة الطریق چې دلالت علی مایوصل به هم ورته وایي دا خو په مرتد کې متصوره ده د انکار وړ نه دد. ولې فقهاء وایي که څوک له دین څخه مرتد سې العیاذ بالله نو فعلاً او دستې دې یې نه وژنې بلکې علماء او قضات دې کوښش وکړي چې سبب د ارتداد چې دده په زړه کې ور ګرځېدلی و ور دفع کړي او بیرته دې د رجوع الی الاسلام دعوت ورکړي که هغه نه کړه قبوله بیا دې قتل کړي، او بله معنا د هدایت دلالت موصله دی چې خلق الابتداء یې هم بولي چې خدای ﷻ په زړه کې د مرتد هدایت پیدا کړي بلا اختیار منه. او دا معنا بېشکه د انکار وړ ده، ولې خدای ﷻ داسې نه کوي لکه چې وایي "ولوشاء الله لآمن من في الارض جمیعاً" ولله در صاحب روح البیان حیث قال استبعاد لان یهدي قوماً معاندون للحق مکابرون فیه غیر خاضعین له بان یخلق في قلوبهم الابتداء وانما یخلق الاهتداء ویوفق علی کسب ذالک ویقدرهم علیه اذا صاروا خاضعین للحق راغبین فیه فالمراد من الهدایة خلق الاهتداء وقد جرت سنة الله في دار التکلیف علی ان کل فعل قصد العبد انی تحصیله فان الله یخلقه ای الاهتداء في روعه فکانه قال الله تعالی کیف یخلق فیهم المعرفة والاهتداء وهم قصدوا الکفر ولم یقصدوا الهدایة انتهی. فتفکر ایها السامع تفسیر المظهري وتفسیر روح البیان ور په قبول دی په معنا کې د ایت

وَشَهِدُوٓا اَنَّ الرَّسُوْلَ حَقٌّ وَّجَآءَهُمُ الْبَيِّنٰتُ ؕ

او د مخه تر ارتداد دوئ شاهدي اداء کول چې رسول یعنې محمد ﷺ نبي بر حق دی او دوئ ته معجزات او دلائل پر صدق دده هم موجود وه.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۲۶﴾

پوه سه چې په دې ځای کې هم مظهري رحمه الله تفسیر د هدایت په لایهدي الجنة والثواب سره کړی دی کما في ماسبق. او روح البیان یې تفسیر په خلق د اهتداء کړی دی کمامر عنقریب تفصیله.

اُولٰٓئِكَ جَزَآؤُهُمْ اَنَّ عَلَيْهِمْ لَعْنَةَ اللّٰهِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۲۷﴾

دغه کسان چې مرتد سوه او دین د اسلام یې پرې ښو جزاء د دوئ داده چې پر دوئ دې لعنت د خدای وي یعني له رحمت عامه څخه د خدای دي لېرې وي او په غضب د خدای ﷻ دي مبتلاء وي، او لعنت د ملکو چې هغه ملکې به ښرا ورته کوي چې خدایه ته دوئ له خپل رحمت څخه لېرې وساتې، او لعنت د خلګو دي وي یعني المؤمنین، او د ناسو لعنت هم په معنا د ښرا دی. او یا مراد له ناس څخه ټوله خلګ دي که مؤمنان وي او که کافران لکن په ورځ کې د قیامت، قال الله تعالی یکفر بعضکم بعضاً ویلعن بعضکم بعضاً

پوه سه: چې "اولئک" مبتداء ده او جزائهم مبتداء ثاني ده او ان علیهم لعنة الله، والمعطوفات علیه خبر للمبتداء الثاني ای جزائهم والجملة بتمامها خبر للمبتداء الاول ای اولئک.

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿۱۲۸﴾

او دوئ به همېشه وي په لعنت کې او یا په نار کې.

سوال: لفظ د نار خو دمخه نه دی ذکر سوی، نو اضمار قبل ذکر المرجع په نه وي؟

ځواب: لفظ د نار که څه هم صراحةً نه دی ذکر سوی لکن حکماً مذکور دی ولي لعنت دلالت پر کوي لان صاحب اللعنة صاحب النار دی، البته والشرط في ارجاع الضمیر ذکر المرجع لفظاً او تقدیراً او حکماً کما تقرر في النحو.

فائده: لفظ د "وخالدین" حال دی له ضمیر څخه د علیهم لکن حال مقدره دی او نه سپکول کېږي له دوئ څخه عذاب النار، او نه دوئ ته مهلت ورکول کېږي

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِنْ بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿٥﴾

مگر نه هغه کسان چې توبه وکړي ورڅخه نر ارتداد او صالحین سي، مظهري رحمه الله وايي چې واصلحوا عطف دی پر تابوا باندې عطف تفسیر د هغه دی، ای صاروا صالحین ای مسلمین. او یا معنا داده چې دوی اصلاح وکړی د ماقسدوا في الارض وقت الارتداد لکه بهتان پر علیه الصلوة والسلام او یا بهتان پر دین د اسلام وغیر ذالک. نو خدای ﷻ بخښونکی د لوی ګناه د ارتداد دی او توبه یې قبلوي او نر تفریط په حقوق کې د خدای وړتبرېږي. او خدای ﷻ مهربانه دی چې لکه نور مسلمانانوته د جنت اجازه به ورکړي.

پوه سه چې نسائي. ابن حبان او حاکم په مستدرک کې روایت کړی دی له ابن عباس رضي الله عنه چې یو سړی له انصارو څخه چې اسلام یې راوړی و او بیا مرتد سو او بیرته پښېمانه سو نو د خپل قوم وخلګو ته یې خط ونوشته کړی چې تاسي علیه الصلوة والسلام ته سړی ورواستوئ چې زما توبه قبلېږي کنه. فنزل هذه الآیة الی اخیرها، نو قوم وهغه ته په خط کې دا آیت ورنوشته کړی نو هغه سړی راغلی مدینې ته او از سر نو یې اسلام راوړی.

ابن المنذر او عبدالرزاق له مجاهد رحمه الله څخه روایت کړی دی چې په هغو دوولسو (۱۲) مرتد سوو کسانو کې کمامرت، حارث بن سوید چې بیرته پښېمانه سو او په پته قوم ته راغلی او د توبې پوښتنه یې وکړه. نو یو سړي دا آیت ورته تلاوت کړی، نو حارث وهغه سړي ته ووېل چې قسم په خدای ﷻ ته زما په عقیده رښتیا ګوته یې او رسول الله ﷺ تر تا ډېر رښتیا ویونکی دی وان الله لاصدق الثلثة فرجع فاسلم فحسن اسلامه.

فائده له سري سقطي قدس سره څخه روایت دی چې ما یوه ورځ په خپل وعظ کې داسي وویل عجبت من ضعیف عصی قویاً. نو دا بله ورځ چې ما د سهار لمونځ وکړی، یو پر آس سپور خوان چې تر شا یې نور سپاره په پسې وه او مریان یې دمخه ځغاسته راغلی او د مخه پیاده سو. نو خکه چې زما ډېر خلګ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شاگردان او مریدان ناست وه نو دې خوان پوښتنه وکړه ایکم السري السقطي، نو زما سره ناستو خلګو وماته اشاره وکړه او هغه خوان ته یې وویل دغه دی چې تا یې پوښتنه وکړه، نو خوان وسرې ته وویل چې ما پرون له تا څخه دا خبره واورېدله عجبت من ضعیف عصی قویاً. نو ستا څه مراد و؟

ما ورته وویل چې نسته اضعف تر بنې آدم او نه قوي سته اقوی تر خدای ﷻ او ابن آدم سره د ضعف خپل معصیت د خدای کوي، سري وایي چې دې خوان وژړل، او بیا یې وویل یا سري آیا خدای قبلوي په ګنهو کې غرق سړی ما غوندې ماورته وویل من ینقذ الغرقی الا الله، بیا خوان وویل چې زما په ذمه کې دېر مظالم د خلګو سته نو زه څرنګه وکړم، سري ورته وویل چې خپل لاړ د خدای پاکه کړه او د دنیایي چارو څخه ځان قطعه کړه او له تولو ګنهو څخه توبه وکاږه او د عبادت دروازې پر ځان خلاصې کړه نو به خدای ﷻ ستا مدعیان او خصوم به په ورکړې د عوض ستا څخه راضي کړي کما جاء في الحدیث النبوي ﷺ قال رسول الله ﷺ اذا کان یوم القیامة اجتمع الخصوم علی ولي الله ونقول الملائکة لهم لاتزعروا "یعني په بېروی" ولي الله فان الحق الیوم علی الله فیهب الله لهم المقامات العالیة بدل حقوقهم فیتجاوزون عن الولي، قال السري فبکی الشاب، نو خوان وویل چې ماته د خدای ﷻ لاړ را وښیه، نو ما ورته وویل که لاړ د میانه وو بندګانو اولیاء وو غواړې نو ته لمونځونه کوه او روژې نفلي نسه، او د تهجد لمونځ کوه او هیڅ ګناه مه کوه، او که ستا اراده وي لاړ د اولیاء الله المقربین الواصلین الی الله فاقطع العلائق واتصل بخدمة الخالق، او بیله خدایه زړه په بل شي سره مه مشغول کوه، وعن عبدالله بن عمر ﷺ انه قال لي رسول الله ﷺ یا عبدالله کن في الدنیا کانک غریب او عابر سبیل.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ ثُمَّ ازْدَادُوا كُفْرًا

په تحقیق هغه کسان چې کافران سي وروسته تر ایمان او بیان نو زیات کړي کفر

پوه سه: چې آلوسي او مظهري وایي چې ددې کافرانو په بیان کې مختلف اقوال دي (۱) قتاده او حسن بصري ؒ وایي چې ددې دلي څخه مراد یهودیان دي

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

چې یو وار یې کفر وکړی په عیسی او په انجیل سره وروسته تر ایمان په موسی او تورات سره، او بیا یې زیات کړی کفر په محمد ﷺ او په قرآن سره (۲) ابو لعالیة رحمه الله وایي چې د الذین کفروا څخه یهود او نصاری دواړه مراد دي، ولي وی کفر په علیه السلام سره مختاره کړی چې دی مبعوث سو بعد ایمانهم ﷺ وصفته في التوراة والانجیل ثم از دادوا کفراً ای ذنوباً في حال کفرهم

دروښ وایي چې په دې تفسیر کې مجاز دی او یا ضعیف دی فتامل فیه (۳) مجاهد رحمه الله وایي چې دا آیت په ټولو کافرانو کې نازل دی، حیث اشرکوا یا په عبادت د بتانو او یا په عزیر ابن الله سره او یا په عیسی ابن الله سره او یا په ملائکه بنات الله سره پس له اقراره د ټولو دغو کافرانو په دې سره چې خالق ددوی بلکې د سموات والارض ومافیهما خدای ﷻ دی فقط وروسته یې زیات کړې کفر ای ثبتوا علی کفرهم حتی ماتوا علیه.

دروښ وایي چې په دې تفسیر کې هم مجاز دی سته (۴) کلبي رحمه الله وایي چې دا آیت په ملګرو کې د حارث بن سوید نازل سوی دی کما یکتفیه السباق ولي حارث چې پسله ارتداد رجوع وکړه او هغه نور یوولس ملګري یې پر کفر پاته سول په مکه کې فازدادوا کفراً، وفیه ایضاً مجاز کما لایخفی، او بعض افاضل وایي چې مراد په دې آیت کې منافقان د عصر نبوي ﷺ دي فان کفرهم زائد علی کفر المجاهرین بالکفر لانهم احتملوا مشقة اخفاء الکفر ومشقة الصلوة والصوم مع کراهتهم وهذا نهایة محبة الکفر.

دروښ وایي: چې حال د منافقانو خو رښتیا داغسې و لکن تطبیق د آیت او تفسیر د عبارت د آیت پر منافقانو ډېر ګران دی والله اعلم والیه المرجع والمآب

لَن تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الضَّالُّونَ ﴿٩٠﴾

هرګز نه قبلېږي توبه ددوی او دغه کسان دي ګمراهان.

سوال: چې دمخه ټبره سوه چې حارث بن سوید چې د ارتداد توبه وکښل او مسلمان سو توبه یې قبوله سوه؟

ځواب: مراد دلته توبه د کفر نه ده بلکې توبه له ګنهو څخه مثل الزنا،

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

والملواطة وغيرهما ماداموا على الكفر لان شرط التوبة عن المعاصي هو الاسلام. او هرچه توبه له کفر څخه ده هغه تر هغه وخته قبلېږي چې حالت نه د غرغرة الروح نه وي رسېدلی. نو پر هغه څلورو سابق شانزولو باندې څو توبه د معاصي ومراد ده نه توبه عن الكفر. او پر پنځم شان نزول باندې مراد دادی چې توبه د منافقانو په ژبه سره د اصرار پر کفر بالجنان نه قبلېږي وهو کک

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَمَاتُوا وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْ أَحَدِهِمْ

او هغه کسان چې کفر کوي او مړه سي او دوئ کفار وي يعني له کفر څخه بې توبه نه وي کښلې لکه ابو جهل وامثاله، نو هرګز نه قبلېږي يعنې په ورځ د قيامت له يوه څخه ددوئ.

مِّلْءُ الْأَرْضِ ذَهَبًا

په قدر د ډکېدو د مځکې سره زر.

پوه سه: چې ذهباً منصوب على التمیز دی من ملاء الارض والمعنى چې دغه کافر چې پر کفر مړ سو که فرضاً ده دونده سره زر چې مځکه ډکېدای په دنيا کې خيرات کړې واى نه خندې قبلېدل لان شرط الصدقات هم الايمان ولم يكن هذا الشرط فيه في الدنيا.

وَلَوِ افْتَدَىٰ بِهِ ۗ

که څه هم په اخرت کې فرضاً دا مثل ملاء الارض فديه ورکړي لپاره د خلاص والي د دوزخ فالمعنى ان صدقة احدهم في الدنيا بملاء الارض ذهباً فرضا او مثل ملاء ذهباً په فديه کې د ځان فرضاً ورکړي نو هم نه قبلېږي، اما عدم قبول الاول فلعدم الشرط وهو الايمان واما عدم قبول الثاني فلان يوم القيامة دار المجازات لا دار الصدقات والفدايا.

دروښ وايي: چې مورډ چې د فرضاً لفظ ووايه په دواړه ځايه کې لان ملاء الارض ذهباً في الدنيا لشخص واحد وان لم يكن ممتنعاً عقلاً لكنه ممتنع عادةً واما في الآخرة فممتنع لان الكافر في الآخرة لايملك نقيراً ولا قطميراً باخبار المخبر الصادق فضلاً عن ملاء الارض ذهباً فلايرد ان الآية توهم ان الكافر يملك يوم القيامة من الذهب مايملاء الارض ولكن لايقبل منه في

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الافتداء، وجه الدفع ان الكلام المذكور مبني على الفرض البحت.

سوال: په کتابو کې د نحو وايي چې کلمه د "فاء" په خبر کې د "ان" نه راځي، نو دلته څرنګه فلن يقبل کې فاء راغله؟

ځواب: راوړل د فاء په خبر کې د ان لپاره د تنبيه ده پر سببيت د مبتدا، خبر لرۀ، کذا قال صاحب روح البيان والمظهري وسائر المفسرين رحمهم الله

أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ وَمَا لَهُم مِّن نَّاصِرِينَ ﴿١٧٦﴾

او دغو کسانو لره عذاب دی درد ورکونکی، او نشته دوئ لره هيڅ ځوک د کومک والاوو ځخه په دفع کې د عذاب الهي له دوئ ځخه، نو کلمه د "من" لپاره د استغراق ده. وفيه اقناط كلي لهم من الخلاص عن عذاب يوم القيامة ربنا انا كنا مؤمنين مسلمين في الدنيا فتوفنا مؤمنين مسلمين محبين للقاء يوم القيامة.

دروښ وايي: چې بخاري او مسلم له انس بن مالک رضي الله عنه ځخه روايت کړی دی او هغه له عليه الصلوة والسلام ځخه قال يقول الله تعالى لاهون اهل النار عذاباً يوم القيامة لو ان لک مافي الارض من شئ اكنت تفتدي به فيقول نعم. فيقول اى الله عزوجل اردت منک اهون من هذا وانت في صلب آدم ان لاتشرک بي شيئاً فابيت يعني خرجت الى الدنيا الا ان تشرک بي.

دروښ وايي: چې الحمدلله والمنة تفسير د پاره تلک الرسل پر دې ځای پای ته ورسېدی پر لس (۱۰) بجې د ورځې د دوشنبې سنه ۱۴۲۶ هجري قمري او ورپسې تفسير دی د لن تنالوا لبر ان شاء الله تعالى، بيت

شکر خدا يه په اولاد کې يتيم نسته
پاکه خدايه دا تفسير مه کړې يتم وبل چاته

دروښ وايي: چې په پای کې ددې جزء د تفسير بو مکتوب د مجدد الف ثاني قدس سره له مکتوباتو ځخه را نقل کوم چې په مدح کې د سيد المرسلين شفيع المذنبين صلى الله عليه وسلم دی تبرکاً په صفاتو سره د آنحضرت صلى الله عليه وسلم دا مکتوب ځلور ځلوېښت دی په ص ۱۲/۱۱/۱۰ کې او مکتوب د شيخ فريد ته نوشته کړی دی، وروسته تر سلامه مجدد رحمه الله وايي شعر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ما ان مدحت محمداً بمقالتي ولكن مدحت مقالتي بمحمد

فاقول وبالله سبحانه العصمة والتوفيق، ان محمدا رسول الله سيد ولد آدم واكثر الناس تبعاً يوم القيامة واكرم الاولين والآخرين على الله واول من ينشق عنه الارض والقبر واول شافع واول مشفع، واول من يقرع باب الجنة فيفتح الله له وحامل لواء الحمد يوم القيامة.

دروښ وايي: چي له دغه ځای څخه بیا تر یوم القیامة ماخوذ من حدیث رواه مسلم ومن قوله اكرم الاولين آه ماخوذ دی له هغه حدیث څخه چي روایت یې ترمذي او دارمي کړی دی، تحته آدم فمن دونه وهو الذي قال عليه الصلوة والسلام نحن الآخرون ونحن السابقون يوم القيامة واني قائل قولا غير فخر وانا حبيب الله وانا قائد المرسلين ولافخر.

دروښ وايي: چي دا الفاظ چي دارمي یې روایت کړی دی وانا خاتم النبيين ولافخر وانا محمد عبدالله بن عبدالمطلب.

دروښ وايي: چي له دې ځای څخه الی قوله بيتاً رواه الترمذي، ان الله خلق الخلق فجعلني من خيرهم، ثم جعلهم فريقين فجعلني في خيرهم فرقة ثم جعلهم قبايل فجعلني في خيرهم قبيلة ثم جعلهم بيوتاً فجعلني في خيرهم بيتاً فانا خيرهم نفساً وخيرهم بيتاً وانا اول الناس خروجاً اذا بعثوا.

دروښ وايي: چي له دې خایه څخه بیا تر دې قول پورې مکنون رواه الترمذي وانا قائدهم اذا وفدوا وانا خطيبهم اذا انقتوا وانا مستشفهم اذا حبسوا وانا مبشرهم اذا يسوا الكرامة والمفاتيح يومئذ بيدي لولاه لما خلق الله الخلق ولما اظهر الربوبية وكان نبياً وادم بين الماء والطين.

دروښ وايي: چي دغه خبرې د حضرت المجدد رحمه الله تر تنقید لاندې نیول سوي دي یعنې بعض علماء وایي حضرت المجدد رحمه الله دغه احکام له کومه خایه څخه معلوم کړي دي، دوئ په دغه باره کې چي کوم حدیث راغلی دی هغه ټوله موضوعي یا ضعیف بولي، والجواب ان في هذه الاحكام اشارة الى ماخرجه الديلمي في مسند الفردوس عن ابن عباس رضي الله عنه يقول الله تعالى لولاك لما

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

خلقت الدنيا ولولاک لما خلقت الجنة ويشهد لها ما رواه الحاكم في صحيحه عن عمرؓ ان آدم رئ اسم محمد مكتوباً على العرش وان الله تعالى قال لآدم لولامحمد لما خلقتک، قال الزرقاني رحمه الله روى الشيخ والحاكم عن ابن عباس اوحى الله الى عيسى آمن بمحمد ومر امتک ان يؤمنوا به فلو لا محمد لما خلقت آدم ولا الجنة والنار. الحديث د اقره السبكي في شفاء الاسقام والبلقيني في فتاواه ومثله لايقال بالرائ وعند الديلمي عن ابن عباس رفعه آتاني جبرئيل فقال ان الله يقول لولاک لما خلقت الجنة ولولاک لما خلقت النار قلت معنى هذا الحديث لاشبهة في صحته ومطابقته لنفس الامر عند كافة الصوفية وعامة من سواهم فهو صحيح ان شاء الله.

دروښ وايي: هذا كله ماقال العلامة محمد مراد المكي الذي نقل جميع المكتوبات الى العربية البليغة والله اعلم پر ناقل د چا حق د اعتراض نسته فالحذر الحذر ايها الحاسد من الاعتراض على الفقير. بيت

ومن مذهبي حب الديار لاهلها وللناس فيما يعشقون مذاهب

دروښ وايي: چې تر دې خايه پورې د عربي مكتوب د مجدد قدس سره، او علامه مظهري په دې برو خايو کې د تفسير مظهري مقلد پاته سوی دی، د حضرت المجدد رحمه الله.

دروښ وايي: چې چونکه اکثره مطالعه کونکي د دې تفسير لکه عوام يا طالبان او يا د مسجدو ملا ايمامان د مجدد قدس سره په عبارت عربيه بليغه په ترجمه به نه پوهېږي لهذا هغه ترجمه او معنا چې مترجم په فارسي عام الفهم سره کړې ده غواړم چې هغه هم نقل کړم ليکون المكتوب عام الفهم في الجملة وګرځي هغه دادی شعر

به سخن نه من ستودم ذات محمدی لکن باسم احمد بستودم سخن

پس میگویم از خدای پاک عصمت میخواهم وتو فیق میجویم

که هر آئینه محمد رسول الله بهتر ومهتر وبزرگترین فرزندان آدم است، وبیشترین مردم است از روی تابعان روز قیامت وبزرگترین پیشینان وپسینان است نزد خدای تعالی، ونخستین کسی است که شگافته گردد ازوی قبر،

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

ونخستین شفاعت کننده است، ونخستین کسی است که قبول کرده شود شفاعت وی ونخستین کسی است که کوبد دربهشت راپس کشاید حق تعالی برای وی واوست برداننده علم ستایش حق جل وعلا روز قیامت زیر علم وی باشد آدم وهرکه جز اوست واوست علیه الصلوة والسلام که فرموده است مائیم پشینان ومائیم پیشینان روز قیامت، ومن گوینده ام گفتاری را بیمفاخرت. ومنم محبوب حق تعالی ومنم کشنده مرسلان ونیست فخر، ومنم ختم کننده پیغمبران ونیست فخر ومنم پسر عبدالله پسر عبدالمطلب وبدرستیکه خدای تعالی پیدا کرد خلق راپس گردانید مرا در بهترین ایشان، پستر گردانید ایشان را دو گروه پس گردانید مرا درفرقه که بهترین ایشان است، پس گردانید ایشانرا، قبیله قبیله پس گردانید مرا دربهترین قبائل، پستر گردانید ایشانرا خانه خانه پس گردانید مرا در بهترین خانهای ایشان پس منم بهترین ایشان در روی ذات وبهترین ایشان از روی خانه ومنم نخستین مردم از روی بیرون آمدن وقتیکه برانگیخته شوند ومنم کشنده مردم وقتیکه بیایند بدرگاه خدای تعالی، ومنم خطبه خواننده ایشان وقتیکه خاموش شوند ومنم که طلب کرده شود از من شفاعت وقتیکه حبس کرده شوند ومنم بشارت دهنده ایشانرا وقتیکه نومید شوند، بزرگی دادن وکلیدهای آن روز بدست من است ومنم گرامیترین فرزندان آدم نزد پروردگار خود گرد من گردند هزار خدمتگار گویا آنان بیضهای مکنون اند، وچون باشد روز قیامت باسم امام پیغمبران وخطب ایشان وخداوند شفاعت میان ایشان، بغیر فخر واگر نمیبودی آن سرور بدستی نیافریدی خدای پاک خلق را. وهر آئینه ظاهر نساختی ربوبیت خود را ووی علیه الصلوة والسلام پیغامبر بود در حالیکه آدم میان گل وآب بود.

دروبش وایی: چي دا وه ترجمه د مکتوب عربي د مجدد قدس سره بزبان فارسي وروسته مجدد علیه الرحمة خود بزبان فارسي بليغ برمکتوب عربي خود اين ضميمه افزوده است شعر

نماند بعصیان کسی در گرو که دارد چنین سیدی پیش رو

پس ناچار مصدقان این چنین پیغمبر سید البشر علیه الصلوة والسلام خر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الامم باشند "کنتم خیر امة اخرجت آه" نقد وقت ایشان است ومکذبان او علیه الصلوة والسلام بد ترین بنی آدم "الاعراب اشد اعزا ونفاقا نشان حال ایشان است تاکدام صاحب دولت راباتباع سنت سنیه او بنوازند وبمتابعت شریعت رضیه او سر فراز سازند اصحاب کهف این همه درجات که یافتند بواسطه یک حسنه است وآن هجرت بود از دشمنان حق سبحانه وتعالی بنور یقین ایمانی در وقت استیلا معاندان مثلاً سپاهیان دروقت غلبه دشمنان واستیلای مخالفان اگر اندک تر دلیری بکنند آن قدر نمایان می شود واعتبار میگیرد که دروقت امن اضعاف آن در حیز اعتبار نمی آید. وایضاً چون آن سرور محبوب رب العالمین است متابعان او بواسطه متابعت بمرتبه محبوبیت میرسند چه محب درهرکه از شمایل واخلاق محبوب خود می بیند آن کس را محبوب خود میدارد ومخالفان از ینجا قیاس خواهد کرد شعر

محمد عربی که آبرو هر دوسر است "" کسیکه خاک دراونیست خاک بر سر او

اگر هجرت ظاهری میسر نه شود هجرت باطنی را بکمال مرعی باید داشت بایشان وبی ایشان می باید بود لعل الله یحدث بعد ذالک امراً در اخیر مکتوب فرموده است زیاده اطناب موجب املال است. ثبت کم الله علی جادة ایانکم الکرام السلام علیکم وعلیهم الی یوم القیامة. دروبش وایي چي مکتوب عالي د مجدد الف ثاني رحمه الباری باترجمه فارسي وضمیمه بپایان رسید تاطبع شریفت نه پذیرد ملالتي به آن به که نامه رابدعا مختصر کنم.

دروبش وایي: چونکه بعض مذاهب معلوم الحال تقلید ائمه اربعه رحمهم الله راباطل میگویند وبه نظر تحقیر به مقلدان مذاهب اربعه مینگرند لهذا چند بیت از کتاب شیخ الاسلام محمد ابراهیم یاسیني رحمه الله المتوفي سنه ۱۳۸۴ ه نقل مینمایم نه برای الزام منکران تقلید مطلقاً بلکه برای حفظ تقلید مقلدان تاکه به سخنهای بی مغز ومعنای آن لامذهبان فریفته نه شود وبه وعظ ایشان نه نشیند ودر مدارس آن لا مذهبان تعلم نکند وباایشان هیچ نوع از دوستی ننمایند قصیده

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

دیده حق اگر تو بکشائی — بر مقلد نه طعنه فرمائی
زانکه بگرفته است از دل وجان — راست راه حبیب بطحائی
مذهب چار چون چهار راه اند — بهرسنت چو جاده پیمائی

بدان: دروېش مېگوید که امام شعرانی رحمه الله در میزان مینویسد ومابقی لک عذر فی التقلید لمن شئت من مذاهبم لانها کلها طریق الی الجنة انتهی

خود یکی بینی از چهار طرف — کعبه را چون تو سجده مینمائی

دروېش میگوید که امام شعرانی مثالی دیگری برای ثبوت تقلید در ص ۵۵ اورده است حیث قال وهذا مثال آخر لاتصال سائر المذاهب للمجتهدین ومقلدیهم الی عین الشریعة انتهی، یعنی نماز خواندن بکعبه مبارکه از چهار طرف کره زمین بر کیرائی چو از مذاهب چار درضلالت توپای فرسائی.

دروېش میگوید که شاه عبدالعزیز دهلوی رحمه الله در عقد الجید می فرماید اعلم ان فی الاخذ بهذه المذاهب الاربعة مصلحة عظیمة وفی الاعراض عنها مفسدة کبیر ص ۳۰.

دروېش وایي: چي د انصاف خبره خو داده چي سړی له تعصبه کار وانه خلي چي ائمه اربعه از خیر القرون بودند که مخبر صادق ﷺ بمایان خبر داده است گفته خیر القرون قرني ثم الذین یلونهم ثم الذین یولونم، اول قرن د علیه الصلوة والسلام دی او د صحابه وو رضی الله عنهم. او دوهم قرن د تابیعنو دی رحمهم الله، او دریم قرن د اتباع التابعین دی رحمهم الله، نو دغه قرون په سبب د نژدي والي وزماني ته د آنحضرت ﷺ په معاني د قرآن عزیز او په احادیثو شریفه وو ښه خبره وه تر امامانو د لامذهبانو.

دروېش وایي: چي دغه کسان چي د تقلید او له قیاسه څخه د ائمه وو اربعه رحمهم الله منکر دي دوئ پخپله هم مقلدین دي د فلاني او فلاني چي د خیر القرون څخه خارج کسان دي غایة الفرق بیننا وبینهم دادی چي مونږ مقلدین د امامانو د خیر القرون یو او دوئ د نورو.

پوښتنه: غیر مقلدین خو وایي چي زمونږ په مخ کي قرآن عزیز دی او احادیث

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نبویه دي نو مونږ په هغو د خپل فهمه سره موفق عمل کوو، نو تقلید پر مونږ څه لازم دی؟

ځواب: د ائمه اربعه رحمهم الله په مخ کي غیر د قرآن کریم او د احادیثو نو څه شی وه، البته د ائمه اربعه رحمهم الله دونه ژور نظر و چي د قرآن عظیم په عبارت النص او په اشارة النص او په دلالت النص نبه پوهیدله او تاسي غیر مقلدین صرف او صرف په ظاهر د قرآن عزیز او د احادیثو نبویه وو پوهیږئ وبس، ورنه یو له غیر مقلدینو د عصر حاضر دي راسي چي دروښ د یو کوچنۍ سورة د قرآن عزیز د استعاراتو او مجازاتو او د عباراتو مطابق د قانون نحوي سره چي ټوله مفسرین اتفاق پر لري څو پوښتنې خندي وکړم، چي دوئ به جوابات ووایي فقط ددوئ دغه نبه زده دي چي نمبر اوزه ایت کي داسي راغلي دي بالا یې نو دوئ په مطابقت د آیت ددوئ د مدعي سره فکر نه وهي.

دروښ وایي: چي په دې باب کي خبري ډېري دي لکن حاصل د ټولو دادی چي بې تقلیده د ائمه اربعه رحمهم الله هیڅ بله لار نسته هغه کسانو لره چي په ډېرو وروسته زمانو یې امامان ددوئ پیدا سوي دي.

دروښ وایي: چي تاسي بیانات صادقه چي رساله د د دروښ په تحقیق مطالعه کړئ چي حال د لامذهبانو درمعلومه سي، او بل هغه رساله چي دروښ پر لوی بیاض د خیالي تحریر کړې ده چي په نامه د سیف القندهاري ده سر تر پایه یې په غور سره مطالعه کړئ چي رد د مذاهبو د منکرانو د تقلید درته په خوبي ښکاره سي، الی غیر ذالک من الکتب والرسائل التي صنفها العلماء المجاهدین في هذا الباب

فائده: دروښ وایي چي اولیاء الله او صلحاء د امت مرحومه وروسته تر ظهور د ائمه اربعه رحمهم الله داخل په یوه یا بل مذهب شامل دي او د تاریخ پاڼې په دې سره شاهدي دي حتی چي اصحاب کتب الاحادیث الصحیحة د امام بخاري رحمه الله په باره کي اختلاف دی بعض علماء وایي چي شافعي المذهب و، او بعض علماء وایي چي مجتهد في الدین و، په هر صورت که لامذهبي حق وایی نو تاریخ دي شاهد وګرځوي چي فلانی ولي الله لامذهبه وو ولایجدون

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الی هذا سبیلاً وان اجتهدوا غایة الجهد ، او هرچه ددوی ایمامان دي د هغو په ولایت کرامت سره هیڅ تاریخ یا نقل شاهدي نه ده ورکړې.

دروبش وایي: چې دا د اولیاء الله رحمهم الله د ټولنې اتفاق پر تقلید دلیل صریح دی صحت د تقلید بل وجوبه. لکن خلګ یو متل کوي او وایي دایه قبالله په چا یې منې. والله المستعان علی مایصفون. موعظت

دنیا جای عبور است، از شهرستان سرور بی اقامت وبساطی است بی استقامت، زخم نیشش بی مرهم است، وطلاق خورده ابراهیم ادهم است. خانه محنت وبیداری است، رانده جنید بغدادیست جرعه جانسوز تلخیست پشت پارده شقیق بلخیست کرشمه غفلت وبدنامیست ملعون نظر بایزید بسطامی است خود پرستان دون همت را وی است مردود همت سلطان ابو سعید ابو الخیر است، سر رشته مکر وفساد جبلی است سرزنش یافته شیخ حقانی شبلی است، دلاله کوچهای مغروریست. مکروه شمرده شیخ ابو الحسن ثوریست.

مناجات مقبول ان شاء الله

یا من یری مافي الضمیر ویسمع — انت المعد لکل ما یتو قع
یا من یرجی للشدا ئد کلها — یا من الیه المشتکی و المفزع
یا من خزائن رزقه في قول کن — امنن فان الخیر عندک اجمع
مالي سوی فقري الیک وسیلة — فبا لافتقار الیک افقري ادفع
مالي سوی قرعي لبابک حیلة — فلئن رددت فای باب ا قرع
من ذا الذي ادعوا هتف باسمه — ان کان فضلک عن فقیرک یمنع
حاشا لجودک ان تقنط عاصیاً — الفضل اجزل و المواهب اوسع
ثم الصلوة علی النبي و آله — خیر الآنام و من به یتشفع

تمت بالخیر

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د حضرت ایوبي مدظله العالیه د تصنیف سوو کتابونو لړی

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العالمين والصلوة والسلام على سيد المرسلين وآله وصحبه اجمعين

فهرست مصنفات العاصي تفصيلاً من الكتب الحواشي

علم التفسير حاشيه على البيضاوي الى مقام الدرس، تفسير الايوبي پشتو اربع مجلدات الى الآن وباقي المجلدات باقية الى مشية الله تعالى. وحاشية على شرح نخبة الفكر في اصول الحديث غير مطبوعة. وشروط الصلوة پښتو، قدوري پښتو دري جلده، نور الايضاح پښتو دري جلده، وكنز الدقائق پښتو دوه جلده، البلاغ المبين في بيان منهيات الدين وهو تاريخ ايضاً. ونور ظلم پښتو، ابو المنتهى پښتو، والرسالة البيانات في بيان الوهابية، ورسالة عصمت الله الانبياء ورساله على هامش الخيالي سيف القندهاري على عنق امين السلفي، وحاشية كاملة على شرح العقائد النسفي وحاشية على الخيالي الى مقام الدرس، وحاشية على ميرزاهد الامور العامة، وحاشية على اصول الشاشي، وحاشية على التلويح، وحاشية على مسلم الثبوت، وحاشية على مراح الارواح، وحاشية على الشافية، وحاشية على الشمة، وحاشية على هداية النحو، وحاشية على الكافية، وحاشية على شرح الجامي، وحاشية عبدالغفور، وحاشية على المطول، وحاشية على خلاصة الحساب وحاشية على تحرير اقليدس، وحاشية على التصريح وشرح التصريح غير مطبوعه، وحاشية على القوشيجية وحاشية شرح الچغميني، وحاشية على بست باب مع الاشكان، وحاشية على الميبذي وحاشية على هداية الحكمة حاشية على الصدرا وحاشية على ايساغوجي وحاشية على المير، وحاشية على بديع الميزان وحاشية على كنديا، حاشية على ميرزاهد قطبيه، وحاشية على ميرزاهد ملا جلال وحاشية على شرح حمدالله وحاشية على القاضي وحاشية على مختصر الشافي وحاشية على وريقات الهداية وحاشية على الجلد الاول لهداية النافع، والوظائف الايوبية وشهادت الحسنين، جمله (۶۰) كتب وحاشيه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نمبر	مضمون	صفحہ
۱	د "تلک الرسل" تفسیر	۸
۲	تمہید للآیۃ الکرسي	۱۸
۳	حکایت	۲۰
۴۰	پوہ سہ	۲۲
۵	د "لااکراہ في الدین" تفسیر	۳۲
۶	تحقیق بیاني	۳۵
۷	دورہش وایي	۳۶
۸	د "اللہ ولي الذین آمنوا" تفسیر	۳۷
۹	د "الم تر الی الذین حاج ابراھیم تفسیر	۳۷
۱۰	د "اوکالذي مر علی قریۃ" تفسیر	۴۲
۱۱	د عزیر ؑ واقعہ	۴۸
۱۲	د "واذ قال ابراھیم رب ارني تفسیر	۵۱
۱۳	د "د الذین ینفقون اموالھم تفسیر	۵۹
۱۴	حکایت	۶۴
۱۵	د "ومثل الذین ینفقون اموالھم تفسیر	۷۰
۱۶	حکایت	۷۱
۱۷	د "ایود احدکم ان تکون لہ الجنۃ تفسیر	۷۶
۱۸	موعظت	۷۷
۱۹	د "یاایھاالذین امنوا انفقوا من طیبت تفسیر	۸۴
۲۰	تفریع	۸۶
۲۱	اختلاف الائمۃ	۸۷
۲۲	د "الشیطان یعدکم الفقر تفسیر	۹۱
۲۳	د "وما انفقتم من نفقۃ تفسیر	۹۳
۲۴	د "ان تبتم الصدقات تفسیر	۹۶
۲۵	د "لیس علیکم ھداھم تفسیر	۹۹
۲۶	دروبش وایي	۱۰۰
۲۷	د "للفقراء الذین احصروا في سبیل اللہ تفسیر	۱۰۲

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شمبر	مضمون	صفحہ
۲۸	چشم دید واقعہ	۱۰۳
۲۹	د "وما تنفقوا من خیر تفسیر	۱۰۵
۳۰	د "الذین یاکلون الربوا تفسیر	۱۰۷
۳۱	معذرت	۱۱۲
۳۲	د "یمحق اللہ الربوا تفسیر	۱۱۴
۳۳	د "ان الذین امنوا وعملوا الصلحت تفسیر	۱۱۵
۳۴	د "وان کان ذو عسرۃ تفسیر	۱۱۹
۳۵	د "یاایھا الذین امنوا اذا تداینتم تفسیر	۱۲۵
۳۶	تفریع	۱۳۷
۳۷	د "وان کنتم علی سفر تفسیر	۱۳۹
۳۸	د "لایکلف اللہ نفساً الا وسعھا تفسیر	۱۵۲
۳۹	حکایت او شکایت	۱۶۰
۴۰	سورۃ آل عمران	۱۶۳
۴۱	الٓمّٓ	۱۶۶
۴۲	د "نزلنا علیک الکتاب تفسیر	۱۷۰
۴۳	د "ھو الذي یصورکم في الارحام تفسیر	۱۷۲
۴۴	دروبش وایي	۷۴
۴۵	د "ربنا لاتزغ قلوبنا تفسیر	۱۸۶
۴۶	د "کتاب آل فرعون تفسیر	۱۸۸
۴۷	د "قل للذین کفروا ستغلبون تفسیر	۱۸۹
۴۸	د "زین للناس حب الشھوات تفسیر	۱۹۳
۴۹	د "الذین یقولون ربنا تفسیر	۱۹۸
۵۰	د "الصبرین والصدقین تفسیر	۱۹۹
۵۱	د "شھد اللہ انہ لا الہ الا ھو تفسیر	۲۰۱
۵۲	د "ان الدین عنداللہ الاسلام تفسیر	۲۰۳
۵۳	د "ان الذین یکفرون بایات اللہ تفسیر	۲۰۶
۵۴	د "حبطت اعمالھم في الدنیا تفسیر	۲۰۸

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

شمبر	مضمون	صفحہ
۵۵	د "فکیف اذا جمعنکم تفسیر	۲۱۲
۵۶	د "قل اللھم ملک الملک تفسیر	۲۱۵
۵۷	تفصیل	۲۱۶
۵۸	د "لایتخذ المؤمنین الکفرین اولیاء تفسیر	۲۲۲
۵۹	دروبش وایي	۲۲۴
۶۰	د "قل ان تخفوا مافي صدورکم تفسیر	۲۲۵
۶۱	د "یوم تجد کل نفس تفسیر	۲۲۸
۶۲	د "قل ان کنتم تحبون اللہ تفسیر	۲۳۰
۶۳	د "قل اطیعوا اللہ والرسول تفسیر	۲۳۳
۶۴	حکایت	۲۳۵
۶۵	د ذریۃ بعضھا من بعض تفسیر	۲۳۸
۶۶	تمہید	۲۴۰
۶۷	د "فتقبلھا ربھا بقبول حسن تفسیر	۲۴۴
۶۸	حکایت	۲۵۰
۶۹	د "قال رب اني یکون لي غلام تفسیر	۲۵۷
۷۰	د قال رب اجعل لي آیۃ تفسیر	۲۶۰
۷۱	د "یمریم اقنتي لربک تفسیر	۲۷۰
۷۲	د "اذ قالت الملائکۃ یمریم تفسیر	۲۷۴
۷۳	د "ویکلم الناس في المھد تفسیر	۲۷۸
۷۴	د "قالت رب اني یکون لي ولد تفسیر	۲۸۱
۷۵	د "ویعلمہ الکتب تفسیر	۲۸۳
۷۶	د یھودیانو تاریخ	۲۸۵
۷۷	د حضرت عیسی علیہ السلام معجزات	۲۹۰
۷۸	دروبش وایي	۲۹۴
۷۹	د "ومصدقا لما بین یدي تفسیر	۲۹۶
۸۰	د "فلما احسن عیسی منھم الکفر تفسیر	۲۹۸
۸۱	د "ومکروا مکراللہ تفسیر	۳۰۱

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شمبر	مضمون	صفحہ
۸۲	د ذالک نتلوہ علیک تفسیر	۳۱۲
۸۳	د الحق من ربک تفسیر	۳۱۶
۸۴	د فان تولوا فان اللہ علیم بالمفسدین تفسیر	۳۲۳
۸۵	حکمت	۳۳۴
۸۶	د ان اولی الناس بابراھیم تفسیر	۳۳۶
۸۷	د ودت طائفۃ من اھل الکتب تفسیر	۳۴۱
۸۸	د یا اھل الکتب لم تکفرون بایت اللہ تفسیر	۳۴۲
۸۹	د قل الفضل بید اللہ تفسیر	۳۴۳
۹۰	د یختص برحمتہ من یشاء تفسیر	۳۴۵
۹۱	د ویقولون علی اللہ الکذب وھم یعلمون تفسیر	۳۴۶
۹۲	د بلی من اوفی بعھدہ واتقی تفسیر	۳۴۷
۹۳	د ان الذین یشترون بعھد اللہ تفسیر	۳۴۸
۹۴	د اولئک لاخلاق لھم فی الاخرۃ تفسیر	۳۵۰
۹۵	د ماکان لبشر تفسیر	۳۵۵
۹۶	د ایامرکم بالکفر تفسیر	۳۵۸
۹۷	نتیجہ	۳۶۰
۹۸	د واذ اخذ اللہ میثاق النبیین تفسیر	۳۶۳
۹۹	دورېښ وایي	۳۶۶
۱۰۰	د قال اقررتم واخذتم تفسیر	۳۶۸
۱۰۱	د افغیر دین اللہ یبغون تفسیر	۳۷۱
۱۰۲	د قل امنا باللہ تفسیر	۳۷۳
۱۰۳	د ومن یبتغ غیر الاسلام دینا تفسیر	۳۷۵
۱۰۴	د اولئک جزاؤھم تفسیر	۳۷۶
۱۰۵	د الا الذین تابوا من بعد ذالک تفسیر	۳۷۷
۱۰۶	د ان الذین کفروا بعد ایمانھم تفسیر	۳۷۹
۱۰۷	د ان الذین کفروا وماتوا وھم کفار تفسیر	۳۸۵
۱۰۸	پوښتنه	۳۸۸

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تفسير ايوبي حنفي 4 توک

د نصيراحمد احمدي لـخوا

سکين او pdf سـو.

تاريخ. ۱-۴-۱۳۹۹

واتساپ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

د دعـا محـتـاج احـمـدي!

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner